بسم الله الرحمن الرحيم

صفوة التفاسير

پښتو

تأليف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزيز پوهنتون
د شرعيا تو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکی

مولوي شمس الله کمال زاده

المكتبة المعروفية
کوئټه لاهور پاکستان

صفوة التفاسير

دریم ټوک

د قرآن کریم هغه تفسیر چې د مأثور او معقول ټولګه او وله خورا معتبرو تفسیرونو څخه لکه: طبري، کشاف، قرطبي، اٰلوسي، ابن کثیر، بحرمحیط اونورو څخه یې غور چاڼ شوي او په روانو او نویو اسلوبو چې بیان او لغوي ارخونو ته پکښې پاملرنه شوي لیکل شوي دي۔

مؤلف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزیز پوهنتون

د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکي:

مولوي شمس الله کمال زاده



المکتبة المعروفیة

(کوئٹہ) کاسی روڈ شالدرہ کوئٹہ پاکستان

(لاہور) ہادیہ حلیمہ سنٹر غزنی سٹریٹ اردو بازار لاہور

:03337907394-03353132868

Ph:03159807152-03337907398

E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com

http://www.facebook.com/maktabamarofia

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم:------------------پښتو صفوه التفاسیر

تالیف:-------------- الشیخ محمد علي الصابوني رحمه الله

پښتو ژباړه:--------------- مولوي شمس الله کمال زاده

دکمپوز چاري:------------- مرحوم انجنیر عبد الله ګل (ریان)
اوزیاته برخه مولوي عبد البصیر

خپرونکي اداره:---------------- المکتبة المعروفیة (کوئٹہ) (لاهور)

دچاپ شمیر:------------------------- ۸۰۰ ټوکه

دچاپ کال:----------- ۱۴۴۰ هجري قمري دمحرم الحرام میاشت

دکتاب ترلاسه کولو پته------------------- المکتبة المعروفیة (کوئٹہ) (لاهور)

منبر الوائتے صابر



المکتبة المعروفیة
(کوئٹہ) کاسی روڈ شالدرہ کوئٹہ پاکستان
(لاہور) ہادیہ حلیمہ سنٹر غزنی سٹریٹ اردو بازار لاہور

:03337907394-03353132868
Ph:03159807152-03337907398
E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com
http://www.facebook.com/maktabamarofia

بسم الله الرحمن الرحيم

الله تعالى فرمايي:

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ قُل لَّا تَعْتَذِرُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ
وَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (٩٤)
سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا
كَانُوا يَكْسِبُونَ (٩٥) يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِن تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ
الْفَاسِقِينَ (٩٦) الْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ أَلَّا يَعْلَمُوا حُدُودَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ
حَكِيمٌ (٩٧) وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَائِرَ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ
(٩٨) وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَن يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَاتٍ عِندَ اللَّهِ وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ
أَلَا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ سَيُدْخِلُهُمُ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (٩٩) وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ
وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ
خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (١٠٠) وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى
النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ (١٠١) وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ
خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (١٠٢) خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ
وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (١٠٣) أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ
وَيَأْخُذُ الصَّدَقَاتِ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (١٠٤) وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ وَسَتُرَدُّونَ
إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (١٠٥) وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ
وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (١٠٦) وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ
حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَىٰ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (١٠٧) لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا
لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ
(١٠٨) أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ
فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (١٠٩) لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَن
تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (١١٠) ﴾ التوبة: ٩٤ – ١١٠

مناسبت او تړاو:

آیتونه لاهماغسي له منافقانوغږېږي هغوی چي له جهادڅخه پاتي شول اوبیا وروسته یې په دروغو عذرونوکي قسمونه خوړل لکه چي پدې آیتونوکي الله پاک دضرار مسجدیادونه کوي هغه چي منافقانوبنتل

دمسلمانانو په ضد به هلته دسيسې جوړوي اودغه به ددوی ځاله وي نوالله جل جلاله خپل نبي ته وفرمايل چي هلته لمونځ ونه ګوذاري ځکه دهغه بنسټ په تقوی ندی اېښودل شوی بلکه داهل شقاق اونفاق مرکز اودمسلمانانو دتيت پرک کولولپاره دپلانونو جوړولو تالاردی اوپه ضرار مسجد باندي مشهورشو.

لغتونه:

(انقلبتم) راوګرځېدئ (رجس) پلېدي اوهرناولي شي ته ويل کېږي (ومأواهم) جوهري وايې چي مأوى هغه ځای ته چي ورته رجوع کېږي وايه شي هغه که په ورځ کي اوکه په شپه کي (الأعراب) داعرابي جمع اودلغت پوهان وايي چي کله وويل شي (رجل عربی) داهغه عربي سړي ته وايې چي جمع يې عرب راځي اوکه وويل شوچي (رجل أعرابی) نودابياهغه کوچي ته وايي چي دباران اورېدلو په ځرځايونوکي اوسېږي هغه که پخپله عرب وي اوکه موالي وي نوځوک چي په عربي کليوکي ځای په ځای وي دوی ته عرب وايي اوځوک چي په صحرا کي هستوګن وي هغوی ته أعراب وايي [1] (أجدر) وړ اولائق (مغرما) تاوان اوخسران اصل يې له غرام څخه اخيستل شوی اوهغه دشي لزوم ته وايې [2] (مردوا) ثبات اواستقرار يې وکړ دکلمې اصل له نرمي اوتجرد څخه اخيستل شويدی اوله دغه ډلي څخه داهم دي چي وايې : (رملة مرداء) هغه شګي چي وابنه پکي نه زرغونېږي او داترکيب چي (غصن امرد) هغه ښاخ چي پاڼي ورباندي نه وي اوداسي لکه : (غلام أمرد) هغه زلموټی چي ږېره يې نه وي راټوکېدلي (مرجون) له(ارجآء)څخه اخيستل شوي او تأخير ته وايي ځکه هم يوه ډله خلګ مرجئه بلل کېږي چي دوی عمل مؤخرکړی دی (ضرار) دضرر رسولو څخه اوپه حديث شريف کي راځي: (لاضرر ولاضرار) [3] (ارصاد) ځار اوانتظارته وايې (شفا) څنډي اوڅوکي ته وايي ويل کېږي (أشفى على كذا) يعني دفلاني کارڅنډي ته ورنږدې شو (جرف) هغه څه ختې چي سېلابونه يې له ځانه سره لېږدوي اوپه څنډو څوکو دويالو يې اچوي اصل يې له (جرف) څخه اخيستل شوی اوهغه يوځيزله بېخه ايستلوته وايي (هار) لوېدونکی اواصل يې (هائر) وو.

دنزول سبب:

روايت کېږي چي (ابوعامرراهب) [4] په جاهليت کي نصراني شوی اوراهب جوړشوی وو کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم مبعوث شو ده سخته دښمني ورسره پيداکړه ځکه چي رياست يې په خطرکي ولوېدو نويې وويل: هرڅوک چي له تاسره جنګېږي زه به دهغوملګری يم اوله تاسره به جنګېږم نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ابوعامرفاسق ونوماوو کله چي په حنين کي هوازن مات شول نوهغه شام ته لاړ اومنافقينو ته يې ځواب را واستاوو چي پخپل ټول توان سره په وسله اوقوت تيارشئ اوزمالپاره دالته مسجدودان کړئ زه قيصرته ورځم اودروم لښکري به راولم محمداواصحاب به يې له ښاره وباسم ، نودوی دقباد مسجد خواکي ورته مسجدآبادکړ اورسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل او ورته ويل يې موږ دمعذورو خلګولپاره مسجد جوړکړی چي ناروغان اويا په باراني شپه کي اړکسان پکي لمونځ وګذاري زموږ داخوښه ده چي ته (دافتتاح په دود) پکي لمونځ اداکړې نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اراده وکړه چي ورشي اودبهرته وتلو جامې يې واغوستې چي پدې مهال قرآن کريمورباندي نازل شو او د ضرار مسجد حال اوددوی قصدېې ورته روښانه کړ نورسول الله صلى الله عليه

---

[1] الرازي ١٢ / ١٢٥
[2] القرطبي ٨ / ٢٣٤
[3] رواه الدارقطني.
[4] دغه دحضرت حنظلة رضى الله عنه پلاردی هغه مشهور صحابي چي پرښتو غسل ورکړ.

وسلم خني اصحابان راوغوښتل ورته يې وويل: ولاړشئ ددغه ظالمانومسجد وسوځوئ نوهغه ورغلل او ويې وسوځاوو وران يې کړ خلک يې تيت اوپرک شول او دغه آيتونه نازل شول چي: ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا ﴾ (التوبه١٠٧)دآيتونوترپايه([1])

تفسير:

﴿ يَعۡتَذِرُونَ إِلَيۡكُمۡ إِذَا رَجَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡۚ ﴾ عذرونه به کوي دغه (منافقين) تاسي ته (دبيرته پاتي کېدلو له غزانه) کله چي تاسي بيرته (له تبوکه) راوګرزئ دوى ته (له سفراوجهادنه) ﴿ قُل لَّا تَعۡتَذِرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ ﴾ ورته ووايه (اې محمده!) مه کوئ داعذرونه له سره به باور ونکړو موږ (ستاسي په خبرو) ﴿ قَدۡ نَبَّأَنَا ٱللَّهُ مِنۡ أَخۡبَارِكُمۡۚ ﴾ په تحقيق خبرکړي يو الله موږ ستاسي له احوالوڅخه (اوپه هغه چي په زړه کي موپليتي اونفاق خوندي دى) ﴿ وَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ ﴾ اوژربه ويني الله اورسول ددغه الله عمل ستاسي (په راتلونکي کي چي آياتاسوله نفاقه توبه ګارکېږئ اوکه ورباندي استقامت کوئ؟) ﴿ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ بيابه بيرته بوتلى شي تاسي (په قيامت کي) هغه عالم دپټواوښکاره وو (الله) ته (چي هيڅ ورڅخه پټ او الونيانه دى) ﴿ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴾ (نوخبربه درکړي تاسي ته په هغو کارونوچي تاسي به کول) يعني کله چي دهغه په وړاندي ودرېږئ ستاسي دټولو کارونو اواعمالوخبربه درکړي اوپرهغو به عادلانه جزا درته وليکي ﴿ سَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ ﴾ ژربه قسمونه خوري دوى په الله تاسي ته ﴿ إِذَا ٱنقَلَبۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ ﴾ کله چي بيرته راشي دوى ته (له غزانه نوبه درته په دروغو عذرونه وايي) ﴿ لِتُعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ ﴾ ددې لپاره چي تاسي څنګ وکړئ له (عتاب د) دوى نه (او بد يې ونه بولى) ﴿ فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ ﴾ نوڅنګ وکړئ تاسي له دوى نه (څنګ کول دغضب اوبد ايسېدلو,اوپرېږدئ دوى اوددوى ناولي کارونه چي کفر اونفاق دى. ابن عباس رضى الله عنهما وايي چي: مراد له دي نه له دوي سره دسلام اوکلام بندول دي([2]) بيا الله ددې وجه بيانوي فرمايي: ﴿ إِنَّهُمۡ رِجۡسٞۖ ﴾ ببشکه چي دوى پليت دي (ځکه باطن يې پليت اوخبيث دى) ﴿ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ ﴾ او ځاى دورتلوددوى دوزخ دى ﴿ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴾ دپاره دجزا ورکولو په هغو کارونوچي دوى به کول (له نفاق اوګناهونو څخه په دنياکي) ﴿ يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ لِتَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡۖ ﴾ (قسمونه خوري دغه (منافقان) تاسي ته لپاره ددې چي تاسي له دوى نه راضي شئ) دغه يې ددوى د دروغو دبيان لپاره مکرر راووړ ترڅومؤمنان ددوى په دروغجنو عذرونو تېرنه وزي ﴿ فَإِن تَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَرۡضَىٰ عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴾ (نوکه تاسى له دوى راضي شى نوبېشکه الله نه راضي کېږي له قومه فاسقانو(څخه) يعني

([1]) اسباب النزول ص: ١٤٩

([2]) الرازي ١٢ / ١٢٤

که تاسي ځني راضي هم شئ خو دادوی ته ګټه نه رسوي ځکه الله جل جلاله دوی ته قهر کونکی دی او فاسقين کلمه يې دضمير پرځای ځکه ظاهر راوړه چي ددوی له طاعته وتل اوفسق څرګند کړی (١)﴿ ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا ﴾ (ځيني صحرايې) (أعراب ډېر سخت دي له جهته دکفره اوله جهته دنفاقه (له ښاريانو نه) ځکه ددوی زړونه سخت او د صلاح او خير خلک يې لږ ليدلي وي ﴿ وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ ﴾ (اوډېرلائق دي له دې سره چي پوه نشي دوی په حدودو دهغو (احکامو) چي الله نازل کړي دي په رسول خپل باندي) يعني له دوی سره داوړه چي دالله په نازل شوو احکامو اوشرائعوونه پوهېږي په البحر کي وايې چي دوی ځکه ډېر سخت دي له جهته دکفراو نفاقه چي دوی فخرکوي اوغلبه خوښوي پرته له استاذاو ښوونکي روزل شوي دي څنګه چي غواړي هغسي لوی شوي وي علماء اوپوهان يې ډېرخي ليدلي نه وي دالله کتاب اودپيغمبرپه سنتوعلم نلري نوځکه دښاريانو ترمنافقانو ژب غړاندوي (٢)﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴾ اوالله ښه عالم دی (پرمخلوقاتو) ښه حکمت والا دی (پخپلو مصنوعاتو کي) ﴿ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغۡرَمٗا ﴾ (اوځيني له (صحرايې اعرابو څخه هغه دي چي نيسي (ګڼي) هغه شی چي لګوي يې (په لاره دالله کي) (محض) يوتاوان) يعني ځيني کوچيان (اعراب) ناپوهان هغه مالونه چي دالله په لاره کي يې لګوي اوخيراتوي تاوان اوزيان بولي ځکه دوی يې دثواب په نيت نه ورکوي اونه يې داجر هيله لري ﴿ وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَۚ ﴾ (اوانتظارکوي پرتاسي دګردشونو دزمانې) يعني دوی ستاسو لپاره ددنيوي مصيبتونو څارکوي سترګي په لاره وي چي له دغومالونو لګولو څخه وزګارشي ﴿ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۗ ﴾ پرهمدوی دي دبدي ګردش وي) دغه اعتراضيه جمله ده او د ښېراپه ډول راغلي يعني پردوی دي عذاب اوهلاکت راوڅرخي ﴿ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴾ اوالله ښه اورېدونکی (ددوی داقوالو) ښه پوه (اوعالم ددوی په افعالو) دی ﴿ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ اوځيني له (صحرايې) اعرابو څخه هغه دي چي په الله اوورځي آخري باندي ايمان لرونکي دي (برعکس دهغومنافقانو) ﴿ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ اونيسي (شمېري) هغه شی چي لګوي يې (په لاره دالله کي) (اسباب) دنژدېوالي په نزد دالله (او محبت دهغه الله) ﴿ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ ﴾ او(سبب د) دعاوو درسول الله (چي ورته ښېنه غواړي) ﴿ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ ﴾ خبردارشئ چي دغه (نفقات) سبب د نژدېوالي دی دوی ته) ﴿ أَلَآ ﴾ داستفتاح توری دی ترڅو ددغه کارلوري ته اعتناء اوپاملرنه راواړوي چي دغه نفقه کول سترقربت او دالله جل جلاله درضااوخوښي ترلاسه کول دی ځکه دوی په اخلاص لګولي دي ﴿ سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ ﴾ ژر به الله دوی پخپل رحمت کي داخل کړي (هغه جنت چي دمتقيانو پرهېزګارانو لپاره يې تيارکړی دی) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ بېشکه الله ښه مغفرت کونکی (داطاعت کونکو) ډېرمهربان

---

(١) ابوالسعود
(٢) البحر المحيط

دی (پردوی چې دطاعت لپاره يې بريالي كړل ﴿ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلْأَوَّلُونَ مِنَ ٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ﴾ (او هغه وړاندني اولني (ايمان لرونكي) له مهاجرينو اوله انصارونه) يعني هغه ړومبني په هجرت اونصرت كې چې ايمان ته يې ړومبی والی كړی له اصحابانونه(١) ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحْسَٰنٍ ﴾ (او(نور) هغه كسان چې متابعت كړې دی دوی د(سابقانو) په احسان سره) يعني هغه كسان چې داصحابانو دسيرت متابعت يې كړی د هغوی په لاره تللي دي تابعين اونور هغه چې ترقيامته پدغه لاره درومي ﴿ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ﴾ (راضي شوی دی الله له دوی نه اوراضي شوي دي دوی له الله نه) يعني الله دغفران اورضوان وعده وركړي چې هم پخپله الله ځني راضي شوی اوهم دوی يې راضي كړي دي اودغه هغه دزيار ايستلو وروستنی پړاودی چې مؤمنان يې دلاس ته راوړلو هلې ځلې كوي اوپدې كې سيالي كوي چې الله له دوی نه خوښ اوراضي شي اوالله جل جلاله دوی راضي كړي. طبري وايي: چې الله پاک ځكه ځني راضي شوی چې دالله طاعت يې كړی اونبي يې منلی دی اودوی ځكه له الله څخه راضي شوي چې الله پاک دوي ته په اطاعت اوايمان باندې بشپړثواب وركړی دی ﴿ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى تَحْتَهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ اوتيار كړي دي الله دوی ته جنتونه چې بهيږي لاندې له ماڼيو اوونو دهغو ويالې ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ تل به وي دوی په هغو كې همېشه دغه بری دی ډېرلوی (چې ترې زيات اولوی بری بل نشته)په البحر المحيط كې وايي چې كله الله پاک دمؤمنانواعرابو فضائل بيان كړل بيايې دړومبنيو اصحابانو حال راووړ خو ددوی دفضائلو ترمنځ خورا لوی واټن اومسافه وه ځكه هلته يې وفرمايل: ﴿ أَلَآ إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ﴾ اودلته يې بيا داسې وويل چې: ﴿ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى تَحْتَهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ اوهلته يې پدې كلماتو پای ته ورسول چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ اودلته يې بيا وفرمايل: ﴿ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ (٢) ﴿ وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ﴾ اوځيني له هغو كسانو چې په شاوخوا دتاسې (مدنيانو) كې دي له (صحرائي) اعرابو څخه منافقان دي (كورونه يې ستاسو له كورونو سره نژدې دي) ﴿ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ ﴾ اوځيني له خلكو دمديني نه (هم منافقان) دي ﴿ مَرَدُوا۟ عَلَى ٱلنِّفَاقِ ﴾ عادت يې نيولی (ټينګ ولاړ دي تل ترتله) پرمنافقت چې له دغې ډلې څخه ابن سلول، جلاس او ابو عامر الراهب دي(٣) دغه دابن عباس رضی الله عنه خبره ﴿ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ﴾ (ته دوی نه پېژنې موږ ددوی پرنفاق عالمان يو) يعني اې محمده ! ته دوی نه پېژنې ځكه دوی په نفاق كې زيات مهارت لري اوله ډېرو خلكو څخه ځان او نفاق پټولای شي خوماته معلوم دي اوزه به تاپرې خبر كړم. ﴿ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ﴾ (ژربه په عذاب كړو موږ دوی دوه كرته) يعني په دنياكې په وژلو اوبندي كولو اودمرګ په وخت كې دقبرپه عذاب باندې ﴿ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴾ (بيابه بوتلی شي

(١) له شعبي څخه روايت دی چې داهغه كسان دي چې درضوان بيعت يې كړی دی چابياويلي چې هغه كسان مراددي چې دواړو قبلوته يې لمونځونه كړي دي اوكوم چې موږ وليكل هغه ټول اصحابان چې ړومبی په هجرت اونصرت كې وو دغه رايه دطبري خوښه اوامام رازي غوره كړې ده.

(٢) البحر ٥ /٩٢

(٣) همدا مرجع .

دوى عذاب ډېرلوى ته) په آخرت كي چي هغه داور عذاب او الله پاک دکفارو فجارو لپاره تيارکړى دى ﴿ وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ ﴾ (اوځيني نورخلک دي چي پخپلوګناهونو يې اعتراف اواقرارکړى دى) اوپه دروغوعذرونو يې دپاتي کېدلو بهانې (پلمې) ندي وړاندي کړي([1]) امام رازي وايي : چي داهغه کسان دي چي دتبوک له غزاڅخه دسستي په وجه پاتي شوي وو اوبيايې پخپلو کړو وړو پښېماني ښکاره کړه او توبه يې وکښله ﴿ خَلَطُواْ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا ﴾ ګډکړى دى نېک عمل (پخواني جهاد اوله رسول الله سره غزاته وتل) اوبل بدعمل (چي داخل دتبوک له غزانه پاتي شول ﴿ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ ﴾ قريب دى چي الله به ددوى توبه قبوله کړي . طبري وايي چي : عسى دالله له لوري د وجوب معنا افاده کوي يعني الله به يې توبه قبوله کړي اودعربو په کلام کي د(عسى) معناهيله او رجآء ده([2]) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه چي الله ښه ښنونکى دى توبه کونکوته اوډېررحم والادى په رجوع کونکو باندي ﴿ خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا ﴾ (واخله (اې محمده !) له مالونو ددوى صدقه (زکات ياخيرات) چي ښه پاک کړي دوى له ګناهونو اوبابرکته کړې ته دوى دهغه په وسيله) يعني اې محمده ! صلى الله عليه وسلم ددغو په خپلوګناهونو معترفينو له مالونو څخه صدقه واخله اودوى دګناهونو له خيرو څخه پاک کړه او ددوى پدې صدقه سره نېکي اوښنواعمالوته وده ورکړه چي دمخلصينو ابرارو درجاتوته لوړشي ﴿ وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ ﴾ اودعا وکړه (دمغفرت) دوى ته بېشکه چي دعاستاددوى لپاره تسکين (اواطمينان) دى ﴿ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ اوالله ښه اورېدونکى (ددوى داقوالو) اوښه عالم دى (په نيتونوددوى) ﴿ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ ﴾ آيانه پوهېدل دغه (توبه کونکي) چي بېشکه الله همدى توبه قبلونکى له خپلوبندګانو) استفهام دتقريرلپاره دى ﴿ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ اواخلي (قبلوي) صدقات (چي دچانيت سم وي) ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ اوبېشکه الله (يوازي) هم دى ښه توبه قبلونکى ښه رحم والادي) لکه چي الله فرمايي : ﴿ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ ﴾ غافر٣ ﴿ وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ ﴾ (ووايه (اې محمده !) عمل کوئ تاسي (چي زړه موغواړي) نوژربه الله ويني عمل ستاسي اورسول دده اومؤمنان (به يې هم ويني) دغه صيغه دامرخوپه ترڅ کي يې وعيد نغښتى دى يعني هرڅه چي کوئ ويې کړئ الله يې ويني دقيامت په ورځ به ستاسواعمال وړاندي شي اوپيغمبر اومؤمنان به يې ويني ﴿ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ اوژربه بيابوتلى شي تاسي (په بعث سره) عالم دپټواوښکاره وو (الله) ته هغه ذات چي هيڅ شى ځني پټ اوالونيانه دى) ﴿ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴾ نوخبربه کړي (الله) تاسي په هغه سره چي تاسوبه کول (که مود خيرکارونه) کړي وو دخيرجزابه درکړي اوکه شر وو دشرسزابه ووينئ ﴿ وَءَاخَرُونَ مُرۡجَوۡنَ لِأَمۡرِ ٱللَّهِ ﴾ اونور کسان دي له دغو (پاتي شوو له جهادنه) چي وروسته کړى شويدي لپاره دحکم کولو دالله (ددوى په هکله) ابن عباس رضى الله عنه وايي چي : دغه کعب ابن مالک ، مرارة بن ربيع

([1]) الرازي ١٢/ ١٧٤

([2]) الطبرى ١١/ ١٢

او هلال بن امية وو دوى دتوبې او اعتذار لپاره چټكتيا ونكړه دوى دبدرد غازيانوله ډلي وو اورسول الله خلك له دوى سره دسلام اوكلام له ادل بدل كولوڅخه منع كړل نودوى دالله حكم ته وځنډول شول ترڅوبې الله له ګناهونو ورتېرشي الله هغه ذات دى چي يوازي هغه يې توبه قبلوي نه بل څوک ﴿ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ﴾ (يابه په عذاب كړي (الله) دوى يابه مهرباني پردوى وكړي) يعني يابه عذاب وركړي كه يې توبه ونه كښله اويابه دتوبې كولوتوفيق ورپه برخه او بښنه به ورته وكړي ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله ښه عالم دى (ددوى په احوالو) ښه حكمت والادى چي پر دوى څه كوي ؟ اودغه درې تنه دالله جل جلاله پدې ويناكي يادشوي دي چي : ﴿ وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ ﴾ التوبة ١١٨ اوددوى فيصله ترپنځوس ورځي پوري وروسته شوه چي تولوخلكو ورسره مقاطعه اوشلون كړى وو ترڅو يې دتوبې منل نازل شول(١) ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا ﴾ (او(ځيني) هغه (منافقان) دي چي نيولى (جوړ كړى) دى دوى جومات لپاره دضرر رسولو (مؤمنانو) ته يعني ځيني له منافقانو څخه هومره زيات مجرمان دي آن تردې چي دشر اوفساد خپرولولپاره يې مسجد جوړكړى اوپه هغه يې (مضارة المؤمنين) نوم ايښى(٢) چي بيا دضرار مسجدپه نامه ونومول شو ﴿ وَكُفۡرٗا ﴾ او لپاره دكفريعني دهغه كفرد ملاتړ لپاره چي دوى يې پټوي ﴿ وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ (اولپاره دبېلتون اچولو په مينځ دمؤمنانوكي) چي دوى غواړي يوه ټولى مؤمنان له قباجومات څخه راوګرزوي ﴿ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ ﴾ (اولپاره دانتظار دهغه چاچي جنګ يې كړى دى پخواله الله اورسول دده دغه (الله) سره) يعني دوى دابوعامر فاسق دراتلوانتظار باسي هغه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې ويلي وو: هرڅوك چي له تاسره جنګيږي زه به دهغوپه ملاتړ،او له تاسره جنګ كوم اوداهغه څوك وو چي دوى ته يې دمسجدجوړلوامركړى ووچي پناهګاه وي. طبري دضحاک په روايت ليكلي چي دغه يوڅوتنه منافقين وو چي جومات يې ددې لپاره جوړكړى وو چي پيغمبر اومسلمانانوته ورباندي ضرر ورسوي اوويل به يې كله چي ابوعامر راشي دلته به پكي لمونځ كوي اوچي راستون شي په پيغمبربه برى ومومي (٣) ﴿ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ ﴾ اوخامخاقسمونه خوري هرومرو دوى چي موږ اراده نده كړي مګرد نېک خصلت ؛ په جوړولو دمسجدسره چي دمسكينانو لپاره موودان كړى اوچي پكي لمونځ كونكي په پراخي سره لمونځ اداكړي ﴿ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴾ (اوالله شاهدي اداكوي چي بېشكه دوى خامخا دروغجنان دي) اِنَّ - او- لام يې دزيات تاكيدلپاره راوړل بيا الله تعالى خپل پيغمبرهلته دلمانځه له اداكولو څخه منع كړ ويې فرمايل: ﴿ لَا تَقُمۡ فِيهِ أَبَدٗاۚ ﴾مه درېږه ته په دغه مسجدكي (لپاره دلمانځه) هيڅكله (ځكه چي هغه د منافقينو دځالي په توګه وذان شويدى)﴿ لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ ﴾ هغه مسجد(دقباء) چي تادو (بنياد) يې په تقوى ايښودل شوى) لام دقسم لپاره دى يعني قسم دى

(٣) الطبري ١١ / ٢٥

(١) دڅپاړونكي اثر (ګرزنده خيلخانه)چې دادب په پلوشوكتاب كې راغلى هغه دي وكتل شي چي پدې پېښه كي خورا مفصل معلومات لري .

(٣) الطبري ١١ / ٢٥

دقباء مسجد چي لومړنی بنسټ يې په تقوی او طاعت اېښودی شوی ﴿ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ ﴾ له لومړۍ ورځي ﴿ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ ﴾ ډېر لائق ددې دی چي ته په هغه کي و دريږې) تردې چي په ضرار مسجد کي لمونځ اداکوې ﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا۟ ﴾ په هغه (قبا) کي هسي سړي دي چي خوښوي دوی داچي ښه پاک وساتي دوی (ځانونه خپل له ګناهونو او پليتيو څخه چي دغه متقيان انصار دي) ﴿ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُطَّهِّرِينَ ﴾ او الله خوښوي ښه ځان پاکونکي (له ظاهري او باطني پليتي څخه بيا الله دغه بهتري ته په ضرار مسجد باندي داسي اشاره کوي فرمايي: ﴿ أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَـٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنٍ خَيْرٌ ﴾ (آيانو هغه څوک چي تادو يې اېښی وي (دودانۍ ددين) خپل په تقوی له الله څخه او په رضا (دالله) غوره دی ؟ استفهام دانکار لپاره دی ﴿ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَـٰنَهُۥ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ ﴾ يا هغه څوک چي تادو دوداني (ددين خپل کېښودي) په څنډه دکندي باندي چي نړېدونکي وي ؟ ﴿ فَٱنْهَارَ بِهِۦ فِى نَارِ جَهَنَّمَ ﴾ نو نړېږي داغاړه دکندي سره له جوړونکي په اور ددوزخ کي ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ او الله نه ښيي سمه صافه لار قوم ظالمانو ته) آيت شريف دتشبيه او تمثيل په ډول راغلی دی چي اخلاصمن مؤمن او ګمراه منافق سره پرتله کوي ﴿ لَا يَزَالُ بُنْيَـٰنُهُمُ ٱلَّذِى بَنَوْا۟ رِيبَةً فِى قُلُوبِهِمْ ﴾ همېشه به وي ماني (دنفاق) ددوی هغه چي بنا کړي وه موجب دشک شبهې (او نفاق) په زړونو ددوی کي) يعني تل به ددغه مسجد ضرار دودانونکو په زړونو کي شک او نفاق وي او همدارنګه غصه او شبه به وي چي ولي وران شو؟ دوی ګمان کاوو چي په ودانولو کي يې دوی نيکوکاران دي . روايت کېږي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم څوتنه دغه مسجد ته ورواستول هغه يې وران او سوځاوو بدبويه شيان او مړګي يې ور وغورځولې او دغه نو د مسجد داهل دسپکاوي لپاره وو چي دمنافقانو حسد اوقهرېې نور هم زيات کړ ﴿ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ ﴾ (مګرچي توټې توټې شي زړونه ددوی) يعني تل به دوی په شک او غصه کي وي څوېې زړونه وچوي او ومري ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ او الله ښه عالم دی (دمنافقينو په حالاتو) ښه حکمت والا دی ددوی لپاره په تدبير کولو او دوی ته په بدو نيتونو باندي په جزا ورکولو سره.

بلاغت:

١-د ﴿ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ﴾ په کلماتو کي دطباق صنعت خوندي دی.

٢-پدې کلام کي چي الله جل جلاله فرمايي: ﴿ لَا يَرْضَىٰ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴾ دلته اظهار د اضمار پر ځای راغلی او د زيات شناعت او قباحت ښرګندويه دی اصل خوداووچي (لايرضی عنهم) راغلی وای.

٣-﴿ سَيُدْخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦٓ ﴾ دلته مرسل مجاز دی يعني ژر دی چي الله به يې په هغه جنت کي داخل کړي چي درحمت محل دی حال يې راوړی او محل څني مراد دی.

٤-پدې کلماتو کي چي فرمايي: ﴿ عَمَلًا صَـٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا ﴾ دلته د(صالحا) او(سيئا) ترمينځ دطباق صنعت دی.

٥ – كله چي الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمۡ﴾ دلته بليغه تشبيه راغلي ځكه لمونځ يې په خپله اطمينان بللى چي مبالغه پكي مقصدده اواصل يې داووچي راغلي واى (كالسكن) خودتشبيه ادات (تورى) اودمشابهت وجه يې حذف شوي نوبليغه تشبيه گڼلي كېږي.

٦ - ﴿هَارٍ فَٱنۡهَارَ﴾ پدې كلماتوكي ناقص جناس دى اوداهم له بديعي محسناتو ځخه گڼل كېږي.

٧ – پدې كلام كي چي الله تبارک وتعالى فرمايي: ﴿أَفَمَنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقۡوَىٰ﴾ مكنيه استعاره ده ځكه چي تقوى او رضوان يې له كلكي ځمكي سره مشابه كړى اومشبه به يې ذكركړى نه دى خودهغې له لوازموځخه يې يولازم راوړى چي هغه تأسيس او ودانول دي(١)

تنبيه:

د(عسى) كلمه له الله جل جلاله ځخه دواجب په معناده دغه دامام رازي خبره ده اوپخه خبره داده چي قرآن كريم دخلگو دخبرو اترو له دودسره سم نازل شوى اوله ستر پاچاځخه كله چي يوڅوک څه وغواړي هغه يې دهيلي او رجا په كلماتوځواب وركوي يعني ورته وايي: (عسى) (لعل) ترځويې پدې تنبيه كړي چي هيڅوک په لزومي توگه له پاچاځخه څه نه غواړي بلكه پاچا له خپلي مهرباني اوفضل سره سم دخلگوغوښتني ترسره كوي اوبله فائده په دغه ترجى كي داهم ده چي مكلف دطمعي اوويري ترمينځ وي او يومخ اېزه هيلوته ځان نه سپاري بلكه اعمال هم ترسره كوي(٢)

لطيفه:

أعمش روايت كوي چي يوأعرابي د(زيدبن صوحان) په مجلس كي كښېناست اوهغه خپلوملگرو ته خبري كولې دهغه لاس دنهاوند په ورځ غوځ شوى وو نوأعرابي ورته وويل: زمادي په الله سوگندوي چي خبري دي ارو مروخوندراكوي اودغه لاس دي خامخا ماته شک پيداكړى دى زيدورته وويل: ولي مي لاس تاته شک پيداكړى دغه خوچپ لاس دى ؟ أعرابي ورته وويل: والله كه زه خبريم چي ښى لاس دوى غوځوي اوكه چپ لاس ؟ نوزيد وويل: الله رښتياوايي: ﴿ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ﴾ التوبة: ٩٧ دآيت ترپايه يعني أعرابي ته دهغه دلاس دغوځولو په هكله اشتباه پيداشوي وه چي آياپه غلاكي خوبه غوځ شوى نه وي اودغه گواكي دأعرابي دجهل ځخه گواهي وركوي(٣)

الله تعالى فرمايي:

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١١١ ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡحَٰفِظُونَ

---

(١) وگوره چي شريف رضي په تلخيص البيان كي څومره ښه ليكلي دي ص: ١٤٩
(٢) الرازي ١٢ / ١٧٢
(٣) محاسن التأويل ٨ / ٣٢٣٩

لِحُدُودِ ٱللَّهِ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن يَسْتَغْفِرُوا۟ لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوٓا۟ أُو۟لِى
قُرْبَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿١١٣﴾ وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن
مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ
لِيُضِلَّ قَوْمًۢا بَعْدَ إِذْ هَدَىٰهُمْ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١١٦﴾ لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِىِّ
وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِى سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ مِنۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ
ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُۥ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُوا۟ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا
رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوٓا۟ أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾ مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم
مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا۟ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا۟ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ
وَلَا مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم
بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ
وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾ ۞ وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً
فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَٰتِلُوا۟ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا۟ فِيكُمْ غِلْظَةً وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾
وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنًا فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَزَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ
﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾ أَوَلَا يَرَوْنَ
أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِى كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ
سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ هَلْ يَرَىٰكُم مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ ٱنصَرَفُوا۟ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ
﴿١٢٧﴾ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِٱلْمُؤْمِنِينَ
رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ
﴿١٢٩﴾ التوبة: ١١١ ـ ١٢٩

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله پاک د متخلفینو منافقانو احوال بیان کړل وروسته یې د سوچه مؤمنانو مجاهدینو هغو چې خپل خانونه یې د الله په لارکې قربانول یادونه وکړه اوبیایې د هغو دریوتنو یادراووړ څوک چې د تبوک له غزاڅخه پاتې شوي وو الله یې توبه ومنله د سورت په پای کې یې هغه سترنعمت ته چې الله پاک په بشریت لورولی اشاره وفرمایله هغه چې عربي استازی روښانه څراغ الله جل جلاله د عالمیانو لپاره رحمت رااستولی دی.

لغتونه:

(اواه) ډېر اسویلي کونکی او معنایې خاشع او متضرع دی ویل کېږي (تأوه الرجل) کله چې له درده اسویلي راکاږي (حلیم) هغه چاته وایې چې زغم لری اوله ګناهونوتېرېږي په مشکلاتوباندې صبرکوي. (العسرة) سختي اوتکالیف د تبوک غزاته څکه (غزوة العسرة) وایې چې مشقت او سختي پکې زیاته ده (یزیغ) زیغ میلان ته وایې ویل کېږي (زاغ قلبه) کله چې له ایمان اوهدایت څخه کوږ اومائل شي (ظمأ) سخته تنده (نصب) سخته ستړیا (مخمصة) ډېره لوږه چې ګېډه پکې لوېدلې وي (ینالون) دوی ته رسېږي (غلظة) شدت، قوت، غیرت (عزیز) سخت او ټینګ (عنتم) عنت شدت او مشقت ته وایې.

د نزول سبب:

أ:- کله چې انصارو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په لیلة العقبة (د عقبې په شپه)بیعت وکړ او دوی اویاتنه وو نوعبدالله بن رواحة وویل : یارسول الله څه چې دې خوښه وي د خپل رب له خوا اوپخپله ستاله خوا پرموږ باندې شرطونه کېږده نورسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د الله لپاره داشرط دی چې یوازې د هغه الله عبادت وکړئ بل څوک ورسره شریک مه نیسئ اوزماشرط دادی چې له کوم څیزڅخه چې خان منع کوئ ماهم منع کړئ نودوی ورته وویل : که مودغه شرطونه پرځای کړل زموږ لپاره به (جائزه) څه وي رسول الله ﷺ وویل: جنت به وي نودوی وویل: ډېره ښه بیه ده نه پښېمانه کېږو اونه د چاپښېماني منو نودغه آیت نازل شو: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ ﴾ د آیت ترپایه[1]

ب :- کله چې ابوطالب د څکندن په حال کې وو ابوجهل اوعبدالله ابن أمیه یې سرته ناست وو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورغی او ورته ویل یې: اې کاکا داسې ووایه چې ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ زه به د الله جل جلاله په وړاندې پرتاګواهي ووایم څو څله پیغمبرعلیه السلام همدغه وړاندیز ورته کاوو ابوجهل اوابن أمیه ابوطالب ته وویل: آیاته غواړې له ابراهیمي ملت څخه ووزې ؟ نوهغه وروستی خبره چې ابوطالب دوی ته وکړه داوه چې هغه په ابراهیمي ملت باندې دی خوداسې یې ونه ویل چې: ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ نورسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : زمادې په الله جل جلاله سوګندوي ترهغوبه درته بښنه غواړم څوچې الله منع کړی نه یم نوالله جل جلاله دا آیت شریف نازل کړ: ﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ ﴾ اوهم دا راز دغه آیت شریف چې فرمایې: ﴿ إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴾ القصص: ٥٦ [2]

---

[1] زاد المسیر ٣ /٥٠٤

[2] أخرجه مسلم

تفسير:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ ﴾ ببشکه چي الله اخیستي (پېرودلي) دي له مؤمنانو څخه نفسونه ددوی اومالونه ددوی په عوض ددې چي ببشکه شته دوی ته جنت) دغه دبلاغت اوبیان په تول تللی خورادروند دمجاهدینولپاره داجرتمثیل دی چي الله جل جلاله دوی ته ددوی دمالونو اوځانونو په بیه جنت ورکړی اوګواکي دغه یې دبیې ترون انځورکړی دی. حسن بصري رحمه الله وایې چي: الله له دوی سره بیه ترسره کړي اوپه ګرانه قیمت !(١) دالله جل جلاله دغه کرم ته وګورئ هغه ځانونه (نفسونه) چي ده پیداکړي اوهغه مالونه چي الله دوی ته روزي ورکړي ده بیاالله هماغه پداسي بیه ځني رانیسي چي هغه جنت دی دادېره ګټوره بیه او سوداده ځینوویلي چي دامعامله ډېره غوره اوهغه عقد دی چي مؤمن یې بائع اومشتري الله تعالی دی اوثمن یې جنت اوچک (صك) یې آسماني کتابونه, واسطه پکي حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دی ﴿ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ ﴾ (دغه پېرودل اخیستل پدي شان دی) چي جنګونه کوي دوی په لاره دالله کي نوکله (مؤمنان) وژني (داکفار) اوکله (دکفارو له لوري) وژلی شي دغه مؤمنان) یعني دوی دالله دکلمې دلوړوالي لپاره جنګېږي کله چي غلبه ومومي دښمن ووژني اوکله بیا په دغه جګړه کي دوی پخپله شهیدان شي ﴿ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ ﴾ (وعده ده پدغه (الله) باندي وعده حقه په تورات، انجیل اوقرآن کي ﴿ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ ﴾ اوڅوک ترالله ښه وفاکونکی پخپلي وعدې دی ؟ (هیڅوک نشته) استفهام انکاري اودنفی په معنادی. زمخشري وایې: چي دوعدې مخالفت کول بدکاردی اوعزتمن خلګ هیڅکله هم دوعدې مخالفت نه کوي سره له دې چي مخلوق دی نوڅرنګه به هغه غني خالق ذات چي قباحت هډو ورته جائزنه دی دوعدې مخالفت وکړي ؟ اودغه دجهادپه هکله خورا ښه ترغیب دی چي ترې پورته بلیغ اسلوب نشته (٢) ﴿ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ ﴾ نوتاسي خوشحاله شئ (اې مؤمنانو) په بیع ستاسي باندي هغه چي تاسي له الله سره (په هغې بیع اوشراء سره) معامله کړي ده (خوراخوشحاله (٣) ﴿ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ همدغه ډېرلوی بری دې ﴿ ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ﴾ (توبه کونکي، عبادت کونکي، شکرکونکي رکوع کونکي دي سجده کونکي دي) دغه کلام استئناف دی اوزجاج وایې چي: دغه مبتداء اوخبریې محذوف دی اوهغه داچي (من أهل الجنة) دی که څه هم چي جهادیې نه وي کړي لکه چي الله فرمایې: ﴿ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ ﴾ النسآء. ٩٥

---

(١) الطبري ١١/٣٥

(٢) الکشاف ٢/٢١٤

(٣) ځینو له سائحینو څخه روژتیان (صائمین) اخیستي او عطاء وایې: چي مرادځني غازیان دي ابن زیدوایې: چي دغه مهاجرین ښیې خوکوم چي موږ ولیکل هغه دامام رازي غوره اودغه آیت هم ورباندي دلالت کوي ﴿ فَسِيحُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ التوبة: ٢ والله اعلم.

﴿ ٱلسَّـٰٓئِحُونَ ﴾ په مځکه کي سفرکونکي دي (دعلم دتحصيل اوياغزادکولولپاره) (١) له سياحت څخه اخيستل شوی اوهغه په ښارونو،دښتونوکي دپنداوعبرت لپاره سفرکولوته وايي ﴿ ٱلْـَٔامِرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ﴾ حکم کونکي دي په ښېګڼو منع کونکي دي (خلګولره) له بدوکارونوڅخه ﴿ وَٱلْحَـٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِ ﴾ اوحدودالله ساتونکي دي دالله جل جلاله په حلال حرام باندي دشريعت پابندي دفروضو ساتنه کوي. طبري وايي چي دوی دالله فرض اداکوي اوامراونهی يې مني (٢) ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوزېری ورکړه (اې محمده) مؤمنانوته اوداچي دزېري جائزه يې حذف کړي سبب دادی چي هغه داسي نايابه جائزه ده چي نه سترګو ليدلی ، نه غوږو اورېدلي ، نه دچاپه زړه اوخاطرکي راتېره شوي ، نه هم په حصرکي راتلونکي ده ﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِىِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن يَسْتَغْفِرُوا۟ لِلْمُشْرِكِينَ ﴾ نه ښايي (اونه روادی) نبي لره اونه ښايي (اونه روادی) مؤمنانوته چي مشرکينوته مغفرت (بښنه) وغواړي ﴿ وَلَوْ كَانُوٓا۟ أُو۟لِى قُرْبَىٰ ﴾ اګرکه وي (دامشرکان) خاوندان دخپلوي ﴿ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴾ وروسته له دې خبري چي ښکاره شي دوی ته چي بېشکه دوی ددوزخ څښتنان دي (اوپه کفرمړه دي) دغه آيت شريف دابوطالب په هکله نازل شويدی (٣) ﴿ وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ ﴾ (اونه وه بښنه غوښتل دابراهيم لپاره دخپل پلار) دغه دهغه سبب بيان دی کوم چي ابراهيم عليه السلام يې دي ته اړيوست چي خپل پلارته بښنه وغواړي ﴿ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ ﴾ مګرپه سبب دوعدې چي ده ته يې (وراندي) کړي وه پدې قول چي ﴿ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّىٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِى حَفِيًّا ﴾ مريم: ٤٧ اوداهم هغه وخت چي دپلار اصرار يې لاورته په شرباندي ثابت شوی نه وو ﴿ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ﴾ (نوکله چي ابراهيم عليه السلام ته معلومه شوه چي بېشکه دغه پلارده دالله دښمن دی نوله هغه بېزاره شو) يعني کله چي ابراهيم ته څرګنده شوه چي پلاريې له کفرڅخه نه اوړي نوپه بشپړه توګه څني بېزاره شوځه لادهغه لپاره داستغفار غوښتل اوبښنه ده بياالله پاک دابراهيم عليه السلام ددغه استغفار غوښتلو موجبات بيانوي چي دغه ابراهيم عليه السلام دزړه نرمښت اوزيات زغم درلودل وو چي دپلار لپاره يې استغفارغوښتل فرمايي: ﴿ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٌ ﴾ (بېشکه ابراهيم ډېرآه کونکی (له رحمته اوزړه نرم والي)اوډېر تحمل والاوو) چي سره له دې چي پلاريې اخطار ورکړی وو چي ﴿ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ۖ وَٱهْجُرْنِى مَلِيًّا ﴾ مريم: ٤٦ خوابراهيم عليه السلام بياهم تحمل اوصبرخپل کړی وو اودبښني دعايي ورته کوله نودبل چاپاره پدې هکله دده پيروي کول سم نه دي . ابوحيان وايي : څرنګه چي دابراهيم عليه السلام استغفاردخپل پلار لپاره ددې غوښتونکی وو چي نورخلګ هم دده ددغه عمل پيروي اومتابعت وکړي نوالله پاک دابراهيم عليه

(١) الطبري ١١ / ٣٩
(٢) اسباب النزول
(٣) البحر المحيط ٥ / ١٠٥

السلام داستغفار غوښتلو علت په ډاګه کړ چي هغه له خپلي ژمني (وعدې) سره سم دغه ښځنه غوښتله اودهغه دايمان هيله يې لرله کله چي دوحی په سبب ورته ښکاره شوه چي پلاريې دالله دښمن دی اودی به په کفرمړکيږي اوتمه يې له ايمان راوړلو وختله نويې استغفار غوښتل هم پريښودل(١)﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًۢا ﴾ اوندی الله چي هيڅ يوقوم يې بې لاري کړی دغه دمسلمانانو دهغه ټولګي په باب رانازل شوی چي دمشرکانولپاره يې مغفرت غوښتی وو نودوی پخپلو ځانونو وويرېدل آيت ددوی دلاساينه کوي(٢) چي الله له لارښوونې وروسته څوک نه ګمراه کوي﴿ بَعْدَ إِذْ هَدَىٰهُمْ ﴾ (وروسته له هغه چي دوی ته يې (داسلام) لاره وښودله) دايمان راوړلو توفيق يې ورکړ﴿ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَ ﴾ (ترهغوپوري چي بيان کړی دوی ته هغه څيز چي ځان ترې وساتي) نوکه يې له نهی وروسته مخالفت وکړ دعذاب وړ اومستحق به وګڼل شي.﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ (بېشکه الله په هرڅيزباندي عالم دی) چي له دي جملې څخه داهم دی څوک چي دهدايت وړوي اوڅوک بيادضلالت اوګمراهي مستحق﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ﴾ (بېشکه الله لره دی سلطنت دآسمانونواوځمکي) (اوټول هغه چي په دوی دواړوکي دي دالله مملوک اوبندګان دي) ژوندي کول اومړه کول کوي﴿ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴾ اونشته تاسوته بې له الله هيڅ دوست (ساتونکی له آفاتو) اونه مددګار چي تاسو ورته پناه يوسئ. الوسي وايي: کله چي الله جل جلاله دوی دمشرکينو لپاره له استغفارکولوڅخه منع کړل که څه هم چي خپلوان يې وي نودغه دبېزاري موجب شو بياالله پاک ورته وفرمايل چي هغه سبحانه وتعالى دهر موجود مالک اوچاره جوړونکی مولادی اوهيچاته پرته له الله پاکه بل څوک مرسته اومدد نه شي رسولای ترڅو چي دوی هغه (الله) ته مخه کړي اوله نورو ټولومخلوقاتو څخه بېزاره شي

(٣)﴿ لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ﴾ (خامخاپه تحقيق الله جل جلاله رجوع کړي ده پرنبي او(پر) مهاجرينو اوانصارو) يعني الله پاک خامخادنبي توبه قبوله کړي چي منافقينو ته يې دپاتي کېدلو اجازه وکړه اومهاجرو انصاروته يې ښځنه کړي توبه يې منلي چي له دوی څخه دتبوک دغزاپه وخت کي څه تېروتني شوي وې څوک ځنډېدلي وو، څوک بياپاتي شوي اوبيايې الله ته توبه کښلي وه الله پاک ته د دوی دتوبې رښتنولي معلومه وه نوهغه توبه يې قبوله کړي اوپه پيل کي يې دنبي عليه السلام اوسترواصحابانو دتوبې ذکر وفرمايه چي ددوی دزړونو تسلا وشي دشان لوړوالی يې څرګندشي اومؤمنان دتوبې کولو لپاره وهڅوي اودا وښيي چي هرمؤمن توبې او استغفارته اړ اومحتاج دی آن تردې چي نبی اومهاجر اوانصار ټول توبې ته اړوي

(٤)﴿ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ ﴾ هغوکسانوچي پيروي کړي وه دوی دنبي عليه السلام په وخت دتنګسياکي چي دتبوک دغزاوخت اوسخته ګرمي اونهستي وه. طبراني له عمررضی الله عنه نه روايت کوي چي هغه وويل: موږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره دتبوک غزاته په خورا ترخه ګرمي کي راووتو اويوځای ته را ورسېدو چي هلته خورا سخت تږي شو ګمان مو کاوو چي له تندي به موزهره وچوي آن تردې چي چابه اوښ حلال کړو اودهغه دفضلاتو په لندبلو(رطوباتو) په ځنبلو به يې ګذاره کوله نوابوبکرالصديق رضی الله عنه وويل:

(١) التسهيل ٢/ ٨٢
(٢) روح المعاني ١١/ ٣٩
(٣) الکشاف ٢-٣١٢
(٤) الطبري ١١-٥٥

يارسول الله! الله پاک خوبه ستاد عامنله نوزموږ لپاره دعاوکړه نوپيغمبر عليه السلام وويل: چي آيا ستادا خوښه ده؟ هغه وويل: هو عليه السلام لاسونه دآسمان لورته اوچت کړل لاسونه يې لانه وو راښکته کړي چي آسمان په شېبو شېبو اورېدلو پيل وکړ اوغازيانو خپل لوښي له اوبونه ډک کړل اوچي راستانه شوو نو دعسکرو له مېشت خايه هاخوا يو څاځکی هم نه وو اورېدلی(١) ﴿مِنۢ بَعۡدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٖ مِّنۡهُمۡ﴾ وروسته له هغه چي نژدې شوی چي کاږه شي زړونه ديوې ډلي له دوی (له حق څخه اوشکمن شي داځکه چي سخته مشکلات اوتکاليف يې وليدل) ﴿ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡۚ﴾ بيا(الله) رجوع په رحمت سره پردوی وکړه څکه پرحق يې ثبات ورکړ اوچي پښېماني يې څرګنده کړه نوالله يې توبه ومنله ﴿إِنَّهُۥ بِهِمۡ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ﴾ بېشکه چي الله پردوې باندي مهربان زيات رحم والادی ﴿وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ﴾ او(همداسي توبه قبوله کړه الله) دهغو دريو کسانوچي بيرته پاتي شوي وو (له غزانه چي کعب بن مالک ، هلال بن أميه اومرارة بن ربيع وو(٢) ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ﴾ ترهغه پوري چي تنګه شوه پردوی ځمکه سره له ارتوالي ددې ﴿وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ﴾ (اوتنګ شو پردوی زړونه ددوی) چي غم اوخفګان ورته ورسېدو خوښي اوخوشحالي ورته لاره نه لرله څکه چي رسول الله صلی الله عليه وسلم خلګوته فرمان صادر کړچي له دوی دريو سره دي خبري اوسلام منع کړي نودوی چي به دېرو نژدې خپلوانوته هم سلام ور واچاوو هغوی به خواب نه ورېياکاوو آن تردې چي دخپلو مېرمنو اونورو نژدې خپلوانو له خواهم په مقاطعه اوشلون کي راغلل چي دغه هم دپيغمبرعليه السلام حکم وو ترڅوچي الله جل جلاله يې توبه ومنله ﴿وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ﴾ اويقين يې وکړچي ځای دپناه نشته (دالله له قهره) مګرهم ده ته (په رجوع کولو) دی ﴿ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ﴾ (بياالله رجوع وکړه پردوې (په توفيق دتوبې سره) دپاره ددې چي توبه وباسي دوی) يعني الله يې توبه ومنله ددې لپاره چي په توبه باندي استقامت اوثبات وکړي ﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ﴾ بېشکه چي الله همدی ښه قبلونکی دتوبې اوښه مهربان دی (که څه هم دبنده ګناهونه ستراودېروي خودالله رحمت وير اوپراخ دی ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ﴾ اې هغه کسانوچي دوی ايمان راوړی (اې مؤمنانو) له الله نه ووېرېږئ اوله صادقانوسره اوسئ ﴿مَا كَانَ لِأَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ وَمَنۡ حَوۡلَهُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ أَن يَتَخَلَّفُواْ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ﴾ ندی روالپاره دمديني دخلګو او دهغه چالپاره چي ددوی نه چاپيره صحرايې عرب دي داچي له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه بيرته پاتي کېږي دغه دتبوک له غزانه دپاتي شوو کسانولپاره عتاب دی ﴿وَلَا يَرۡغَبُواْ بِأَنفُسِهِمۡ عَن نَّفۡسِهِۦۚ﴾ (اونه(داچي) مينه کوي دوی په ځانونو خپلو له ځانه درسول نه) يعني چي خپل ځانونه له رسول الله نه زيات وبولي اوپه ځان يې هغه څه مشکلات پېرزو نه وي چي په رسول الله يې پېزوينه کوي بلکه دالازم دي چي تر رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل ځانونه قربان کړي او له هغه سره يوځای ټول مشکلات اوتکاليف په ځان

(١) الطبري ١١-٥٨

(٢) البخاري کتاب المغازي

ومني. زمخشري وايې چې: الله جل جلاله امر کړی ترڅو چې په سختيو او شدائدو کي له رسول الله سره ملګري وي او هغه څه وزغمي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يې زغمي پدې باید پوه وي چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم په الله باندی تردوی ګران دی نه داچی دوی پخپله هغه څه نه غواړی چی رسول الله يې د جهاد په ډګرکي سختي زغمي دغه د الله له لوری سخته نهی او د رسول الله د متابعت لپاره هڅونه ده (١) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ لَا يُصِيبُهُمۡ ظَمَأٞ وَلَا نَصَبٞ وَلَا مَخۡمَصَةٞ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ دغه (امر د متابعت او نهی د مخالفت) په سبب ددې دی چي بېشکه دوی ته نه رسېږي تنده او نه ستوماني او نه لوږه په لاره د الله کي ﴿ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوۡطِئٗا يَغِيظُ ٱلۡكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنۡ عَدُوّٖ نَّيۡلًا ﴾ او نه ږدي قدمونه پر کوم ځای (داسي قدمونه) چي په قهر راولي کفارو لره او نه رسېږي دوی کوم دښمن ته په رسېدلو سره (چي د هغوی بنديانول ، وژل ، يالوټول دي) ﴿ إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٞ صَٰلِحٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴾ مګر ليکلي شوي دي دوی ته په سبب د هر يوه له دغو مذکوره وو شيانو عمل نېک بېشکه چي الله نه خرابوي اجر (ثواب) د نېکي کونکو ﴿ وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةٗ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةٗ ﴾ او نه لګوي دوی (په جهاد کي) هيڅ يوه نفقه وړه او نه لويه ؛ ابن عباس رضى الله عنه وايې چي يوه دانه خرما او يا ترهغې پورته ﴿ وَلَا يَقۡطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمۡ ﴾ او نه قطع کوي هيڅ يوه کنده (يا ميدان په کفارو پسي) مګر خو ليکلی شي (ثواب د) هغه دوی ته) يعني دوی د جهاد لپاره په مځکه کي تګ راتګ نه کوي مګر خو اجر ورته ثابت شي ﴿ لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾ (دغه ليکل) لپاره ددې دی چي الله دوی ته جزا ورکړي د هغو ډېرو ښو نېکو کارونو چي دوی به (د الله په لاره کي) کول. الوسي وايې چي د دوی د اعمالو لپاره ښه جزا او ډېره ښه جزا شته او الله پاک دغه وروستی ډېره ښه جزا ورته غوره کړه (٢) ﴿ وَمَا كَانَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةٗۚ ﴾ او ندي مؤمنان داسي چي ټول ووزي (يو مخيزه د غزا لپاره چي ښارونه ځني خالي شي (٣) ابن عباس رضى الله عنه روايت کوي: چي کله په متخلفينو باندي الله جل جلاله شدت وفرمايل: نو دوی وويل: چي هيڅکله به يو تن زموږ له غزا او سريې څخه پاتي نشو کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم مديني منورې ته تشريف راوړ او د کفارو مقابلې ته يې (سرايا) واستولې نو ټول مؤمنان غزاته ووتل او ستر پيغمبر عليه السلام يې په مدينه منوره کي يوازي پرېښود بيا دا آيت نازل شو (٤) ﴿ فَلَوۡلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرۡقَةٖ مِّنۡهُمۡ طَآئِفَةٞ ﴾ (نو ولي نه ځي له هري ډلي له دې مؤمنانو نه يوه ټولۍ ؟) يعني څرنګه چي د ټولو تلل غير ممکن دي او مصلحت هم پکي نشته نو ولي له ډېرو خلګو څخه يو کوچنی ټولګی نه درومي ﴿ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي ٱلدِّينِ ﴾ لپاره

---

(١) الكشاف ٢-٣٢١

(٢) روح المعاني ١١-٤٧

(٣) چا بيا ويلی دی علم د طلب لپاره

(٤) الرازی ١٢-٢٣٥

ددې چي پوهه پيدا كړي (دغه تلونكي) په دين كي (اوربرونه په خان ومني) ﴿ وَلِيُنذِرُواْ قَوۡمَهُمۡ إِذَا رَجَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَحۡذَرُونَ ﴾ اولپاره ددې چي خپل قوم ته خبر ورسوي كله چي بيرته راستانه شي دهغوى په لوري لپاره ددې چي هغوى ووېرېږي (له الله او ځانونه له معاصيو وژغوري) يعني ددې لپاره چي خپل ټبر اوقوم ووېروي او ورته لاربښوونه وكړي كله چي هغه له غزا څخه ورته راستانه شي ښايي چي دالله له عذاب څخه د اوامرو په امتثال او دنواهيو په اجتناب سره ووېرېږي . الوسي وايې چي ظاهر او څرګند خوداوو چي فرمايلي يې واى (ليعلموا) د(لينذروا) پرځاى اوهمدارنګه د(يفقهون) كلمه د (يحذرون) پرځاى راغلي واى خوپه قرآني اعجاز دغه دوه كلماتي څكه غوره شوې چي دې ته اشاره وكړي چي لائق او وړ داده چي دمعلم مقصد ارشاد او وېرول وي اودمتعلم اوزده كونكي مقصدبيا وېره اوپرهېزګاري وي نه استكبار اود ونډې پراخوالى(١) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ ﴾ اې هغو كسانو چي ايمان يې راوړى دى (اې مؤمنانو) جنګ كوئ تاسي له هغو كفارو سره چي تاسو ته څېرمه اونژدې دي) يعني لومړى خپله خواوشا دمشركانو له پليتي څخه پاكه كړئ اوبيا په نوروپسي ولېږدئ غرض له دې نه هغه خورا ښه او غوره كاركرده ګي ده چي هغه ترټولو نژدې دي ووژنئ او ورپسې بياهغه بل نژدې ﴿ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ ﴾ او ودي مومي په تاسي كي كلك والى (زيږوالى) ﴿ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ اوپوه شئ اې مؤمنانوچي ببشكه الله له پرهېزګارانو سره دى (په مرسته اومددكي) ﴿ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ فَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ ﴾ اوكله چي نازل كړى شي كوم سورت دقرآن نوځيني له دغو (منافقانو څخه هغه دي چي وايې (دملنډوپه ډول) كوم يو له تاسوته دغه سورت ايمان ور زيات كړ) دغه يې دقرآنكريم داستخفاف اوسپكاوي لپاره ويل اولكه چي دوى به ويل پدې كي كوم دتعجب خبره ياكوم دليل شته ؟ الله جل جلاله فرمايې : ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا ﴾ نوهغه كسان چي ايمان لرونكي دى نوزيات كړ (دغه سورت) دوى ته ايمان (څكه چي ددوى لپاره نوي نوي براهين اودلائل راغلل نوباور يې لازيات شو ﴿ وَهُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴾ حال داچي دوى خوشحالېږي (په نازلېدلويې څكه ددوى ايمان ورزياتوي ﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ ﴾ اوهغه كسان چي په زړونوددوى كي (رنځ) دى (دنفاق اوشك) ﴿ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ ﴾ (نوزياتوي دوى ته ګندګي پرګندګي ددوى) يعني په نفاق يې نور ور زياتوي اوپه كفريې لانور كفر ورتپي ﴿ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴾ اومري دوى پدې حال چي دوى كافران دي ﴿ أَوَلَا يَرَوۡنَ أَنَّهُمۡ يُفۡتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٖ مَّرَّةً أَوۡ مَرَّتَيۡنِ ﴾ آيا(فكرنكوي ؟) اونه ګوري دوى چي ببشكه دوى مبتلا كولى شي په هريوه كال كي يوكرت ، يادوه كرته (په ډول ډول مصيبتونوباندي چي ددوى په هكله وحى رانازلېږي) همزه دانكار اوتوبيخ لپاره ده يعني ددغومنافقينو اسرار اورازونه افشاء كېږي ﴿ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴾ بيا له سره هغوى (له نفاقه) توبه نه كوي اونه دوى پنداخلي ﴿ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ

---

(١) روح المعانى

﴿سُورَةٌ نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ هَلۡ يَرَىٰكُم مِّنۡ أَحَدٖ ثُمَّ ٱنصَرَفُواْۚ﴾ اوكله چي نازل كړى شي كوم سورت (چي پكي دمنافقينو عيب وي او دوى په پيغمبري مجلس كي ناست وي) وګوري خيني ددوى خينونوروته (آياوينئ تاسو كوم يو؟ ا مسلمان كه به چادوى نه ليدل نو پاخېدل به) بيابه لاړل ځكه داوربدلو زغم يې نه لاره چي قرآن كريم به ددوى رازونه لوخول ﴿صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم﴾ ګرزولي دي الله زړونه ددوى (له ايمان اوهدايت نه) دغه دعائيه جمله ده ﴿بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ﴾ په سبب ددې چي دوى هسي قوم دى چي نه پوهېږي (په حق اونه پكي سوچ او تدبركوي دوى سوچه احمقان دي. ﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ﴾ خامخاپه تحقيق راغلى دى تاسي ته يورسول له جنسه ستاسي (اې قومه ستاسوله جنسه قريشي عربي الهي استازى دى ﴿عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ﴾ چي ډېرسخت دروند دى په ده هغه كارچي تاسي تكليف مومي. (له هغه) ډېرحرصناك دى په (هدايت د تاسو) خاص په مؤمنانو باندي ډېرمشفق او نهايت مهربان دى (په ګنهګارانو) ابن عباس وايي: الله پاك پيغمبرپه دوو خپلو مباركو نومونو(رَءُوفٞ رَّحِيمٞ) سره ونوماوو(١) ﴿فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُ﴾ نوكه وګرځېدل دا خلک له ايمانه راوړلو پرتا (اې محمده!) نو ووايه ماته الله كافي دى ﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ﴾ نشته هيڅ لائق دعبادت مګرهم دى (خاص) پرهمده باندي ماتوكل كړى دى (له ده پرته له چانه نه وېرېږم) حال داچي همدى رب (مالک) دعرش عظيم دى هغه عرش چي په ټولو شيانو محيط دى ځكه هغه ترټولو ستراوله يوالله پرته يې بل چاته دلوى والي اندازه معلومه نه ده.

بلاغت: - ﴿إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ﴾ دلته تبعيه استعاره ده ددوى دخانونو اومالونو بذل (قربانول) اوپه بدل كي يې ثواب په جنتونو سره وركېدل له بيع اوشرآء سره مشابه ګڼل شوي دي.

٢- پدې كلام كي چي الله پاک فرمايي: ﴿فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ﴾ دلته ناقص جناس صنعت دى چي په شكل كي اختلاف لري اودغه هم بديعي صنعت دى.

٣- ﴿ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ﴾ دلته له دې دواړونه لمونځ كونكي مقصد دي اودمجازمرسل په توګه راوړل شوي چي اطلاق دجزء اواراده دكل ځيني كېږي اوركوع سجده يې له نورو اركانو ځكه ځانګړي راوړه چي هغه ترنورو غوره اودشرافت خاوندي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (أقرب مايكون العبد من ربه وهو ساجد) (٢) يعني دانسان ترټولو نژدې حالت پرودګارته دسجدې حال دى.

٤- ﴿وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ دلته داضمار پرځاى اظهارراغلى چي ددوى تعظيم پرځاى او ورته پاملرنه وشي.

٥- پدې كلام كي چي فرمايي: ﴿مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ﴾ اشتقاقي جناس دى.

---

(١) زاد المسير ٣-٥٢٦

٢- تلخيص البيان

۶ - ﴿ لِيُضِلَّ قَوۡمَۢا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰهُمۡ ﴾ ددوی ترمينځ دطباق صنعت دی او همداراز د ﴿ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ ﴾ ترمنيځ لکه چي د ﴿ رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ ﴾ ترمينځ هم نوموړی صنعت شته دی.

۷ - دادواړه صيغې چي ﴿ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ دمبالغې ګڼلی شي.

۸ - پدې کلام کي ﴿ يَطَـُٔونَ مَوۡطِئٗا ﴾ اوهمداسي په ﴿ يَنَالُونَ مِنۡ عَدُوّٖ نَّيۡلًا ﴾ کي اشتقاقي جناس نغښتی دی.

۹ - ﴿ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةٗ ﴾ دلته دطباق صنعت دی.

۱۰ - کله چي الله فرمايي: ﴿ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ ﴾ په تلخيص البيان کي راوړي چي سورت خو ددوی پليتي نوره نه ورزياتوي اونه په زړونو کی ناروغي وربيداکوي بلکه دزړونو لپاره شفا، روغتيااوخلاده خو کله چي منافقين دآيتونو په نازلېدو لاړانده شي اونه يې مني نودغه يې ګواکي نوره هغه ناولي توب دی چي په مجازي ډول يې سورت ته نسبت وشو.

تنبيه:

روايت کېږي چي دانصارو يوتن ابوخيثمه انصاري سمسوربڼ اوښايسته مېرمن درلوده هغې ورته په باغ کي ترسيوري لاندي دناستي ځای تيارکړی وو اونوي تازه خرماوي اوسړې اوبه يې ورته ايښې وې هغه چي وکتل خوندور سيوری، خوږې اوپخې خرماوي دحسن خاوند مېرمن او بل لوري ته رسول الله صلی الله عليه وسلم په سختوګرمو بادونو او دوړو کي؟ دغه دخير اوبرکت خبره نه ده نو راپاڅيدو اوخپله اوښه يې راولاړه کړه توره اونېزه يې راواخيسته لکه بادغوندي په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسي راروان شو هلته پيغمبرصلی الله عليه وسلم چي دشا په لوري وکتل يوسپورمعلومېدو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دغه سړی دي ابوخيثمه وي اوچي لښکرته نژدې راغی هم پخپله اوبوخيثمه رضی الله عنه وو نورسول الله صلی الله عليه وسلم يې په راتګ خوشحاله اودښېګڼي دعاېې ورته وکړه.

الله ته په پيل اوپای کي حمد دی چي دتوبة سورت تفسير بشپړشو.

ديونس سورت مكي او يوسل نه آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

ديونس سورت له مكي هغوسورتونوڅخه يودى چي داسلامي عقيدې بنسټونوته پاملرنه كوي چي ايمان په الله تعالى ايمان په كتابونو، پيغمبرانو، پاڅېدلو(بعث) اوجزاء باندي دى په دې سورت كي دټولوآسماني رسالتونو په هكله توجه كول دى خوپه ځانګړي توګه دقرآنكريم په باب چي ترټولو كتابونو وروستى او بشپړونكى آسماني كتاب اوتلپاتي معجزه ده چي دوختونو په تېرېدلو له مينځه نه ځي.

* سورت په لمړي پيل كي له رسالت اورسول څخه خبري كوي اوداسي بيانوى چي دغه په ړومبنيو او وروستنيو كي يوالهي سنت دى هيڅ داسي امت به نه وي چي استازى ورته نه وي راغلى نومشركان دي پدې تعجب نه كوي چي خاتم المرسلين ذات ورته دپيغمبرپه توګه راغلى دى ﴿ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ النَّاسَ ﴾ يونس ۲ بيا وروسته آيتونه دالوهيت اوعبوديت حقيقت څېړي اودخالق اومخلوق ترمينځ دتړاوتادو راسپړي اوخلګوته ددوى خپل حق الله وروپېژني چي دوى ته ښايي دالله عبادت وكړي ځكه هغه خالق، رازق، ژوندى كونكى او وژونكى دى هغه دحكمت خاوند اوتدبيرلرونكى له ده پرته ټول باطل اوناروادي ﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ يونس۳

* سورت دمشركانودريز دقرآن كريم اورسالت په هكله څرګندوي اودابيانوي چي همدغه قرآن تلپاتي معجزه چي دپيغمبرپه رښتنولي دلالت كوي اومعجزه په دې ده چي داعجاز په توګه يې دوى ته تحدي (چيلنج) وركړى چي ددې قرآن په مثل يوسورت راوړئ خودوى يې له راوړلو څخه عاجز شوي سره له دې چي دوى په فصاحت اوبلاغت كي دخورالوړي مرتبې خاوندان وو ﴿ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ هود۱۳

* دغه مبارك سورت خلګوته دبرحق معبود صفتونه وربښيي دهغه جل جلاله دقدرت او رحمت آثار ورته بيانوي هغه چي په حكمت اوتدبير يې دلالت كوي اوداسي ددغه ليدلي كائناتو په هكله چي د الله دسترقدرت څه مظاهردى هغه دالله جل جلاله په عظمت، جلال اوسلطان باندي څرګند دلائل دي بيانوي ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ ﴾ يونس: ۳۱ دآيتونو ترپايه اودغه ګواكي ترټولو ستره قضيه اوپېښه ده چي دالله په وحدانيت باندي دايمان راوړلو موضوع ټاكي اودلوى الله قدرت په څوډوله سمعي اوعقلي دلائلو سره وړاندي كوي.

* سورت دځينو انبياوو عليهم السلام كيسي راوړي دنوح عليه السلام كيسه له خپله قومه سره او دموسى عليه السلام كيسه له سرغړونكي فرعون سره اوديونس عليه السلام هغه يونس (ع) چي دغه سورت يې په نامه نومول شوى كيسه راوړي ترڅو وښيي چي دغه دالله جاري سنت اودود دى چي ظالمان هلاكوي او مؤمنانوته نصرت وركوي.

* په پاى كى مبارك سورت پدې پاى ته رسېږي چي رسول الله ته حكم كوي ترڅو دالله په شريعت منګولي ولګوي اودالله په لاركي چي څومره تكليف ورته رسي وربانديي صبردي وكړي فرمايي: ﴿ وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴾ يونس: ۱۰۹

تسمیه او نزول يې:

دغه سورت ته د یونس سورت ځکه وایې چې کیسه يې پکې راغلې ده او داچې پند او عبرت پکې دی الله
پاک يې له قوم څخه عذاب پورته کړ هله چې دوی ایمان راوړ دا وروسته له دې چې نژدې وو عذاب او بلا
ورباندې را پرېوتي وای او دغه له هغو ځانګړتیاوو څخه دی چې الله پاک د یونس علیه السلام امت ورباندې
نازولی دی چې په رښتوني يې توبه وایستله او ایمان يې راوړ.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓر تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١﴾ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوٓا۟ أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ قَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ مُّبِينٌ ﴿٢﴾ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ
فَٱعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ۖ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقًّا ۚ إِنَّهُۥ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلْقِسْطِ ۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٤﴾ هُوَ ٱلَّذِى
جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ
يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ إِنَّ فِى ٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ
يَتَّقُونَ ﴿٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُوا۟ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَٱطْمَأَنُّوا۟ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنْ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ
﴿٧﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهْدِيهِمْ
رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمْ ۖ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٩﴾ دَعْوَىٰهُمْ فِيهَا سُبْحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ ۚ
وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ ۞ وَلَوْ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسْتِعْجَالَهُم بِٱلْخَيْرِ
لَقُضِىَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ۖ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١﴾ وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ
دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَآئِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ
مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ مِن قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ ۙ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُوا۟
لِيُؤْمِنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٣﴾ ثُمَّ جَعَلْنَٰكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِى ٱلْأَرْضِ مِنۢ بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ
﴿١٤﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ ۙ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَٰذَآ أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا
يَكُونُ لِىٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآئِ نَفْسِىٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ
عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ قُل لَّوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوْتُهُۥ عَلَيْكُمْ وَلَآ أَدْرَىٰكُم بِهِۦ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِۦٓ ۚ
أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ

ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٧﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ
ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾ وَمَا كَانَ
ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخْتَلَفُوا۟ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ
يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾ وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۖ فَقُلْ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ
ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾ ﴾ يونس: ١ - ٢٠

لغتونه:

(قدم صدق) ليث وايي چي دقدم معنا پخواني: او ابوعبيده وايي په خير اوشركي مخكښ ته (قدم) وايي، أخفش وايي چي معنايي داخلاص سابقه ده (يدبر) په حكمت باندي ديوشي اندازه كول اوچلول (القسط) عدل (حميم) سخته گرمي اوبه چي وروستی، مرحلې ته رسېدلي وي يعني ايشېدلي اوبه (يفصل) له فصل څخه اخيستل شوی تفصيل ، بيان او څرگندوني ته وايي (يعمهون) حيران (خلائف) دخليفه جمع اوديوچانائب ته ويلی شي.

دنزول سبب:

ابن عباس رضى الله عنه وايي: كله چي الله جل جلاله محمدصلى الله عليه وسلم دپيغمبر په توگه استازی راولېږه نوكافرانو وويل: چې الله جل جلاله خوډېرسترذات دی نونه ښايي چي استازی يې يوبشري آيا الله پاک دابوطالب له يتيم څخه بل څوک ونه موندچي په پيغمبري يې وټاكي نوالله داآيت نازل كړ: ﴿ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ ﴾ دآيت ترپايه(١)

تفسير:

﴿ الٓر ﴾ پدې كي دې پلوته اشاره ده چي دغه معجزكلام دی له داسي توروجوړشوی چي تاسوهم په هغوگړېږئ نوددغوتورو اوحروفو څخه دغه كتاب جوړشوی چي ستاسوپه لاس كي درته نژدې دی خو ديوآيت له جوړولو څخه يې عاجز ياست(٢) ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ دغه آيتونه دي دكتاب (قرآن) محكم) چي څرگنداوهيڅ شک اوشبه ورته لاره نلري نه هم دروغ اوتناقض پكي رابرسېره كېږي ﴿ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ ﴾ آيادې خلكو (دمكې) ته تعجب دی (ددې خبري) چي وحی وكړه موږ يوسړي ته له دوی نه (چي هغه محمدصلى الله عليه وسلم دی ؟ همزه داستفهام انكاري لپاره ده بلكه پدې كي دتعجب خبره نه ده دالله جل جلاله همدغه عادت اودستوردی چي په پخوانيوامتونو كي يې هم رسولانوته وحی كوله ترڅودوی دالله رسالت ورسوي ﴿ أَنْ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ ﴾ چي ووېروي خلک (كفارله عذابه داورڅخه) ﴿ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ ﴾ اوزېری وركړه مؤمنانوته چي بېشكه شته دوی ته مرتبه لويه (اوسابقه) په نزدد رب

(١) البيضاوي ص ٢٣٥
(٢) المختصر ٢-٢٥

ددوی (ځکه دوی نېک عملونه کړي دي) ﴿ قَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ مُّبِينٌ ﴾ (نو وايې داكافران چي ببشكه دغه (محمد) خامخا ښكاره كوډګردی) يعني سره له دې چي درسول الله رښتنولي اوقرآن اعجاز څرګند دي خو مشركان بياهم وايې چي هغه كوډګردی اوپخپله دعوی كي سم اوپه حق نه دي. بيضاوي وايې چي: په دې كي ددې اعتراف دی چي دوی له پيغمبرعليه السلام څخه داسي شيان وليدل هغه خارق العاده اودوی نشوای كولای همغسي وكړي نودغه ګواكي ددوي له لوري په غيرشعوري توګه اقرار دی چي كوم څيزونه چي پيغمبرېې راوړي دغه دبشر له توان څخه وتلي دي(١) ﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ ببشكه چي ستاسي رب هغه الله دی چي پيداكړي يې دي آسمانونه اوځمكه په شپږ ورځي كي يعني ستاسی پرورد ګار اود امورو چلونكی هغه ذات دی، چي تاسولره ښايي يوازي دهغه عبادت وكړئ كوم چي ټول كائنات يې په شپږ ورځي موده ددنيا د ورځو په اندازه پنځولي (پيداكړي) دي اوكه يې غوښتي وای دسترګو په رپ كي به يې پيداكړي وو خو ددې لپاره چي د ورو اوپه كراره كارونو دترسره كولو تعليم دركړي همداسي يې پيداكړل ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ بيايې استواء وكړه پرعرش باندي (هسي استواء چي دالله له جلال سره ښايي بلاكيفه ولاشبه ولاتعطيل نه. ابن كثيروايي دلته موږ د سلف صالحينو لاره نيسو چي هغوی استواء له تعطيله پرته بولي اوتشبيه يې نكوي اوځوك چي تشبيه يې كوي هغه دالله په شان كي نفی دی ځكه له الله سره د هغه دمخلوق هيڅ څيز هم مشابه نه ګڼل كېږي نو چاچي دالله لپاره هغه څه چي صراحةً آيتونه ورباندي ناطق دي اوياصحيح حديثونه راغلي پداسي ډول چي دالله له جلال سره ښايي ثابت وګڼل نو دهدايت لاره يې ونيوه ( ) ابوالسعودوايې چي: په عرش يې داسي استواء وكړه لكه چي دالله قصداوغوښتنه وه دغه استوا دالله لپاره بلاكيف يوصفت دی الله له تمكن اواستقرار څخه منزه اوپاک دی دغه وروسته دالله دشان له عظمت نه دالله دپاچهي اوجلال ننبه ده (٢) .

﴿ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ﴾ تدبيركوي دټولو كارونو (دخلكو څرنګه چي يې حكمت اومصلحت غوښتنه كوي. ابن عباس رضی الله وايې چي دخلكو دامورو له تدبيرڅخه يې هيڅوک مشغول كولای نشي. ﴿ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ﴾ نشته هيڅ شفاعت كونكی (په ورځ دقيامت كي) مګر وروسته له اذنه دالله جل جلاله دده لپاره دشفاعت كولو اوپدې كي دمشركانو دعقيدې ترديد دی چي دوی به ګمان كاوو اوويل به يې بتان به زموږ شفاعت كوي ﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ﴾ (دغه (الله) ستاسي رب دی نودده عبادت كوئ) يعني دغه عظيم الشان ذات ستاسوپر وردګار اوپيداكونكی دی له ده پرته بل رب نشته نو يوازي دده عبادت وكړئ ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ آيانو پند نه اخلئ؟ يعني تاسو پوهېږئ چي همدغه ذات يوازي خالق اوپيداكونكی دی خو بيا تاسي له ده سره دبل چاعبادت هم كوئ ﴿ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ﴾ هم ده ته ورتله ستاسي ټولو دي ﴿ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقًّا ﴾ الله حقه وعده كړي ده ؛ چي پكي تغيراوتبديل نشي كېدای اوپدې كي دهغې عقيدې بطلان دی څوک چي قيامت

---

(٢) ابو السعود ٢-٣٠٧

( ) البيضاوي ص ٢٣٦

اوبيرته راپاڅېدل (بعث) نه مني اووايي: ﴿ وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ﴾ ﴿ إِنَّهُۥ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ بېشکه دی اول پيداکوي دامخلوق بيايې (پس له مرګه) ژوندي کوي (لکه چي لومړی يې پيداکړی) ﴿ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلْقِسْطِ ﴾ لپاره ددې چي جزا ورکړي هغوکسانوته چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه (عملونه) په عدل اوانصاف سره بشپړه جزا ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ ﴾ اوهغه کسان چي کافران شوي دي شته دوی ته څښل له ايشېدلو اوبو(په دوزخ کي) ﴿ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴾ اوعذاب دردناک په سبب ددې چي وو دوی کافران کېدل) يعني په سبب دکفر اوشرک ددوی. بيضاوي وايې چي: آيت شريف لکه علت غوندي دی څکه مقصدله پيدا اېښت اوبيارا ژوندي کولوڅخه دمکلفينو پخپلو اعمالو باندي مجازات کول دي نوخامخا تړول الله ته تلونکي دي[1] ﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا ﴾ الله هغه ذات دی چي ګرځولی يې دی لمرځلېدونکی اوسپوږمۍ روښانه) آيت دالله جل جلاله دقدرت او وحدانيت په دلائلو دتنبيه لپاره دی چي دالله په قدرت په ورځ کي لمر رڼا اودڅراغ په شان ځلېدونکی دی اودالله درحمت په توګه په شپه کي بياسپوږمۍ روښانه وي څرنګه چي لمر لوی دی نويې په رڼا اوځلاسره هغه ځانګړی کړ او(ضيآء) هغه ته وايې چي ځلا اورڼاوي. طبري وايې معناداچي لمرته يې ضيا اوسپوږمۍ ته يې روښنايې وربښلي ده[2] ﴿ وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ﴾ اومقدرکړی يې يې دي هريوه ته منزلونه لپاره ددې چي تاسي په شمېر دکلونو اوحساب (دمياشتو ورځو) پوه شئ) څکه چي په لمرباندي ورځي پېژندلي کېږي اوپه سپوږمۍ بيامياشتي اوکلونه ﴿ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ الله ندي پيداکړي داڅېزونه مګرپه حقه (عبث نه دي) سترحکمت اولويه ګټه پکي خوندي ده ﴿ يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴾ په تفصيل سره بيانوي(ظاهروي) الله) دلائل دقدرت) دپاره دقوم چي پرې پوهېږي(اوپه حکمت کي يې سوچ کوي. ابوالسعود وايې: معناداچي دکائناتو په پيداکولو کي (الله جل جلاله) په حکمت پوهېږي اوددوی په سبب دخالق جل وعلی په شان باندي استدلال کوي[3] ﴿ إِنَّ فِى ٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ بېشکه په اختلاف دشپې او ورځي کي چي يوپه بل پسي راځي شپه راشي ورځ ولاړه شي، ورځ راشي شپه بوزي ﴿ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوپه هغوڅېزونوکي چي الله په آسمانونو اوځمکي کي پيداکړي دي (له مصنوعاتوڅخه) ﴿ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ﴾ خامخادلائل (دقدرت) دي لپاره دقوم چي وېرېږي (له عذابه دده اوځان له ګناه ژغوري) يعني پدې کي ستردلائل او لوی براهين دصانع په وجود اووحدت باندي شته چي بشپړ قدرت اوعلم يې ګواهي ورکوي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ﴾ بېشکه هغه کسان چي زموږ دملاقات اميد

---

(1) البيضاوي يادشوي مخ
(2) الطبري ١١-١٦
(3) ابو السعود ٢-٣١٠

نلري (له آخرت نه منكردي هغوی پخپلو شهواتو كي داسي غوپه دي چي له مرګه وروسته ژوند باندي ايمان نلري ﴿ وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ﴾ اوخوښ دي په دې ژوند دنيا (له آخرت څخه فاني ژونديې په باقي ژوند غوره كړی دی ﴿ وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا ﴾ اوآرام يې نيولی دی پدې پوري،ورباندي خوښ اوراضي دي ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ﴾ اوهغه كسان چي دوی له آيتونو (دلائلو دقدرت) زموږ نه غافلان دي (نه ځيني پند آخلي اونه پكي سوچ اوفكركوي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ﴾ دغه (مذكوره كسان) ځای دورتلو ددوی اور(ددوزخ) دی ﴿ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴾ په سبب دهغه چي وو دوی چي كول به يې (يعني په سبب دكفراو اجرام ددوی وروسته له دې چي الله دبدمرغه خلګو بيان وكړ دنېمكرغه كسانو حال بيانوي فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمۡۖ ﴾ ببشكه هغه كسان چي ايمان يې راوړی دی اوكړي يې دي ښه عملونه وبه ښيي دوی ته رب ددوی (په آخرت كي) لاره دجنت په سبب د(نورد) ايمان ددوی ﴿ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ چي بهېږي له لاندي (دمانيو اوتختونو) ددوی (ويالې) په باغونو دنعمتونو كي (يعني دوی به هلته مقيم وي ﴿ دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ ﴾ دعاوي ددوی په دغه جنتونو كي (داوي) چي په پاكی يادوی تالره ای الله ،په حديث شريف كی راځي: (يلهمون التسبيح والتحميد كماتلهمون النفس) يعني تسبيح به داسي ورزده كول كېږي لكه ساا خيستل) يعني وېناوي به يې په جنت كي تسبيح وي ﴿ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌۚ ﴾ . (اوپېشكش ددوی په دغه جنت كي سلام وي) يعني كله چي دوی يوبل ته تحيه وركوي نو سلامٌ عليكم به وايې لكه چي ملائكي هم پدغه كلماتو دوی ته تحيه وركوي ﴿ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم ﴾ الرعد ٢٣ ﴿ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ اوخاتمه ددعاددوی به داوي چي تولي ثناوي ستايني خاص الله لره دي چي پالونكی دټولو عالميانو دی يعني (الحمدلله رب العالمين) به وايې ﴿ وَلَوۡ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ ﴾ اوكه په تلوار ورسوي الله خلګوته بدي په شان دغوښتني ددوی نېكي لره . مجاهدوايي : دد ې معناداده چي يوڅوک دغصې اوقهرپه وخت كي خپل ځان او زامنوته ښېراكوي چي الله دي هلاک كړي خيردي نه ويني ؛ اوطبري وايې : چي معنايې داده كه چېري الله دخلګو دشراو ضرر دعاګاني همداسي لكه دخير ژرتر ژره قبلولای نو﴿ لَقُضِيَ إِلَيۡهِمۡ أَجَلُهُمۡۖ ﴾ خامخاراالېرل شوی به وو دوی ته اجـل ددوی(١)

---

(١) الطبری ٩١-١١ځينومفسرينو ليكلي چي دغه آيت دمكې دكفارو په هكله نازل شوی دی چی دوی به ويل: ﴿ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلۡحَقَّ مِنۡ عِندِكَ فَأَمۡطِرۡ عَلَيۡنَا حِجَارَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئۡتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴾ الانفال: ٣٢ زمخشري وايی كه شرداسی ژرلكه چی دوی يی غواړی وركول شی نوهلاک به شی ٣٣٣-٢

﴿ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ﴾ نو پرېږدو مونږ هغه کسان چي زمونږ دملاقات اميد نلري (په قيامت کي يعني هغه چي په بعث اوبيرته ژوندون ايمان نلري ﴿ فِي طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴾ په سرکشي ددوی کي چي دوی به سرگردانه وي معناداچي مونږ مجرمين پرېږدو وخت اومهلت ورکوو ددوی له سرکشي سره سره ورباندي نعمتونه را اوروو څو چي حجت ورباندي ودروو ﴿ وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَآئِمًا ﴾ (اوکله چي ورسېږي انسان ته ضرر نوبولي مونږ (لپاره ددفع کولو يې) پروت په اړخ خپل ،ناست ، ياولاړ) يعني کله چي انسان ته کوم ضرر دناروغي ،فقر اونورو ورسېږي نو مونږته په ټولو حالاتو کي دعاوي کوي که په اړخ پروت وي، که ناست وي اوکه ولاړ ترڅو چي ديې ژغورو ﴿ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ﴾ نو کله چي ليري کړو له ده څخه ضرر تکليف دده نو درومي لکه چي نه يې وو بللي مونږ (ددفع کولو د) هغه ضرر ته چي دوی ته رسېدلی وو يعني کله چي مونږ هغه له ربړ او تکليف څخه خلاص کړو نودی پخپل عصيان استمرار کوي اوهغه دتکليف حال يې هېر اوياخو ورباندي سترگي پټي کړي پدې ويناکي دالله جل جلاله له لوري هغه چاته چي دتکليف په وخت کي الله بولي اودخوښي او عافيت په وخت کي غافل کېږي ترټنه اوعتاب دی ﴿ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ (همداسي (په مثل ددې تزئين) ښايسته کړی شوي دي دغو اسراف کونکو ته هغه (عصيان) چي دوی به کاوو) يعني لکه چي دغه انسان ته چي په وخت دتکليف کي دعاکوي اوپه عافيت کي له الله څخه سرغړونه (اعراض) کوي داښايسته شوي همداسي اسراف کونکو له حد څخه متجاوزينو (گنهگارانو)ته داښايسته شوي چي له ذکر نه اعراض کوي اوپه شهواتو پسي درومي ﴿ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ مِن قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ ﴾ اوخامخاپه تحقيق هلاک کړي وو مونږ اهل دزمانو چي پخوا له تاسو وو (اې دمکې خلگو کله چي ظلم يې کړی وو) يعني مونږ پخواني امتونه چي ترتاسو مشرکانوله مخه وو دکفر اوشرک په وجه چي په گمراهي او عصيان کي ظالمان وو هلاک کړي وو ﴿ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ اوحال داچي راوړي وو هغوی ته رسولانو ددوی ښکاره معجزې (چي ددوی په رښتنولي يې دلالت کاوو ﴿ وَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ ﴾ اوله سره نه وو دوی چي ايمان يې راوړی وای يعني دوی په هغه څه چي انبياوو عليهم السلام ورته راوړي وو ايمان نه راووړ يعني دوی ظلم وکړ او ايمان يې نه راووړ نوددوی دهلاکت سبب دوه شيان شو يوظلم اوبل ايمان نه راوړل يې ﴿ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ هم داسي (دلکه دغه سزا) سزا ورکوو مونږ قوم مجرمانو (کافرانو) ته اوپدې کي دمکې دخلگو لپاره وعيددی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يې دروغجن باله ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَٰكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِى ٱلْأَرْضِ مِنۢ بَعْدِهِمْ ﴾ بيامونږ وگرزولی تاسي (ای دمکې خلگو) خليفه گان په ځمکه کي وروسته (له هلاک) ددوی نه (هغه چي تاسو يې کيسې اورئ اوکنډوالي يې وينئ ﴿ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴾ چي مونږ وگورو تاسي څنگه عمل کوئ (دنړۍ کي که دبدې نومونږ به ستاسي له عمل سره سمه جزا درکړو. قرطبي وايي: معناداچي الله به له تاسو سره د ازمويونکي معامله اوچلند وکړي لپاره ددې چي عدل ښکاره شي[۱] په التسهيل کي راوړي

---

[۱] القرطبي ۸-۳۱۸

چي معناداچي په وجودكي ستاسوعمل ښكاره شي اوپرتاسوباندي حجت ودرېږي (١) مقصدداچي الله تعالى دداوي په كړو وړو له دې پخواهم عالم وو خودوى ازمويې څو په وجود كي هغه څه څرګندشي كوم چي الله په ازل كي ورباندي عالم او پوه وو ﴿ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٖ ﴾ اوكله چي ولوستل شي پردغو (كفارو مشركانو) آيتونه (دقرآن) زموږ حال داچي څرګندني دي (څه اشكال پكي نشته) ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا ﴾ نووايې هغه كسان چي نلري اميد دملاقات زموږ (په آخرت كي په بعث، حساب كتاب، اجر اوثواب باندي ﴿ ٱئۡتِ بِقُرۡءَانٍ غَيۡرِ هَٰذَآ ﴾ راوړه يو (بل) قرآن چي له دې قرآن څخه غيروي چي داسي څه پكي نه وي چي موږېې نه خوښووزموږبتان بد نه ګڼي او زموږ خوبونه خوشي خيالونه نه انګيري ﴿ أَوۡ بَدِّلۡهُۚ ﴾ ياېې بدل كړه چي دعذاب پرځاى درحمت آيت راوړه زموږ دبتانو (ښكنځلو پرځاى يې صفتونه او دحرام پرځاى حلال كښېږده بېشكه دغه خبري يې دتمسخر اوملنډوپه توګه كولي. ابن عباس رضى الله عنه وايې چي دغه دمكې دهغو خلكوپه باب كي دي چاچي په قرآن ملنډي وهلې استهزآء يې كوله اوويل يې: اې محمده له دې پرته بل قرآن راوړه هغه چي موږيې غواړو ! (٢) ﴿ قُلۡ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلۡقَآيِٕ نَفۡسِيٓۖ ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته) چي ماته نه ښائېږي داچي له خپله ځانه (داقرآن) بدل كړم ﴿ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۖ ﴾ زه متابعت نه كوم مګر دهغه (حكم) چي ماته رالېږل شوى دى زه مأمورشوى بنده اومبلغ پيغمبريم چي دالله رسالت تاسوته ورسوم ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴾ بېشكه زه وېرېږم كه نافرماني دخپل رب وكړم (په بدلولو دوحى كي) له عذابه دورځي لويې (چي دقيامت هيبت ناكه ورځ ده اودغه لكه دپورتني حكم لپاره چي علت راغلى دى ﴿ قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ ﴾ ورته ووايه (اى محمده دوى ته !) كه اراده الله فرمايلي واى نومابه نه وو لوستى (داقرآن) پرتاسي (دغه دالله له جانبه دى زماله لوري نه دى ﴿ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦۖ ﴾ اونه به الله تاسي پدې (قرآن) عالمان كړي واى (زماپه ژبه) ﴿ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ ﴾ نوپه تحقيق زه اوسېدلى وم په تاسي كي ډېرعمر (څلوېښت كاله) پخوا (له نزوله د) قرآنه (چي نه مي درته لوستى اونه مي تاسي ورباندي پوهولي وي) ﴿ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ آيانو تاسي عقل نلرئ (چي سوچ اوفكروكړئ اوپدې وپوهېږئ چي دغه معجزكتاب دالله له لوري راغلى دى ؟ امام فخر الرازي وايې: چي كفارو رسول الله ﷺ دژوندله لومړيو ليدلى اوټول حالات يې ورته معلوم وو چي هغه ببخي كتاب نه دى لوستى اونه يې دكوم ښوونكي په وړاندي زنګون مات كړى دى چي ورڅخه زده كړه وكړي خوبياچي د څلوېښت كاله مودې تېرېدلو وروسته يې دوى ته دغه كتاب راووړ چي په ښايسته اصولومشتمل باريك علمي احكام او داخلاقي علومو لطائف دپخوانيو امتونو دكيسو رازونه پكښې دي پوهان خلګ اونوميالى دفصاحت او دبلاغت ډګراتلان يې له سيالي كولو څخه عاجز اوپاتي دي دچاچي سالم عقل وي هغه پوهېږي چي داسي كتاب پرته له وحى بل څه نشي كېداى ﴿ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴾ نوڅوك دى ډېرظالم له هغه چانه چي په الله دروغ تړي

---

(١) التسهيل ٢-٩٠

(٢) البحر ٥-١٣١

دغه استفهام انكاري اودنفى په معنادى يعنى نشته هيڅوک ظالم ترهغه چاچي په الله باندي دروغ تړي اومقصد درسول الله صلى الله عليه وسلم له شانه څخه د دروغو نفى كول دي كله چي مشركانو گمان كاوو چي قرآن محمدصلى الله عليه وسلم جوړكړى دى (العياذبالله) ﴿أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَـٰتِهِۦٓ﴾ يانسبت ددروغو كوي آيتونه دده ته يعني دحق تكذيب كوي ﴿إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْمُجْرِمُونَ﴾ بيشكه شان دادي چي خلاصي نه مومي مجرمان (كافران) له عذابه ﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ﴾ او عبادت كوي دغه (كفار) غير له الله نه دهغوبتانو چي نشي رسولاى هيڅ ضرر دوى ته اونه هم گټه رسولاى شي دوى ته (هغه جمادات دي) - ﴿وَيَقُولُونَ هَـٰٓؤُلَآءِ شُفَعَـٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ﴾ اووايي دغه (كفار) چي دغه بتان زموږ شفاعت كونكي دي په نزد دالله كي يعني هسي گومان كوي چي دغه دبري چي نه اوري ، نه ويني ددوى شفاعت گران دي ﴿قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ﴾ ووايه (اى محمده ادوى ته) آياخبروركوئ تاسي الله ته هغه شيزچي ده ته نه دى معلوم (نه) په آسمانونوكي اونه په ځمكه كي (يعني داسي شى هيچيري نشته) معنا داچي تاسوالله ته دشريک اوشفيع خبروركوئ كوم چي الله ورباندي خبرنه دي اوهغه خوعلام الغيوب ذات دى چي علم يې په ټولو كائناتو راگرزېدلى اومحيط دى استفهام دلته دتهكم اواستهزاء لپاره دى ﴿سُبْحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ الله پاک اوډېرپورته دى له هغواشياووچي شريكوي دوى هغه له الله سره په عبادت كي ،اوياظالمان خبري كوي ﴿وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخْتَلَفُوا۟﴾ اونه وو دغه خلک مگريوامت وو (په يواسلامي دين متفق وو له آدمه ترنوح عليه السلام پوري خوبيا وروسته يې اختلاف وكړاودبتانو عبادت يې پيل كړنو الله جل جلاله انبياء عليهم السلام را واستول چي وېرول اوزيرى وركول به يې ترسره كول[1]) ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ﴾ اوكه نه واى هغه كلمه چي پخوا ثابته شوي ده له رب ستا (قضادرب ستا په ځنډولو دجزا ترقيامت پوري) ﴿لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ﴾ نوخامخابه حكم كړى شوى وو په مينځ ددوى كي په همغه څېزكي چي په هغه كي دوى اختلاف كوي) يعني الله به ژر په دوى هغه عذاب راوستى وو كوم چي دوى ددغه اختلاف په سبب مستحق او ور گرځېدلى وو ﴿وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ﴾ (اووايي دوى ولى نه وه نازله كړى شوي پردغه (محمدِ صلى الله عليه وسلم باندي هغه) معجزه له ربه دده) لكه چي نورو انبياوو ته الله وركړي وې مثلا: اوښه (دصالح عليه اسلام) لكړه (دموسى عليه السلام) او همداراز ځلېدونكى لاس دموسى على نبيناوعليهم السلام ﴿فَقُلْ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ﴾ (نو ووايه بېشكه همداخبره ده چي (علم د)غيب خاص الله ته دى) اومعجزې يوازي الله را استولى شي خوزه يوازي مبلغ يم ﴿فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ﴾ نومنتظر اوسئ تاسي (دالله فيصلي ته زموږ اوستاسو ترمينځ) بېشكه زه هم تاسوسره له منتظرينو څخه يم.

[1] المختصر ١٨٨-٢

بلاغت:

۱ - ﴿ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ﴾ حكيم دفعيل وزن او دمفعول په معنادى چي محكم ته وايې يعني هغه كتاب چي فساد ورته لاره نه مومي او نه هم پكي دروغ او تناقض ځاى لري.

۲ - پدې كلماتو كي چي فرمايې: ﴿ أَنذِرِ وَبَشِّرِ ﴾ دلته دطباق صنعت دى.

۳ - ﴿ قَدَمَ صِدۡقٍ ﴾ دغه كلام له لوړ منزلت څخه كنايه راوړل شوى او په عبارت كي خورا بلاغت نغښتى دى ځكه په قدم باندي ړومبي توب كېږي او تقدم كېداى شي او دا لكه چي نعمت ته (يد) ويل كېږي ځكه دلاس په واسطه نعمت وركول كېږي.

۴ - كله چي الله پاک فرمايې: ﴿ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ دلته د(بدء) او اعادې ترمنځ دطباق صنعت دى.

۵ - ﴿ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا ﴾ دلته دالتفات صنعت راغلى او چي دذالجلال ضميرته يې نسبت شوى دأمر تعظيم او تهويل څرګندوي

۶ - پدې كلام كي چي: ﴿ ٱلشَّرَّ ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ ﴾ مؤكده تشبيه ده ځكه چي معنايې دا چي لكه استعجال ددوى او يا په مثل د استعجال ددوى په خير بل دا چي دشر او خير ترمنځ دطباق صنعت خوندي دى.

۷ - ﴿ لِنَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ﴾ پدې كلام كي تمثيليه استعاره ده چي دبندګانو حال يې له خپل رب سره دهغه چاله حاله سره مشابه ګڼلى لكه درعيت (ولس) له خپل پاچاسره چي ددوى په چارو كي څېړنه كوي ترهغو پوري دوى ته مهلت وركوي ترڅوجزا وركړي او هغه اسم چي په مشبه به يې دلالت كاوو دمشبه لپاره يې استعاره راووړ چي غرض ورڅخه تمثيل او تقريب دى ولله المثل الاعلى.

فائده:

سيوطي رحمه الله وايې: چي دغه آيت شريف چي فرمايې: ﴿ جَعَلَ ٱلشَّمۡسَ ضِيَآءٗ وَٱلۡقَمَرَ نُورٗا ﴾ دعلم المواقيت، حساب، تاريخ او دسپوږمۍ دبرجونو او دمنازلو لپاره بنسټ او اساس دى.

لطيفه:

حافظ ابن كثير وايې: چي يوڅوک كومه وينا وكړي په رښتياوي او كه په دروغو خو اكه پكه به ورباندي ترلمر روښانه دليل راوړي چي رښتيا كه دروغ دى مګر رسول الله صلى الله عليه وسلم چي چاليدلى واى دمحمدصلى الله عليه وسلم او مسيلمة الكذاب ترمنځ فرق او توپير لكه دتكندي غرمې او توري شپې ترمنځ توپير داسي وو عبدالله ابن سلام رضى الله عنه وايې: كله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم مديني منورې ته راغى نو يهودان ځني تيت او پرک شول زه هم ځني لېري كېدم خوچي ومي ليدل راته معلومه شوه چي څېره يې د دروغجن نه ده لومړى كلمه چي مي ځني واورېده داوه ويل يې: اى خلكو سلام يو بل ته اچوئ خلكوته ډوډۍ وركوئ له خپلوانوسره ښه كوئ دشپې چي خلګ ويده وي لمنځونه كوئ جنت ته به ښغمه داخل شئ چاچي به ليدل يقين به يې راغى چي همدا رښتونى دى.

اللە تعالى فرمايي:

﴿ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِىٓ ءَايَاتِنَا ۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ
مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا۟ بِهَا
جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَآءَهُمُ ٱلْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا
مِنْ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا
بَغْيُكُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾ إِنَّمَا مَثَلُ ٱلْحَيَوٰةِ
ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلْأَنْعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا
وَٱزَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَآ أَنَّهُمْ قَٰدِرُونَ عَلَيْهَآ أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَٰهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ
بِٱلْأَمْسِ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱللَّهُ يَدْعُوٓا۟ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ
﴿٢٥﴾ ۞ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ ٱلْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ۖ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ قَتَرٌ وَلَا ذِلَّةٌ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٦﴾
وَٱلَّذِينَ كَسَبُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍۭ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ۖ كَأَنَّمَآ أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ ٱلَّيْلِ
مُظْلِمًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ
فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ ۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾ فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ
لَغَٰفِلِينَ ﴿٢٩﴾ هُنَالِكَ تَبْلُوا۟ كُلُّ نَفْسٍ مَّآ أَسْلَفَتْ ۚ وَرُدُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّ ۖ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ
﴿٣٠﴾ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ
ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَاذَا بَعْدَ ٱلْحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُ ۖ فَأَنَّىٰ
تُصْرَفُونَ ﴿٣٢﴾ كَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓا۟ أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبْدَؤُا۟
ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣٤﴾ قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ ۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهْدِى
لِلْحَقِّ ۗ أَفَمَن يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّىٓ إِلَّآ أَن يُهْدَىٰ ۖ فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٥﴾ وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ
إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغْنِى مِنَ ٱلْحَقِّ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن
تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّثْلِهِۦ
وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِمَا لَمْ يُحِيطُوا۟ بِعِلْمِهِۦ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ
ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٩﴾ ﴾ يونس: ٢١ – ٣٩

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله دبتانو په ناولتيا او فساد دلائل بيان کړل او دمشرکانو هغه شکوک او شبهات چي د پيغمبري (رسالت) اوقرآنکريم په هکله يې درلودل وښودل دلته دهمدغوبدمرغه کسانو مکر، خداع، انکار او سرغړونه راوړي چي کله رنځ او کاختي ورته ورسېږي عجز اوزاري کوي او کله چي رحمت اوسوکالي ورته مخه کړي نو بيا دنعمتونو کفران کوي ورؤسته الله ددنيوي ژوند يومثال ديوفاني څېز دزوال په شان وګانه اوبيايې په وحدانيت د رب العالمين دلائل اوبراهين راوړل.

لغتونه:

(عاصف) سخت او تونده باد چي بنې تويوي اوونې خوځوي (الموج) څپې ځکه يې موج بولي چي دبحر په سر مضطرب دي (زخرفها) ديوشي دښه والي ښايست بشپړتوب ته وايې (تغن) هستوګنه اوآماده (يزهق) پټول اوسربېره کېدل ويل کېږي (زهقه الذل) يعني پټ يې کړ (قتر) ګرد غبار چي ورسره جوخت توروالی وي الله تعالی فرمايي:

(ترهقهاقترة) عبس ۴۱ چاپياويلي چی يوازي غبارته وېل کېږي (زيلنا) جلاکړه موږ (تؤفکون) له حق څخه دباطل لوري ته اړول کيدونکی يې.

تفسير:

﴿ وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ ﴾ (اوکله چي وروڅکوو موږ خلکوته کوم رحمت وروسته له سختي چي دوی ته رسېدلي) مراد له خلکوڅخه دمکې کفاردي. روايت کېږي چي الله تعالی پردوی باندي اوه کاله کاختي راوسته چي نژدې وو هلاک شي نويې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وغوښتل چي دوی ته د ښېرازي دعاوکړي اوژمنه (وعده) يې وکړه که دغه عذاب له دوی څخه پورته شي نو دوی به ايمان راوړي خو کله چي الله تعالی دباران په اورښت خپل رحمت څرګند کړ دوی بيرته هغه کفر اوعنادته وګرځېدل ﴿ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ ﴾ نوناڅاپه به دوی لره مکروي (استهزاء اوتکذيب به کوي) په آيتونو زموږ کي ﴿ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته!) چي الله ډېرژر دی (له جهته دجزا ورکولو) دمکر ﴿ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ﴾ بېشکه رسولان (کرام الکاتبين پرښتې.) زموږليکي مکر دتاسو) پدي کي ددې تنبيه ده چي کوم څه تاسو دمکرلټوئ له ملائکوڅخه هم پټ نه دی څه خولاله عليم اوخبيرذات څخه ﴿ هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ ﴾ (الله هغه ذات چي ګرزوي تاسي په وچه اوبحرکي) يعني الله پاک هغه مقتدرذات دی چي تاسو په وچه کي دسپرليو په شا او په سيند اوسمندر کي دکښتيو په واسطه ګرزوي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ﴾ ترهغه پوري چي سپاره شي په بېړۍ کي ﴿ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ ﴾ (اوروانه شي دا(بېړۍ) په هغه بادښه) پدي کی التفات دی معناداچي اوروانه شي دابېړۍ په موافق نرم اوښه باد باندي ﴿ وَفَرِحُواْ بِهَا ﴾ اوخوشحاله شي په هغه سره (سورلی (رکاب) ﴿ جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ ﴾ نوراشي کښتی ته بادسخت اوراشي

دوی ته څپې له هره خایه (ناڅاپه ورباندې راتاوشي) ﴿ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ ﴾ اودوی داوګڼي چې بېشکه پردوی احاطه وکړی شوه د (هلاکت) ﴿ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ دعاوکړي دوی الله ته (دنجات) اخلاص کونکي وي ده ته دين خپل (اوهغه څه پرېږدي چې دوی يې عبادت کاوو قرطبي وايي: چې دخلکو طبيعت هم دادی چې په سختيو کې الله ته رجوع کوي اوپه دې کې دليل دی چې داضطرار په حالت کی دکافر دعاهم منله کېږي ځکه ټول اسباب يې منقطع اورب الارباب ته يې مخ اړولی وي ﴿ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴾ (اوو وايې) قسم دی که دې موږ ته (له دې سختي) نجات راکړ نوخامخابه موږ شو له شکرکونکو) يعني که دې موږ له دې ربړونو اوتکليفونو څخه وژغورلو موږ به ستاپه نعمتونو شکرکونکي يو اوستا له رضا سره سم به طاعت عبادت کوو په البحرکي وايي چې: د اخلاص معنايوازې له الله څخه ددعا غوښتل دي، نه له بتانو اوبل چاڅخه اوحسن رحمه الله وايي: ددوی اخلاص دايمان په هکله نه بلکه دعلم اوپوهې په وجه دی چې دوی پوهېږي له دغه تکليف څخه يې له الله پرته بل څوک نشي ژغورلای نودغه ددوی داضطراري ايمان پرخای وددرېدو. ﴿ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ ﴾ نوهرکله چې نجات ورکړی (الله) دوی ته (له غرقېدلوڅخه) ناڅاپه دوی فساد شرارت کوي په ځمکه کې په ناحقه سره ابن عباس وايي: چې معنايې داچې دوی په دعا (بلنه) کې بغی اوفسادکوي چې له الله پرته له بل چاڅخه غوښتنه کوي او ګناهونه ترسره کوي(١) الله ددوی په ردکې فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۖ ﴾ ای خلکوبېشکه همداخبره ده چې ستاسي دشرارت سزا ستاسي پرخانونوده (تاسوبه يې وبال ومومئ) ﴿ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ﴾ (کوئ تاسي داسي) عيش ددنياوي ژوندلړ) يعني تاسي به په دغه ژوندکې په فاني شهوتونو عيش وکړئ هغه چې ترې وروسته تلپاتې حسرتونه او ارمانونه راتلونکي دي ﴿ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴾ بياخاص موږ ته ستاسي راتله دي (وروسته له مرګه) نوخبربه تاسي ته درکړو په هغه عمل چې تاسوبه کاوو اوپه دې کې وعيد اوتهديد دی په آيت شريف کی دناشکره متکبر بنيادم دطبيعت تمثيل دی هغه چې الله پاک يې يوازې دتکليف په شېبو کې ورپه ياد ېږي اوپه همدې وخت کې الله ته رجوع کوي اوکله چې يې الله پاک له تکاليفو اومصيبتونو څخه وژغوري بيرته کفر اوطغيان ته مخ اړوي وروسته الله ددنيا دفنا اولړې مودې لپاره مثال راوړي فرمايي: ﴿ إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ ﴾ (بېشکه همداخبره ده چې مثال ددې ژوندون خسيس لړ په شان داوبودی چې موږ نازلې کړي دي له (طرفه د) آسمانه نوخلط شي په سبب ددې اوبوسره (هرقسم) زرغونه دځمکي) يعني ددنيا عجيبه غوندې دفنا اوزوال حال دی چې نعمتونه يې ژر تېرېږي اوخلک ورباندې تېروزي لکه دباران غوندې دي چې له آسمانه را اوري اوبياهرډول نباتات راو ټوکوي چې يوله بله ګډ وي ابن عباس رضی الله عنه وايي چې: داختلط معناداچې هر رنګ يې په اوبو رازرغون شي(٢) ﴿ مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ ﴾ له هغه ډوله چې بنيادمان يې خوري (لکه غلې، مېوې، سابه) اوچارپايان (لکه دوښو انواع) پروره،

---

١ القرطبی ٣٣١-٨
٢ البحر ١٢٠-٥

اوربشي) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ زُخۡرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتۡ ﴾ (ترهغه پوري چي كله واخيست ځمكي زينت خپل اوښه ښايسته شي) په دانو مېوو اوګلانو، اودغه دناوي دسينګارتمثيل دى چي كله په جامو اوګڼو سمبال شي ﴿وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ﴾ اوګمان وكړي خاوندان ددې (ځمكي) چي بېشكه دوى قادردي (په هرشان ګټه اخيستلو سره) په دې ځمكه باندي (له مېوو غلو څخه) ﴿أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا ﴾ ناڅاپه راشي دې ځمكي ته حكم زموږ دشپې يادورځي (په هلاكت ددې نباتاتو) ﴿فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِ ﴾ نو وګرزوو موږ دغه (فصل دځمكي لكه) رېبلى شوى ګواكي نه وو (دغه كښت په دغه ځمكه كي) پرون) يعني هسي ولوړولى شي چي ته به وا يې خي آباده شوي نه ده ﴿كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ (همداسي په تفصيل سره بيانوو دلائل (دقدرت خپل) دپاره دقوم چي فكركوي) يعني لكه دغه ددنيا خوندور مثال غوندي موږ آيتونه اومثالونه بيانوو دهغه چالپاره چي په كي فكركوي اوعبرت ځني آخلي . الوسي وايې چي: ددغو فكركونكو ځانګړتيا اوتخصيص يې ځكه وفرمايو چي دوى په فكرباندي ګټه اخيستونكيٌ دي[1] ﴿ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ ﴾ اوالله (خپل بندګان) بولي دسلامتيا كورته) چي جنت دسُرُور اواقامت ځاى دى ﴿وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴾ اولاره ښيې هغه چاته چي اراده وفرمايې (دهدايت يې) سمي لاري ته (چي داسلام دين دى). ﴿ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ ﴾ (شته) لپاره دهغوكسانو چي ښكي يې كړي (ايمان يې راوړى اوښك عملونه يې كړي دي) ښكه جزا (جنت) اوزيادت (له دې نه هم چي دالله تعالى ديداردى ﴿ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ ﴾ اونه به پټوي مخونه ددوى هيڅ تورګرد اوغبار(لكه ددوزخيانوغوندي) ﴿ وَلَا ذِلَّةٌۚ ﴾ اونه هيڅ رسوايې، سپكتيا ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ دغه (كسان محسنان) څښتنان دجنت دي هم دوى به په دغه جنت كي تل اوسېدونكي وي (نه ددنيا دفاني كېدونكو نعمتونو په شان چي زوال مومي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثۡلِهَا ﴾ اوهغه كسان چي دبدو كسب يې كړى دى (په دنياكي كفريې كړى اودالله نافرماني ته يې ملاتړلي) جزادبدي (ددوى)په قدر دبدي ده (څه به ورباندي زيات نشي ؛ خوښكي دالله په فضل څوچنده زياتېدونكي ده[2] ﴿ وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ ﴾ اوپټوي به دوى لره ذلت ﴿ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ ﴾ اونه به وي دوى ته (له عذابه دالله) هيڅ ساتونكى ﴿ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ ﴾ ګواكي پټ كړى شوي دي مخونه ددوى په ټوټو دشپې سره حال داچي تك توربه وي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ دغه (بدي كونكي) څښتنان د اورددوزخ دي هم دوى په دغه دوزخ كي تل اوسېدونكي وي ﴿ وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ ﴾ (او(يادكړه اى محمده !) هغه ورځ چي راجمع به كړو داخلك ټول بيابه ووايو هغوكسانوته چي شرك

---

[1] روح المعانى ۲ ۱۰ ـ ۱۱
[2] الطبري ۶ ۳۲ ـ ۸

بې راوړی وي) يعني او هغه وخت چې مؤمنان او كافران دواړه ډلې د حساب لپاره راغونډ كړو نو مشركانو ته به
ووايو ﴿ مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ ﴾ (تينګ ودرېږئ) په ځايونو خپلو تاسې او (هم) شريكان ستاسې (تر هغو مه
خوځېږئ چې ووينئ الله په تاسو څه كوي) ﴿ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ ﴾ (نو بېلتون به وكړو موږ په مينځ د دوی كې) يعني
موږ به دوی او مؤمنان سره جلا كړو لكه د اقول د الله پاک: ﴿ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴾ يس ٥٩ ﴿ وَقَالَ شُرَكَاؤُهُم
مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴾ او وبه وايي شريكان د دوی (بتان دوی ته) چې نه وې تاسې چې خاص موږ لره به مو عبادت
كاوو. مجاهد وايي چې: معنا يې داده چې الله به بتانو ته د خبرو كولو توان وركړي او بتان به د دوی تابعانو ته وايي
چې موږ پدې شعور نه درلود چې تاسې خاص موږ ته عبادت كوئ او نه موږ درته د خپل عبادت كولو امر دركړی وو
لكه د اقول (١) ﴿ فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ﴾ (نو كافي دی الله شاهد په مينځ زموږ او ستاسې كې) يعني
شريكان به مشركانو ته په قيامت ووايي چې: الله زموږ او ستاسو په مينځ كې په شاهدي كافي دی ﴿ إِن كُنَّا عَنْ
عِبَادَتِكُمْ لَغَافِلِينَ ﴾ بېشكه شان دادی چې موږ ستاسې له عبادته څخه خامخا بې خبران وو ځكه نه مو
اورېدل نه موليدل نه مو پوهه درلوده موږ بې روحه، بې ساجمادات وو ﴿ هُنَالِكَ تَبْلُوا كُلُّ نَفْسٍ مَّا أَسْلَفَتْ ﴾ په
دغه ځای كې به ښكاره و مومي هر يو نفس جزا د هغه عمل چې پخوا يې ليږلي دي له خير او شر څخه ﴿ وَرُدُّوا إِلَى اللَّهِ
مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ ﴾ او بيرته به بوتلی شي دوی الله ته چې مولا د دوی (حق دی) يعني واقعي واكدار د جزا د دوی دی
په عدل او انصاف سره ﴿ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ (او ورک به شي له دوی نه هغه دروغ چې وو دوی چې
جوړول به يې) او ګومان يې كاوو چې دغه بتان به د دوی شفاعت كوي په آيت كې د دوی سخت تبكيت او
چوپتيا ته راكاږل شته چې مشركانو د داسې څيزونو عبادت كاوو چې نه يې اورېدل، نه يې ليدل او نه يې څه ځني
شړلای شوای ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ﴾ (ووايه (ای محمده دوی ته!) څوک روزي دركوي
تاسو ته له آسمانه او ځمكې) پدې آيتونو كې د الله تعالی په ربوبيت او وحدانيت باندې دلائل شته يعني ای
محمده دوی ته ووايه څوک تاسې ته له آسمانونو باران را اوروي او څوک له ځمكې نباتات او مېوې دركوي؟
﴿ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ ﴾ بلكه آيا څوک دی چې مالک دی د (پيدا كولو) غوږونو او سترګو؟) هغه چې
تاسو ورباندې اورئ او وينئ او څوک دی كه چېرې يې الله له تاسو نه واخلي چې هغه يې بيرته تاسو ته راوګرزوي
لكه چې الله فرمايي: ﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ
الْآيَاتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴾ الأنعام: ٤٦ ﴿ وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ ﴾ او څوک دی چې
راوباسي ژوندی له مړي (لكه انسان له نطفې او مارغه له هګۍ، وږی له دانې، نبات له ځمكې او مؤمن له كافر نه)
او راوباسي مړی (لكه نطفه) له ژوندي لكه حيوان ﴿ وَمَن يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ﴾ او څوک دی هغه چې تدبير كوي

---

(١) ﴿ إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ ﴾ البقره ١٢٦

دهركار(دخلكو اوشتون دكائناتو؟) ﴿ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ﴾ نوژربه ووايي دوی (چي هغه) الله جل جلاله رب العالمين دی ځکه دلته دعناد اومکابرې ځای نشته خبره بېخي روښانه اوڅرګنده ده ﴿ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ نووايه (ای محمده دوی ته!) نوآيانه وېرېږئ تاسي (له عذابه دالله؟ پدې چي ورسره شريک پيداکوی اودهغه عبادت کوی) ﴿ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلْحَقُّ ﴾ نودغه الله ستاسي حق رب دی (چي داسي لوړکارونه کوی نو دده ربوبيت او وحدانيت په روښانه دلائلو ثابت دی ﴿ فَمَاذَا بَعْدَ ٱلْحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُ ﴾ (نوڅه شی دی وروسته له حقه (نشته) مګرګمراهي) استفهام انکاري يعني وروسته له حق نه له ګمراهي پرته بل څه نشته نوڅوک چي له حق څخه ورتېرشي په ګمراهي کي لوېږي ﴿ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴾ (نوکوم خواته تاسي ګرځولی شي) يعني څرنګه دالله له عبادت څخه دهغه چاعبادت ته چي نه خالق اورازق دی اونه څوک ژوندی کوي اومړه کوي ورګرزي؟ ﴿ كَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ﴾ هم داسي لائق شوحکم درب ستا(اوپخوانی حکم يې) ﴿ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓا۟ أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ پرهغوکسانوچي کافران شوي دي(اوتکذيب يې کړی) په سبب ددې چي بېشکه دوی ايمان نه راوړي (دالله په وحدانيت اودنبي په رسالت باندي ځکه نودالله عذاب ورته لازم شو چي دوی بدمرغه اوګمراهان وو ﴿ قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ ورته ووايه (ای محمده! دوی ته) آياشته له دې شريکانو (بتانو) ستاسي هغه څوک چي لومړی پيداکړي خلق بيا ژوندي کړي دوی (پس له مرګه) طبري وايي: کله چي دوی په دغه دعوی نه توانېدل اوپدې کي کوټلی دليل اوروښانه حجت دې چي دوی داربابانو په نيولو کي افتراء کونکي اودروغ ويونکي دي نوالله ﷻ رسول الله ﷺ ته دځواب ويلو امروکړچي:[1] ﴿ قُلِ ٱللَّهُ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ ووايه (ای محمده! دوی ته) چي الله اول پيداکوي خلګ بيايې (بعدالموت) ژوندي کوي دوی (نه داچي ستاسي ګوماني آلِهٔ (خدايان) دغه کارکولای شي ﴿ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴾ نوکوم لوري ته تاسي اړول کېږئ (له سمي لاري دحق څخه لاري دباطل ته؟ ﴿ قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ ﴾ (ووايه (ای محمده! دوی ته چي آياشته دي له دې شريکانو (بتانوستاسي) هغه څوک چي لاره وښيي حق ته) دلته داستفهام په ډول يوبل توبيخ دی چي آياستاسو بتان کوم لارورکي په لارکولای شي اوياکوم حيران ته لاره ور ښوولای شي؟ ﴿ قُلِ ٱللَّهُ يَهْدِى لِلْحَقِّ ﴾ ووايه (ای محمده! دوی ته) چي الله لاره ښيي حق ته يعني که ستاسو بتان له دې نه عاجز وي نوالله پاک دګمراه په هدايت باندي قادر او دحق لارښوونکی دی ﴿ أَفَمَن يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّىٓ إِلَّآ أَن يُهْدَىٰ ﴾ آيانو هغه څوک چي لاره ښيي حق ته ډېرلائق دی ددې چي متابعت يې وکړی،شي؟ اوکه هغه چي (پخپله هم) لاره نشي موندلی؟ مګرچي ده ته لاره و ښودلی شي ﴿ فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴾ نوڅه باعث دی تاسي لره څرنګه حکم کوئ (چي دبتانو اوپروردګار ترمينځ مساوات بولئ اوپدغه څرګند باطل باندي حکم کوئ دغه

[1] الطبري ١١٥-١١

استفهام اومعنايې تعجب اوانکاردی بیا وروسته الله تعالی ددوی دتبر اوملت فسادهسي څرګند کرچي ددی لپاره يې ساکتونکي دلائل وړاندي کړل کواچي توحيد يې ثابتول او تقليديې غندل ﴿ وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ﴾ (اونه کوي متابعت اکثرددوی مګرد (فاسد اټکل) ګمان) يعني دبتانو دالوهيت اعتقاد هسي يوغيرمستند اعتقاددی چي هيڅ دليل اوبرهان نلري بلکه يوازي باطل اوهام او وراسته خرافات دي ﴿إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ﴾ (بېشکه ګومان نه بې پرواکوي (هيڅوک) له حقه دهيڅ څيز) يعني دغه په اوهامو اوخيالاتو ولاړ اعتقادخوشي د دروغو ډک دي چي دسم يقيني اعتقاد څخه څوک ورباندي بې پرواکېدلای نشي ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴾ بېشکه الله ښه عالم دی په هغه څه چي دوی يې کوي (له کفره اوتکذيب څخه اوپدي کي وعيددی چي دوی داټکل اوګمان پيروي کوي اوله دليل څخه مخ اړوي وروسته الله تعالی دنبوت رښتينوالی اودوحی حقانيت داسي بيانوي فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ هَٰذَا الْقُرْآنُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ (اوندی داقرآن (سره له داسي فصاحته ، بلاغته اواعجازه چي په دروغو جوړکړی شي غيرله الله نه) يعني عقل يې نه مني اوبېخي ناسمه ده چي څوک داسي ګومان وکړي چي دغه قرآن له الله نه پرته دبل چاکلام اوپه الله پوري تړلی شوی دی ځکه قرآن دبشرله توان نه پورته کلام دی ﴿ وَمَا كَانَ هَٰذَا الْقُرْآنُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ اونه دی داقرآن (سره له داسی فصاحته بلاغت اواعجازه چی په دروغو جوړ کړی شی غیر له الله نه ﴿وَلَٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ وليکن تصديق کونکی دهغه کتاب دی چي تېرشوی دی وړاندي ترده لکه آسماني نورکتابونه ،تورات اوانجيل ﴿وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ ﴾ اوتفصيل کونکی دی دهغه څه چي ليکلي شويدي (پرتاسو له عقائدو ، شرائعو اواحکامو ﴿لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ نشته هيڅ شک په ده کي (چي راغلی دی) له لوري درب دعالميانو نه ﴿ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ﴾ بلکه آیاوايې دوی چي (محمدصلی الله عليه وسلم) له ځانه جوړکړی دی دغه (قرآن) ؟ دغه استفهام اومعنايې تقريع اوټکول دی ﴿ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ ﴾ ووايه (اې محمده دوی ته !) چي نو راوړئ يو(لنډ) سورت په شان دده (په اعجازکي) داخبره ددوی لپاره تعجيز اوپردوی باندي دحجت درول دي ﴿ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ ﴾ اورا وبولئ تاسي هغه څوک چي ستاسي له لاسه کېږي غيرله الله څخه) يعني تاسو څه چي موپه وس کي وي دخپلي مرستي لپاره له الله نه پرته ټول خلګ که انسانان اوپېريان وي راوغواړئ ﴿إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ (که يې تاسي صادقان) چي محمدصلی الله عليه وسلم له ځانه جوړکړی. طبري وايې چي مقصدځني دادی چي تاسي به له سره ونکړای شی نوپدې کي شک نشته چي تاسو دروغجن ياست ځکه محمدصلی الله عليه وسلم هم ستاسوپه شان يوبشردی نو کله چي ټول مخلوقات ديولنډ سورت په جوړولو نه توانېږي نوڅرنګه به يوتن دټول قرآن په جوړولو قادروي ؟ هغه خولازيات عاجزوي الله تعالی فرمايي: ﴿ بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ ﴾ (بلکه نسبت د دروغويې وکړ په هغه قرآن چي پوره نه وو رسېدلي دوی دهغه په علم باندي) يعني دغومشرکانو پخوا له دې چي په قرآن کريم وپوهېږي سوچ اوتدبرپکي وکړي دپېغور په ورکولو لاس پوري کړ او دروغ يې

وګانو دخلګو طبيعت هم داوي چي کوم څېز نه پېژني دښمني ته يې راپورته شي ﴿ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُۥ ﴾ اونه وو راغلی دوی ته معنا او حقيقت ددې (قرآن) يعني حال داچي دوی ته هغه وعيد دعاقبة الامر نه وو په داګه شوی ﴿ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ همداسي (لکه همدغو مکذبانو) تکذيب کړی وو د(خپلو انبياوو) هغو کسانوچي پخوا له دوی وو ﴿ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (نو وګوره ته چي څرنګه وو عاقبت دظالمانو) يعني اې محمده صلی الله عليه وسلم وګوره چي دغه دروغ ګڼونکي څرنګه الله په خپل عذاب ونيول اوددوی دظلم اوطغيان په سبب يې هلاک کړل نولکه چي په هغوی يې څه وکړل همداسي به په دغو ظالمانو اوسرغړونکو هم کوي.

بلاغت:

۱- ﴿ أَسْرَعُ مَكْرًا ﴾ پدې کلام کي دعذاب تسميه په مکرسره شوي اوداد مشاکلت په توګه ده.

۲- پدې کلام کي چي فرمايې ﴿ وَجَرَيْنَ بِهِم ﴾ دلته له خطاب څخه غياب ته دالتفات صنعت راغلی او حکمت پکي دکفارو زياته تقبيح اوتشنيع ده ځکه دنعمت ناشکري يې کړې ده.

۳- ﴿ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا ﴾ دغه خورا ښکلي استعاره ده ځمکه چي کله په وښو اوګلانو وپوښله شي هغه يې له هغي ښايسته ناوې سره چي په ګېڼو اوجامو سينګارشي مشابه وګڼله اوددې دبهجت اونضارت يعني خوښي اوتازه ګي لپاره يې دزخرف کلمه استعاره کړه.

۴- ﴿ أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا ﴾ دلته دامر کلمه له عذاب اوهلاکت څخه کنايه ده.

۵- ددې دوو کلماتو ترمينځ چي: ﴿ أَحْسَنُوا۟ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ دي داشتقاق جناس موجوددی.

۶- ﴿ أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مُظْلِمًا ﴾ پدې کي مرسله مجمله تشبيه ده.

۷- ددې دواړوکلمو ترمينځ چي: ﴿ يَبْدَؤُا۟ ﴾ او ﴿ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ دي دطباق صنعت راغلی دی.

۸- ﴿ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴾ دلته استفهام دتوبيخ لپاره اوهمدارنګه پدې کلام کي چي ﴿ فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴾ استفهام دتوبيخ لپاره دی.

۹- پدې جمله کي چي الله فرمايي ﴿ بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ دلته لطيفه استعاره خوندي ده اومراد له دې څخه هغه دتورات اوانجيل کتابونه دي چي بشارت اوزيری پکې وو.

لطيفه:

شهيد سيد قطب رحمه الله پخپل تفسير فی ظلال القرآن کي ليکلي: چي بشر تل ترتله کله چي دکائناتو پټ رازونه سپړي ؛ روزي مومي په آسمان کي روزي ، اوپه ځمکه کي روزي ، کله يې په خيرکي استعمالوي اوکله هم په شرکي اودغه ددوی دعقائدو دسم والي اوياناسم والي سبب دی خوتل دالله رزقونه اوروزي دي چي دانسان لپاره يې تابع کړي دځمکي له مخ څخه ارزاق ، له تل اوګېډي څخه يی ارزاق ، داوبو له مخ اوسطحي څخه روزي

،اوله تل او مينځ څخه يې رزقونه دلمرله وړانګو روزي ،اود سپوږمۍ له رڼا څخه هم ارزاق او روزي آن تردې چې په
خوسا خمکه کې هم علم دوا او ترياق مومي او الله پاک رښتيا وايي چې(١) ﴿قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ﴾.

الله تعالى فرمايي:

﴿وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾ وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّى عَمَلِى وَلَكُمْ
عَمَلُكُمْ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا۠ بَرِىٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا
يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمِنْهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَ أَفَأَنتَ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ
ٱلنَّاسَ شَيْـًٔا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٤﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ قَدْ
خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴿٤٥﴾ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ ٱللَّهُ
شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴿٤٦﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾
وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ إِذَا
جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ
ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٠﴾ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓ ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ
ٱلْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٥٢﴾ ۞ وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ وَمَآ أَنتُم
بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾ وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِى ٱلْأَرْضِ لَٱفْتَدَتْ بِهِۦ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ وَقُضِىَ
بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٥٤﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَلَآ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا
يَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾ هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٥٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى
ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾ قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا۟ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾ قُلْ
أَرَءَيْتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا وَحَلَٰلًا قُلْ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى ٱللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴿٥٩﴾
وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ
﴿٦٠﴾ وَمَا تَكُونُ فِى شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا۟ مِنْهُ مِن قُرْءَانٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ وَمَا
يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦١﴾ أَلَآ
إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ
فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٤﴾ وَلَا يَحْزُنكَ

---

(١) فى ظلال القرآن ١١/ ١٤٥

قَوْلُهُمْ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي السَّمَٰوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ
وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ شُرَكَاءَ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ
﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ
﴿٦٧﴾ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ هُوَ الْغَنِيُّ لَهُ مَا فِي السَّمَٰوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ إِنْ عِندَكُم مِّن
سُلْطَانٍ بِهَٰذَا أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ
﴿٦٩﴾ مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

يونس: ٤٠ ــ ٧٠

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالی دکافرانو هغه پېغورونه چي دنبوت اووحی په هکله يې مسلمانانوته ورکول بيان کړل نودلته يې دا يادونه وکړه چي ځيني له دوی ځخه هغه کسان دي چي په دې باورلري قرآنکريم دالله کتاب دی خوعناد اوتکبرکوي اوځيني بياهغه يومخ ايزه ناپوهان اوبې عقلان دي چي بالکل يې تصديق نه کوي اونه يې پېژني نوالله دلته فرمايي چي دغه قرآن دزړونو دناروغيولپاره علاج او درمل دی اوبيادمشرکانو وروستی هستوګنځی بنيي چي هغه سخت عذاب اودوزخ دی.

لغتونه:

(الصم) دأصم جمع اوکانه ته وايي (بياتا) دشپې (تفيضون) له (افاض)ځخه اخيستل شوی غوپه کېدلوته وايي (يعزب) پټېږی (مثقال) تول (سلطان) دليل اوبرهان (سبحانه) پاکي ده ده لره له ټولو عيبونو.

تفسير:

﴿ وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِ ﴾ اوځيني له دې (مکذبانو) هغه دي چي ايمان راوړي په دغه (قرآن) يعني اې محمده ! ځيني له هغوکسانوچي ته ورته رااستول شوی يې پدې قرآن ايمان راوړي. اوستاپيروي کوي اوپه هغه نفع مندکېږي ﴿ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِ ﴾ اوځيني له دوی هغه دي چي ايمان نه راوړي په دغه قرآن هيڅکله اوپدې حال مره کېږي ﴿ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِينَ ﴾ اورب ستابنه عالم دی (پرحال) دمفسدانو ,چي ځوک دهدايت وړدی نوهدايت ورته کوي اوځوک دګمراهي لائق دی نويې ګمراه کوي ﴿ وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ﴾ اوکه دوی ستاتکذيب وکړي نووايه (ای محمده ! دوی ته) چي ماته (جزا) دعمل زماده اوتاسي ته (جزا) دعمل ستاسي ده (هغه که حق وي اوکه باطل)﴿ أَنتُم بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ تاسي بېزاره يې (له جزاد) هغه کارچي زه يې کوم اوزه بېزاره يم (له جزاد) هغه کارچي تاسي يې کوئ (يودبل په ګناه نه نيول کېږو) ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ ﴾ (اوځيني له دي (کفارو) هغه کسان دي چي تاته غوږ نيسي (کله چي ته قرآن لولې خوپه زړونوکي يې داستاتلاوت اثراو اغېزه نکوي ﴿ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ ﴾ آيانوته

اوروي (مورزاده) كانه؟ (بلكه نشي اوروﻻى) ﴿ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ اواگركه وي دوى چي هيڅ عقل هم نلري (اونه سوچ كوي). ابن كثير وايې چي معنادا ځيني له دغو كسانو هغه دي چي ستا خوندور كلام او گټور قرآن اوري خو ددوى هدايت او لاربنودنه ستاپه واک كي نه ده لكه چي ته كانه نشي اوروﻻى همداسي دغه كسان په لاركولاى نشي الاأن يشاء الله[1] ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يُبْصِرُونَ ﴾ او ځيني له دوى هغه دي چي تاته گوري (او ستا دنبوت څرگند دلائلويني) آيا نوته به لاره وښيې (مورزاده) ړندوته اواگركه وي دوى چي هيڅ بصيرت اوپوهه نلري) يعني اې محمده! صلى الله عليه وسلم آيا ته كولاى شي چي هغوكسانوته چي مورزاده ړانده وي اودزړه بصيرت يې هم منتفي وي هدايت وكړې؟ دوى ته يې پدې ړانده وويل چي حق نه ويني. قرطبي وايې چي مقصد درسول الله صلى الله عليه وسلم داډينه اوتسلاده يعني لكه چي ته نشې كولاى درندولپاره سترگي اوبېنايې ورومې همداسي نشې كولاى چي دوى ته دايمان راوړلو توفيق ورپه برخه كړې[2] ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ ٱلنَّاسَ شَيْـًٔا ﴾ بېشكه چي الله هيڅ ظلم نكوي پرخلكو) يعني الله پاک له گناه پرته هيڅوک هم په عذاب نه اخته كوي اوله خپل مخلوق سره داسي چلند نكوي چي ورسره ورنه وي ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ وليكن خلک پرخپلو ځانونوظلم كوي (په كفر اوگناهونواو دالله له احكامو په مخالفت كولوباندي. طبري وايې: چي دغه دالله له لوري خبرتياده چي هغه له گناه پرته له دوى څخه ايمان نه سلبوي خو كله چي يې ځني اخلي اوسلبوي يې هغه دگناهونوپه سبب وي نوچي گناه كوي ورسره حق دى چي په زړونويې مهرولگول شي[3] ﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّنَ ٱلنَّهَارِ ﴾ او هغه ورځ چي (پس له مرگه الله) كفار راجمع كړي حال داچي لكه مدارنه وو كړى دوى (په دنياكي) مگرپه اندازه د يوه ساعت له ورځي (اوداپه سبب دسختيو اومشكلاتو دقيامت) ﴿ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ ۚ ﴾ (پېژني به دوى يوتربله پخپلومنځونوكي) يعني ځيني به ځيني نورهسي پېژني لكه چي په دنياكي يې پېژندل اودغه دتوبيخ اورسوايې پېژندنه ده يوبه بل ته وايې چي تا-زه تېرايستلى (غولولى) اوگمراه كړى وم ددوى پېژندگلوى به دميني اوالفت پېژندگلوى نه وي ﴿ قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴾ په تحقيق زيانمن شوي دي هغه كسان چي دالله دملاقات تكذيب يې كړى دى اونه وو دوى سمه لاره موندونكي. يعني نه وو په دنياكي خيرته رسېدونكي ﴿ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ﴾ اوكه وښيو موږتاته ځيني له هغه عذابه چي وعده يې كوو له دوى سره اې محمده! په دنياكي نوبه دي سترگي وربانديي يخي شي اوكه چېري تاوفات كړو پخواله دې نوددوى راتگ په آخرت كي موږته دى او جزابه ارو مرو وركولى شي زياتي كه ژروي اوكه په ځنډ ﴿ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴾ بيانوالله شاهددى په هغوكارونو چي دوى يې كوي (له گناهونواوبدوعملونو او الله به وربانديي جزا وركړي) ﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ

[1] المختصر ۲/۱۹۵
[2] القرطبي ۸/۳۴۴
[3] الطبري ۱۱/۱۲۰

رَسُولٌ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ (او لپاره د هرامت يو رسول دى نو كله چي رابه غلى (دوى ته) رسول ددوى (او دوى به ونه منل) نو حكم به وكړشو په مينځ ددوى كي په انصاف حال دا چي دوى به مظلومان نه وو (چي بېګناه معذب كېدل) مجاهد وايې معنا دا چي دقيامت په ورځ به ددوى ترمينځ په عدل فيصله وشي. ابن كثير وايې چي هرامت به دخپل پيغمبر په ملتيا الله تعالى ته وړاندي كېږي او دعملونو كتاب به يې ورباندي دخير او شر شاهدي (ګواهي) وايې او هم داراز ساتونكي ملائكي به يې هم شاهدان وي ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ (او وايې دوى كله به وي دغه وعده كه ياست تاسي صادقان ؟) يعني دمكې كفار وايې چي كله به وي هغه عذاب چي ته يې موږته وعده راكوې ؟ دغه خبره دوى په مسخرو او ملنډو كوي ﴿ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴾ ووايه (اې محمده ! دوى ته) چي زه دخپل ځان لپاره د (دفع كولو د) ضرر او (رسولو) دنفعي مالک نه يم (نه زه پخپله او نه بل څوک دغه اختيار لري) ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ مګر د هغې (نفعي او ضرر) چي الله اراده وفرمايې (نو زه څرنګه كولاى شم داستعجال په ډول تاسو ته عذاب راولم ﴿ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ﴾ لپاره د هرامت يوه نېټه ده دهلاكت او عذاب لپاره ﴿ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ كله چي راشي هغه اجل (نېټه دمرګ ددوى) نو نه به وروسته كېږي دوى يوه ګړۍ او نه به وړمبى كېږي (پرې) ځكه دالله فيصله پخپل وخت پېښېدونكي ده ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا ﴾ ووايه (اې محمده ! دوى ته چي) آيا وينئ تاسي كه راشي تاسي ته عذاب دالله دشپې او يا دورځي (ستاسو پكي ګټه څه ده؟) ﴿ مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ نو څه به وي هغه عذاب چي په جلتي سره غوښت له هغه څخه مجرمانو) دغه استفهام او معنا يې تعظيم او تهويل دى يعني څومره غټ كار تاسو په تلواره غواړئ لكه يو چا ته ووايې چي هغه دستر امر غوښتنه كوي ته ورته ووايې ستا لپاره به څه ګټه ترلاسه شي ﴿ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓ ﴾ آيا كله چي (دغه عذاب) واقع شي نو تاسو به ايمان راوړئ په هغه (الله) ؟ دلته په كلام كي حذف راغلى چي تقديريې داسي دى آيا تاسو دغه عذاب ستاسو تر ايمان راوړلو پوري ځنډوي او كله چي عذاب واقع او تاسي يې دسرپه سترګو وويني نو بيا ستاسو دايمان راوړلو څه معنا او ګټه شته؟ ځكه هغه وخت بيا ايمان نه منل كېږي. طبري وايې: معنا دا چي اې مشركانو ! كله چي عذاب راشي بيا به تاسو ايمان راوړئ ؟ خو په هغه حال كي دايمان راوړل ګټه نلري[1] ﴿ ءَآلْـَٔنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ (آيا اوس (ايمان راوړئ؟) حال دا چي په تحقيق وۍ تاسي چي په (غوښتلو د) دغه (عذاب) به مو جلتي كوله) يعني اې مجرمانو ! تاسو اوس ايمان راوړۍ تردې له مخه خومو ملنډې اومسخرې كولې او دعذاب راتلل مو په تلواره غوښتل ﴿ ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْخُلْدِ ﴾ بيا به وويل شي هغو كسانو ته چي ظلم يې كړى وي وڅكئ عذاب (دائم) همېشه ﴿ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴾ آيا سزا به دركولى شي تاسي ته؟ (نه به دركولى شي) مګر په سبب د هغه شرک كفر او تكذيب چي تاسو به كاوو ﴿ وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ﴾ (او له

[1] الطبري ١١ / ١٣٢

تاپوښتنه کوي چي آيا داحق دی ؟) يعني اې محمده ! له تانه پوښتنه کوي او وايې چي آيا هغه چي تاموږته د عذاب اوبعث وعده راکړي هغه حق ده ؟ ﴿ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ ﴾ ووايه (اې محمده ! هو زما دي پخپل رب قسم وي چي دا بېشکه حق دی ﴿ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴾ او نه يې تاسي عاجزونکي (د الله) چي ترې وتښتئ او يا يې له عذابه منع کړئ ,تاسي ټول د هغه په واک کي ياست (١) ﴿ وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْأَرْضِ ﴾ او که بېشکه (مملوک کړل شي) دپاره د هر نفس چي ظلم يې کړی وي هغه څه چي په ځمکه کي دي (ټول بشپړ مالونه او خزانې) ﴿ لَافْتَدَتْ بِهِ ﴾ نو خامخا به فديه ورکړي دغه نفس په دغه (هر څه سره له عذابه) خولېږي.ده چي قبول دي شي لکه چي الله تعالی فرمايي: ﴿ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ﴾ [آل عمران ٩١] بيا الله د دوی له افسوس او پښېماني څخه داسي خبر را کوي چي: ﴿ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ ﴾ (او وبه مومي دوی په زړونو خپلو کي پښېماني کله چي عذاب ووينې) يعني دغه ظالمان به کله چي عذاب ووينې پټ پښېمانه شي امام جلال الدين وايې: چي رئيسان د دوی به پښېماني له کمزورو پټوي له دې وېري چي ضعيفان او کمزوري هغه چي دوی گمراه کړي وو دغو رئيسانو او مشرانو ته پېغور ورنکړي (٢) ﴿ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ ﴾ او د دوی ترمينځ به فيصله وکړل شي په عدل سره ﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ او حال دا چي پر دوی به ظلم نه کاوو شي (د اعمالو او له گناه پرته په بل څه به جزا نه ورکول کېږي) ﴿ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ (خبر دار شئ چي بېشکه خاص الله لره دي هر هغه څه چي په آسمانونو او په ځمکه کي دي) الا ،حرف تنبيه دی د کلام په پيل کي د خبرتيا لپاره راځي يعني وا ورئ هغه چي زه درته وايم هر څه چي په آسمانونو او ځمکه کي دي د الله مملوک دي هيڅ څيز له الله پرته د بل چا نه دی الله پاک د ټولو خالق او مالک دی ﴿ أَلَا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ﴾ خبر دار شئ چي بېشکه د الله وعده حقه ده (بعث او جزا خامخا راتلونکي دي) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ وليکن زيات له خلګو (کوتاه عقله او غافلان) نه (پرې) پوهېږي (او هغه څه وايې چي دوی يې وايې) ﴿ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ هم دغه (الله) ژوندي کول او مړه کول کوي او هم ده ته به بيا بېول کېږي (په قيامت کي د جزا لپاره) ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ اې خلګو په تحقيق راغلی دی تاسي ته موعظه له جانبه د رب ستاسي (دغه قرآنکريم) ﴿ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ ﴾ او شفا (دارو) لپاره د ټولو (د شک او ناپوهي (رنځونو) چي په سينو (د خلګو) کي دي ﴿ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ او هدايت او رحمت دی لپاره د مؤمنانو د کشاف تفسير مؤلف ليکي چي د دې معنا داده چي داسي يو جامع کتاب چي دغه ستري د پند ،فائدې خبرې پکې دي تاسي ته

---

(١) چا يا ويلي معنا يې دا چي له الله څخه تښتېدلای نشئ .تاسو هر چېري چي لاړشئ هغه مو نيسي.

(٢) الجلالين ٢/ ١٩٢ په البحر المحيط کي وايې خکه دوی پښېماني پټوي چي دوی هسي عذاب ووينې چي هېڅ گمان يې نه کاوو او نه يې په زړه کي ور تېرېدل نو خکه هيښ مېښ حيران شي او د ژړا او نارو توان له لاسه ورکړي لکه چي څوک د اعدام په تخته و خېژول شي نو وچ کلک حيران او هک پک پاتي شي يوه کلمه يې هم په ژبه نه راځي.

راغلی دی او پدې باندې تنبيه ورکوي چې توحيد د زړونو لپاره د فاسدو عقائدو له رنځ څخه دارودې او دغه کتاب حق ته بلونکی او له تاسو نه دهغه چا لپاره چې وربانديې ايمان راوړي رحمت دی (۱) ﴿ قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا ﴾ وو ايه (اې محمده ! مؤمنانو ته چې خوشحاله او سئ) په فضل (قرآن) دالله سره او په رحمت (اسلام) دالله سره نو په همدغه فضل او رحمت دې مؤمنان خوشحاله شي . ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې : دالله فضل يعني قرآن او رحمت يې اسلام دی (۲) ﴿ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴾ (څکه) چې دغه (فضل او رحمت) د هرغوره دې له هغو مالونو چې دوی يې جمع کوي (ددنيا له فاني هستي او ښکلا څخه څکه دادنيا سره له تولي مافيها د ملخ دېو وزر سره هم برابره نه ده لکه چې په حديث شريف کې راغلي) ﴿ قُلْ أَرَأَيْتُم ﴾ و وايه (اې محمده آيا وينئ تاسي ﴿ مَّا أَنزَلَ اللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ ﴾ هغه څېز چې الله تاسو ته نازل کړی دی له (انواعو) د رزق څخه خطاب دعربو کفارو ته دی يعني خبر را کړئ اې مشرکانو له هغه چې الله پاک پيدا کړي ستاسو لپاره حلال رزق ﴿ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا وَحَلَالًا ﴾ نو گرزولی دی تاسي له دغه رزق څخه (ځيني) حرام او (ځيني) حلال (لکه بحيره ، سائبه او ميتة) ابن عباس رضی الله عنه وايي چې: دغه په مشرکانو باندې دانکار په توگه راغلي دي چې دوی به حلال او حرام گڼل له بحائرو ، سوائبو او کښتونو او چارپايانو څخه (۳) ﴿ قُلْ آللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى اللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴾ و وايه (اې محمد ! دوی ته) آيا الله اذن کړی دی تاسي ته (په دغه تحليل او تحريم کې) او که په الله جل جلاله پوري دروغ تړی تاسي (له ځانه) ؟ ﴿ وَمَا ظَنُّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ او څه شی دی گمان دهغو کسانو چې له ځانه په الله باندې دروغ تړي په ورځ دقيامت کې؟ (چې الله به څه ورسره وکړي ؟ دوی په الله باندې دروغ تپي او له خپله ځانه حلال او حرام ټاکي آيا دوی گومان کوي چې الله به يې محاسبه ونکړي او بخښش به ورته وکړي ؟ خو داسي نه ده بلکه په غرغندو او رکې به يې وغورځوي او دغه دافترآء کونکو لپاره سخت وعيد دی ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ ﴾ بېشکه الله خامخا خاوند دفضل دی پر خلکو (چې ژر تر ژره يې نه هلاکوي او په دوی باندې يې د رسولانو په رالستولو نعمت کړی او کتابونه يې وربانديې رانازل کړي دي ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴾ وليکن اکثره خلق (دنعمتونو) شکر نه کاږي (بلکه کفران کوي) ﴿ وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِن قُرْآنٍ ﴾ او نه يې ته (مشغول) په کوم کار کې (له خپلو کارونو . او نه لولې ته (هيڅ سورت ، آيت له دې نه (يعني له قرآنه) خطاب رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دی ﴿ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ ﴾ او نه کوئ تاسي (اې خلکو !) کوم (دخير ، يا شر) کار له کارونو څخه ﴿ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ ﴾ مگر او سو موږ پر تاسي شاهدان کله چې مشغول او سېږئ تاسي په هغه کې (ستاسي اعمال څارو او شمېرو يې ﴿ وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ

(۱) الکشاف ۲ / ۳۵۳
(۲) البحر ۵ / ۱۷۱
(۳) المختصر ۲ / ۱۹۸

ذَرَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ اونه غائبېږي له ربه ستا په اندازه ديوې ذرې په ځمکه کي اونه په آسمان کي)
يعني نه پټېږي له رب ستاڅخه په اندازه د واړه مېږي ، يا ګرد په ټولو کائناتو او موجوداتو کي ﴿ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن
ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ﴾ اونشته ډېره وړوکي له دغي ذرې څخه اونه ډېره غټه مګر (داټول ليکلي پراته
دي) په کتاب ښکاره(لوح محفوظ) کي. طبري وايې چي: پدې کي الله ددې خبر ورکوي چي له الله څخه هيڅ ډېر
کوچنی شی پټ نه دی که څه هم خورا سپک وي اونه خورا لوی شی که څه هم ډېر دروندوي نوستاسي اعمال بايد
دالله له رضاسره سم وي څکه الله يې درته ليکي ورباندي جزا درکوي[1] ﴿ أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ
عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴾ (واورئ خبردارشئ بېشکه نيشته هيڅ قسم وېره دالله په دوستانو اونه به دوی خفه
کېږي) يعني اې خلګو پدې وپوهېږئ چي دالله په دوستانو اومحبانو دآخرت په ورځ هيڅ دعذاب وېره نشته اونه
به دوی په هغه څه چي په دنياکي څني پاتي شوي وي خفه کېږي بياالله همدغه کسان داسي په ډاګه کوي
﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴾ (دغه دوستان) هغه کسان دي چي ايمان لري اودوی دي چي ځان
ساتي (له ګناهونو اود اوامرو امتثال کوي) مؤمن متقي دالله ولي دی اوپه حديث شريف کي راځي: دالله داسي
بندګان شته چي نه نبيان دي اونه هم شهيدان خو انبياء اوشهداء ددوی په حال غبطه کوي چي کله دقيامت په ورځ
دوی الله ته نژدې (مقربان) وي پوښتونکو وويل: هغه کسان او دهغوی اعمال موږ ته راوښيه دا څوک دي چي موږ
هم ورسره محبت وکړو. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: داهغه قوم دی چي يوازي دالله لپاره يې يو له بله
مينه اومحبت کاوو خپلوان نه وو اونه يې يوبل ته مالونه سره ورکول په الله لوړه چي بېشکه مخونه يې نور
اوځلاده اودنورپه منبربه ناست وي له هغه څه به نه وېرېږي له کوم څخه چي خلګ وېرېږي اوپه هغه به نه خفه کېږي
له کوم څه چي خلګ خوابدي کېږي اوبيايې داآيت ولوست: ﴿ أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ ﴾ دآيت ترپايه[2] ﴿
لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ ﴾ (دوی ته زېری په دغه ژوندون لېږ خسيس(ددنيا) کي اوپه
آخرت کي) يعني ددوی لپاره په دارينو کي هغه څه دي چي دوی ورباندي خوشحالېږي ځکه چي د مړيني په وخت
کي پرښتې دالله درضا اورحمت زېری ورکوي اوپه آخرت کي جنتونه اونعمتونه لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ إِنَّ
ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي
كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴾ (فصلت ۳۰) ﴿ لَا تَبۡدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ﴾ (نشته هيڅ بدلول دالله په کلماتو کي) يعني دالله
په وعده کي خلاف نشته ﴿ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ (دغه (زېری ددواړو جهانونو) هم دغه دی بری ډېرلوی)
چي تردې پورته اوستربل بری نشته ﴿ وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ ﴾ اونه دي خفه کوي تا(اې محمده!) خبري

---

[1] الطبري ۱۱ / ۱۳۱

[2] طبري ۱۱ / ۱۳۲ ځيني مفسرين وايي چي په دنياکي بشارت هغه صالح خوبونه دي چي مؤمنان يې ويني اويا ورليدل کېږي په هغه حديث کي چي حاکم روايت کړی راځي چي بشارت نيک خوبونه اودمرګ په وخت کي دملائکو زېری دی دغه وينا طبري هم غوره کړې دی

ددوى (چي وايې ته نبي نه يې ستاتكذيب كوي) ﴿إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ﴾ بېشكه چي قوت زور ټول خاص الله لره دى (هغه ستامرستندوى مددگار او معاونت كونكى دى اويوازي هغه زورور دى چي دخپلو اولياوو مرسته كوي له دښمنانو څخه يې ژغوري) هغه دى ښه اوريدونكى (دټولواقوالو)اوښه عليم خبرداردى (په ټولواحوالو) ﴿أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ﴾ (واورئ خبردارشئ چي بېشكه خاص الله لره دي هر هغه څوک چي په آسمانونو كي دى او هغه څوک چي په ځمكه كي دي) يعني ټول الله لرېدي خلقًا ملكًا وعبيدًا ﴿وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَۚ﴾ اونه كوي متابعت هغه كسان چي بولي (عبادت كوي) دوى غيرله الله نه دشريكانو(په حقيقت باندي بلكه دوى گمان كوي چي دغه زموږ شفاعت كوي اوموږ ته نفع رسوي خو هغه نه له دوى څخه ضرر دفع كولاى شي اونه ورته گټه رسولاى شي ﴿إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ﴾ متابعت نه كوي دوى (دهيڅ شي) مگردگمان (باطل) ﴿وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ﴾ (اونه دي دوى مگر دروغ وايې اټكلونه چلوي) په گمانونو باندي دحقيقت خيال كوي ﴿هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ﴾ الله همغه ذات دى چي تاسي ته يې شپه گرځولي (تياره) لپاره ددې چي تاسي پدې كي آرام شئ) پدې كي دالله په بشپړ قدرت باندي تنبيه ده يعني دالله په وحدانيت اوقدرت باندي له دلائلو يوهم دادى چي تاسوته يې شپه دآرام اوهوساېې لپاره گرځولي چي دورځي دستوماني او ستړيا څخه پكي آرام ومومئ ﴿وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ﴾ او(گرځولي يې ده) ورځ ښوونكي (روښانه چي تاسوپكي شيان وينئ اوخپلي اړتياوي ترسره كوئ كسبونه اوكارونه سرته رسوئ ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ﴾ بېشكه پدې كي خامخاډېردلائل (په وحدانيت دالله)دي دپاره دهغه قوم چي داقرآن اوري (په اورېدلو دپنداوعبرت سره ,بياالله ديهودانو ، نصرانيانو اومشركانو گمراهي ته داسي گوت نيونه كوي ﴿قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ﴾ (وايې كفار الله نيولى دى زوى)[1] يعني يهودان اونصرانيان الله ته دزوى لرلو نسبت كوي دو ى به ويل عزير دالله زوى دى او عيسى دالله زوى دى لكه چي به دمكې كفارو ويل پرښتې (ملائكي) دالله لوڼې دي ﴿سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱلۡغَنِيُّۖ﴾ پاک دى الله (له هغه چي دوى ورته نسبت كوي) هم دى غني (بې پروا دى له ټولو خلگو ځكه زوى نيول خو دكوم حاجت او اړتيا لپاره وي اوالله هيڅ ته هم اړنه دى نو ځكه دزوى نسبت نه ورته كول كېږي ﴿لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ﴾ خاص ده لره دي هرهغه څه چي په آسمانونو كي دي اوهغه چي په ځمكه كي دي (خلقًا وملكًا) ﴿إِنۡ عِندَكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭ بِهَٰذَآۚ﴾ نشته تاسي ته څخه هيڅ برهان حجت سند په دې (چي الله تعالى ولد نيولى دى) ﴿أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ﴾ (آياوايا ست تاسي په الله هغه خبري چي تاسي (پرې) نه پوهېږئ) يعني افتراء كوئ اوپه دروغو ورته نسب، شريک اوزوى پيداكوئ دغه ددوى په ناپوهي

---

[1] خومره دبې عقلتوب اوحماقت نه ډكه خبره ده دوى عَليٌّ الأعلىٰ ذات ته دهغه څه نسبت كوي چي خپل رهبانيان ورڅخه منزه گڼي اوگمان كوي چي هغوى پاک دي اونكاح نكوي.

باندي توبيخ دى ﴿ قُلْ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴾ ووايه (اې محمده ! (صلى الله عليه وسلم) دوى ته) بېشکه هغه کسان چې له خپله ځانه پر الله دروغ تړي خلاص به نشي (برى به ونه مومي نه به په مراد ورسېږي) ﴿ مَتَٰعٌ فِي ٱلدُّنْيَا ﴾ نفع اخيستل دي په دنياکي (ددوى دژوندموده) ﴿ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلْعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴾ بيا موږ ته راتله دي ددوى (پس له مرګه دجزا اوحساب لپاره) بيابه وروڅکو موږ دوى ته عذاب سخت په سبب ددې چې وو دوى به کافران کېدل (اوپه الله به يې دروغ تړل).

بلاغت:

١- ﴿ وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِۦ.... وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦ ﴾ دلته ددوى ترمينځ دطباق صنعت راغلى دى.

٢- پدې کلام کي چې الله فرمايي: ﴿ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ... تَهْدِى ٱلْعُمْىَ ﴾ صم اوعمى دواړه په مجازي معنادکافرانو لپاره راغلي چې دوى يې له کانه اوړانده سره پدې تشبيه کړل چې له حق څخه کانه ،ړانده دي

٣- پدې کلماتوکي لکه ﴿ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴾ اوهمداسي ﴿ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا ﴾ همداراز ﴿ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ﴾ او ﴿ يَسْتَقْدِمُونَ ... يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴾ پدې ټولوکي دطباق صنعت راغلى دى.

٤- ﴿ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ ﴾ دلته مرسل مجاز راوړل شوى چې محل راوړل شوى اوحال ځني اراده کېږي يعني دزړونو لپاره دارودى ځکه چې صدور دزړونو محلونه دي.

٥- کله چې الله فرمايي: ﴿ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ﴾ په تلخيص البيان کي راوړي چې دايوه عجيبه غوندي استعاره ده ورځ يې ليدونکي وبلله ځکه چې خلګ پکيويني اودغه ګواکي دشي صفت په هغه څه دى چې هغه دده لپاره سبب وي او دايې دمبالغې په توګه وبلله لکه چې ويل کېږي (ليل أعمى) کله چې ډېره تياره وي اوخلګ پکي هيڅ شى نه ويني[1]

٦- ﴿ حَرَامًا وَحَلَٰلًا ﴾ دلته دطباق صنعت راغلى دى.

٧- پدې کلام کي چې: ﴿ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ توبيخ اوتکول دي.

فائده:

الله پاک خپل پيغمبرته په دريوځايونوکي دلوړي اوقسم (حلف) امرپه قرآنکريم کي کړى دى پدې سورت کي چې: ﴿ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ﴾ دسبا په سورت کي چې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَأْتِينَا ٱلسَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ ﴾ [سبا٣] او دتغابن په سورت کي چې: ﴿ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَن لَّن يُبْعَثُوا۟ ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتُبْعَثُنَّ ﴾ [التغابن٧] دغه ابن کثيرذکرکړي دي.

[1] تلخيص البيان للشريف الرضى: ١٥٢

تنبيه:

د ﴿ أَرَءَيۡتَ ﴾ کلمه دبصري رؤيت داستفهام په معنا راځي اوهمدارنګه دعلمي رؤيت داستفهام په معنا
بيا وروسته د(أخبرني) په معنا استعمال شوي چي کله وويل شي: (أرأيت ذلک الأمر) يعني ماته خبر راکړه له هغه
امرڅخه اودغه رؤيت به يابصري وي، ياعلمي نومعنايې داچي آياتاهغه عجيبه حالت په سترګو ليدلی ؟اوياهغه
عجيبه حالت دي پېژندلی ورباندي پوهېدلی يې ؟ نوماته خبر راکړه ځکه نوپرته له يوعجيب اوغريب امرڅخه
پرته نه استعمالېږي لکه داچي: ﴿ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴾ [الماعون:١] ياداچي: ﴿ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ
(٩) عَبۡدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴾ [العلق١٠-٩] اوداسي نور

* * *

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى
ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ (٧١) فَإِن
تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ (٧٢) فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيۡنَٰهُ
وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ خَلَٰٓئِفَ وَأَغۡرَقۡنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ (٧٣)
ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ نَطۡبَعُ
عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡمُعۡتَدِينَ (٧٤) ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ
قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ (٧٥) فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰذَا لَسِحۡرٞ مُّبِينٞ (٧٦) قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلۡحَقِّ لَمَّا
جَآءَكُمۡۖ أَسِحۡرٌ هَٰذَا وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ (٧٧) قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا
ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا نَحۡنُ لَكُمَا بِمُؤۡمِنِينَ (٧٨) وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ (٧٩) فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ
لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ (٨٠) فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ
عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ (٨١) وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ (٨٢) فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٞ مِّن قَوۡمِهِۦ
عَلَىٰ خَوۡفٖ مِّن فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِمۡ أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ وَإِنَّ فِرۡعَوۡنَ لَعَالٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ (٨٣) وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ
إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ (٨٤) فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ
(٨٥) وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ (٨٦) وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوتٗا وَٱجۡعَلُواْ
بُيُوتَكُمۡ قِبۡلَةٗ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ (٨٧) وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ
زِينَةٗ وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ

بروا العذاب الأليم ﴿۸۸﴾ قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا فَٱسۡتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿۸۹﴾ ﴾

يونس: ۷۱ - ۸۹

مناسبت او تړاو:

كله چي الله تعالى په خپل وحدانيت دلائل راوړل او هغه ماجرا چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم او مكي دكفارو ترمينځ پېښه شوه ياده كړه دلته يې د ځينو انبياوو عليهم السلام كيسې ذكر كړې چي د رسول الله ﷺ لپاره تسليت او ډاډينه وي او په هغوى پسي اقتداء وكړي نو به دغه سختي او تكاليف ورته آسانه اېسي پدې آيتونو كي الله پاک درې كيسې يادي كړي لومړى دنوح عليه السلام كيسه له خپله قومه سره دوهمه دموسى او هارون عليهما السلام كيسه چي له فرعون سره يې مقابله وه او دريمه د حضرت يونس عليه السلام چي له خپل قوم سره يې خواشيني وه راوړه او په هره يوه كي د چالپاره چي پند اخلي او سوچ لري ستر وعظ او نصيحت دى.

لغتونه:

(كبر) په عمر او يا مرتبه كي سترتوب او لويوالى ته وايي[۱] (فاجمعوا) تيار كړئ له اجماع او اعداد څخه دى (غمة) نامعلوم پټ لكه چي وايې: (غم علينا الهلال) يعني مياشت پټه او ونه ليدل شوه (نطبع) مور مهر لګوو (تلفتنا) مور اړوې لفت په اصل كي د لوّى په معنى او لكه (لوّى عنقه) يعني غاړي يې وپېچله (الكبريا) عظمت او لويې پاچهي سلطنت ته وايي (عال) سركښ متكبر (المسرفين) په ګمراهي او طغيان كي له حد څخه متجاوزين (اطمس) مسخ كړه طمس مسخي ته وايې الزجاج وايې چي: طمس ديوشي له خپل حالت څخه بل حالت بېولوته وايي لكه (عين مطموسة) يعني ړنده ستركه.

تفسير:

﴿وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ﴾ (ولوله (اې محمده!) پردوى حال د نوح) يعني اې محمده! د مكې مشركانو ته دنوح عليه السلام چي له خپله قومه سره كوم حال وو ووايه ﴿إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ﴾ كله چي وويل (نوح) قوم خپل ته چي اې زما قومه كه چېري په تاسي سخت وي او سېدل زما (ډېروخت په تاسي كي) او پند دركول زما (تاسي ته) په آيتونو د الله چي تاسو له الله څخه وېروم او تاسو زما دقتل توطئې جوړوي او زما د شړلو لپاره موقصد كړى دي ﴿فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ﴾ نو ما خاص په الله باندي توكل كړى دى (ستاسو پروا نلرم) ﴿فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ﴾ نو كلک كړئ تاسي كار خپل؛ او خپل شريكان راوبولئ او هغه دوكې او پلمې په كار واچوئ ﴿ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةً﴾ بيا دي نه وي ستاسي كار په تاسي باندي پټ (بلكه بربنډ او په ډاګه يې وكړئ يعني ټول په ښكاره راپسي ملا وتړئ) ﴿ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ﴾ بيا او رسوئ ماته هر ډول زيان او ماته مهلت مه راكوئ) يعني خپل پلان زما په هكله ترسره كړئ يوه شېبه هم ماته وخت مه راكوئ. ابو السعود وايې چي: حضرت نوح عليه السلام څكه پدا سي غوڅه لهجه ورسره خبري كولې چي د دوې پروايې نلرله او د الله په ساتنه او د خوندي كېدلو په وعده يې ټينګ باور درلود ﴿فَإِن

---

[۱] الرازي ۱۷ / ۱۳۷

تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ ﴾ نوكه وګرځېدى تاسي (زماله نصيحت اوپنده) پس نه دي غوښتي ماله تاسو هيڅ مزدوري (چي تاسوېي نه منئ بلكه دا ستاسو خپله بدمرغي ده ﴿إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ ﴾ ندى اجر زما (په تبليغ درسالت) مګرپر الله دى) اوماتاسو د کوم دنيوي غرض لپاره دين ته نه ياست رابللي بلكه يوازي د الله لپاره مي درته نصيحت کړى دى ﴿وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ او حكم شويدى ماته پدې چي اوسم زه له مسلمانانو(موحدينو) ﴿فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ ﴾ نونسبت د دروغو وکړ دوى نوح ته پس نجات ورکړ موږ دغه (نوح) اوهغه چاته چي له ده سره په بېړۍ کي وو ﴿وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ ﴾ او (ګرزولي موږ دوى خليفه ګان (دځمکي له اوسېدونکو او ډوب شوي کسانونه) ﴿وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ﴾ او غرق کړل موږ (په طوفان) هغه کسان چي زموږ دآيتونو تکذيب يې کړى وو ﴿فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴾ نو وګوره (اې محمده!) څرنګه شوه آخره خاتمه د وېرول شوو يعني دروغجن بلونکو درسولانو ؛له دې څخه مقصد درسول عليه السلام تسلا او دمکې دکفارولپاره تحذير دى چي دوى به هم هغسي هلاک شي ﴿ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ ﴾ بيا لېږلي وو موږ پس له نوح نور رسولان قوم دهغوته يعني هود، صالح، لوط ابراهيم اوشعيب عليهم السلام ﴿فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ ﴾ نو راوړى وو دغو (رسولانو) هغوى ته ښکاره دلائل، معجزې ﴿فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا بِهِ مِن قَبْلُ ﴾ نونه وو (تيار) دوى ودې ته) چي ايمان يې راوړى وي په هغو چي (انبياوو ورته راوړي وو) دوى يې تکذيب کړى وو پخوا (اودوى دپخوانيو له هلاک څخه هم ونه وېرېدل ﴿كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ الْمُعْتَدِينَ ﴾ دا سې مهر لګوو موږ په زړونو دتېرېدونکو هغه چي په کفر، تکذيب او عناد کي له حدڅخه اوښتي وي. ﴿ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِم مُّوسَىٰ وَهَارُونَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ ﴾ بيا ولېږل موږ وروسته له دغو (رسولانو) څخه موسى او هارون طرف دفرعون او سردارانو دقوم دده ته ﴿بِآيَاتِنَا ﴾ په (دلائلو او) ښکاره معجزاتو چي نه(٩) معجزې اوپه اعراف سورت کي يې يادونه وشوه ﴿فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴾ نو دوى تکبر وکړ او دوى مجرمان قوم وو (چي دسترو ګناهونو ارتکاب يې کاوو په ګناه روږدي وو ﴿فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا إِنَّ هَٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ نوکله چي راغى دوى ته حق له نزده زموږ نو وويل دوى بېشکه دا خامخا کوډي ښکاره دي) يعني کله چي دوى ته حق څرګند شو هغه چي موسى عليه السلام ورته ځلېدونکى لاس اولکړه معجزه وښوده نودوى دزيات طغيان اوعناد له کبله وويل دا موسى څرګندي کوډي په موږ کوي ﴿قَالَ مُوسَىٰ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَكُمْ أَسِحْرٌ هَٰذَا ﴾ وويل: موسى (دوى ته) آيا وايې تاسي دغه حق (رښتيني معجزې) ته کله چي راغله تاسي ته (چي دا معجزه نه بلکه سحر دى) آيا دا سحر دى؟ دلته استفهام دانکار او توبيخ لپاره دى او ورسره جوخت دوهم انکاري استفهام هم راغلى دى. ﴿وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُونَ ﴾ حال دا چي ساحران برى نه

﴿ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا ﴾ وويل: فرعونيانو (موسى ته) آيا راغلى يې ته موږ ته موږ ته لپاره ددې چې واړوې موږ له هغه کاره چې موندلي دي موږ پرې پلرونه خپل ﴿ وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ او چې شي تاسي دواړو ته غلبه په ځمکه د (مصر) کي يعني ستا او ستادورور هارون لپاره د مصر په ځمکه کي سلطنت او پاچهي په لاس درشي ﴿ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ ﴾ او نه يو موږ ستاسي دواړو (په نبوت) باور کونکي ﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ٱئْتُونِى بِكُلِّ سَـٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴾ او وويل فرعون راولئ تاسي ماته هر ساحر ښه پوه (ماهر چي دکوډو په فن کي رسېدلى وي) ﴿ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴾ نو کله چي ساحران راغلل وويل دوى ته موسى چي و غورځوئ هغه چي تاسو (يې) غورځونکي ياست) په کلام کي محذوف توري شته هغه دا چي دوى کوډګران راوستل او چي کله راغلل ... ﴿ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُ ﴾ نو کله چي ساحرانو وغورځول (پړي ، لکړي) نو وويل: موسى هغه څيز چي تاسو راوړى يوازي سحر دى (نه بل شى هغه څه دي چي تاسو ورباندي زه تورولم ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ ﴾ بېشکه چي الله ژر تباه کوي دغه (سحر چي خلګو ته به يې بطلان ښرګند شي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ بېشکه چي الله نه جوړوي کار د مفسدانو) څوک چي په ځمکه کي دفساد کولو هڅې کوى ﴿ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَـٰتِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ (او بيا ژر) رښتيا کوي حقه خبره (چي زما دين دى) په کلماتو (او حکمونو) خپلو سره او اګر که يې مجرمان بد ګڼي) يعني الله حق په دلائلو او براهينو ثابتوي او قوي کوي يې که څه هم کفار فجار يې نه خوښوي ﴿ فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِۦ ﴾ (نو ايمان نه وو راوړى (پخوا) په موسى مګر څو اولادو (ځلميانو) دده له قومه دده) يعني سره د دومره معجزاتو دمشاهدې بياهم چا په موسى عليه السلام ايمان نه وو راوړى او نه يې په دين کي داخل شوي وو مګر دبني اسرائيلو يوڅو زلموټو . مجاهد وايي : چي دا هغه کسان وو چي موسى عليه السلام ددوى پلرونو ته رااستول شوى او هغوى پخوا وفات شوي وو (چي وروسته يې زامن په ايمان مشرف شول) (١) ﴿ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِمْ أَن يَفْتِنَهُمْ ﴾ سره د وېرې له فرعونه او له مشرانو ددوى له دې نه چي دوى (تعذيب او) ونه ښويوي يعني له دينه يې وانه ړوي ﴿ وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ او بېشکه چي دغه فرعون خامخا جابر او متکبر وو په ځمکه کي ﴿ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴾ بېشکه چي دى خامخا له متجاوزينو څخه وو (چي د خدائي دعوه يې کړي وه) ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ يَـٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴾ او وويل: موسى (مؤمنانو او خپل قوم ته چي ددوى وېره يې له فرعون څخه احساس کړه) اې قومه زما ! که يې تاسي چي ايمان مو پر الله راوړى دى نو پر هغه (الله) توکل وکړئ (چي هغه ستاسي ژغورونکى دى له هر شر او ضرر نه) که يې تاسو مسلمانان (غاړه اېښودونکي دالله حکم او شريعت ته) ﴿ فَقَالُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا ﴾ نو وويل: دوى خاص پر الله

---

(١) امام جلال داغوره کړي چي کومو کسانو چي په موسى عليه السلام ايمان راوړى هغوى د فرعون له قوم څخه وو خو کوم چي موږ دلته راوړي دغه د طبري غوره او د جمهورو وينا ده څکه موږهم چاڼ کړه او وو موليکله.

موږ توکل کړی دی ﴿ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظَّـٰلِمِينَ ﴾ اې ربه زموږ مه ګرزوه سبب دفتنې (ضلالت) لپاره دقوم ظالمانو) يعني دوی پرموږ مه مسلط کوه چې موږ ته تعذيب راکوي اوبيا وايي که دوی په حقه وای نوبه مغلوب شوي نه وای ﴿ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَـٰفِرِينَ ﴾ اونجات راکړه موږ ته په (فضل ، رحمت اوانعام) خپل له (فرعون اومرستندويانو دده) کافرانو نه ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا ﴾ او وحی وکړه موږ موسی ته او ورور دده ته داسي چې جوړ (مقرر) کړئ تاسي دپاره دخپل قوم په مصرکي کوټې (دپاره دعبادت اولمانځه) ﴿ وَاجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً ﴾ او وګرزوئ کوټې خپلې مسجدونه (په وخت دويرې کې) ابن عباس رضی الله عنه وايي: چې دوی به وېرېدل نوورته هسې امر وشو چې پخپلو کورونو کې لمونځونه وکړي(۱) ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ ﴾ اوسم دروئ (اداکوئ سره له ټولو حقوقو) تاسي لمونځ ﴿ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوزيری ورکړه (اې موسی) مؤمنانو ته (په نصرت اوغلبه باندي) ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمْوَٰلًا فِى الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ﴾ اوويل موسی اې ربه زموږ بېشکه تاورکړی دی فرعون اوسردارانو دده ته زينت (دژوندانه هر راز ښکلا ، رونق سامانونه) او(ډېر) مالونه په دغه ژوندون ددنياکي ﴿ رَبَّنَا لِيُضِلُّوا عَن سَبِيلِكَ ﴾ (دپاره ددې چې دوی خلک ګمراه کړي ستاله لاري نه) لام دعاقبت لپاره دی يعني اې الله ! دوی ته دې دومره پرېمانه مالونه ورکړي چې په پای کي ددوی کار ستاله دين څخه دخلکو ګمراه کول دي ﴿ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰٓ أَمْوَٰلِهِمْ ﴾ اې ربه زموږ! محوه راوله په مالونو ددوی ﴿ وَاشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ اوسختي راوله په زړونو ددوی ﴿ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴾ (نو ايمان نه راوړي ترهغوچي ووينې دوی عذاب دردناک) دغه ددوی لپاره دهلاکت دعاده يعني اې الله ! زړونه يې داسي سخت کړه چې ترهغوايمان رانه وړي څوچې دردناک عذاب ووينې څکه دوی ته ايمان راوړل ګټه نه رسوي (په ملنډو ايمان راوړي) موسی عليه السلام دوی ته څکه ښېرا وکړه چې هغه پوهېدو دغه ګمراهان سخت دضلالت اوطغيان لېونيان دي اوپه زړونو کې يې دايمان لپاره ځای نشته دغه د وحی په سبب ده ته معلومه شوي وه چې دوی ايمان نه راوړي. ابن عباس رضی الله عنه وايي : چې موسی عليه السلام دعاکوله اوهارون عليه السلام آمين وايو څکه ددعانسبت دواړو ته شوی دی(۲) ﴿ قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا ﴾ وفرمايل (الله) په تحقيق قبوله کړه شوه دعاستاسي دواړو نوسم ولاړ اوسئ) يعني الله جل جلاله وفرمايل چې: ماستاسي دواړو ښېرادفرعون اودهغه دقوم دسردارانو په باب قبوله کړه نوتاسي خپل دبلني اودعوت په کار کې اودحجت دالزام په هکله ثابت قدم اوسئ ﴿ وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (اومتابعت مکوئ تاسي دلاري دهغو کسانو چې نه پوهېږي) يعني تاسو ددعا په ژرقبلېدو اويادالله دوعدې په ترسره

---

(۱) اوځينو مفسرينو ويلي چې معنايې داده: وګرزوئ کوټې مخامخ قبلې ته.
(۲) البحر ۵ / ۱۸۷

کېدلو مه وار خطاکېږئ. طبري وايې چي: ددغي ښېرا وروسته له څلوېښتو کالو بيا الله پاک فرعون غرق کړ(۱)

بلاغت:

۱- ﴿ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا ﴾ دلته تقديم ماحقه التأخير د حصر دافادې لپاره راغلی او معنايې داچي په الله مي توکل کړی نه په بل چاباندي.

۲- پدې کلماتو کي چي فرمايې: ﴿ وَيُحِقُّ ٱلْحَقَّ ﴾ داشتقاقي جناس صنعت دی.

۳- ﴿ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ﴾ دلته يې له التباس او سترڅخه په (غمة) تعبيرفرمايلی چي استعاره يې کړي يعني ستاسي حال دي هسي نامعلوم او نغښتی نه وي لکه (عمياء غمة) يعني يو مخ ايزه پټ.

۴- کله چي فرمايې: ﴿ وَٱشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ دلته له سخت عذاب او دوه چنده عقاب څخه استعاره ده.

تنبيه:

ابن کثير وايې چي: دموسی عليه السلام ښېرا فرعون ته ددیني حميت او غيرت له مخي او دالله څخه ددوی دزښتي زياتي نافرماني په وجه وه لکه چي نوح عليه السلام خپل قوم ته ښېرې کړي او وويلي يې دي ﴿ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ ﴾ [نوح: ۲۶ ۲۷] او له دې جهته الله جل جلاله دموسی عليه السلام دعاچي هارون عليه السلام هم ورسره ملګرتيا کوله لکه دنوح عليه السلام ښېرا ومنله او قبوله يې کړه.

* * *

الله تعالی فرمايې:

﴿ ۞ وَجَٰوَزْنَا بِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُۥ بَغْيًا وَعَدْوًا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدْرَكَهُ ٱلْغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِىٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓا۟ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٩٠﴾ ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٩١﴾ فَٱلْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ ءَايَةً ۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنْ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخْتَلَفُوا۟ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾ فَإِن كُنتَ فِى شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٩٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ

(۱) الطبري ۱۱/ ۱۶۱

ٱلْأَلِيمَ ﴿٩٧﴾ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ
ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَءَامَنَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا۟
مُؤْمِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٠﴾ قُلِ
ٱنظُرُوا۟ مَاذَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى ٱلْءَايَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠١﴾ فَهَلْ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ
ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِهِمْ ۚ قُلْ فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ نُنَجِّى رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ
حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى شَكٍّ مِّن دِينِى فَلَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنْ
أَعْبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ
ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾ وَإِن يَمْسَسْكَ
ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهِۦ ۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا
يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾ وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَٱصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾

يونس: ۹۰ ـ ۱۰۹

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی د موسی علیه السلام د ښېرا چې د فرعون طاغي په هکله یې کړې وه یادونه وکړه د لته یې هغه څه راوړل کوم چې فرعون او لښکرو ته یې د خپل بغاوت او عدوان له مخې په دریاب کې غرقېدل او ډوبېدل ورپېښ شوي وو او د هغه ایمان راوړل په وروستیو شېبو کې څرګند ورته ګټه نه وه رسولې چې د غه د اضطرار ایمان وو وروسته یې پسې د یونس علیه السلام کیسه راوړه او دا چې الله پاک د هغه د قوم توبه ومنله ,سورت یې د توحید د حقیقت په بیان باندې پای ته ورساوو او دا یې په ډاګه کړه چې انسان یوازې په ایمان راوړلو نجات موندلای شي.

لغتونه:

(بوأنا) موږ سکونت ورکړی (ممترین) شک کونکي (لولا) د هلا په معنی او د هخونې د پاره د (تحضیض) په معناده (الرجس) عذاب او قهر (حنیفا) له ټولو باطلو ادیانو څخه مائل‌یمنسک) وبه رسېږي تاته(کاشف) لیرې کونکی ویل کېږي (کاشف السوء) یعني د بدي دفع کونکی (وکیل) ساتونکی ،چاره ساز.

تفسیر:

﴿ وَجَٰوَزْنَا بِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ ﴾ او تېر کړل موږ بني اسرائل له بحره (د قلزم روغ رمټ چې د سویس بحر یې بولي) ﴿ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُۥ بَغْيًا وَعَدْوًا ۖ ﴾ نو چې پسې ورسېدو په دوی پسې فرعون او لښکر د ده د پاره د ظلم او جفا (چې په دوی باندې یې ناحقه استعلاء کوله) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدْرَكَهُ ٱلْغَرَقُ ﴾ تر هغه کله چې

ورسېده دغه (فرعون) ته ډوبېدا (چي هلاکت يې يقين شو) ﴿ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِىٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓا۟ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ نووې ويل (پدې شبهه کي) چي ايمان راوړ ماپدې چي بېشکه نشته هيڅ برحق معبود مګريوازي هغه ذات دى چي ايمان راوړي دى پرهغه بني اسرائيلو ﴿ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ اوزه له مسلمانانويم دغه يې دايمان ددعوى تاکيددى يعني زه له هغه چاڅخه يم څوک چي دالله حکم ته غاړه اېښودونکي مخلصان وي. ابن عباس رضى الله عنه وايې چي: حضرت جبريل عليه السلام دفرعون په خوله کي زرني (توري ختي) ور واچولې چي دالله رحمت ونه مومي (۱) ﴿ ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ (الله دپرښتې په ژبه دهغه دايمان دردولو په باب وفرمايل) آيااوس (دې ايمان راووړ) حال داچي په تحقيق تانافرماني کوله پخوا (له دې نه درسول زما) اوته وې له مفسدانو څخه) يعني اوس چي له ژونده ناهيلى شوې ايمان راوړې اودعذاب ترنزول له مخه دي عصيان کاوو اوپه ضلالت اواضلال کي دي خلک دالله له لاري راګرزول ﴿ فَٱلْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ ءَايَةً ﴾ نن ورځ به خلاصى درکړوپه بدن ستاسره (چي له بحره به دې بې سامړى راوباسو) دپاره ددې چي ته شې لپاره دهغه چاچي وروسته له تاراځي (لوى) پند (دليل (عبرت) اوبياڅوک ستاپه شان جبروت اوفرعونيت غوره نکړي. ابن عباس رضى الله عنهما وايې چي: ځيني بني اسرائيل پدې کي شکمن وو چي فرعون به مړ وي اوکه نه؟ نوالله جل جلاله بحرته امر وکړچي مړى يې ورته راوغورځوي ترڅودوى يې له مړيني اوهلاکت څخه بېغمه شي (۱) ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنْ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴾ اوبېشکه چي ډېرله خلګو له آياتونو (دقدرت دلائلو زموږ څخه خامخاغافلان دي دي يعني نه ځني پند اخلي اونه هم پکي سوچ کوي ﴿ وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ ﴾ اوخامخاځاى ورکړموږ بني اسرائيلوته (وروسته ددوى ددښمنانو دډوبېدلو اوهلاک) ځاى درښتيني (لائق اوخوښ) ﴿ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾ اوغوره رزق روزي مو ورکړه دوى ته له پاکېزه څيزونو، لذيذو ګټورو څخه ﴿ فَمَا ٱخْتَلَفُوا۟ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ ۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ نواختلاف ونکړ دوى (په دين کي) ترهغه پوري چي راغى دوى ته علم (پراحکامو دتورات چي دالله حکم پکې وو) بېشکه رب ستابه فيصله وکړي په مينځ ددوى کي په ورځ دقيامت په هغه څېزکي چي دوى به پکي اختلاف کاوو) دغه ددوى ذم دى چي ددوى اختلاف ددين په سبب وو خودين متحد کونکي وي مختلف کونکى نه وي، دين راغوندونکى وي، تيت کونکى نه وي. طبري وايې: درسول الله صلى الله عليه وسلم تربعثت له مخي دوى دهغه په نبوت ټول يوه خوله وو اقرار يې کاووخوکله چي رسول الله راغى ځيني دوى ورباندي کافران شول اوځيني کسانو يې ورباندي ايمان راووړ نودغه ددوى اختلاف وو (۲) ﴿ فَإِن كُنتَ فِى شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ﴾ نوکه ته په شک کي يې (بالفرض والتقدير) له هغه (قرآنه) چي موږ تاته نازل کړى وو (نوپوښتنه وکړه) ابن عباس رضى الله عنهماوايې: نه پيغمبرعليه السلام شک کړى وو اونه يې پوښتنه کړي. زمخشري وايې: چي دغه وينافرضًا دى يعني که بالفرض والتمثيل تاته شک پيداشي اوياشيطان وسوسه درواړاندي کړي نوته دکتابيانو له علماوو څخه وپوښته

(۱) الطبري ۱۱ / ۱۲۳ مراد داالله درحمت له موندلو نه له غرقېدلو څخه نجات دى لکه چي هغه غوښتل. دغه ابوالسعود وايې.
(۲) المختصر ۲ / ۲۰۲
(۳) الطبري ۱۱ / ۱۲۲

اوددې دوو ويناګانو چې يوه يې ده: ﴿ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴾ (هود ١١٠) اوبله داچې فرمايي: ﴿ فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ ﴾ دلومړي كلام معنا د شک اثبات سره له تاكيداوتحقيق دی خوپه دوهم کې بيادفرض اوتقديرپه توګه (١) اوخپنوبياويلي: چې خطاب پيغمبرعليه السلام ته او مراد خني نور (امت) دی ﴿ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكَ ﴾ (نوپوښتنه وكړه له هغوكسانو چې لولي دوی كتاب) يعني له كتابيانو هغه كسان چې په تورات اوانجيل پوهېږي څكه داهغوی ته ثابت دي لكه چې تاته موقصه وكړه اومقصد له قرآني قصو څخه دشک رفع كول دي ﴿ لَقَدْ جَآءَكَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ﴾ خامخاراغلى دى تاته حق له (طرفه د) رب ستا) يعني هغه حق بيان اوخبرصادق تاته راغلى چې هيڅ شک اوشبه پكي نشته ﴿ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴾ نومه كېږه ته (امت ستا) له شک راوړونكيو څخه ﴿ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ ﴾ اومه كېږه ته (امت ستا) له هغوكسانو چې دالله دآيتونو تكذيب كوي ﴿ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴾ نوشې به ته (امت ستا) له زيانكارانو څخه ددنيا اوآخرت. بيضاوي وايي: چې دغه دتهيج اوهڅوني په توګه دثابت قدمي او دمشركانو داميدونو دقطع كولو لپاره دی(٢) قرطبي وايي: چې خطاب پردې دواړو آيتونو كي عليه السلام ته اومراد څني نوركسان دي(٣) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ ءَايَةٍ ﴾ بېشكه هغه كسان چې حقه ثابت شوي پردوی كلمه (دعذاب) درب ستا(په ازلي اراده دالله) نوايمان نه راوړي دوی اګركه راشي دوی ته دلائل (روښانه) دوحدانيت ﴿ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴾ ترهغه پورې چې ووينې دوی عذاب دردناک (لكه چې فرعون ايمان راووړ خوهغه وخت به بياګټه ورته نه رسوي ﴿ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَـٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ ﴾ نوولې نه وه اهل ديوې (نافرمانه) قريې (چې موږ هلاكه كړي) چې ايمان يې راوړی وي پس نفع ورته رسولي وای ايمان (داهل) ددې (قريې) مګرقوم ديونس ﴿ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ كله چې ايمان راووړ هغو نوپورته كړ موږ له دوی نه عذاب دذلت پدې ژوندون ددنياكي ﴿ وَمَتَّعْنَـٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴾ او وروسته موكړل تروخت دمرګ پورې قتاده وايي چې: روايت كېږي حضرت يونس عليه السلام دوی له عذابه ووېرول اوهغه يې له مينځه ووت كله چې دوی خپل پيغمبر ونه موندااودا ورته څرګنده شوه چې عذاب نژدې ورته رارسېدلی نوالله پاک ددوی په زړونو كي توبه ور واچوله. اوكله چې الله پاک ته ددوی دزړونو اخلاص او رښتنولي معلومه شوه چې دوی دزړه له كومي په تېروګناهونو پښېمانه اوتوبه ګار دي نويې عذاب څيني ليرې كړ(٤) ﴿ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَـَٔامَنَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ﴾ اوكه اراده فرمايلې وي رب ستا

---

(١) الكشاف ٢/ ٣٧٠
(٢) البيضاوي: ٢٤٥
(٣) القرطبي ٨/ ٣٨٣
(٤) الطبري ١١/ ١٧١

دايمان دټولو خلګو) خامخا ايمان به راوړی وو هغو کسانو چي په ځمکه کي دي ټولو په اجماع سره) خو دغسي الله پاک ندي غوښتي چي دغه له حکمت سره مخالف دی بلکه الله جل جلاله له خپلو بندګانو څخه داختياري ايمان غوښتنه کوي دزور او اضطراري ايمان پکار نه دی ﴿ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ ﴾ (آيا نو ته مجبوروې خلګ چي مؤمنان شي) يعني اې محمده ! (صلی الله عليه وسلم) آيا ته خلګ په زور ايمان ته راولې اوپه اضطراري توګه يې پخپل دين کي ګډوې داستا کار نه دی په آيت شريف کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره تسلاو ډاډينه ده او دده دزړه دلاساينه چي هغه حرص درلود څو خلګ ايمان راوړي . ابن عباس رضی الله عنهما وايي نبي عليه السلام پدې کي حريص وو چي ټول خلګ ايمان راوړي نو الله خبر ورکړ چي يوازي هغه کسان به ايمان راوړي څوک چي ړومبی يې نيکمرغي په برخه شوي وي او هغه کسان بيا ګمراهان دي چا ته چي په اول کي لابدمرغي ليکل شوي وه[1] ﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ او ندی (ممکن) لپاره دهيڅ نفس داچي ايمان راوړي مګر (ممکن) دی په اراده دالله (او توفيق يې) ﴿ وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ (او اچوي پليتي په هغو کسانو چي عقل نه چلوي) يعني عذاب غورځوي په هغه چاچي دالله په آيتونو کي سوچ او فکر نه کوي خپل عقلونه په ګټور ولاړو چارو کي نه ګماري ﴿ قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ووايه (اې محمده ! دې مشرکانو ته) چي وګوري (څه عجيبه دالله دوحدانيت او بشپړ قدرت) دلائل دي په آسمانونو او ځمکي کي ؟ ﴿ وَمَا تُغْنِى ٱلْءَايَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴾ او نه دفع کوي (عذاب) دلائل (دوحدانيت) او وېرونکي له هغه قوم څخه چي ايمان راوړونکي نه دي او دالله پخوا لابدمرغي ورته ليکلي ده) ﴿ فَهَلْ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ نو آيا انتظار کوي دا (مشرکان دمکې) بلکه انتظار نه کوي هيڅ څېز ته) مګر (انتظار کوي) په شان دهغو بدو ورځو د هغو کسانو چي پخوا تېر شوي (او دالله ورباندي عذاب او نکال نازل کړی وو ﴿ قُلْ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴾ ووايه (اې محمده ! دوی ته) نو انتظار کوئ بېشکه زه هم له تاسي سره له انتظار کونکو څخه يم) يعني تاسو دخپلي سرغړوني او تکذيب دانجام او بدي خاتمې انتظار کوئ زه هم ستاسو دهلاکت او بربادي لپاره سترګي په لاره يم ﴿ ثُمَّ نُنَجِّى رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ۚ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ بيا نجات ورکړ موږ رسولانو زموږ ته او هغو کسانو ته چي ايمان يې راوړی وو همداسي (لکه دغه نجات دهغو) ثابته ده پرموږ چي خلاصوو نور مؤمنان (هم) ربيع ابن انس وايي : چي يوځل الله هغوی له عذابه ووېرول او بيايې دغه خبر ورکړ که دغه عذاب راشي نو الله خپل پيغمبران او دهغوی سره مؤمنان ژغوري[2] ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى شَكٍّ مِّن دِينِى ﴾ ووايه (اې محمده !) که يې تاسي په شک کي له دينه زما (اې مشرکانو چي دا به حق او ربښتياوي که نه؟) ﴿ فَلَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ نو عبادت نه کوم زه (دهغو بتانو چي نه ګټه لري او نه ضرر دفع کوي)دهغوی چي تاسو يې پرته له الله عبادت کوئ ﴿ وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُمْ ﴾ او ليکن زه عبادت دهغه الله کوم چي تاسي وفات کوي (ستاسي مرګ او ژوند

[1] القرطبي ۸/ ۳۸۵
[2] الطبري ۱۱/ ۱۷۲

دهغه په قدرت کي دی ، طبري وايي چي : دغه په کلام کي يو لطيف لحن او تعريض دی گواکي چي داسي وايي : تاسو ته نه ښايي چي زما په دين کي شکمن شئ تاسو ته دا بايده دي چي د بتانو په عبادت کولو کي شک ولرئ هغه بتان چي نه خو فائده او گټه رسوي او نه ضرر دفع کولای شي او هغه زما پروردگار خو هغه ذات دی چي د خلگو ارواحان کاږي ، گټه رسوي او زيان دفع کوي(۱) ﴿ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ او ماته داسي حکم شوی چي له مؤمنانو (موحدانو) څخه يم (له الله سره به شريک نه نيسم) ﴿ وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ﴾ او (داسي حکم راباندي شوی) چي ودروه مخ (ذات) خپل دين ته (هغه چي ملت ابراهيمي) او مائل دی له باطلو اديانو حق ته ﴿ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾ او مه کېږه له سره له مشرکانو څخه (هغوی چي د الله سره په عبادت کي شريک نيسي) ﴿ وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ﴾ او مه بوله (په عبادت سره) پرته له الله هغه چي گټه نه رسوي تا ته او نه ضرر رسولای شي تا ته (لکه باطل خدايان او بتان) ﴿ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظَّالِمِينَ ﴾ (نو که (بالفرض) دي وکړ عبادت دغير الله نو بېشکه ته هم په دغه وخت کي له ظالمانو څخه يې) له هغو کسانو چي خانونه يې د الله عذاب ته چمتو کړي او پخپلو خانونو يې ظلم کړی دی دلته خطاب رسول الله ته او مراد ورڅخه نور کسان دي لکه چي پخوا تېر شو ﴿ وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ ﴾ او که ورسوي الله تا ته کوم ضرر نو نشته ليري کونکی (دفع کونکی د هغه (هيڅوک) مگر هم دی دی (يوازي) ﴿ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ ﴾ او که اراده وکړي تا ته د خير(لکه نعمت او بدايي) نو نشته هيڅ منع کونکی د فضل د ده ﴿ يُصِيبُ بِهِ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ﴾ رسوي (الله) دا خير هر هغه چا ته چي اراده وفرمايي له بندگانو خپلو نه ﴿ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴾ او هم دی ښه مغفرت کونکی (د گناهونو) د ېر رحم والا دی په سمو بندگانو ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ﴾ (ووايه اې محمده !) اې خلگو ! په تحقيق تاسي ته حق راغلی دی له جانبه درب ستاسو) يعني تاسو ته قرآن کريم چي په محاسن الاحکام مشتمل دی راغلی ﴿ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ ﴾ نو هر چا چي سمه لاره وموندله نو بېشکه همدا خبره ده چي لاره مومي د پاره (د نفع) د ځان خپل (ځانگړي) ﴿ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ﴾ (او هر څوک چي گمراه شو نو بېشکه همدا خبره ده چي گمراه کېږي پر ځان خپل) يعني هر څوک چي په کفر گمراه کېږي نو د دغه کفر وبال همده ته راجع دی ﴿ وَمَا أَنَا عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴾ او نه يم زه پر تاسي باندي وکيل (ساتونکی د اعمالو ستاسي بلکه زه بشير او نذير يم) ﴿ وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ ﴾ (او متابعت وکړه اې محمده !) د هغه څيز چي وحی کولی شي تا ته او صبر کوه تر هغو پوري چي حکم وفرمايي الله) يعني اې پيغمبره ته دژوند په ټولو امورو کي د وحی متابعت کوه او په هغه څه چي د دعوت او بلني په لار کي درته کوم تکاليف او زيانونه رسېږي صبر او زغم کوه ترڅو چي ستا او د دوی

(۱) الطبري نفس المرجع

ترمينځ الله حکم وفرمايي ﴿ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴾ او همدغه (الله) بهتراوغوره دټولو حکم کونکودی ، په آيت شريف کي درسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره ډاډينه اودمشرکانولپاره وعيد پروت دی.

بلاغت:

۱ - ﴿ ءَآلْئَٰنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ ﴾ پدې آيت شريف کي استفهام دتوبيخ اوانکارلپاره دی.

۲ - ددې کلماتو ترمينځ چي فرمايي: ﴿ بَوَّأْنَا مُبَوَّأَ ﴾ اشتقاقي جناس دی.

۳ - ﴿ كَلِمَتُ رَبِّكَ ﴾ دغه کلمه له حکم اوفيصلې څخه کنايه ده کومه چي په ازل کي ترسره شوي اوددوی بدمرغي يې ليکلي وي.

۴ - پدې کلام کي چي: ﴿ ثُمَّ نُنَجِّى رُسُلَنَا ﴾ دمضارع صيغه يې له ماضي څخه دحکايت په ډول راوړي ترڅودغه حالت هول اوهيبت وښيي او استحضار يې وکړي.

۵ - پدې کلام کي چي راوړي: ﴿ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ﴾ ددې کلماتو ترمينځ دطباق صنعت نغښتی دی ،

۶ - ﴿ وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ .....وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ ﴾ ددواړو جملوترمينځ لطيفه مقابله اودغه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي.

۷ - ددې کلماتو مبارکاتو ترمينځ چي فرمايي: ﴿ فَمَنِ اهْتَدَىٰ ...وَمَن ضَلَّ ﴾ دطباق صنعت شته.

۸ - ﴿ يَحْكُمَ اللَّهُ...الْحَاكِمِينَ ﴾پدې کلماتوکي اشتقاقي جنا س راغلی دی.

فائده:

امام فخر رازي وايي چي فرعون درې ځلي ايمان راوړی لومړی پدې کلمه چي: ﴿ ءَامَنتُ ﴾ دوهم داچي: ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِىٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓا۟ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ [يونس:۹۰] اوپه دريم ځل داچي: ﴿ وَأَنَا۠ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ نوولي دده ايمان ونه منل شو ؟ ځواب داچي ده دعذاب دنزول په وخت کښې ايمان راووړ اوپدې وخت کي ايمان نشي منل کېدای ځکه دغه دمجبوري حالت اوپدې کي ايمان اوتوبه نه قبليږي الله جل جلاله فرمايي: ﴿ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا۟ بَأْسَنَا ﴾ [غافر:۸۵]

تنبيه: مفسرين کرام وايي: کله چي الله دفرعون جوسه (تن) له غرقېدلو وروسته وژغوره ددې لپاره وو چي تبرې هغه په خدايي اوالوهيت منلی اوو اوداسي يې انګېرل چي هغه به هډو نه مرکيږي نو الله ﷻ وغوښتل چي فرعون پداسي سپکتيا او خواري دوی ته ور ووينې ترڅويې له مړيني څخه مطمئن شي هغه چي پرون په جلال او عظمت دکبريا اوغرور په نيلي سپور وو خواوس هسي نيمه خواسپکه سپانده شو نوبه دخلګولپاره پند اودسرکښانو طاغوتيانو لپاره به زجر اودعبرت سبق وي.

ديونس سورت تفسير دالله جل جلاله په مرسته اوښه توفيق بشپړشو والحمد لله رب العالمين.

د(هود)سورت مكي او يوسل او دېرش آيتونه لري.

دهود سورت داسلامي عقيدې بنسټ ته پاملرنه كوي توحيد ، رسالت ، بعث اوجزا څېړي اودانبياوو عليهم السلام كيسې په تفصيل سره رااخلي ترڅو دنبي محمد عليه السلام لپاره كله چي له مشركانو څخه يې ډېر ربړونه اوتكاليف ليدلى ډاډينه اوتسليت شي اوپه ځانګړي توګه دهغومشكلاتو اواذيتونو چي خورا درانه اودرسول الله دتره ابوطالب اومېرمني (خديجې رضى الله عنها) له مړيني وروسته ورته پېښ شوي وو اودزغم ورنه وو نوددې سورت آيتونه ورته نازلېدل اوهغه دنبيانو كيسې او ازمويښتونه يې يوپه بل پسې ورته اوږول ترڅو په هغوى پسې په صبر اواستقامت اقتداء وكړي.

دسورت په پيل كي دهغه قرآن كريم تمجيد راغلى كوم چي آيات يې محكم دي خلل اوتناقض ورته لاره نلري ځكه هغه دحكيم عليم ذات له لوري رانازلېږي هغه چي دبندګانو دمصلحتونو هيڅ هم څيني الونيا اوپټ نه دي ، بيا وروسته داسلامي دعوت عناصرو ته دعقلي دلائلو له لاري كتنه كېږي اوددوو ډلو ترمينځ دپرتله كېدلو سترفرق په ګوته كوي چي دمؤمن اوكافرترمينځ دومره زيات توپيرشته لكه چي دلمر اوتاريكيو ترمينځ وي فرمايي: ﴿ مَثَلُ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ كَٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡأَصَمِّ وَٱلۡبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِۚ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ بيا سورت درسولانواو استاذو كيسې راوړي په پيل كي دحضرت نوح عليه السلام كيسه كوي ځكه هغه دبشريت دوهم پلار دى ځكه له طوفان څخه له نوح اودهغه له ملګرو پرته بل څوك ژوندى ندى پاتي شوى اوهغه ترټولو انبياوو داوږده ژوند خاوند اوترټولو يې ډېر ازمويښتونه ليدلي اووربانديې صبر يې كړى دى. وروسته دحضرت هودعليه السلام كيسه رااخلي هغه څوك چي دغه سورت يې په نامه نومول شوى دى ترڅو دده دتلپاتي زيارونو چي الله ته دبلني په لاره كي يې ګاللي تلپاتي يادګاروي هغه الله جل جلاله دعاديانو قوم ته استولى. وڅوك چي ډېر سركښه اومتجبرين وو پخپلو متو ، په بدنونو اوزور باندي نازېدل اوويل يې: ﴿ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ﴾ ؟څوك ترموږ زيات زورور دى ؟ نوالله په تنداوګرندي باد هغوى هلاک كړل آيتونه په ډېرتفصيل دهغوى كيسه راوړي ترڅوچي دكبرجنو زورورو سركښانو لپاره عبرت شي فرمايي: ﴿ وَتِلۡكَ عَادٞۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَعَصَوۡاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ﴾ آن ترديچي: ﴿ أَلَآ إِنَّ عَادٗا كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّعَادٖ قَوۡمِ هُودٖ ﴾ وروسته بيا دحضرت صالح عليه السلام كيسه لولي ورپسې دحضرت شعيب عليه السلام اوبيادموسى اوهارون عليهما السلام سمدلاسه ورپسې دالله له خوا دهلاكت اوله مينځه وړلو هغه څه راوړي چي په ظالمانو يې لورولي دي فرمايي: ﴿ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَۖ مِنۡهَا قَآئِمٞ وَحَصِيدٞ ﴾ ترديپوري چي: ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَخۡذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلۡقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ إِنَّ أَخۡذَهُۥٓ أَلِيمٞ شَدِيدٌ ﴾ په پاى كي سورت دانبياوو اورسولانو دكيسو له راوړلو دحكمت بيان كوي ددې لپاره چي دپخوانيو زمانو ددروغجنو په سرنوشت آوبرخه ليک نور خلک پند واخلي اودرسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره دغه سختي اوكړاوونه يادول يوډول دلاساينه شي ﴿ وَكُلّٗا نَّقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَقُّ وَمَوۡعِظَةٞ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ آن ترديچي هسي يې وفرمايل: ﴿ فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴾ همداسي سورت په توحيد باندي پاى ته رسېږي لكه څرنګه چي پيل شوى وو نوبه يې پيل اوپاى په ښه جوړښت اوتنسيق وپېيل شي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿١﴾ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ
﴿٢﴾ وَأَنِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤۡتِ كُلَّ ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ
أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ كَبِيرٍ ﴿٣﴾ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤﴾ أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ
أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٥﴾ ۞ وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ
إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ﴿٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي
سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ
بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٧﴾ وَلَئِنۡ أَخَّرۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٖ مَّعۡدُودَةٖ
لَّيَقُولُنَّ مَا يَحۡبِسُهُۥٓۗ أَلَا يَوۡمَ يَأۡتِيهِمۡ لَيۡسَ مَصۡرُوفًا عَنۡهُمۡ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٨﴾ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا
ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ﴿٩﴾ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ
لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ﴿١٠﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ
كَبِيرٞ ﴿١١﴾ فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ
مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ
مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ
وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٤﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ
فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ
﴿١٦﴾ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتۡلُوهُ شَاهِدٞ مِّنۡهُ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةًۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ
بِهِۦۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ مِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ فَٱلنَّارُ مَوۡعِدُهُۥۚ فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّنۡهُۚ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يُؤۡمِنُونَ ﴿١٧﴾ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمۡ وَيَقُولُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ
ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٨﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم
بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿١٩﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَۘ يُضَٰعَفُ
لَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ ٱلسَّمۡعَ وَمَا كَانُواْ يُبۡصِرُونَ ﴿٢٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا
كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢١﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ﴿٢٢﴾

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخْبَتُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّهِمْ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٣﴾
مَثَلُ ٱلْفَرِيقَيْنِ كَٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْأَصَمِّ وَٱلْبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِ ۚ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾﴾ هود: ۱ - ۲۴

لغتونه

(احكمت) ټينګ شوي دی ،احكام له ورانېدلو څخه خوندي ساتلو او ټينګولو ته وايي. ويل کېږي (أحكم الأمر) كله چي يې داسي ټينګ او محكم كړي چي خلل او فساد ورته لاره نلري (مستقرها) هغه ځای دا ستقرار او هستوګني دهغې په دنياكي (مستودعها) هغه ځای چي وروسته له مړيني يې هستوګنځی وي (أمة معدودة) امت دلته ديوې ټاكلي زمانې په معنا دی. قرطبي وايي چي: امت يو مشترک لفظ دی او په اتو(۸) معناګانو راځي تولی، ملت، دخير ښېګني خاوند، وخت زمانه، دانبياوو پيروي([1]) (مرية) شک شبه (ضل) ورک او متلاشي ته وايي (لاجرم) يوه كلمه او د(حقا) په معناده چي خليل او سيبويه هم دغسي وايي (أخبتوا) عاجزان شول (إخبات) ذل او انكسار ته وايي (الأصم) هغه كوڼ چي نه اوري.

دنزول سبب يې:

قرطبي له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت كوي چي هغه ويلي: (أخنس بن شريق) دخوږې ژبي او پستو خبرو خاوند وو كله چي به له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مخامخ شو دهغه له زړه سره سمي خبری به يې ورته كولې او په زړه كي به يې ددې اپوته (برعكس) نور څه وو نو الله دا آيت نازل كړ: ﴿أَلَآ إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا۟ مِنْهُ﴾ دآيت ترپايه.

تفسير:

﴿الٓر﴾ دغه مقطعات توري او دې ته اشاره ده چي قرآنكريم معجز اوله داډول تورو څخه جوړ دی. ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: معنا يې دا چي (أنا الله أری) زه الله يم هرڅه وينم ﴿كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ﴾ كتاب دی چي محكم كړی شوي دي آيتونه دده (چي هيڅ تناقض او خلل ورته لاره نلري) بيا په تفصيل سره بيان شوي (چي حلال، حرام او دبندګانو دمعاش او معاد دامورو په هكله خبري دي) له نزده دلوی حكمت والا ښه خبردار څخه (هغه چا يې تفصيل او بيان فرمايلی ځوک چي د امورو په څرنګوالي ښه پوه او خبردار دی) څكه نو ښه محكم او ښه څرګند دی) ﴿أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ﴾ چي عبادت مكوئ دهيچا مګر دالله ﴿إِنَّنِى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ﴾ چي بېشكه زه تاسي ته (له طرفه دالله) وېرونكی يم (دعذاب دده كه كافران شوی) او زېری دركونكی يم (په ثواب سره كه مو ايمان راووړ) ﴿وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ﴾ او چي مغفرت وغواړي له ربه خپله (د تيرو ګناهونو) بيا توبه وكړئ الله ته (او په طاعت، انابت باندي مستقيم او سئ) ﴿يُمَتِّعْكُم

([1]) لكه دالله تعالی دا قول چي: (وجد عليه أمة من الناس يسقون) يعني تولی. (وادكر بعد امة) يعني ورپه ياد شوي وو وروسته له څه مودې او دا چي فرمايي: (انا وجدنا آباءنا علی أمة) يعني موږ خپل پلرونه په يو دين او ملت موندلي.

﴿ مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ﴾ چي فائده درسوي تاسي ته په غوره نفع سره (چي پراخ رزق اوهوسابې سوکالي ده) ترهغي نېټې تاكلي پوري (چي ستاسو دژوند وروستی شيبې او اجل دی) ﴿ وَيُؤۡتِ كُلَّ ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ ﴾ او وربه کړي (الله) هرخاوند دفضل ته (چي نيک عمل کوي) فضل دهغه (جزادعمل دهغه) ﴿ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ كَبِيرٍ ﴾ او که وګرزيدی تاسو (ای کفارو) نوبېشکه زه وېرېږم پرتاسي له عذابه دلويي ورځي نه ؛چي دقيامت ورځ ده او په لوی والي يې څکه وستايله چي سخت عذابونه اومشکلات پکې دي ﴿ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ ﴾ خاص الله ته بيرته ورتله ستاسي دي (وروسته له مرګ نه) ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴾ (اوالله په هرڅيزباندي قادردی) يعني ستاسو په مړه کولو او بيرته راژوندي کولو اودهغوکسانو چي دغه به يې دروغ ګڼل په عذاب ورکولو ښه قادردی په آيت شريف کي سترتهديد نغښتی دی ﴿ أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ ﴾ خبردارشئ بېشکه دوی (کفار) تاووي سينې خپلي لپاره ددې چي پټ کړي له الله نه (عداوت درسول الله اومؤمنانوڅوچي الله دوی رسوانکړي) ابن عباس رضی الله عنهما وايي: چي دغه آيت دأخنس بن شريق په باب رانازل شوی دی هغه چي له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره به کښېناست اوقسمونه به يې خوړل چي له رسول الله سره محبت لري خوکينه به يې په زړه کي پټوله[1] قرطبي وايي: چي الله پاک دلته دهغوی (مشرکانو) دعداوت اخبارراوړي هغه چي له رسول الله او مؤمنانوسره يې درلود اوداسي يې انګېرل چي ګواکي الله ددوی په احوالوندی خبر[2] ﴿ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ ﴾ واورئ خبردارشئ په هغه وخت کي چي واغوندي دوی جامې جامې خپلي (ځانونه پکي پټ کړي) ﴿ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ ﴾ عالم دی (الله) په هغه څيزچي پټوي يې دوی اوهغه څيز چي دوی يې ښکاروي ، لکه چي آيت هسي فرمايي چي: تاسو داسی ګومان مه کوئ چي ستاسوپټول له الله څخه هم پټېږي بلکه الله پاک ستاسوپه پټو اوښکاره حالاتوخبردار دی ﴿ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ الله ښه خبردار دی په پټو خبرو د سينو (دزړه په رازونو) ﴿ وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا ﴾ اونشته هيڅ ثلونکی (خوځېدونکی ذي روح انسان ياحيوان) مګرچي ده پرالله روزي دهغه (تفضلا او اکراما لکه څرنګه چي الله خالق دی همداسي رازق هم دی ﴿ وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ ﴾ (اوعالم دی (الله) په ځای داوسېدلو دهغه اوځای دسپارېدلو دهغه) ابن عباس رضی الله عنه وايي: مستقر هغه دځمکي په سرهستوګنځي اومستودع هغه ځای ته چي هلته مړکېږي اوخښېږي وايي[3] ﴿ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ﴾ ټول دغه (مذکوره شيان) په واضح کتاب کي دي) يعني ټول ارزاق ، فيصلې ، عمرونه په لوح محفوظ کي کښل شوي دي ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ﴾ (اودغه (الله) هغه ذات دی چي پيداکړي يې دي آسمانونه

---

(١) البحر ٥ / ٢٠٢
(٢) القرطبي ٩ / ٥
(٣) البحر ٥ / ٢٠٤

او ځمکه (په مقدارد) شپږو ورځو کي) ددنیا له ورځو اوپه دې کي بندګانو ته هڅونه ده چي په آرام اوکرار سره کارونه ترسره کړي بېشکه الله پاک خوپه دې قادر دی چي دسترګوپه رپ کي ټول کائنات پیدا کړي خوبیا یې هم دشپږو ورځوپه اندازه موده کي پیدا کړي دي ﴿ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ ﴾ حال دا چي وو عرش دده په اوبو (مخکي له پیدا ینبت دځمکي اوآسمانونو) زمخشري وايي معنا دا چي ترعرش دلاندي کوم مخلوق نه وو اوپدې کي دادلیل هم دی چي عرش او اوبه ترآسمانونو اوځمکي له مخه پیدا اوو(۱) ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ (لپاره ددې چي وازمویي تاسي چي کوم یو له تاسي نه ډېر ښه دی له جهته دعمل) یعني الله پاک دا ټول څه دیوستر حکمت له مخي پیدا کړي دي ترڅوتاسي وازمویې اوګنهګار له محسن اونېکوکار څخه ښکاره اوهرچا ته دخپل عمل سره وړ جزا ورکول شي ﴿ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ ٱلْمَوْتِ ﴾ اوخامخا که وواېې ته (اې محمده! خپل قوم ته چي دمکې کفار اومنکران دي) چي بېشکه تاسي بیاژوندي کېدونکي یاست وروسته له مرګه ﴿ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ نوهرومرو به وايي: خامخا هغه کسان چي کافران شوي دي (منکران له بعث او نشورڅخه) چي نه دی دغه (قرآن) مګرجادو ښکاره ﴿ وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ ٱلْعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ ﴾ (اوقسم دی چي خامخا که وروسته کړو موږ له دوی څخه (هغه) عذاب (چي موعود دی) ترراتلو د اوقاتو شمېرلي شوو) یعني موده له زمانې څخه ﴿ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُۥٓ ﴾ نوهرومرو به دوی (استهزاءً) وايي: چي څه څېزبندکړی دی داعذاب له نزوله ؟) ﴿ أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ ﴾ (نوفرمايي الله) خبردارشئ هغه ورځ چي راشي دا(عذاب) دوی ته نونه به وي دا(عذاب) دفع کړی شوی له دوی څخه ﴿ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ اوچاپېربه شي له دوی نه هغه عذاب چي دوی به په هغه پوري مسخرې کولې) ﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِنَّا رَحْمَةً ﴾ اوقسم دی خامخاکه وروڅکوموږ وکافرانو یاناشکره انسانانو ته) له خپله نزده رحمت (لکه صحت، امن، رزق او نورزیات نعمتونه) ﴿ ثُمَّ نَزَعْنَٰهَا مِنْهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٌ كَفُورٌ ﴾ بیابیرته واخلو موږ دانعمت له ده نه بېشکه دی خامخا (دالله له کرمه) ناامید او ناشکره دالله له نعمت څخه وي ﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ ﴾ اوقسم دی خامخاکه ورڅکوو موږ دغه (کافر، یاناشکره انسان ته) نعمت (لکه صحت اوهوسايي) وروسته له (هغه) ضرره چي رسېدلی وو ده ته له بلاګانو لکه: ناروغي، فقراوکړاو ﴿ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّىٓ ﴾ وايي به دی خامخاولاړې سختي له ماڅني (لدې وروسته به ګرد عمرسختي ونه وينم) ﴿ إِنَّهُۥ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴾ بېشکه دغه (انسان) خامخا خوشالېدونکی دی (په نعمتونو او په هغو تېروتلی چي په خلګوځان لوړګڼي) په آيت شریف کي په هغوکسانو باندي چي دسختي په وخت کي ناهیلي کېږي اودنعمتونو په وخت کي په خلګو ځان لوړګڼي بدي (ذم) ویلي شوي ده. ﴿ إِلَّا

(۱) الکشاف ۲ / ۳۸۰

﴿ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ (مگرهغه کسان چي صبر کوي (په سختي) او(ښه) عملونه کوي (لپاره دشکر د نعمت) يعني د انسان دغه عادت او دود دی چي په سختي کي ناهيلی اوپه آسانتياکي متکبروي مگرهغه کسان هسي نه وي څوک چي په تکاليفوصبرکالي اودنعمت په وخت کي دخيرکارونه کوي نودوی په دواړو حالاتوکي (دمحنت او نعمت) له محسنانوڅخه دي) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ﴾ دغه(صابرين اوشاکرين) شته دوی ته مغفرت اوډېر لوی أجريعني دغه په ښځوصفاتو ستايل شوي مذکور کسانوته دگناهونو مغفرت اوپه آخرت کي ستر اجر(جنت) شته . په البحر کي وايي : چي ثواب ته يې دلتهلوی ووايو ځکه چي تل ترتله نعمتونه پکې دي له عذاب څخه امن اودالله رضاپکې ده همداسي دالله جل جلاله ديدار ترټولو غوره نعمت دی)(۱) ﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ ﴾ (نوښايې ته به پرېښودونکی يې (يعني مه پرېږده) ځيني دهغه قرآنه چي وحی کولی شي تاته) مشرکانورسول الله ﷺ داسي وړانديز کاوو چي خزانه ورته راوړي اويابايد ورسره پرښته دتصديق لپاره وای دوی به په قرآن کريم ملنډي وهلې نوالله پاک رسول الله ته هسي وفرمايل : چي ښايي ته به ځيني وحی هغوی ته پدې نه ابلاغوې چي دوی ورباندي ملنډي وهي ﴿ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ ﴾ او تنگېدونکي ده په (تبليغ د) هغه سره سينه ستا(چي دوی به يې تکذيب وکړي مقصد له دې څخه درسول الله صلی الله عليه وسلم هڅونه ده چي درسالت دتبليغ په لاره کي ددښمنانو پروا ونکړي ﴿ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌ ﴾ (له دې وېري) چي دوی به وايې : ولي نه ده نازله شوي په ده باندي خزانه (چي عشرت پرې وکړي) يا(ولي نه ده) راغلي له ده سره پرښته (چي شاهدي دنبوت يې ورکړي (لکه چي موږ اقتراح کړي ده الله جل جلاله درسول الله صلی الله عليه وسلم دنده هسي ټاکلي ده چي : ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞ ﴾ ببشکه همداخبره ده چي ته وېرونکی يې (مجرمينولره دالله له عذاب څخه) ﴿ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ﴾ اوالله په هرشي باندي وکيل دی) يعني دبندگانو دشئوناتو(امورو) ښه ساتونکی اوداعمالو خوندي کونکی دی ﴿ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ ﴾ بلکه آياوايې دوی چي له خپله ځانه جوړکړی دی (محمد) دا(قرآن چي تصديق يې وکړي ؟) ﴿ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ ﴾ ووايه (اې محمده ! دوی ته) نو راوړئ تاسي لس سورتونه په شان ديوه سورت دده (فصيح ،بليغ) ځکه چي تاسي فصحاء عربان ياست له ځانه يې جوړکړئ ! ﴿ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ اورا وبولئ هغه کسان چي توانبرئ تاسي (دکومک لپاره) غيرله الله څخه ﴿ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴾ که يې تاسي صادقان (رښتوني په دعوی دافتراءکي) ﴿ فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ ﴾ نوکه ځواب درنکړي دوی تاسي ته (هغه چاچي تاسومرستي ته رابللي وو) نوپوه شئ (اې مشرکانو) چي ببشکه هم داخبره ده چي رالېږل شوی دی (قرآن) په علم د(وحی) دالله سره ﴿ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ ﴾ او(پوه (شئ)

(۱) البحر ۵ / ۲۰۲

چي نشته هيڅ لائق د عبادت مگر هم دی دی (چي دغه معجز قرآن يې رااستولی دی) ﴿ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ نو آيا يې تاسي مسلمانان؟ د غه لفظ د استفهام او معنا يې امر دی يعني مسلمانان شئ وروسته له دغه کو تلي دلائلو چي ستاسو لپاره هيڅ عذر او مانع هم پاتي نشو په التسهيل کتاب کي وايې چي : دغه استفهام او معنايې استدعاده يعني اسلام ته رابلل يې مقصد دی او دا په کافرانو الزام هم دی چي ايمان راوړي ځکه چي د اسلام په رښتنولي دلائل راغلل او دوی د قرآن له جوړولو څخه عاجز شول (١) ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَٰلَهُمْ فِيهَا ﴾ هرڅوک چي وي غواړي (په سبب د خپلو نېکو اعمالو) يوازي ژوندون د دنيا او ښايست يې او په آخرت ايمان نلري) نو پوره به ور کړو دوی ته (بدل د) اعمالو د دوی په دنياکي (چي دوی يې غواړي لکه روغتيا، امن او روزي) ﴿ وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴾ حال دا چي دوی پدې دنياکي نه شي کم کېدلای (له بدل د اعمالو د دوی هيڅ شی) . قتاده رضی الله عنه وايې : د چا چي نيت د دنياوي الله به يې د نېکو اعمالو په بدل کي دنيا ور کړي او آخرت ته به داسي ولاړشي چي هيڅ نېکي به نلري چي جزا ورباندي ورکول شي او د مسلمان مؤمن لپاره به د حسناتو په دنياکي جزا ورکړل شي او په آخرت کي به يې ثواب ومومي (٢) ﴿ أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُ ﴾ (دا هغه کسان دي چي نشته دوی ته په آخرت کي مگر اور (د دوزخ) يعني دغه کسان چي موخه او هدف يې يوازي دنيا ده نو په آخرت کي پرته له تل ترتله اور بل څه د دوی لپاره نشته ﴿ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا۟ فِيهَا ﴾ (او ابته (خراب) شوی دی هغه (نېک عمل) چي دوی به کاوو په دنياکي) ځکه چي دوی ته يې په دنياکي بدله ورکړی شوه ﴿ وَبَٰطِلٌ مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ (او باطل دی هغه عمل چي دوی به کاوو) دغه د ړومبني حکم تاکيد دی يعني د دوی نېک اعمال چي دوی به په دنياکي کول هغه باطل دي ﴿ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ آيا هغه څوک چي دی پر څرگند برهان (او ښکاره خلا) له جانبه د رب خپل (چي هغه نبي او مؤمنان دي ؟ ځواب دلو محذوف دی هغه دا چي دغه سړی لکه هغه څوک داسي دی چي د نيوي خسيس ژوند غواړي ؟ ! مقصد يې دا دی چي د دې دواړو ترمنځ ستر توپير موجود دی د ېر سره يوله بله ليري دي څوک چي الله غواړي له هغه چا سره برابرندی چي هغه دنيا او د دنيا ښايست غواړي ﴿ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ ﴾ (او تابع وي د دې (برهان) پسي شاهد (له جانبه) د (الله) ابن عباس رضی الله عنهما وايې : چي دغه جبريل عليه السلام بنيې ﴿ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً ﴾ او پخوا له دې (قرآنه) کتاب د موسی (تورات وو) پداسي حال کي چي پېشوا او رحمت وو (د هغه چا لپاره چي ورته نازل شوی وو) ﴿ أُولَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ﴾ دغه (موصوف) کسان ايمان لري پدې (قرآن په حقه او رښتيا سره ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ ﴾ او هرڅوک چي کافر شو پدې (قرآن) له گردو فرقو د (کافرانو) نو اور (د دوزخ) ځای د وعدې د ده دی (خامخا به ورځي) ﴿ فَلَا تَكُ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ ﴾ نو مه کېږه په

(١) التسهيل ٢ / ١٠٢
(٢) المختصر ٢ / ٢١٤

شک کي ته له دي (قرآنه) ﴿إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ﴾ ببشكه چي هغه حق دى له جانبه درب ستا (نازل شوى دى) ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ وليكن اكثرد خلگو ايمان نه راوړي (پدې چي دادرب العالمين له لوري رانازل شوى دى) ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا﴾ (نوڅوک دى ډېر ظالم له هغه چاچي تړي له خانه په الله پوري دروغ) يعني تردې بل ډېر ظالم څوک نشته چي په الله پوري دروغ تړي اونسبت دشريک اوزوى ورته كوي ﴿أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ﴾ دغه (دروغ تړونكى) به وړاندي كړى شي (په قيامت كي سره له ټولو خلگو) رب ددوى ته (چي ددوى خالق اومالک ذات دى ﴿وَيَقُولُ ٱلْأَشْهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ عَلَىٰ رَبِّهِمْ﴾ او وبه وايي: شاهدان (كرام الكاتبين او نور خلگ هغه چي د دوى اعمال ويني) چي هم دوى دي هغه كسان چي دروغ يې تړلي وو په رب خپل (غرض له دې شاهدي څخه دنوموړو رسواكول اوتشهيردى ﴿أَلَا لَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ خبردارشئ لعنت دالله دي وي پرظالمانو (هغوى چي ظلم يې كړى او دروغ يې په الله تړلي دي دلعنت معناد الله له رحمت څخه شړل دي ﴿ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا﴾ هغه (ظالمان) چي اړوي خلگ له لاري دالله نه اولټوي (ستايې) دالاره خلگوته په كوږوالي سره (يعني دوى غواړي چي ددوى له خواهشاتو سره سم دالله دين هم كوږوي ﴿وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ﴾ اوهم دوى په آخرت هم دوى كافران (منكران كېدونكي دي (بعث اونشور نه مني) ﴿أُولَٰٓئِكَ لَمْ يَكُونُوا۟ مُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ (داكفار نه دي دوى عاجزكونكي (دالله) په ځمكه كي) يعني دوى دالله له عذاب څخه خلاصېدلاى نشي كه څه هم چي الله مهلت وركړي ﴿وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ﴾ اونه به وي دوى ته غيرله الله هيڅ دوستان (چي دالله عذاب څني منع كړي) ﴿يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلْعَذَابُ﴾ دوچند به كړى شي دوى ته عذاب (په سبب دجرم اوطغيان ددوى دغه مستأنفه جمله ده) ﴿مَا كَانُوا۟ يَسْتَطِيعُونَ ٱلسَّمْعَ وَمَا كَانُوا۟ يُبْصِرُونَ﴾ نه وو دوى چي طاقت يې وي د اورېدلو (دحق دزړه له كونوالي) اونه وو دوى چي ليدلي يې وي (دلائل دقدرت دزړه له ړوندوالي) يعني دعذاب دوه گون وركول پدې سبب وو چي الله دوى ته سمع اوبصر وركړى خودوى ورباندي حق نه اورېدل اونه يې ليدل نوپه حواسو كي يې گټه نه وه اخيستي ﴿أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ﴾ (همدوى هغه كسان دي چي زيان يې رسولى دى نفسونو خپلوته) يعني دنيوي اواخروي نيكمرغي يې له لاسه وركړي اوپه ځان باندي يې راحت اوسوكالي بايللي ځكه چي دوزخ ته ورتلونكي دي ﴿وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ﴾ (اوورک شول له دوى هغه چي و دوى چي دروغ يې تړل) يعني له دوى څخه به هغه بتان ورک شي چي دوى گمان كاوو چي هغه به يې شفاعت كوي ﴿لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ﴾ (حقه خبره داده چي ببشكه دوى په آخرت كي هم دوى ډېر زيانكاران دي) ځكه چي دوى فاني دنياترباقي اوتلپاتي آخرت غوره گڼلى اود جنت له نعمتونو څخه يې داورلمبې خوښي كړي دي وروسته له دې الله پاک دمؤمنانو نيكمرغي اوحال داسي بيانوي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ

﴿ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ وَأَخْبَتُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّهِمْ﴾ (ببشکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) او عاجزي کوي دوی خپل رب ته) يعني هغه کسان چي له ايمان او صالح عمل سره يې تواضع، خشوع او يو مخ ايزه دالله عبادت ته ځان سپارنه ملګري کړي ده ﴿أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ﴾ دغه کسان صاحبان (او سېدونکي) د جنت دي دوی به پدې جنت کي همېشه وي (هيڅکله به څني نه وزي) ﴿مَثَلُ ٱلْفَرِيقَيْنِ كَٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْأَصَمِّ وَٱلْبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِ﴾ (مثال ددې دواړو ډلو (دمؤمنانو او کافرانو) لکه ړانده او (کاڼه او لکه دليدونکي او اورېدونکي دی) زمخشري وايي: دکافرانو ټولی يې له ړانده او کاڼه سره مشابه کړه او دمؤمنانو يې له ليدونکي او اورېدونکي سره چي لف او نشر مرتب او دطباق صنعت پکې دی(۱) او معنا داچي حال ددوی هسي عجيب دی لکه حال دهغه چاچي ړوندوالی او کوڼوالی دواړه يوځای ولري او لکه هغه چي بينا او شنوا وي ﴿هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ﴾ آيا برابر دي دغه دواړه له جهته دمثاله (او صفته بلکه ندي برابر سره يو دبله) استفهام انکاري دی يعني هغه څوک چي دحق څلاويني او ورباندي لاره مومي حال يې داسي نه دی لکه دهغه چاچي دګمراهي په تيارو کي تيندکونه خوري لوېږي رالوېږي او دنيکمرغي لاره نشي موندلای ﴿أَفَلَا تَذَكَّرُونَ﴾ (آيا نو تاسي پند نه اخلئ؟) يعني آيا تاسو وعظ نه منئ غرض له دې څخه دايماندارو, عبادت کونکو له منکرانو او سرغړونکو څخه جلاوالی دی.

بلاغت:

۱- ﴿عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ﴾ اضافت دعذاب يوم کبيرته دهول او هيبت لپاره دی.

۲- کله چي الله فرمايي: ﴿مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ﴾ ددې کلماتو ترمينځ دطباق صنعت دی همدا راز په: ﴿نَعْمَآءَ﴾ او ﴿ضَرَّآءَ﴾ او همداسي ﴿نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ﴾ کي.

۳- داچي فرمايي: ﴿لَيَـُٔوسٌ كَفُورٌ﴾ دمبالغې صيغې دي يعني ډېر ناهيلی او کثيرالکفران.

۴- پدې کلام کي چي الله فرمايي: ﴿كَٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْأَصَمِّ﴾ دلته مرسله مجمله تشبيه ده ځکه چي دتشبيه ادات (توری) ذکرشوی خو دمشبه وجه حذف شوي ده يعني مثال دکافرانو دټولی لکه ړوند او کوڼ چي سترګي او غوږونه نلري او مثال دټولی دمؤمنانو لکه اورېدونکي او ليدونکي غوندي دی.

لطيفه:

څينو صالحانو ويلي چي بي له دې چي ګناه پرېږدی استغفار کول د دروغجنو توبه ده(۲)

تنبيه:

دلسو سورتونو په جوړولو باندي تحدی (چلينج) وروسته دټول قرآن کريم له تحدی څخه راغلی دی کله چي دوی دقرآن په مثل راوړلو څخه عاجز شول نو بيايې دلسو سورتونو تحدی ورکړه او چي له هغه نه هم عاجز

---

(۱) القرطبي ۹-۳

(۲) القرطبي ۹/۳

شول نو د یوه سورت په مثل چي د بلاغت ، فصاحت په پټو اسرارو ، تشریعي احکامو او مثالونو باندي مشتمل
وي د دوی ته یې تحدی ورکړه.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ
يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾ فَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ
هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِىَ ٱلرَّأْىِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ
عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى وَءَاتَىٰنِى رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَٰرِهُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ
عَلَيْهِ مَالًا ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ وَلَٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٩﴾
وَيَٰقَوْمِ مَن يَنصُرُنِى مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ
إِنِّى مَلَكٌ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِىٓ أَعْيُنُكُمْ لَن يُؤْتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيْرًا ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِىٓ أَنفُسِهِمْ ۖ إِنِّىٓ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣١﴾
قَالُوا۟ يَٰنُوحُ قَدْ جَٰدَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَٰلَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ
إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِىٓ إِنْ أَرَدتُّ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ ۚ هُوَ رَبُّكُمْ
وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٣٤﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ إِنِ ٱفْتَرَيْتُهُۥ فَعَلَىَّ إِجْرَامِى وَأَنَا۠ بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ ﴿٣٥﴾ وَأُوحِىَ
إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا
وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾ وَيَصْنَعُ ٱلْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِۦ سَخِرُوا۟
مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا۟ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ
عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلْنَا ٱحْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ
عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ وَمَنْ ءَامَنَ ۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٤٠﴾ ۞ وَقَالَ ٱرْكَبُوا۟ فِيهَا بِسْمِ ٱللَّهِ مَجْر۪ىٰهَا وَمُرْسَىٰهَآ ۚ إِنَّ رَبِّى لَغَفُورٌ
رَّحِيمٌ ﴿٤١﴾ وَهِىَ تَجْرِى بِهِمْ فِى مَوْجٍ كَٱلْجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبْنَهُۥ وَكَانَ فِى مَعْزِلٍ يَٰبُنَىَّ ٱرْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن
مَّعَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ سَـَٔاوِىٓ إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِى مِنَ ٱلْمَآءِ ۚ قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَ ۚ وَحَالَ
بَيْنَهُمَا ٱلْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُغْرَقِينَ ﴿٤٣﴾ وَقِيلَ يَٰٓأَرْضُ ٱبْلَعِى مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقْلِعِى وَغِيضَ ٱلْمَآءُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ
وَٱسْتَوَتْ عَلَى ٱلْجُودِىِّ ۖ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبْنِى مِنْ أَهْلِى وَإِنَّ وَعْدَكَ
ٱلْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَٰلِحٍ ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۖ إِنِّىٓ
أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ ۖ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِى وَتَرْحَمْنِىٓ

أَكُن مِّنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴿٤٧﴾ قِيلَ يَـٰنُوحُ ٱهْبِطْ بِسَلَـٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكَـٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ ۚ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٨﴾ تِلْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَـٰذَا ۖ فَٱصْبِرْ ۖ إِنَّ ٱلْعَـٰقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾ ﴾ هود: ۲۵ ــ ۴۹

مناسبت او تړاو:

کله چي الله پاک دمکې کفارو عناد یادکړ او دهغوی تکذیب اوافتراء یې وښودله چي ویل یې: (محمد صلی الله علیه وسلم قرآن له ځانه جوړکړی دی نو دلته یې دنوح علیه السلام کیسه راوړه چي هغه له خپل قوم (تبر) سره یې څومره ناخوالي ګاللي اوپرقوم یې بیا څه راغلي ترڅو ددروغ ګڼونکو اومعاندینو لپاره پند اوعبرت او درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډاډینه شي چي انبیاوو له خپلو قومونو سره څومره تکالیف وړي دي.

لغتونه:

(الملأ) دقوم مخه ورسپین روبي (اراذل) درذیل جمع چي مقصد څني دلته بېوزلان اوفقیران او دښکته پوړی خلک دي هغه چي نه شتمني لري اونه په څه پرواکوي (فعمیت) ګډوډ شوی ویل کېږي (عمی عن کذا وعمی علیه کذا) یعني ورباندي ګډوډ شو یوځېزچي پرې نه پوهېږي (جادلتنا) جګړه دي وکړه له موږ سره دعربو په کلام کي مجادله په خصومت کي مبالغې ته وایې (تزدري) خوارګڼي (الفلک) بېړۍ اودالفظ په جمع اومفرد دواړو باندي اطلاق کېږي (التنور) داوربلولو ځای چي په پښتوکي هم دخیل دی (مرساها) ثبات او استقرار دهغې (عاصم) منع کونکی. په حدیث شریف کي راځي (فقدعصموا مني دمآئهم) یعني په تحقیق وساتلي شوې له ماڅخه ویني تویول ددوی (غیض) له (غاض المآء) څخه اخیستل شوی اومعنایې ده کمي شوې (الجودیّ) هغه غره ته وایې چي دموصل له څنګه دی.

تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ ﴾ اوهرومرو په تحقیق موږ نوح لېږلی وو قوم دده ته وروسته له هغه چي څمکه ددوی په شرک اوشر باندي لړل شوي وه ﴿ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ (چي ویل یې) بېشکه زه تاسي ته ښکاره وېرونکی یم (له دوزخه که موایمان نه راووړ) ﴿ أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ ﴾ (چي مه کوئ تاسي عبادت دبل چاپې له الله) یعني موږ هغه دتوحید دبلني لپاره استازی کړی وو چي دوی یوازي دالله عبادت ته راوبولي ﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴾ (بېشکه زه وېرېږم پرتاسي له عذابه دورځي دردناکي) یعني که موله الله پرته دبل چاعبادت وکړو زه پرتاسي باندي دهغي سختي اودردناکي ورځي له عذابه وېرېږم ﴿ فَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ ﴾ نوویل: هغو مشرانو چي کافران شوي وو له قومه ددغه (نوح) ﴿ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا ﴾ (چي نه وینو موږ تا (اې نوح) مګر یوبشر په شان زموږ) ستاپه موږ هیڅ بهتري نشته. زمخشري وایې چي: پدې

کي داانګېرنه ده چي ګواکي دوی ترنوح علیه السلام دنبوت ور او مستحق دي اوکه الله چېري غواړي چي دنبوت لپاره یوڅوک په بشرکي غوره کړي نونبوت به دوی ته ورکړي [1] ﴿ وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا ﴾ اونه وینو موږ تاچي متابعت کړی ستا (هیڅ‌ا) مګرهغه کسانو چي دوی ښکته زموږ دي. په التسهیل نومي کتاب کي وایي چي دغه پیروان یې څکه هسي وستایل چي هغوی فقیران اوبې وزلان وو ستایونکی په دې نه پوهېدل اوداسي عقیده یې لرله چي شرافت به په مال اومرتبه وي خوهسي نه ده بلکه مؤمنان سره له دې چي بېوزله اومراوي دي تردوی غوره اوبهتردي ﴿ بَادِىَ ٱلرَّأْيِ ﴾ (سرسري) په ظاهراول فکر بلاتأمل ﴿ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ ﴾ اونه وینو موږ تاسي (اوستاسي پلویانو) لره پرموږ باندي هیڅ بهتري (چي تاسو دنبوت وړ اودخلګو دپیروي کولو لپاره مستحق وګڼي ﴿ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴾ بلکه موږ پرتاسو د دروغجنانو ګمان کوو (دهغه څه په هکله چي تاسویې ادعاکوئ) دوی وغوښتل چي له دوو خواوو په نوح علیه السلام باندي دلیل ونیسي یوداچي پلویان یې دښکته پوړ اوټیټي مرتبي خلک دي چي داقتداوړنه دي اوبل داچي هغوی په دې پیروي کولو کي سوچ ندی کړی بې له غوراوتأمل نه یې ستاپیروي کړي ده ددوی غرض له دغه استدلال څخه داووچي پردوی حجت رانه وړل شي چي ځیني له دوی څخه شته چي په نوح علیه السلام باندي یې ایمان راوړی دی ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى ﴾ وویل: (نوح) اې قومه زما! خبرراکړئ ماته که یم زه پرسمه لاره ربه خپله) نوح علیه السلام له قوم سره په نرمي اوپسته ژبه خبري وکړې ترڅو چي دایمان لوري ته یې رامات کړي ورته ویل یې: اې قومه: ماته تاسي خبر راکړئ که چېري زه له خپله ربه په دلیل اوجلي برهان دخپلي دعوی یم ﴿ وَءَاتَىٰنِى رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِۦ ﴾ او راکړي یې وي ماته رحمت له خپله نزده یعني ځانګړي هدایت چي له نبوت څخه عبارت دی ﴿ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ﴾ نوپټ کړی شوی دی (ددې دلیل حقیقت) ستاسوپه سترګو (څکه ستاسي او دایمان دنور ترمینځ دمادیاتو حجاب دی) ﴿ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمْ لَهَا كَٰرِهُونَ ﴾ آیاموږ تاسي مجبورکولای شو په قبلولو دهغو سره (نه شو کولای) حال داچي تاسي دغه لره بدګڼونکي انکار کونکي یاست؛ استفهام دانکار لپاره دی یعني موږ دغسي نه کوو څکه چي په دین راوړلو کي جبرنشته (لااکراه فی الدین) ﴿ وَيَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ﴾ (اواې قومه زما نه غواړم زه له تاسي په دغه (دعوت اوتبلیغ) څه مال) یعني پدغه نصیحت اودعوت له تاسو مزدوري نه غواړم چي تاسي په ماتهمت ترئ ﴿ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ ﴾ (ندی اجر (مزدوري) زمامګر په الله باندي) یعني زه خپل ثواب له الله پرته له بل چاڅخه نه غواړم هغه ماته جزا اوثواب راکوي ﴿ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ﴾ اونه یم زه شړونکی (له خپله مجلسه) دهغو کسانو (بېوزلانو) چي ایمان یې راوړی دی (لکه چي تاسو یې غوښتنه کوئ) ﴿ إِنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ وَلَٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴾ (څکه چي) بېشکه دوی ملاقات کونکي دي له ربه خپله سره (په مراد رسېدونکي دي داالله په قربت سره نوځرنګه یې وشړم) ولیکن زه ګورم تاسي داسي قوم چي جاهلان (ناپوهان) یاست ددوی په قدر نه پوهېږئ نوله ماڅخه

[1] الکشاف ۲/ ۳۸۸

غوارئ چي دوی وشړم تاسي داګومان کوئ چي تاسي ترمؤمنانو غوره يې ! ﴿ وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ ﴾ او اې قومه زما ! څوک به له ماسره مرسته وکړي (چي ماوساتي) له عذابه دالله که زه دوی وشړم؟ ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ آيا (فکرنه کوئ) نوپند نه اخلئ تاسي (چي ستاسي رايه خطاده)؟ ﴿ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ ﴾ اونه وايم زه تاسوته چي ماڅخه دالله خزانې دي (ترڅوتاسي زمادېداى والي له امله متابعت وکړئ ﴿ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ ﴾ اونه (وايم داچي) په غيب پوهېږم (څوچي تاسي زمادربوبيت ګمان وکړئ) ﴿ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ ﴾ (اونه وايم زه چي بېشکه زه پرښته يم) تاسوته رالېږلي شوي نوهله به زه په خپله دعوى کي دروغجن يم ﴿ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ﴾ اونه وايم زه په حق دهغو (بېوزلانو مؤمنانو) چي سپک ورته ګوري سترګي ستاسي چي له سره به ورنکړي دوی ته الله هيڅ خير (هدايت اوتوفيق) ﴿ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ ﴾ الله ښه عالم دی په هغو (پټو اسرارو) چي ددوی په زړونو کي دي ﴿ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (که زه دغه ووايم) نوزه په دغه وخت کي خامخاله ظالمانوڅخه يم (دعذاب مستحق يم) ﴿ قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا ﴾ وويل: دوی (کفارو) اې نوح ! په تحقيق جګړه دي وکړه له موږ سره پس ډېره دي کړه جګړه زموږ ﴿ فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ نوراوړه موږته هغه عذاب چي ته يې له موږ سره وعده کوې که يې ته له صادقانو (په خپله وعده کي) ﴿ قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ ﴾ نو وويل: نوح بېشکه همدا خبره ده چي رابه ولي تاسي ته دا عذاب (خاص) الله که اراده وکړي يعني دغه په تلواره دعذاب راوړلو واک له الله سره دی هغه که وغواړي درته به يې راوړي له ماسره دغه اختيار نشته ﴿ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴾ اونه ياست تاسي (دالله) عاجز کونکي (چي له عذابه يې وتښتئ څکه تاسي دهغه په ملک اوسلطان کي يې) ﴿ وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ أَرَدتُّ أَنۡ أَنصَحَ لَكُمۡ ﴾ اونفع نه دررسوي تاسي ته نصيحت زما که اراده وکړم زه چي نصيحت وکړم تاسوته ﴿ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغۡوِيَكُمۡۚ ﴾ (که وي الله چي ستاسي دګمراهي اراده وفرمايي) دغه دپورتني مطلب لپاره څواب دی يعني که الله ستاسوبدمرغي اوضلالت غوښتی وي زما نصيحت به څه ګټه در ورسوي ﴿ هُوَ رَبُّكُمۡ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴾ هم دی دی رب ستاسي (پيداکونکی اوتصرف کونکی په اُمورو (ستاسي کي) اوخاص هم ده ته بيرته بېولی کېږئ (نوبيابه تاسوته پخپلو اعمالو سزادرکړي ﴿ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ ﴾ (الله فرمايي): بلکه آيا وايي دوی چي له خپله ځانه يې جوړه کړي ده دغه (وحی) ؟ يعني آيا دمکې قريش کفار هسي وايي چي محمد دغه قرآن له خپله ځانه جوړ کړی دی ؟[1] ﴿ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَعَلَيَّ إِجۡرَامِي ﴾ (ووايه (اې رسوله ! دوی ته) که

---

[1] دغه داکثرومفسرينورايه ده خوابن عطيه اوابوحيان بياوايي : چي دغه آيت هم دنوح عليه السلام په کيسه کي دی اوضميردنوح عليه السلام قوم ته راجع دی نومعنايې داسي کېږي چي آيادوی وايي: دغه نوح دغه اخبارله ځانه جوړ کړی دی؟

مي له خانه جوړ کړي واى نو خاص پرمادى عقوبت دګناه زما) يعني اې محمده ! دوى ته ووايه که چېري مادغه قرآن له خانه جوړ کړى وي ګناه يې پرماده او تاسي زما په ګناه نه نېول کېږئ ﴿ وَأَنَا بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُجۡرِمُونَ ﴾ او زه بېزاره يم له هغي ګناه چي تاسې کوئ (له کفر او تکذيب څخه) دغه آيت دنوح عليه السلام دکيسې په مينځ کي اعتراض دى چي دې ته اشاره کوي دمشرکانو دريز هم لکه دنوح عليه السلام دقوم په شان دريز دى چي عناد او تکذيب يې خپل کړى دى. ﴿ وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤۡمِنَ مِن قَوۡمِكَ إِلَّا مَن قَدۡ ءَامَنَ ﴾ او وحي کړى شوه ونوح ته چي بېشکه شان دادى چي له سره به ايمان رانه وړي ستاله قومه (ستا په رسالت)مګرهغه چي (پخواله دې نه) په تحقيق ايمان يې راوړى وو ﴿ فَلَا تَبۡتَئِسۡ بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴾ نو مه غمجن کېږه په هغه (ايذاء، دتکذيب تالره او کفر) چي دوى به کول (نو زه دوى ارو مرو هلاکوم) ﴿ وَٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا ﴾ او ته بېړى جوړه کړه په حضور حفاظت زموږ ﴿ وَوَحۡيِنَا ﴾ او زموږ په درښودلو. مجاهد وايې : معنادا چي لکه څنګه موږ درته امر کوو ﴿ وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ ﴾ او مه کوه خبري ماسره (دشفاعت ددفع کولو دعذاب) په حق دهغو کسانو چي ظالمان شوي (کافران) دي ﴿ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ﴾ چي بېشکه په دوى باندي حکم کول شوى (دطوفان په وسيله) دغرقېدلو ﴿ وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ ﴾ او جوړوله (نوح) بېړى ، دپخواني حال حکايت داستحضار لپاره راوړل شوى يعني نوح لکه څرنګه چي رب ورښودلي وه هغسي بېړى جوړوله ﴿ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَأٞ مِّن قَوۡمِهِۦ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ ﴾ او کله چي تېرېدل به په دغه (نوح) ډله (دمشرانو) له قوم دده نو مسخرې به يې کولې په دغه (نوح) پوري (او پوري خندل به يې ، ورته به يې داسي ويل : اې نوح ! ته خو پرون نبي وې او نن بيانجارشوې ؟! ﴿ قَالَ إِن تَسۡخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسۡخَرُ مِنكُمۡ كَمَا تَسۡخَرُونَ ﴾ نو وويل: نوح که مسخرې کوئ تاسي پرموږ (نن ورځ) نو بېشکه موږ به هم مسخرې وکړو (په راتلونکي کي کله چي تاسي غرق شئ)لکه چي اوس تاسي مسخرې کوئ پر موږ نو مسخرې او ملنډې خو پرتاسي وهل پکاردي چي تاسي يې وړ او مستحق ياست ﴿ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴾ نو ژر به تاسي (هغه خوک) وپېژنئ دغه وعيد او تهديد دى يعني ژر به تاسي .دروغ ګڼونکي او ملنډي وهونکي په عذاب وپوهېږئ ﴿ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٞ مُّقِيمٌ ﴾ هغه خوک چي رابه شي ورته (داسي) عذاب چي وبه شرموي ده لره (غرق به شي) او راکوزېږي به په ده عذاب دائم (چي ددوزخ عذاب دى) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ ﴾ ترهغه پوري کله چي راغى امر (موعود) زموږ او راوخوټېدو تنور(په اوبو سره) علماء کرام وايې : چي الله پاک دغه دنوح عليه السلام لپاره علامه او دقوم دهلاک لپاره يې موعد ټاکلى وو . ابن عباس رضى الله عنه وايې : چي مراد له تنور څخه دځمکي مخ دى. طبري وايې : چي عرب دځمکي مخ ته تنور وايې نو ورته وويل شول چي کله دي او به دځمکي په مخ وليدلې سمدستي ته او ستاملګري په بېړى کي سپاره شئ [1] او ابن کثير

---

[1] وروسته له هغه چي امام طبري دتنور په هکله دسلفو اقوال راوړل وېې ويل : چي ترټولو غوره زموږ په نزد هغه ده چي تنورهغه خاى ته ويل کېږي چي هلته ډوډۍ پخېږي څکه دعربو په اقوالو کي دغه مشهوردى او دالله کلام په اغلب او اشهرباندي معناکول پکاردى. طبرى ۱۲/ ۴۰

وايې: چي تنور دځمکي مخ ته وايې يعني ځمکه چينې خوټېدونکي وګرځېږي آن تردې چي له تنورونو څخه هلته چي پکي اوربلېږي هم اوبه راوغورځي چي دغه وروستی قول دسلفو اوخلفو جمهورو علماوو دی(۱) ﴿قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ﴾ وويل: موږ(نوح) ته سپاره کړه پدې بېړۍ کي له هرې(ډلي) نوعي دحيواناتو) څخه جوړه دوه دوه (نارينه اوښځينه) ﴿وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ﴾ او اهل خپل (دې هم سپاره کړه چي ستااولادونه اومېرمني دي) مګرمه سپروه هغه چي ړومبی شوې ده په ده وينا (حکم دډوبېدلو چي مراد له دې څخه دده زوی (کنعان) اومېرمن يې (واعلة) دي) ﴿وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ اوهغه (هم سپاره کړه چي ايمان يې راوړی دی (ستاپيروان دي) اونه وو ايمان راوړی له دغه (نوح) سره مګر لږو خلکو (سره له دې چي ډېرکلونه يې ورسره تېرکړي اوتبليغ يې ورته کړی وو چي نه سوه پنځوس کاله اوږده موده وه. ابن عباس رضی الله عنه وايې: چي دغه مؤمنان اتياتنه وو چي ځيني له دوی څخه ددوی مېرمني وې اوكعب الاحبار وايې: چي دوی دوه اتياتنه وو چاپياويلي: چي يوازې لس کسانو ورباندې ايمان راوړی وو(۲) ﴿وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا﴾ او وويل: نوح چي سپاره شئ پردغې بېړۍ او ووايئ) په نامه دالله دی روانېدل ددې (بېړۍ داوبوپه سر) اودرېدل ددې (بېړۍ) او استقرار يې) طبري وايې چي معناداچي دالله په نامه دابېړۍ روانېږي اودرېږي (۳) ﴿إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ بېشکه چي رب زماخامخا ښه ښښونکی دي دګناهونو (دتوبه ګارو) ډېر رحم والادی (په مؤمنانو چي له ډوبېدلو څخه يې نجات ورکړ) ﴿وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ﴾ اودې (بېړۍ) به وړل دوی په څپوکي په شان دغرونو (په لوړوالي اولويوالي کي دالله په حکم اوعنايت سره. صاوي وايې: چي روايت کېږي الله پاک څلوېښت شپې او ورځي باران و اوراوو اوله ځمکي څخه اوبه را وخوټېدې چينې وبهېدلې لکه چي الله فرمايې: ﴿فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝١١ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ﴾ [القمر ۱۲-۱۱] اوبه هومره لوړې وختلې چي دځمکي دخوراسترغره دپاسه څلوېښت ذراع (ګزه) اوبه ودرېدې او هرڅه ډوب شول(۴) ﴿وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ﴾ اوناري کړې نوح خپل زوی (کنعان ته تر يخوا دبېړۍ د روانېدلو)حال داچي هغه وو په يوه څنډه کي (او له مسلمانانو سره سپورشوی نه وو) ﴿يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ﴾ اې زويکيه زما ! راځه سپورشه (په بېړۍ کي) له موږ سره اوله کافرانو سره مه کېږه (چي غرق به شې) لکه دوی غوندې) ﴿قَالَ سَآوِي إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ﴾ وويل: (کنعان) چي ژربه لاړشم ځای به ونيسم پرسر دکوم غره باندې چي ماله اوبو څخه وژغوري: (ده ګمان کاوو چي اوبه به دغره ترڅوکو هدونه رسېږي ﴿قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَ﴾ وويل: (نوح) چي نشته ساتونکی نن ورځ له حکمه

طبري ۱۲/ ۴۰
(۱) المختصر ۲/ ۲۲۰
(۲) المختصر ۲/ ۲۲۰
(۳) الطبري ۱۲/ ۴۴
(۴) حاشية الصاوي على الجلالين ۲/ ۲۲۰

دالله مګر هغه چي الله وربانديِ رحم کړی دی (نجات مومي) يعني نوح عليه السلام خپل زوی ته وفرمايل: چي نن دالله له عذاب څخه څوک نه ژغورل کېږي اونه يې هم ژغورونکی شته مګر هغه چي الله وربانديِ رحمت وکړي اونجات ورکړي ﴿ وَحَالَ بَيْنَهُمَا ٱلْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُغْرَقِينَ ﴾ اوپرده شو دددوی دواړو (نوح اوزوی يې) څپه نو وګرځېدو (کنعان) له غرق کړی شويو څخه ﴿ وَقِيلَ يَٰٓأَرْضُ ٱبْلَعِى مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقْلِعِى ﴾ او وويل شو چي (اې ځمکي جذب کړه اوبه خپلي او اې آسمانه ! بندي کړه (اوبه خپلي چي باران وو) ﴿ وَغِيضَ ٱلْمَآءُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ وَٱسْتَوَتْ عَلَى ٱلْجُودِىِّ ﴾ اوکمي کړی شوې اوبه (دځمکي له مخ نه) اوپوره کړی شو حکم (دغرقېدلو داشرارو اونجات د ابرارو) او ودرېده بېړۍ دجودي په غره باندي (چي دعراق موصل سره نژدې دی) ﴿ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ اووويل شو(هلاک) لري والی (له رحمته) دي وي لپاره دقوم ظالمانو (کافرانو) ته دغه جمله دعائيه بولي. الوسي وايي: چي پته دي نه وي چي په آيت شريف کي دټولو کفارو دهلاکت بلکه دبېړۍ له خلکو پرته دهغه وخت دټولو ځمکني اوسېدونکو دهلاکت خبردی او ددې تائيد هغه حديث هم کوي چي وايي: په دغه طوفان کي يوه ښځه چي وړوکی ماشوم ورسره وو کله چي اوبه يې وليدلې نوماشوم يې په سينه پوري ونيو کله چي يې اوبه سينې ته ورسېدلې نو يې اوږو ته اوچت کړ او چي اوږې يې هم اوبولاندي کړې نويې په لاسونو کي پورته کړ که چېري الله پاک د بېړۍ له سپرليو پرته په بل چا دځمکي له خلکو رحم کولای هغې باندي به يې رحم کړی وو (۱)﴿ وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبْنِى مِنْ أَهْلِى ﴾ (اوغږ(غوښتنه) وکړه نوح خپل رب ته نو ويې ويل: : اې زماربه بېشکه چي زمازوی زما له اهل څخه دی) يعني نوح عليه السلام خپل رب ته په زاري غږ وکړ چي زمازوی (کنعان) خو زماله اهل څخه دی اوتاله ماسره داهل دنجات وعده فرمايلې وه ﴿ وَإِنَّ وَعْدَكَ ٱلْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴾ (اوبېشکه چي ستاوعده (ژمنه) حق دی اوته يې لوی حاکم له ټولو حکم کونکوڅخه) يعني اې ربه ستاپه وعده کي خلاف نشته او ته ترټولو حاکمانو عادل اوپه حق يې ﴿ قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ﴾ (الله) وفرمايل: اې نوح ! بېشکه چي ستاله اهل څخه نه دی (هغه چي ماييې دنجات درسره وعده کړې ده ځکه دغه کافردی اودکافر اومؤمن ترمينځ خپلوي او ولايت نشته ﴿ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَٰلِحٍ ﴾ بېشکه دی (خاوندد) بېکاره عمل دی ﴿ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ نوسوال مکوه له مانه دهغه څېز چي نه وي تاته په هغه کي علم (پوهه چي دغه کارصواب اوکه خطادی ؟﴿ إِنِّىٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴾ بېشکه زه پند درکوم تاته (هسي نه) چي شې ته له جاهلانو ؛ په التسهيل کي وايي: چي پدې کي دنوح عليه السلام دجهالت وصف نشته بلکه يوډول ملاطفت اوعزت پکي راغلی دی(۲)﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ ووېل: (نوح) اې زماربه بېشکه زه پناه غواړم په تاباندي له دې نه چي سوال وکړم له تانه دهغه څېز چي زه وربانديِ علم نلرم) يعني نوح عليه السلام دعذرپه توګه خپل رب ته هسي ووېل: چي اې ربه ! زه په تاپوري پناه نيسم چي دداسي څه

(۱) روح المعاني ۱۲/ ۶۲
(۲) التسهيل ۲/ ۱۰۲

غوښتنه د رڅخه وکړم هغه چي له ما سره نه ښايي ﴿ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ او که ته ما ته مغفرت ونکړې اوپرما رحم ونکړې زه به له زيانکارانو شم (هغوی چي د آخرت نيکمرغي يې له لاسه ورکړې او خسران يې په برخه شوی وي) ﴿ قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا ﴾ وويل شو اې نوح! کوز شه (له دې بېړۍ) سره له سلامتي (او امن) له جانبه زمونږ ﴿ وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ ﴾ او سره له برکتونو (له جانبه زمونږ) پرتا او پرڅو فرقو له هغه چانه چي له تا سره دي (له اهل د دغي بېړۍ نه. قرطبي وايي: چي په دې کي ټول مؤمنان د قيامت تر ورځي پورې داخل دي[1] ﴿ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ﴾ او څه نوري فرقې (چي کافران او له اولادې) د هغه چا دي چي له تا سره دي) ژر به نفع ورکړو هغوی ته (په دنيا کي) ﴿ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ بيا به ورسېږي دوی ته زمونږ له طرفه عذاب دردناک (چي د جهنم عذاب دی) ﴿ تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ ﴾ دغه (د نوح کيسه) له اخبارو د غيب څخه ده (چي تا نه ده ليدلې) چي (درښيو) وحی کوو د دغه اخبار تا ته (اې محمده!) ﴿ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ هَٰذَاۖ ﴾ نه وې ته چي پوهېدې په دې کيسې او نه قوم ستا پخوا له دې (اخبار زمونږ چي د قرآن کريم نزول دی ﴿ فَٱصۡبِرۡۖ إِنَّ ٱلۡعَٰقِبَةَ لِلۡمُتَّقِينَ ﴾ نو صبر کوه (په تبليغ کولو د دعوت لکه چي نوح صبر کړی وو بېشکه ښه خاتمه د پرهېزګارانو لپاره دی او په دې کي د رسول عليه السلام لپاره د مشرکينو په ايذاء باندي د صبر کولو ماربېنه (توصيه) او د تسليت پېرزوينه ده.

بلاغت:

۱- ﴿ فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ ﴾ دلته هغه څوک چي په حجت او دليل نه پوهېږي له هغه چا سره مشابه وګڼل شو چي په دښتو مېرو سر وي، لاره نه شي موندلای او دغه ګواکي تمثيلي استعاره ده.

۲- په دې کلام کي چي فرمايي: ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ استفهام د انکار او تقريع لپاره دی.

۳- ﴿ فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ ﴾ دلته امر څخه مقصد څني تهکم او استهزاء دی.

۴- په دې جمله کي چي: ﴿ فَعَلَيَّ إِجۡرَامِي ﴾ مجاز بالحذف دی يعني په ما باندي جزا د جرم زما دی او چي د ﴿ إِنِ ﴾ توری يې راوړی هغه چي په شک دلالت کوي د دې لپاره دغه د فرض او تقدير په مثال دی يعني که بالفرض زه جرم وکړم او دغه ګواکي د دوی د جرم په خلاف دی چي د دوی جرم له شکه وتلی ثابت دی څکه چي: ﴿ وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُجۡرِمُونَ ﴾ يې ويلي دي.

۵- کله چي فرمايي: ﴿ وَٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا ﴾ مراد له ستر ګو څخه حفظ، ساتنه او پاملرنه ده لکه چي څوک مسافر ته وايي: (صحبتک عين الله) يعني د الله ساتنه او رعايت دي ملګری شه.!

---

(۱) القرطبي ۹ / ۴۸

۲- ﴿ يَـٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَـٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي ﴾ دلته د ځمکي او آسمان ترمينځ د طباق صنعت او د ﴿ ٱبۡلَعِي ﴾ او ﴿ أَقۡلِعِي ﴾ ترمينځ ناقص جناس دى چي هر دواړه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

فائده:

ابن عباس رضى الله عنهما وايي: چي د الله جل جلاله پدې قول کي چي فرمايي: ﴿ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَ ﴾ زوى يې له خپله نسله وو او د هيڅ پيغمبر مېرمني هم زنا نه ده کړي معنا دا چي ستا دغه زوى له هغه اهله څخه نه دى کوم چي ماييې درسره د ژغورني وعده کړي وه (۱).

زه وايم: چي آيت شريف ددې تنبيه ورکوي چي د نوح اهل هغه صالحان خلګ دي کوم چي د دين او شريعت اهل يې وو او څوک چي صلحيت نلري نجات نشي موندلاى او د اهليت او خپلوي مدار په ديني نژدې والي او قرابت پوري اړه لري نه په نسبي نژدې والي پوري. (او زه ژباړونکى بيا د غه د سعدي رحمه الله بيت ورسره زياتوم چي:

(هزار خويش که بيګانه از خدا باشد * فداى يکتن بيګانه که آشنا باشد).

أبي الاسلام لا أب لي سواه * اذا افتخروا بقيس او تميم

زما پلار اسلام او پرته له هغه بل پلار نلرم کله چي خلګ په قيس او تميم باندي وياړي.

لطيفه:

وايي چي يوه اعرابي دا آيت شريف چي: ﴿ وَقِيلَ يَـٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَـٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي ﴾ ترپايه واورېدو نو بيې وويل: دغه د مقتدر ذات کلام دى د مخلوق له کلام سره ورته والى نلري وايي چي: ابن مقفع هغه چي د خپل وخت ترټولو د فصاحت خاوند وو وپتېيله چي داسي کلام چي له قرآنکريم سره معارض (سيال) او سارى وي جوړکړي نو يو کلام يې منظوم او وپېيل چي ټوټه ټوټه يې تفصيل کړ او د سورتونو نومونه يې ورباندي کښېښودل خو يوه ورځ په لاري تېرېدو چي يو ماشوم دغه آيت لوستل نو ابن مقفع بيرته کورته راستون شو او ټول هغه څه يې وران کړل کوم چي د قرآن د سيالي لپاره يې تيار کړي وو او ويې ويل: زه شاهدي وايم چي داهسي لوړ کلام دى چي سيال يې هيڅکله نشي پيدا کېدلاى او دغه د بشر کلام نه دى.

تنبيه:

دغه آيت د اعجاز د اسرارو وروستني پوړته ختلى دى زښته زيات نادر فوائد پکي نغښتي دي لفظي او معنوي دومره محاسن او ښکلاوي پکي شته چي قلم يې له ليکلو بې وسه دى ددې آيت درازونو او لطائفو په هکله علامه ابوحيان رحمه الله (وطيب ثراه) داسي ليکلي چي پدې کي د بديع د علم يوويشت ډوله صنعتونه او محسنات راغلي دي: مناسبت لکه پدې قول کي چي ﴿ ٱبۡلَعِي ... أَقۡلِعِي ﴾ بل مطابقت چي د ارض، او سماء يادونه پکي شوي مجاز: چي مراد له اقلعي څخه باران د آسمان دى استعاره: په ﴿ أَقۡلِعِي ﴾ کي او اشاره: په ﴿ وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ ﴾ کي څکه هغه ډېرومعناګانو ته اشاره ده تمثيل: پدې کلمه کي چي: ﴿ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ﴾ په امر سره يې د هلاک شوو د هلاکت او د ژغورل شوو د نجات تعبير وفرمايه بل ارداف دى: چي پدې کلام کي رادبره کېږي چي ﴿ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّ ﴾ څکه د واستوت لفظ تام (بشپړ) دى خو ورپسې د ردف په توګه ﴿ عَلَى

(۱) الطبري ۱۲/ ۵۱

﴿ ٱلْجُودِيِّ ﴾ کلمه راوړه شوي ترڅو په دغه مکان کي د تمکن په هکله د مبالغې قصد شوی وي. تعليل: پدې جمله کي چي ﴿ وَغِيضَ ٱلْمَآءُ ﴾ ځکه دغه د استواء لپاره علت دی. احتراس: لکه داچي: ﴿ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ او داهمغسي بيا د دوی لپاره ذم هم دی. ايجاز: کوم چي کيسه په ډېرو لنډو الفاظو راوړل شوي خو زښته زياتي معاني پکي راغلي دي نوري بديعي ښکلاوي يې لکه: ايضاح، مساوات، حسن نسق، تقسيم، حسن البيان، تمکين، تجنيس، تسهيم، مقابله، تهذيب، او وصف ګڼلي دي. (۱) پدې هکله د سيد قطب رحمه الله له في ظلال القرآن تفسير څخه غورځانې دلته يو څو کرښې رانقل کوو چي هغه وايي: د نوح عليه السلام د کيسې دغه برخه دې لوري ته پام رااړوي چي د قريشي مشرکانو دريز د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وړاندي کټ مټ لکه د نوح عليه السلام د قوم غوندي دی او داچي دوی به ويل: محمد صلی الله عليه وسلم دغه کيسې له خانه جوړوي ﴿ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ قُلْ إِنِ ٱفْتَرَيْتُهُۥ فَعَلَىَّ إِجْرَامِى وَأَنَا۠ بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ ﴾ نو افتراء خو يو ډول جرم او ګناه دی د هغه وبال خو ما ته راجع دی له دې کبله د اليري خبره ده چي زه پوهېږم دا جرم دی او بيايې هم مرتکب شم؛ دغه اعتراضي اسلوب د کيسې له روانولو سره څه مخالفت ځکه نلري چي کيسه ديو معلوم او څرګند غرض لپاره راوړل شوي ده او بيا د کيسې سياق پرمخ درومي او د وهمه پرده پورته کوي هغه داچي نوح عليه السلام د الله جل جلاله وحی اوري او امر يې مني چي ﴿ وَأُوحِىَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا ﴾ يعني زموږ په ساتنه او لوريينه يې جوړه کړه ﴿ وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴾ د هغوی برخه ليک (سرنوشت) وټاکل شو نور بلنه او انذار پای ته ورسيد او مباحثه او جدال بشپړ شو. د کيسې له پردو څخه دريمه پرده هغه چي نوح عليه السلام ښکاره کوي چي د ېړۍ په جوړولو لګيادی ﴿ وَيَصْنَعُ ٱلْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِۦ سَخِرُوا۟ مِنْهُ ﴾ دلته په مضارع سره تعبير کول دی چي پردې ته تازګي او ژوندي توب وربښي چي موږ هغه د خپل خيال په هنداره کي ددې تعبير په مرسته پخپلو سترګو وينو چي سرکښه متکبرين قوم يې ورباندي تېرېږي او په ملنډو مسخرو يې توهين کوي، وايي: هغه څوک چي دوی ته يې ويل: هغه الهی استازی دی خو نا بېره هغه نجار (ترکاڼ) شي او بېړۍ جوړوي څلورمه پرده هغه صحنه ښيې کومه چي د راتلو انتظارېې کېدو ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلْنَا ٱحْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ﴾ او بيا هغه هېښونکي او ترهونکي ننداره راځي چي د طوفان شبېې دي ﴿ وَهِىَ تَجْرِى بِهِمْ فِى مَوْجٍ كَٱلْجِبَالِ ...... وَحَالَ بَيْنَهُمَا ٱلْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُغْرَقِينَ ﴾ دلته دوه ډوله وېرونکي او هولناک حالتونه له يو بل سره تاوېږي يو د طبيعت د پټي خولې هول او هيبت او بل د بشري نفس هول دی چي سره غېږ ورکوي، او موږ وروسته له زرهاوو کالونو کله چي دغه منظر ته ګورو او ددغي پردې ننداره کوو له وېرې او هول څخه رېږدو چي:

﴿ وَهِىَ تَجْرِى بِهِمْ فِى مَوْجٍ كَٱلْجِبَالِ ﴾ نوح هغه مشفق او مهربان پلار چي زوی ته پرله پسې نارې وهي خوزوی يې هغه مغرور زلمی چي د پلار په خبره غوږ نه ګروي دغه بلنه نه مني او په غرغنډو څپه د دوی دواړو ترمنځ

(۱) النهر الماد من البحر ۵ / ۲۴۷

دستر کو په رب کي راپورته کېږي ، دوی سره بېلوي او خبره داسي فيصله کېږي چي: ﴿ وَحَالَ بَيْنَهُمَا ٱلْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُغْرَقِينَ ﴾ هرڅه پای ته رسي لکه چي بلنه اوځواب هيڅ هم نه وي پېښ شوي ، دغه دقرآن کريم په انځورنه کي يوه څرګنده نښه ده نور نوګرندي بادونه کرارېږي چوپتيا حکومت کوي او فيصله صادرېږي ځمکي او آسمان ته دهوښيارانو په شان خطاب کېږي او هر يو يې سمدستي دالله امر مني ځمکه هم او به غورپوي او آسمان يې هم دروي ﴿ وَقِيلَ يَٰٓأَرْضُ ٱبْلَعِى مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقْلِعِى وَغِيضَ ٱلْمَآءُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ وَٱسْتَوَتْ عَلَى ٱلْجُودِىِّ ۖ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ صدق الله العظيم .

* * *

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۖ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾
يَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِى فَطَرَنِىٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَٰقَوْمِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟
إِلَيْهِ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا۟ يَٰهُودُ مَا
جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِىٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٥٣﴾ إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعْتَرَىٰكَ بَعْضُ
ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٍ ۗ قَالَ إِنِّىٓ أُشْهِدُ ٱللَّهَ وَٱشْهَدُوٓا۟ أَنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِن دُونِهِۦ ۖ فَكِيدُونِى جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾
إِنِّى تَوَكَّلْتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّى وَرَبِّكُم ۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَآ ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقَدْ
أَبْلَغْتُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦٓ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّى قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾ وَلَمَّا جَآءَ
أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَنَجَّيْنَٰهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ عَادٌ ۖ جَحَدُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا۟
رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾ وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ أَلَآ إِنَّ عَادًا كَفَرُوا۟ رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ
قَوْمِ هُودٍ ﴿٦٠﴾ ۞ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ
وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّى قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ قَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَآ ۖ أَتَنْهَىٰنَآ
أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى
وَءَاتَىٰنِى مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِى مِنَ ٱللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُۥ ۖ فَمَا تَزِيدُونَنِى غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴿٦٣﴾ وَيَٰقَوْمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ
لَكُمْ ءَايَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا۟
فِى دَارِكُمْ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ ۖ ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا صَٰلِحًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ
بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْىِ يَوْمِئِذٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْعَزِيزُ ﴿٦٦﴾ وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى

دِيَٰرِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٦٧﴾ كَأَن لَّمْ يَغْنَوْاْ فِيهَآ ۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾ وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ ۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَءَآ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُواْ لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾ وَٱمْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَٰهَا بِإِسْحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ ﴿٧١﴾ قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عَجِيبٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوٓاْ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۖ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾ ﴾ هود: ۵۰ ـ ۷۳

مناسبت او تړاو:

دا دهغو کيسو دلړۍ دوهمه کړۍ ده چې الله پاک يې په دغه سورت کې يادوي داکيسه دهود عليه السلام له خپل قوم او تېرسره دبلني کيسه ده چې په خورا تفصيل سره يې قرآن کريم يادونه کړي ځکه نو دغه سورت هم دهود عليه السلام په نامه نومول شوی دی ورپسې دثمود يانو کيسه راوړي او بيا دابراهيم عليه السلام او دپرښتو زيرې چې داسحاق عليه السلام په هکله يې ده ته ورکوي راخلي او دا خلورمه کيسه ده.

لغتونه:

(مدرارا) په شپبو شپبو ډېر باران ته ويل کېږي دغه دمبالغې له صيغو څخه دی (اعتراک) تا ته رسېدلی وو (ناصيتها) تندی ، وچولی او دسر دوبښتو دراټوکېدلو ځای ته ناصيه وايي (جبارا) متکبر(عنيد) سـرغړونـکی نه منونکی. ابوعبيده وايي چې عنيد او معاند هغه په خلاف ولاړ معارض ته ويل کېږي (استعمركم فيها) يعني تاسو يې آبادونکي او سېدونکي دهغې ګرزولي ياست (تخسيرا) ګمراهي او له خير څخه ليري شوی (حنيذ) کباب شوی (نکرهم) هغوی يې ونه پيژندل ، ويل کېږي (نکره وانکره) په يوه معنا راځي او هغه دا چې په غيرمانوس (نابلده) شکل يې ويني.

تفسير:

﴿ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ﴾ اولېږلی وو موږ دعاد قوم ته (قومي) ورور ددوی هود (نبي) ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ﴾ وويل: (هود) اې قوم زما عبادت کوئ(يوازې) دالله (پرته له نورو الهه وواوبتانو ځکه چې) نشته معبود(مستحق دعبادت) غير له الله نه ﴿ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴾ نه يې تاسي مګر دروغ تړونکي ياست (په عبادت کولو دغيرالله ځکه له الله پرته بل معبود نشته) ﴿ يَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴾ اې قومه زما نه غواړم له تاسي په دې تبليغ درسالت څه اجر او ثواب) ﴿ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِى فَطَرَنِىٓ ﴾ ندی مزدوري (ثواب) زما مګر په هغه الله چې زه يې پيدا کړی يم ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ آيا نو تاسي عقل نه

کوئ (چي هغه ځوک چي تاسو پرته له مزدوري غوښتلو د حق او خير لوري ته رابولي امين او نصيحت کونکی دی ؟ استفهام د انکار او ټکوني لپاره راغلی دی ﴿ وَيَٰقَوۡمِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ ﴾ او اې قومه زما ! مغفرت وغواړئ (له کفر او اشراک) له خپل ربه بيا رجوع وکړئ طرف د دغه رب ته (په اطاعت کولو او ثبات په دين او استقامت په ايمان او توحيد باندي) ﴿ يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا ﴾ چي وبه لېږي (الله له جانبه د) آسمان پر تاسي (باران) اورېدونکی (په شپبو شپبو پر له پسې) روايت کاوه شي چي له عاديانو څخه درې کاله باران منع شوی وو آن تردې چي د مرګ کومي ته نژدې شوي وو نو هود عليه السلام دوی ته د توبې او استغفار امر وکړ او د باران د اورښت وعده (ژمنه) يې ورسره وکړه په آيت شريف کي د دې دليل شته چي توبه او استغفار د رحمت او بارانونو د اورېدلو سبب کېږي ﴿ وَيَزِدۡكُمۡ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمۡ ﴾ (او درزيات به کړي الله قوت پر قوت ستاسي) يعني ستاسو په عزت او ويا ړ به نور عزت او افتخار د پاسه درکړي . مجاهد وايې : معنا دا چي ستاسو په شدت به نور شدت درزيات کړي (۱) ځکه دوی سخت قوت او شدت درلود آن تردې چي ويل به يې : ﴿ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ﴾ [فصلت: ۱۵] ﴿ وَلَا تَتَوَلَّوۡاْ مُجۡرِمِينَ ﴾ او مخ مه ګرزوئ تاسي (زما له دعوت نه) حال دا چي ګنهګاران اوسېږئ) په ګناهونو او جرمونو باندي اصرار کوئ) ﴿ قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ ﴾ وويل : دوی اې هوده ! تا موږ ته ظاهره دليل نه دی راوړی (چي ستا د نبوت تصديق کوي) الوسي وايې : دوی دغه خبره د زيات عناد له مخي او دا چي د حق له ليدلو څخه ړانده وو کوله (۲) ﴿ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوۡلِكَ ﴾ او نه يو موږ پرېښودونکي د (عبادت د) بتانو خپلو له جهته د وينا ستا ﴿ وَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴾ او نه يو موږ پر تا باندي ايمان راوړونکي (چي ستا نبوت او رسالت ومنو دغه خبره دوی د دغه د ناهيلي کولو لپاره ويله او بيا يې هغه په لېونتوب او آزاري باندي وستايو ويې ويل : ﴿ إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعۡتَرَىٰكَ بَعۡضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٖ ﴾ نه وايو موږ مګر (دا وايو) چي رسولی دی تا ته ځينو خدايانو زموږ څه ضرر (لېونتوب ځکه چي تا هغوی ته بنکنځل کړي او موږ دي د دوی له عبادت څخه منع کړي يو ؛ زمخشري وايې : چي د دوی ړومبني ځوابونه پدې دلالت کوي چي دوی جفاکار قوم وو سخت زړونه يې درلود ل پنديې نه اورېدو او نه يې د هدايت لپاره مينه لرله خو دا وروستۍ خبره يې بيا دا ځرګندوي چي هغوی بېخي زيات بې عقل او ناپوهان هم وو چي دوی په ډبروداسي ګمان کاوو چي دغه کسات اخيستونکي او ضرر رسونکي دي (۳) ﴿ قَالَ إِنِّيٓ أُشۡهِدُ ٱللَّهَ وَٱشۡهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ۝ مِن دُونِهِۦۖ ﴾ نو وويل هود : بېشکه زه شاهد کوم الله او شاهدان شی تاسي (هم) چي بېشکه زه بېزاريم له هغو خدايانو چي تاسي يې له الله سره (په عبادت کي) شريکوئ پرته له الله (نور اوثان او بتان) ﴿ فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴾ نو حيلې جوړي کړئ تاسي ټول (د هلاک) زما ته بيا ما ته مهلت مه راکوئ (يوه شېبه) ابو السعود وايې : چي دغه تر ټولو ستره معجزه ده هغه ايکي يوازي خو د دوی خورا زيات سرکښه قوي او غښتلي ټولی . وه له دې سره سره بيا هم هود عليه السلام دوی سپک وګڼل او د دوی د بتانو سپکاوی يې کاوو او دوی يې مبارزې ته راوبلل خو دوی هيڅ هم ونشو کړای او عجز يې تر

(۱) الطبري ۱۲ / ۵۸

(۲) الالوسي ۱۲ / ۸۱

(۳) الکشاف ۲ / ۴۰۳

لمرروښانه څرګندشو(۱) زمخشري وايې: چې داخوراستره دقوت نښه ده چې يوازې يوسړی دټول هغه امت په وړاندې چې هغوی وينې تويولو ته تږې ناست وي اوټول په يوه سلا اويوه خوله له ده سره جنګېږې بيا هم په ميدان دربېږي دغه دهغه په خپل رب پوخ باور اوټينګ ايمان څرګندوي چې الله پاک به ارو مرو ده ته نجات ورکوي اود دوی خونخواري منګولي به هيڅکله په ده ونه لګېږې اولکه چې نوح عليه السلام ويل: ﴿ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ﴾ (۲) ﴿ إِنِّي تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمۚ ﴾ (بېشکه ماتوکل کړی دی پر(هغه) الله چې رب زما او رب ستاسي دی) يعني ماالله ته پناه وروړې اودخپل کار سپارښتنه مي هغه ته کړې ده چې زما او ستاسي مالک دی ﴿ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذُۢ بِنَاصِيَتِهَآۚ ﴾ نشته هيڅ تلونکی (ذې روح خوځېدونکی په ځمکه کې مګر هم دغه (الله) دی نيونکی دتندي دده يعني ټول دالله په پاچهي اوسلطان کې دی اوداجمله دهودعليه السلام دتوکل دقوت لپاره علت دی چې ګواکي هغه په مخلوق باندې پروانکوي ﴿ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴾ (بېشکه رب زماپه لاره سمه دی) يعني بېشکه زما رب عادل دی محسن ته په احسان دهغه جزاورکوي او ګنهګارته له ګناه سره سمه سزا ورکوي په هيڅاظلم نکوي. ﴿ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦٓ إِلَيۡكُمۡۚ ﴾ نوکه مخ واړوئ تاسي (اې زماقومه له منلودعوت زماځخه) نوپه تحقيق رسولې دی ماهغه پيغام چې رالېږلی شوی وم په هغه سره تاسوته (اونشته په پيغمبرباندې مګر رسېدل اوبلاغ دی) ﴿ وَيَسۡتَخۡلِفُ رَبِّي قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ ﴾ (نوهلاک به کړي تاسو) اوخليفه به وګرزوي رب زما(ستاسي په ځای به راولي) يوقوم غير له تاسي نه (پدې کي سخت وعيددی) ﴿ وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيۡـًٔاۚ ﴾ اوضرر به ونه رسوئ تاسي الله ته دهيڅ شي (په شريک نيولو سره) ﴿ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ﴾ بېشکه رب زماپه هرشيزښه ساتونکی (شاهد) دی هغه ماستاسوله شر، مکرځخه ژغوري ﴿ وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا هُودٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا ﴾ اوکله چې راغی حکم زموږ (په عذاب) نجات مو ورکړ هوداوهغه کسانوته چې ايمان يې راوړی وو له ده سره په (لوی) رحمت سره له نزده خپله (اوپه سبب دنعمت زموږ پردوی باندې) ﴿ وَنَجَّيۡنَٰهُم مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيظٖ ﴾ او وژغورل موږ دوی له سخته عذابه (چې هغه هلاکونکی طوفاني باد اوسېلۍ وه کورونه يې ورانول داسي (زهرناک) بادوو چې په پوزو به يې ننوت اوترلاندني مخرج به يې وتل دالله دښمنان به يې هسي پرمخي غورځول ته به وادخرماله بېخه ايستلي شوي ونوتنې دي ﴿ وَتِلۡكَ عَادٞۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ ﴾ اودغه عاديان دي (اشاره ددوی آثاروانښانونوته ده) چې منکران شوي وو په آيتونو درب ددوی (وګورئ ورته چې څه ورپېښ شول ؟ هغه وخت چې په الله کافران شول دالله آيات يې پخپلو ځانونو اوآفاقوکي نه ليدل هغه ايات چې دالله پر وحدانيت يې دلالت کاوو) ﴿ وَعَصَوۡاْ رُسُلَهُۥ ﴾ اونافرماني کړې وه دوی له رسولانودغه الله (چې هودعليه السلام وو) دجمعي په صيغه يې له دې کبله راووړچې ددوی دحال فظاعت وښيې اوددوی دکفراوعناد بشپړوالی څرګند کړي يعني ددوی عصيان له هود عليه السلام ځخه لکه چې له ټولو پخوانيواوراتلونکوپيغمبرانو څخه يې سرغړونه کړې وي ځکه انبياء ټول دتوحيد په کلمه باندې يوموټی

(۱) ابو السعود ۳/ ۱۵

(۲) الکشاف ۲/ ۴۰۳

اومتحد دي. ﴿ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ﴾ او تابع شوي وو دوى دحكم دهر سركښه عناد والا(هغه چي له حق څخه کوږ او حق يې نه مانو مراد ځني هغه ددوي مشران اولويان دي) ﴿ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ ﴾ او ولېږلی شو په دوی پسي په دغه دنياکي لعنت (دالله له رحمت څخه په دنياکي وشړل شول) او په ورځ دقيامت کي (هم لعنت وزباندي دی) امام رازي رحمه الله وايي: چي لعنت له دوی سره جوخت سپور (مرادف) او په آخرت کي ملګری دی اولعنت په لغت کي له هرډول خير اودالله له رحمت څخه شړلو ته وايي (١) ﴿ أَلَآ إِنَّ عَادٗا كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ ﴾ (خبرداربېشکه عاديان کافران شوي وو په رب خپل) دغه ددوی دکفربدي اوتشنيع ده چي دتنبيه په حرف سره يې ځني يادونه وکړه اود عادنوم يې تکرارکړ يعني خبردار چي دوی پخپل رب کافران اوله هغه پرته دبل چاعبادت يې کاوو دالله له نعمت څخه انکار اودالله دپيغمبر يې تکذيب کاوو نوددنيا اوآخرت دلعنت وړاومستحق وګرزېدل ﴿ أَلَا بُعۡدٗا لِّعَادٖ قَوۡمِ هُودٖ ﴾ (بيا واورئ خبردار شئ چي ليري والی دی (له رحمت دالله) عادقوم دهودته) يعني الله هغوی له خير څخه ليري اوبومخه ايزه تړول هلاک کړي دغه جمله دعائيه يعني دهلاکت اولعنت لپاره ښېراده ﴿ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ ﴾ (اولېږلی وو موږ) ثموديانوته (قومي) ورورددوی صالح عليه السلام ﴿ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ ﴾ وې ويل: اې قومه ! زما عبادت کوئ (يوازي) دالله نشته تاسي ته هيڅ برحق معبود غيرله ده الله) نه ﴿ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا ﴾ هم دغه الله پيدا کړي ياست تاسي له ځمکي (چي آدم يې ترې پيدا اوبيا نور خلګ يې دده له نطفې پيداکړل اوتاسي يې دځمکي دآبادولو اوهستوګني لپاره وګمارلی ﴿ فَٱسۡتَغۡفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ ﴾ نومغفرت وغواړئ له ده څخه دشرک اوبيارجوع وکړئ ده ته (په طاعت سره) ﴿ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٞ مُّجِيبٞ ﴾ بېشکه رب زما ډېرنږدې دی (په رحمت) ښه قبلونکی ددعادی ﴿ قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآۖ ﴾ (وويل: ثموديانو اې صالحه ! په تحقيق ته په موږ کي اميد کړی شوی وې پخوا له دې نه) يعني موږ پخوا داامېد لرل چي ته به په موږ کي سرداريې مګرکله چي دې دغه ويناوکړه موږ ناهيلي شو ﴿ أَتَنۡهَىٰنَآ أَن نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا ﴾ آيا ته موږ له دې منع کوې چي موږ دهغوبتانو عبادت وکړو چي عبادت به يې کاوو پلرونو زموږ؟ ﴿ وَإِنَّنَا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ﴾ (اوبېشکه موږ خامخا په شک کي لوېدلي يو له هغه (توحيده) چي ته بولې موږ هغه ته داسي شک چي زموږ زړونه په اضطراب کي اچوي) يعني ستاکارشکمن اودتهمت نه ډک دی ﴿ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي ﴾ وويل: صالح اې قومه زما ! آياوينئ تاسي يعني خبرراکړئ ماته که يم زه (په برهان ، دليل) ښکاره له جانبه درب خپل نه ﴿ وَءَاتَىٰنِي مِنۡهُ رَحۡمَةٗ ﴾ او راکړی يې وي ماته له نزده خپله (نبوت اورسالت ﴿ فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنۡ عَصَيۡتُهُۥۖ ﴾ نوڅوک به له ماسره مدد وکړي (خلاص به مي کړي) له عذابه دالله که نافرماني وکړم زه له ده نه

(١) الفخر الرازي ١٨ / ١٢

؟ ﴿ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴾ (نونه به زياتوي ماته غيرله نقصانه يعني ستاسوسره موافقت اوله الله څخه عصيان به ماته پرته له ګمراهي اوله خيرڅخه د ليري کېدلو بل څه رازيات نکړي. زمخشري وايې: چي د ﴿ غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴾ معنادا چي تاسو زماعملونه ابته کوئ اوباطلوئ يې ﴿ وَيَـٰقَوْمِ هَـٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ﴾ اواې قومه زما! دغه اوښه دالله ده تاسي ته معجزه) پرېږدئ دا(اوښه) چي خوري (څري) په ځمکه دالله کي) داوښي نسبت کول الله ته دتشريف لپاره دی ځکه هغه اوښه دالله په قدرت له سختي کرکنډي دبري څخه ددوی له غوښتني سره سمه پيداشوي وه يعني دغه اوښه ستاسولپاره معجزه ده چي زمادرښتنولی شاهدي وايې ﴿ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴾ اولاس مه ور وړئ دې ته په بدي (اوکه موبدي ور ورسوله) نوتاسي به نژدې عذاب ونيسي (مهلت به درنکړی شي) ﴿ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا۟ فِى دَارِكُمْ ثَلَـٰثَةَ أَيَّامٍ ﴾ پس زخمي اومړه يې کړه هغه (اوښه) نو وويل: صالح فائده واخلئ تاسي په کورونو خپلو کي درې ورځي بيابه هلاکېږئ) قرطبي وايې: چي بېشکه اوښه ځيني کسانو ووژله خوټولو ته يې نسبت وکړهغه پدې چي دټولو خوښه وه دوی هغه دچهارشنبې په ورځ ووژله اودرې شپې چي پنجشنبه ، جمعه اوشنبه وه دوی واوسېدل اوديکشنبې په ورځ ورته عذاب راغی ﴿ ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴾ دا(راتګ دعذاب) داسي دی چي هيڅ دروغ پکي نشته ﴿ فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا صَـٰلِحًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ ﴾ بيا کله چي راغی امر (حکم دعذاب) زموږ نوموږ نجات ورکړ صالح اوهغو کسانو ته چي له ده سره يې ايمان راوړی وو ﴿ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ﴾ په رحمت سره له نزده خپله ﴿ وَمِنْ خِزْىِ يَوْمِئِذٍ ﴾ (اوله رسوايي ددغي ورځي (اوذلت څخه يې) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْعَزِيزُ ﴾ (بېشکه رب ستاهم دی قوي اوښه غالب) يعني قوي دی په نيولوسره اوزوروردی په پاچهي کي هيڅوک په ده برلاسی کېدای نشي ﴿ وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دِيَـٰرِهِمْ جَـٰثِمِينَ ﴾ او ونيول هغو کسانو لره چي ظلم يې کړی وو پرڅانو خپلو سره چيغي (سختي له آسمانه چي زړونه يې چودل) بيا وګرزېدل دوی پخپلو کورونو کي مړه وچ کلک (چي خوځېدلی نشوای) پرمخی په ځنګنونو پراته وو (لکه چي مرغه راپرېوزي) ﴿ كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَآ ﴾ لکه چي دوی په کورونو کي نه وو اوسېدلي (نه يې آبادکړي وو) ﴿ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَا۟ كَفَرُوا۟ رَبَّهُمْ أَلَا بُعْدًا لِّثَمُودَ ﴾ واورئ، خبردارشئ چي بېشکه ثموديان کافران شوي وو په رب خپل ، واورئ ، خبردار شئ ليري والی دی له رحمته ثموديانو ته (يعني پردوی لعنت ، هلاکت اوليري والی دی)

﴿ وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ ﴾ (او هرومرو په تحقيق راغلي وو رسولان زموږ (پرښتې) ابراهيم ته په زېري) دغه څلورمه کيسه ده چي دلوط عليه السلام اودقوم په هکله يې بيان کوي هغه قوم چي دده تکذيب يې کاوو اودغوملائکو ابراهيم عليه السلام ته په اسحاق عليه السلام باندي زېری هم راوړی وو (۱) قرطبي وايې: چي کله الله پاک دلوط عليه السلام دقوم دهلاکت لپاره ملائک راواستول نوابراهيم عليه السلام ته راغلوهغه

(۱) (بشری)دزوی زېری چابياويلي چي دلوط دقوم دهلاکت زېری خوزمخشري وايې چي: دزوی زېری ظاهراوڅرګند دی.

ورباندي دمېلمنو ګمان وکړ ملائک حضرت جبريل ، ميکائيل اواسرافيل عليهم السلام وودغه دابن عباس رضی الله عنه قول اوسدي وايې چي يوولس پرښتې وې چي دښکلو ځوانانو په بڼه راغلي وې ﴿ قَالُواْ سَلَٰمٗا ﴾ (۱) وويل: ملائکو سلام (اچوو پرتاسي په سلام اچولو سره) ﴿ قَالَ سَلَٰمٞ ﴾ وويل: ابراهيم سلام (دي وي پرتاسو) ﴿ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ ﴾ نوځنډ يې ونکړ چي (دوی ته) يې وريت (کباب) شوی خوسی راووړ (او وروته يې کښېښود. زمخشري وايې: چي (عجل) دغوا زوی ' خوسي ته وايي اوهغه ته (حسيل) هم وايي دابراهيم عليه السلام مالداري غوايان وود ﴿ حَنِيذٖ ﴾ معناداچي په اورسرې شوو ډبرو باندي کباب شوی وو اوڅاڅيدونکي چي د (حنيذ) معناداچي غوړي ځني څڅېدل اودادخوسي په ځاغښت باندي دلالت کوي (۲) ﴿ فَلَمَّا رَءَآ أَيۡدِيَهُمۡ لَا تَصِلُ إِلَيۡهِ نَكِرَهُمۡ ﴾ اوکله چي وليدل ابراهيم داچي لاسونه يې (غوښي ته) نه رسېږي نونابلديې وګڼل (داپېښه ورته ناخوښه ځرګنده شوه) ﴿ وَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۚ ﴾ اوپه زړه کي يې راوسته له دوی نه وېره. قتاده وايې: چي په عربو کي داسي دود (دستور) ووچي څوک به ورکره راغلل خودکوربه له ډوډۍ څخه به يې څه نه خوړل کوربه پوهېدو چي دغه مېلمانه دخيرلپاره ندي راغلي ځکه ابراهيم عليه السلام پټ په زړه کي ددوی له شرڅخه وبېرېدو (۳) ﴿ قَالُواْ لَا تَخَفۡ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمِ لُوطٖ ﴾ (وويل: ملائکوچي مه وېرېږه ! موږ بېشکه لېږلي شوي يو قوم دلوط ته (چي هلاک يې کړو) يعني ته مه وېرېږه موږ دالله ملائک يو خوراک نه کوو اودلوط عليه السلام دقوم دهلاکت لپاره رااستول شوي يو ﴿ وَٱمۡرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٞ فَضَحِكَتۡ ﴾ او مېرمن دده (ابراهيم) ولاړه وه نو ويې خندل ؛ دهغې نوم ساره اوترپردې هاخوا ولاړه وه کله چي يې دلوط عليه السلام دقوم دهلاکت واورېدل نوله خوښي يې وخندل ﴿ فَبَشَّرۡنَٰهَا بِإِسۡحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ﴾ نو زېری ورکړ موږ هغې ته (دپرښتو په ژبه په تولد) داسحاق اوبيا پس له اسحاقه په (تولد دلمسي ددې) يعقوب ﴿ قَالَتۡ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٞ وَهَٰذَا بَعۡلِي شَيۡخًاۖ ﴾ نو وويل: هغې (ساره) اې زماتعجب آيا زېږومه زه (زوی) حال داچي زه زړه يم اودغه (ابراهيم) مېړه زمازوړ دی (څرنګه به مو اولاد وشي ؟) ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عَجِيبٞ ﴾ بېشکه چي دغه (تولد) يوشی دی ډېرعجيب (چي په عادت کي پېښ شوی ندی. مجاهد وايې : چي ددې عمر په دغه وخت کي نه نوي (۹۹) کاله او دابراهيم عليه السلام عمر يوسل اوشل کاله (۱۲۰) وو (۴) ﴿ قَالُوٓاْ أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ ﴾ (وويل: دغو (ملائکو) آياتعجب کوې له امره دالله ؟) يعني آياته دالله له قدرت اوحکمت څخه تعجب کوې چي هغه څرنګه له بوډاګانو مېړه اومېرمني زوی پيدا کوي ؟ دغه خوځه دتعجب خبره نه ده ﴿ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ

---

(۱) القرطبي ۹ / ۲۳

(۲) الکشاف ۲ / ۴۰۹

(۳) الطبري ۱۲ / ۷۱

(۴) البيضاوي ۲۵۳

﴿ٱلْبَيْتِ﴾ رحمت دالله اوبرکتونه دده دي وي پرتاسي اې خاوندانو دکورونو دابراهیم ! ﴿إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ﴾ ببشکه چي الله ښه ستایلی شوی دلویې خاونددی (په ذات اوصفاتوکي یعني الله دستاینې اوتمجید ور اومستحق دی چي بندګان یې وستایې اودغه لکه چي دزېري لپاره تعلیل راغلی وي.

بلاغت:

۱-پدې کلام کي چي الله فرمایې: ﴿يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا﴾ مرادله آسمان څخه باران دی اودغه مرسل مجازدی څکه چي باران له آسمانه راووري ذکر دمحل اومراد څنې حال اومدرار بیا دمبالغې لپاره راغلی دی.

۲-﴿فَكِيدُونِى جَمِيعًا﴾ دلته امرلپاره دتعجیز راغلی دی.

۳-کله چي الله فرمایې: ﴿مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَآ﴾ دلته تمثیلیه استعاره ده مخلوق یې هغه چي دالله په قدرت ، واک اوملکیت کي دی له هغه څه سره مشابه کړی کوم چي زورور یې ترمهار نیسي بیایې لکه بندي (اسیر) آس اونورچي له ناصیې نیولی بېول کېږي.

۴-﴿إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ دلته دالله دعدل له کمال اوبشپړ توب څخه کنایه راغلې یعني الله دبندګانو په ټولو امورو خبردار او هیڅ څوک څني خلاصېدلای نشي څوک چي الله ته پناه ورورې بیایې هیڅوک څورولای نشي.

۵-پدې جمله کي چي الله تعالی فرمایې: ﴿وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا﴾ امرله عذاب څخه کنایه ده.

۶-﴿نَجَّيْنَا هُودًا... وَنَجَّيْنَٰهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ﴾ تکرار دنجات دکلمې ددې لپاره دی چي دهرسخت او مشکل کار په وړاندي دي آسانه نه دي دغه ته اطناب وايې.

۷-﴿وَعَصَوْا۟ رُسُلَهُۥ﴾ یعني دوی دخپل پیغمبر(هود) له امرڅخه غاړه غړولې وه اوپدې کي ددوی دحال فضاعت معلومېږي لکه چي دوی له ټولو پیغمبرانو څخه عصیان کړی وي هغه چي پخواتېرشوي ، یاوروسته راځي او دې ته مرسل مجاز وایې چي اراده دکل شوي اومراد څني جزوي.

۸-﴿أَلَآ إِنَّ عَادًا ...أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ﴾ دلته دتنبیه ادات(توري) اوهمداراز د(عاد) لفظ مکرر راوړل شوی ترڅو ددوی دحال په هیبت دلالت وکړي.

تنبیه:

هودعلیه السلام هسي ونه ویل چي (انی اشهد الله واشهدکم) بلکه هسي یې وویل چي: ﴿إِنِّىٓ أُشْهِدُ ٱللَّهَ وَٱشْهَدُوٓا۟ أَنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ﴾ دادډې لپاره چي د دوو ګواهیو (شهادتونو) مساوات رانشي څکه دالله ﷻ شهادت اودبنده شهادت خورا سره زیات توپیرلري اوچیري سره یوځای برابرېدلای شي ؟.

* * *

الله تعالی فرمایې:

﴿ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾
يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ ۖ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ
بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾ وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ
قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِى ضَيْفِىٓ ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾ قَالُوا۟ لَقَدْ
عَلِمْتَ مَا لَنَا فِى بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾ قَالَ لَوْ أَنَّ لِى بِكُمْ قُوَّةً أَوْ ءَاوِىٓ إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾ قَالُوا۟ يَٰلُوطُ
إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ ۖ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ
أَصَابَهُمْ ۚ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ ٱلصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾ فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا
حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِىَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾ ۞ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ
شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ وَلَا تَنقُصُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ ۚ إِنِّىٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ
وَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾ وَيَٰقَوْمِ أَوْفُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَلَا تَبْخَسُوا۟
ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم
بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾ قَالُوا۟ يَٰشُعَيْبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِىٓ أَمْوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُا۟ ۖ
إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلْحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى وَرَزَقَنِى مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَمَآ أُرِيدُ
أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَآ أَنْهَىٰكُمْ عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا ٱلْإِصْلَٰحَ مَا ٱسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِىٓ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ
﴿٨٨﴾ وَيَٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِىٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَآ أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَٰلِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ
مِّنكُم بِبَعِيدٍ ﴿٨٩﴾ وَٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّى رَحِيمٌ وَدُودٌ ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟ يَٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا
مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَٰكَ ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ﴿٩١﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَهْطِىٓ أَعَزُّ
عَلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَٱتَّخَذْتُمُوهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۖ إِنَّ رَبِّى بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٩٢﴾ وَيَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ
مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌ ۖ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَٰذِبٌ ۖ وَٱرْتَقِبُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُمْ
رَقِيبٌ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى
دِيَٰرِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٩٤﴾ كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَآ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ
مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ فَٱتَّبَعُوٓا۟ أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ وَمَآ أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ
فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَٰذِهِۦ لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ بِئْسَ ٱلرِّفْدُ ٱلْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾ ﴾

مناسبت او تړاو:

تراوسه لا کېسه دابراهیم علیه السلام دمېلمنو روانه ده هغه پرښتې چې دلوط علیه السلام دقوم دهلاکت لپاره رااستول شوي او دابراهیم علیه السلام په کور مېلمانه وو چې بیایې (سارة) ته دزوی زېری واورول نور بیاآیتونه دلوط علیه السلام دقوم دهلاکت بیان کوي چې دوی ته څه ورپېښ شول او دغه پنځمه کیسه ده ورپسې دشعیب علیه السلام کېسه راوړي چې په مدین کي له خپل اهل سره مېشت وو ورپسې دموسی علیه السلام اوفرعون کیسه ده چې پدې ټولو کي ډېرعبرتونه اوپندونه شته.

لغتونه:

(الروع) وېره اوډار(منیب) رجوع کونکی اوتوبه ګار (عصیب) په شرکي سخت (یهرعون) تلوارکونکی فراء وایې: چي (اهراع) اسراع ته وایې چي ورسره لړزېدل ملګري وی هغه که له یخني وي اوکه له غصې اوقهره (۱) (مخزون) خزی ذلت اوسپکتیا ته وایې (سجیل) سجیل اوسجین سخته له ډبري او فراء وایې داهغه خته ده چي په اور پخه اولکه ډبره غوندي وي (۲) (منضود) پرله پسې (مسومة) معلوم داره له (سیما) څخه اخیستل شوي اوهغه علامې ته وایې (شقاقی) شقاق عداوت او دښمني ته وایې (رهطک) خپلوان ستا هغه چي ملاتړ یې غواړي (الورد) دننوتلوځای (رفد) عطااو مرسته بولي.

تفسیر:

﴿ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ ﴾ (نوکله چي له ابراهیم څخه وېره ولاړه) هغه چي په زړه کي ورته پیدا شوې وه اوپدې مطمئن شو چي دغه ملائکي دي ﴿ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ ﴾ اوزېری ورته راغی (دزوی) ﴿ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴾ (نوبیایې جګړه کوله (له رسولانو) زموږ سره په (حق) دقوم دلوط کي) چي مقصدیې له هغوی څخه دعذاب ځنډېدل وو چي ښایې هغوی ایمان راوړي. مفسرین کرام وایې: کله چي ملائکوو ویل: ﴿ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ۖ ﴾ (العنکبوت۳۱) نوابراهیم علیه السلام دوی ته وویل: چي آیاکه پنځوس تنه مسلمانان پکې وي تاسویې هلاکوئ ؟ هغوی وویل: نه بیایې ورته وویل: چي آیاکه څلوېښت تنه پکې وي هلاکوئ یې ؟ هغوی ورته وویل: نه آن تردې چي وارپه وار ښکته راتو اوبالآخره یې ورته وویل: چي آیاکه یوتن مسلمان پکې وي هلاکوئ یې ؟ هغوی وویل: نه نوابراهیم علیه السلام ورته وویل: ﴿ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا۟ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ (العنکبوت۳۲)

---

(۱)القرطبي ۹ / ۷۴ (۲).

(۲) زه ژباړونکی ورسره دازیاتول غواړم چي ځیني خلګ وایې دغه له فارسي څخه اخیستل شوی (سنګ ګل) دی اوهغه له ختې څخه پخې شوي ته وایې چي لکه ډبره غوندي وي دغسې معربي کلماتي نوري هم شته لکه (جناح) هغه په فارسي ګناه بولي معلومه خبره ده چي دفارسي ګاف په عربي کي په جیم تلفظ کېږي.

﴿ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴾ بېشکه ابراهيم خامخا تحمل والا لوی آه کونکی نرم زړه دی) يعني حضرت ابراهيم عليه السلام له ګنهکارانو څخه په تلوار د کسات اخيستلو پلوی نه وو د زړه له نرمي به يې په خلکو زيات افسوس کاوو د الله د طاعت لوري ته زيات راګرزېدونکی وو ﴿ يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَآۖ ﴾ (اې ابراهيمه ! او اوړه له دې (جګړې) څخه) يعني ملائکو وويل: اې ابراهيمه ! دغه مجادله پرېږده چي د لوط د قوم په هکله يې کوې بلکه د دوی د هلاکت فيصله شوې ده ﴿ إِنَّهُۥ قَدۡ جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ ﴾ بېشکه شان دا دی په تحقيق راغلی دی حکم د رب ستا (په هلاکت د دوی) ﴿ وَإِنَّهُمۡ ءَاتِيهِمۡ عَذَابٌ غَيۡرُ مَرۡدُودٍ ﴾ او بېشکه دوی ته راتلونکی دی (هغه) عذاب چي بيرته نه ګرزي يعني له دوی څخه دفع کېدونکی نه دی ﴿ وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطًا سِيٓءَ بِهِمۡ ﴾ او کله چي راغلل رسولان زموږ لوط ته نو لوط په هغوی غمجن شو (څکه دوی خان د بشر په بڼه ورته څرګند کړ او لوط عليه السلام (چي د دوی ښايست وليد) له خپله قومه ورباندي وېرېدو ﴿ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٌ ﴾ او تنګه شوه له جهته د دوی سينه د ده (چي وېرېدو اشرار قوم يې بې عزتي ونکړي) او وويل لوط دغه يوه ورځ ده ډېره سخته (له شره ډکه). ﴿ وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ إِلَيۡهِ ﴾ او راغی ده ته قوم د ده حال دا چي راځغاست ده ته (لپاره د بدکاري کولو له مېلمنو سره) داسي په منډه راتلل لکه چي چا راپوري وهل ﴿ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ﴾ (او پخوا (له دې نه هم) دوی ناکاره عملونه کول) دا يې عادت وو چي په نارينه وو به يې جنسي تېری کاوو هيڅ شرم يې نه ګاڼه او کله چي يې خبر واورېدو په منډه منډه يې راځغاستل. قرطبي وايي: چي د دوی د منډو سبب دا وو چي د لوط عليه السلام مېرمني چي کافره وه کله چي يې مېلمانه او د دوی جمال ، ښايست يې وليدل نو راووته ترڅو چي د دوی د ناستي ځای ته راغله او ورته يې وويل: چي نن د لوط هسي زلمي مېلمانه راغلي چي ما د هغوی په شان ښکلانه ده ليدلي نو دوی پدې وخت کي په ځغاسته ورته راغلل (١) ﴿ قَالَ يَٰقَوۡمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡۖ ﴾ نو وويل: لوط اې قومه ! زما دا ښځي لوڼي زما دي يعني دغه د ښار پېغلي زما لوڼي دي تاسو ته به يې په نکاح درکړم) چي دوی تاسي ته ښې پاکي دي (او دا چي ويې ويل: زما لوڼي دي څکه هر نبي د خپل امت لپاره په شفقت او تربيه کي پلار دی) ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ فِي ضَيۡفِيٓۖ ﴾ نو له الله وو وېرېږئ او ما په حق د مېلمنو کي مه رسوا کوئ ﴿ أَلَيۡسَ مِنكُمۡ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴾ (آيا نشته له تاسي کوم سړی عاقل) چي له بدو کارونو مو راوګرزوي ؟ استفهام د توبيخ لپاره دی ﴿ قَالُواْ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ حَقٍّ ﴾ وويل: قوم د لوط خامخا په تحقيق ته پوه يې چي نشته موږ لره ستا په لوڼو کي هيڅ حاجت (رغبت) يعني ته پوهېږې موږ ښځو ته رغبت نلرو ﴿ وَإِنَّكَ لَتَعۡلَمُ مَا نُرِيدُ ﴾ او بېشکه ته خامخا پوهېږې چي موږ کوم کار غواړو (چي هغه له نارينه وو سره لواطت دی) الله دي دوی وشرموي دوی د خپل ناولي مقصد بيان په ډاګه وکړ ﴿ قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ﴾ (نو وويل: لوط کاشکي ما ته پر تاسي زور وای ، يا مي پناه وړای شوی ټينګ پناه ځای ته) يعني

---

(١) القرطبي ٩ / ٧٥

کاشکي مادومره زور درلودای چي ستاسي مي مخه نيولي وای اويا خپلوانو قريبانوته مي چي غښتلي وای پناه وروړي وای دلو خواب محذوف دی اوتقدير يې داسي راځي چي مابه په تاسو حمله کړي وه. په حديث شريف کي راځي: الله دي په لوط ﷺ رحم وکړي غوښتل يې ټينګ پناه ځای ته پناه يوسي (¹) درسول الله صلی الله عليه وسلم مقصد داچي الله يې مرستندوی اومحکم پناه ځای وو. قتاده وايي: چي موږته داسي يادونه شوي چي الله پاک له لوط عليه السلام نه وروسته هيڅ نبي ندی را استولی مګر دقوم قبيلې ملاتړ به يې درلود. اوپه هغه وخت کي چي پرښتو دده په خپله يې وزلي افسوس او يو وزري، بې ملاتړو حالت وليد نو وبې ويل: ﴿قَالُوا يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ﴾ وويل: ملائکو: اې لوطه! ببشکه موږ ستادرب رسولان يو (چي ددوی دهلاکت لپاره راغلي يو) له سره به ونه رسېږي دوی تاته (په ضرر رسولو) ﴿فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ﴾ (نوبوزه اهل خپل د شپې په يوه برخه کي) طبري وايې، چي معنايې داچي ته ددوی له مينځه دشپې په يوه توته کي ووزه (²) ﴿وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ﴾ اوندي ګوري بيرته له تاسي هيڅ يو مګرښځه ستا (چي هغه به د دوی په شان هلاکېږي له بيرته کتلو ځځه يې ځکه منع کړل چي دقوم کلي په هلاکت يې زړه ونه چوي. قرطبي وايي: کله چي يې ښځي دعذاب درووند غږ واورېده نويې وکتل اوداسي يې وويل: (واقوماه) ډېره ورباندي راپرېوته او بياهلاکه شوه (³) ﴿إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمْ﴾ ببشکه شان دادی چي رسېدونکی دی دې (ښځي) ته هغه عذاب چي دوی ته رسېږي ﴿إِنَّ مَوْعِدَهُمُ ٱلصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ بِقَرِيبٍ﴾ ببشکه وعده (دنزول دعذاب) ددوی سبادی آيا سبا نژدې نه دی؟ (بلکه نژدې دی ته تلوارمکوه. حضرت لوط عليه السلام له دوی ځځه په نژدې دعذاب غوښتنه وکړه ځکه چي سخت ورباندي خواشيني وو نوملائکو ورته وويل: آياسهارنژدې نه دی؟ مفسرينو ويلي دي چي د لوط قوم چي کله دښکلومېلمنو واورېدل په ځغاسته يې ځانونه ورته راورسول نولوط عليه السلام دروازه وتړله له ترلي دروازې يې له قوم سره مجادله پيل کړه نودوی پر دېوال ورواوښتل نوکله چي ملائکو دلوط عليه السلام مصيبت وليد ورته ويل يې: اې لوطه! دروازه پرانيزه موږ او دوی سره پرېږده نو يې دروازه پرانيستله اوجبرائيل عليه السلام پخپل وزر دوی ووهل سترګي يې ورړندې کړې اوبيرته ستانه شول د نجات نجات چيغي يې وهلې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ﴾ (القمر: ۳۸) بيا حضرت لوط عليه السلام له خپلو ملګرو سره ترسپېډو چاودلوله مخه ووت اوچي کله ددوی (ظالمانو) دعذاب وخت را ورسېدو نو الله پاک جبريل عليه السلام ته امر وکړاودلوط عليه السلام دقوم پنځه ښارونه يې له بېخه و ايستل آسمان ته يې دومره اوچت کړل چي دچرګانو آذانونه اودسپيو غپل يې دآسمان خلکو واورېدل بيايې پرمخي له پاسه راوغورځول او ورپسې په ډبرو وويشتل شول ځکه الله فرمايي: ﴿فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا﴾ نوځه وخت چي راغی حکم (دعذاب) زموږ نو وګرزاوو موږ پورته لوري ته ددې ښار ښکته خوا (يعني پردوی مو داښارونه نسکوروکړل) ﴿وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ﴾ او واورول موږ پردغو ښارونو باندي کاڼي له ختو جوړشوي په اور

(¹) أخرجه الشيخان عن ابي هريرة مرفوعًا.
(²) الطبري ۱۲/ ۸۹
(³) القرطبي ۹/ ۸۰

پاخه شوي (له باران سره يې ځکه تشبيه کړل چې سخت اوزيات وو) ﴿مَّنضُودٍ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ﴾ لاندي باندي پرله پسې نښې کړی شوي په نزد درب ستا؛ ربيع وايي: چې په هره تيږه دهغه چانوم کښل شوی وو چې هغه به ورباندي ويشتل کېدو. قرطبي وايي: چې ددې کلمې معناچې وايي: ﴿عِندَ رَبِّكَ﴾ پدې دليل دی چې دغه ډبري دځمکي نه وې (بلکه آسمانې ډبري وې) (۱) ﴿وَمَا هِىَ مِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ بِبَعِيدٍ﴾ اونه دي دا (هلاک شوي ښارونه) له ظالمانو (ستاقوم دقريشو کافرانو) ځخه ليری يعني دوی پخپلو سفرونوکي ورباندي تېرېږي راتېرېږي آيادوی عبرت نه آخلي؟ (۲) مفسرين کرام وايي: چې ددوی د ښارونو ځای تريخ درياب جوړشوی چې (بحرميت) يې بولي ځکه اوبه يې دژوندي سارو ورنه دي اوهيڅ ژوی اوساه لرونکی پکې نشې اوسېدلای دې ته په اوسني وخت کي دبحيره لوط شهرت ورکول شوی دی هغه خوا وشا ځمکه يې هم هيڅ گياه نه زرغونوي. ﴿وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا﴾ او (لېږلی وومونږ) مدين (قبيلې ته) (قومي) ورور ددوی شعيب، څرنگه چې شعيب عليه السلام ددوی خپل قومي وو نويې ورور وباله اودغه شېړمه کيسه ده چې سورت له کيسوڅخه ده ﴿قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥ﴾ وويل: (شعيب) اې قومه زما! عبادت کوئ (يوازې) دالله نشته تاسي لره هيڅ (برحق) معبود له ده (الله) پرته ﴿وَلَا تَنقُصُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ﴾ اومه کموئ پېمانه اوتله) يعني دخلگو حقوق په پېمانه اوتله کم مه ورکوئ دوی دتلي اوپېمانې په کموالي پېژندل شوي او مشهور وو. ﴿إِنِّىٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ﴾ (بېشکه چې زه تاسي په خيروينم) يعني تاسي شتمن، بډايان اود پراخي روزي خاوندان ياست دتلي اوپېمانې کموالي ته موا ړتيا نشته. قرطبي وايي: چې د(خير) معنادروزي پراخوالی اودنعمتونو زيات والی دی (۳) ﴿وَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ﴾ اوبېشکه زه وېرېږم پرتاسي (که موايمان رانه وړ) له عذابه دورځي چاپېرېدونکي (چې هيڅوک ترې خلاصېدلای نشي مرادځني دقيامت دورځي عذاب دی) ﴿وَيَـٰقَوْمِ أَوْفُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ﴾ اواې قومه زما! پوره ورکوئ تاسي پېمانه اوتله په انصاف ﴿وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ﴾ اومه کموئ تاسي خلگوته شيان ددوی (يعني دهغوی له حقوقو څخه څه مه کموئ ﴿وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ﴾ اومه لټوئ تاسي (خرابي) په ځمکه کي پداسي حال کي چې فسادکونکي ياست (عثی سخت فسادته وايي) ﴿بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ هغه باقي رزق پاتې کړی (حلال) دالله ډېرغوره دی تاسي ته (ترهغه چې تاسويي حرام تولوئ) که يې تاسي مؤمنان يعني که چېري دالله جل جلاله په وعد او وعيد باورکونکي ياست؟ مجاهدوايي: چې معنايې داچې دالله طاعت ستاسو

---

(۱) القرطبي ۸۳/۹

(۲) چاپياويلي چې ضميرډېروته راجع دی معناداچې دغه ډبري له ظالمانوليري نه دي چې هرڅوک ظالمان وی ورباندي به وويشتل شي.

(۳) الطبري ۱۰۰/۱۲

لپاره خيردی(۱)﴿ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ ﴾ اونه يم زه پرتاسو د هر ساتونکی چي ستاسو څارنه وکړم اوستاسي پراعمالو جزادرکړم بلکه زه نصيحت کونکی مبلغ يم (اولکه چي وايې) (وقدأعذر من أنذر) يعنی ويرول شووته عذرنشته﴿ قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ ﴾ نو وويل قوم دده ياشعيبه ! آيادغه د هرلمونځ کول ستا تاته ددې امرکوي چي موږ هغه بتان پرېږدو دچاچي زموږ پلرونو عبادت کاوو ؛ کله چي شعيب عليه السلام دوی ته دبتانو دعبادت پرېښودلو اودالله دعبادت دکولو امروکړ اودوی بې دپېمانې اوتلې دبشپړي ورکولو لوري ته راوبلل نودوی دملنډو اواستهزاء په ډول ورته داسي وويل ؛ يعني دغه ستاخبري دهوښيارسړي نه دي. ﴿ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ ﴾ (ياچي وکړو موږ په خپلو مالونو کي هغه تصرف چي موږ يې غواړو) يعني ته موږته امرکوې چي موږدتلې اوپېمانې تطفيف (کمول) پرېږدو ؟ امام فخر رازي وايې: چي شعيب عليه السلام دوی ته ددووشيانو امر وکړ يو توحيد اوبل دپېمانې اوتلې پوره ورکول وو نو دوی هم ددواړو انکار پدې خبروو کړ ؛ لومړی﴿ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ ﴾ چي دتوحيد انکارته اشاره شي اوبل دا چي ﴿ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا ﴾ چي دتطفيف دپرېښودلو انکارڅني معلوم شي ؛ اوکله کله له (صلوة) څخه دين هم اراده کېږي چي بيابه يې معناداوي چي آياستادين تاته دادرښيې ؟ اودين ته ځکه صلوة وويل شي چي هغه ددين شعارڅرګندوي اوداسي هم روايت کېږي چي شعيب عليه السلام به د هرلمونځ ګوزارل اوکله چي به يې قوم وليد يوبل ته به يې اشارې کولې او ورپسي به يې خندل نوګواکي ددوی په دې قول سره يې چي ﴿ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ ﴾ ريشخند اوتمسخردی لکه چي ته يوتاپوه سړي ته چي کتابونه لولي اوبيا يوه ناکاره خبره وکړي وواېې : چي آيادا خبره دي دکتابونو له لوستلوڅخه راايستلي اوزده کړي ده ؟ !(۲)﴿ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ﴾ بېشکه هم ته يې (پوه) په حلم اورشد ستايلي ؛ طبری وايې: چي دوی ځکه ورپسي ملنډې وهلې چي دالله دښمنان وو اودغه يې هم داستهزاء په توګه ورته ويل اوپدې خبره يې دده ناپوهي اوجهل ته نسبت کاوو (۳)﴿ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي ﴾ وويل: شعيب اې قومه زما !آيا وينئ تاسي (خبرراکړئ) که يم زه په برهان (څرګند) له جانبه درب خپل (چي هغه هدايت اونبوت دی) ﴿ وَرَزَقَنِي مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ ﴾ اوراکړی يې وي ماته له درباره خپله رزق ، روزي ښايسته يعني حلال مال ځکه چي شعيب عليه السلام د هرمال درلود . زمخشري وايې: چي ځواب حذف شوی اومعناوربانديې دلالت کوي يَعني ماته خبرراکړئ که چېري زه په څرګندبرهان اوباور له جانبه درب خپل اوپه حقيقي توګه نبي يم آيادا سمه ده چي تاسوته دبتانو په پرېښودلو اوله ګناهونوڅخه دځان ژغورلو امر پرېږدم ؟ (بلکه سمه نه ده)انبياء عليهم السلام خودهمدې لپاره رالاستول کېږي (۴)﴿ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ ﴾ (اونلرم اراده ددې چي مخالفت وکړم له تاسي هغه کارته چي تاسي له هغه

---

(۱) القرطبي ۹ / ۸۵

(۲) تفسيرالرازي ۱۸ / ۴۲

(۳) الطبري ۱۲ / ۱۰۳

(۴) الکشاف ۲ / ۴۲۰

ښځه منع کوم) يعني زه هسې نکوم چې تاسو ته وايم او پخپله يې نه پرځای کوم هغه څه درته وايم چې پخپله يې هم عملي کوم ﴿إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ ۚ﴾ زه اراده نلرم مګر د اصلاح ستاسي څو چې زما توان کېږي او نه دی توفيق زما (خير ته) مګر (په هدايت ، نصرت) د الله ﴿عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾ خاص پر همدغه الله ما توکل کړی دی او د همده طرف ته رجوع کوم (په توبه او انابت سره) ﴿وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي﴾ او اې زما قومه ! حاصله دې نکړي تاسي ته دښمني (ستاسي) له ما سره ﴿أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ ۚ﴾ دا چې ورسېږي تاسي ته په شان د هغه (عذاب) چې رسېدلی وو قوم د نوح ته (چې غرق وو) يا قوم د هود ته (چې سخت باد وو) ، يا قوم د صالح ته (چې زلزله وه) حسن رحمه الله وايې : معنا دا چې ستاسي دښمني له ما سره دې تاسي دې ته اړ نکړي چې ايمان نه راوړئ نو بيا به هغه څه درته ورسېږي چې کفارو ته رسېدلي (١) ﴿وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِّنكُم بِبَعِيدٍ﴾ (او ندی قوم د لوط له تاسو څخه لېرې) يعني د لوط عليه السلام د ظالم قوم کور او کلي له تاسو څخه لېرې نه دی آيا تاسو د هغوی له هلاکت څخه عبرت نه آخلئ؟ ﴿وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ﴾ او مغفرت وغواړئ تاسي له رب خپل څخه (له ټولو ګناهونو) بيا رجوع وکړئ تاسي په لوري د ده (په نصوحا توبه وباسئ) ﴿إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ﴾ بېشکه رب زما ډېر مهربان د لوی محبت والا دی ﴿قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ﴾ وويل: قوم د ده (د سپکاوي په ډول) اې شعيبه ! نه پوهېږو موږ په ډېرو هغو خبرو چې ته يې وايې ؛ الوسي وايې: چې دوی د شعيب عليه السلام هغه وينا چې د حکمتونو او پندونو په فنونو سمبال وه او علوم او معارف پکې نغښتي وو د هذيان او چټياتو له ډوله وبلله هغه چې څوک پرې نه پوهېږي سره له دې لکه چې په حديث شريف کې راغلي حضرت شعيب عليه السلام د انبياوو عليهم السلام خطيب دی(٢) ﴿وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ﴾ (او بېشکه موږ خامخا وينو تا په موږ کې کمزوری) يعني نه زورلرې او نه هم ستا زموږ په مينځ کې عزت شته ﴿وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ ۖ﴾ او که نه وي دغه خپلوان ستا نو خامخا موږ به ته سنګسار کړی وای (په ډېرو به مو وژلای وای) ﴿وَمَا أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ﴾ او نه يې ته په موږ هيڅ عزتناک (چې موږ دې احترام ولرو او سنګسار دې نکړو) ﴿قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ﴾ وويل: (شعيب) اې قومه زما ! آيا دغه خپلوان زما ډېر عزيز دي پر تاسي تر الله) دغه د دوی لپاره توبيخ دی چې آيا تاسو ما د خپلوانو په سبب پرېږدئ ؟ او د الله تبارک وتعالی عظمت ته نه ګورئ ؟ ابن عباس رضی الله عنهما وايې : چې د شعيب عليه السلام قوم ته د شعيب خپلوان تر الله جل جلاله ګران وو د الله جل جلاله شان د دوی په سترګو کې کوچنی وو (عزربنا وجل ثناءه) (٣) ﴿وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۖ﴾ او ګرزولی مو دی دغه (الله) وروسته د تاسي شا ته غورځول شوی ، چې نه يې اطاعت کوئ ، نه يې عظمت منئ او هيڅ پروايې نه کوئ شا ته غورځول د نه

(١) القرطبي ٩ / ٩٠
(٢) روح المعاني ١٢ / ١٢٣
(٣) الطبري ١٢ / ١٠٦

منلولپاره متل دی. طبري وايي: كله چي يو څوک دچاپه غوښتنه غوږ نه ګروي نو وايي چي دده غوښتنه يې شاته وغورځوله اوهيڅ التفات يې ورته ونکړ(۱) ﴿إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ﴾ ببشکه رب زما په هغوکارونو چي تاسي يې کوئ ښه احاطه کونکی) دی ستاسي بداعمال ورمعلوم دی جزابه يې درکړي ﴿وَيَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَٰمِلٌ﴾ او اې قومه زما! عمل کوئ په ځای خپل زه هم عمل کونکی یم (پخپله طريقه سره لکه چي ورته وايې تاسو پخپل کفر اوعداوت ټينګ شئ اوزه په اسلام باندي ثابت قدم يم پدې کي ددوی لپاره سخت تهديد پټ دی ﴿سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ﴾ ژربه تاسي وپېژنئ هغه څوک چي راځي ده ته عذاب چي رسوا(ذليل) کوي هغه ﴿وَمَنْ هُوَ كَٰذِبٌ﴾ اوهغه څوک چي دروغ ويونکی دی ﴿وَٱرْتَقِبُوٓا۟ إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ﴾ اوانتظارکوئ د(عاقبت خپل) ببشکه چي زه هم له تاسي سره انتظارکونکی یم ﴿وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا﴾ اوکله چي راغی امر زموږ(ددوی په هلاکولو) نوموږ وژغورل شعيب اوهغه کسان چي ايمان يې راوړی وو له ده سره (له هلاکته) په رحمت سره له خپله نزده (پردوی باندي) ﴿وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلصَّيْحَةُ﴾ او ونيول هغه کسان چي ظلم يې کړی وو سختي چيغي. قرطبي وايي: چي جبريل عليه السلام درباندي سخته چيغه وکړه اوددوی له بدنونوڅخه ساوي راوختلې(۲) ﴿فَأَصْبَحُوا۟ فِي دِيَٰرِهِمْ جَٰثِمِينَ﴾ نو وګرځېدل دوی په کورونو خپلوکي مړه وچ کلک پراته. ابن کثيروايي: چي دلته ذکر شو چي دوی ته سخته چيغه راغله، په اعراف کي زلزله (رجفه) ذکرشوي اوپه الشعرآء کي (عذاب يوم الظلة) راغلی دی اودغه يوامت وو ددوی دهلاکت په ورځ دغه ټول عذابونه درباندي راپرېوتي اوپه هرځای کي يې له حاله سره مناسبه يادونه شوي ده(۳) ﴿كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَآ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ﴾ (داسي تباه شول) لکه چي نه وو اوسېدلي په دغوکورونوکي (پخواله دې نه) خبردا رشئ واورئ ليري والی دی (له رحمته اوعذاب دی) مدين ته لکه چي ليري اوهلاک شول ثموديان) يعني الله پاک مدين هم داسي له خپله رحمته ليري اوپه عذاب اخته کړلکه چي ترېخوايي ثموديان له رحمته ليري کړي اوپه غضب يې ککړ کړي وو(۴) ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ﴾ (دغه شپږمه کيسه چي پدې سورت کي راځي او وروستنی کيسه ده معنادا چي: اوخامخا په تحقيق لېږلی وو موږ موسی په شرائعو احکامو اوښکاره حجت سره؛ اودهغه ملاترمو په سترو معجزاتولکه لکړه اولاس سره کړی وو ﴿إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ﴾ فرعون اومشرانو (دقوم) دده ته ﴿فَٱتَّبَعُوٓا۟ أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ وَمَآ أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ﴾ اومتابعت وکړ دغو مشرانود امر(حکم) دفرعون حال داچي نه وو حکم دفرعون برابرونکی په

---

(۱) الطبري۲
(۲) القرطبي ۹/ ۹۲
(۳) المختصر۲/ ۲۳۱
(۴) الطبري۱۲/ ۹

سمي لاري (بلکه سراسر جهل او گمراهي وو) ﴿ يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ مخ کي به شي دغه فرعون دقوم خپل دقيامت په ورځ (اورته به يې بيايې لکه چي په دنياکي ددوی مخکښ وو) ﴿ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ ﴾ نوننتي به باسي دوی په اورکي او بدځای دورتلو (د دوی هغه) دی چي دوی وروستل شي ﴿ وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَٰذِهِۦ لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ بِئْسَ ٱلرِّفْدُ ٱلْمَرْفُودُ ﴾ او وروسته لګولی شوي دي په دغه دنياکي لعنت (سمد ستي) او په ورځ دقيامت (هم) بد انعام دی (هغه چي دوی ته) ورکړل شوي (کوم چي ددارينو لعنت دی)

بلاغت:

۱ - ﴿ ذَهَبَ ٱلرَّوْعُ ... وَجَآءَتْهُ... ﴾ دلته دطباق صنعت او له بديعي محسناتو ګڼل کېږي.

۲ - پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ﴾ له سخت عذاب څخه کنايه راغلي هغه چي الله ورته ليکلی وو.

۳ - ﴿ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴾ ؟ دلته استفهام دتعجب او توبيخ لپاره دی.

۴ - پدې آيت کي چي ﴿ أَوْ ءَاوِىٓ إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴾ شريف رضي وايي چي دغه استعاره ده او مراد څني خپل خپلوان دي څکه يې رکن وګڼل چي انسانان هم خپلوانو ته پناه وروړي او خپلو پلويانو مرستندويانو ته لکه چي څوک ديوې ستري کوټې دېوال او رکن ته تکيه کوي هسي پناه وروړي او د(لو) خواب محذوف دی هغه داچي نوربه ستاسو دفساد اوزماترمينځ پرده غوړېدلي وه حذف ددې لپاره راغلی چي أبلغ دی او دستري جزا او سخت عذاب وهم ځيني کېدلای شي.(۱)

۵ - ﴿ عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا ﴾ ددوی ترمينځ دطباق صنعت دی.

۶ - کله چي فرمايي: ﴿ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴾ پدې کي عقلي مجاز او ورځي ته يې داحاطې نسبت وکړ سره له دې چي ورځ جسم نلري خو پدې اعتبار چي عذاب پکې دی نو دغه اسناد زمانې ته دی.

۷ - ﴿ وَٱتَّخَذْتُمُوهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ﴾ دلته تمثيلي استعاره ده لکه چي کوم څيز شاته غورځول کېږي او پروا پرې نه کېږي.

۸ - هلته چي فرمايي: ﴿ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ﴾ پدې کي مکنيه استعاره ده څکه ورود په اصل کي په اوبو باندي دځښلو لپاره تېرېدو ته وايي نو اور يې له اوبو سره مشابه وګڼل او مشبه به حذف خوله لوازمو څخه يې يوه ته اشاره وکړه چي هغه (ورود) يعني تېرېدل دی او فرعون يې له هغه چاسره مشابه کړ څوک چي دتږو په مخ کي اوبو ته ځان رسوي چي تنده ماته کړي او په دې قول کي چي فرمايي: ﴿ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ ﴾ تاکيد دی څکه ورود خو لپاره دتندي دماتولو او زړه يخولو لپاره وي خو اوربيا تنده لازياتوي او زړونه سوځوي. نعوذبالله من نارجهنم.

* * *

(۱) تلخيص البيان ۱۲۳

الله تعالی فرمایي:

﴿ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيْكَ ۖ مِنْهَا قَآئِمٌ وَحَصِيدٌ ﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ ۖ
فَمَآ أَغْنَتْ عَنْهُمْ ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِى يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ لَّمَّا جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿١٠١﴾
وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلْقُرَىٰ وَهِىَ ظَٰلِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُۥٓ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ
ٱلْءَاخِرَةِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴿١٠٣﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ ﴿١٠٤﴾ يَوْمَ يَأْتِ لَا
تَكَلَّمُ نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِىٌّ وَسَعِيدٌ ﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُوا۟ فَفِى ٱلنَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾
خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾ ۞ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُوا۟ فَفِى
ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۖ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴿١٠٨﴾ فَلَا تَكُ فِى مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ
هَٰٓؤُلَآءِ ۚ مَا يَعْبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُهُم مِّن قَبْلُ ۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمْ نَصِيبَهُمْ غَيْرَ مَنقُوصٍ ﴿١٠٩﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى
ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١١٠﴾ وَإِنَّ كُلًّا
لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَٰلَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١١﴾ فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا۟ ۚ إِنَّهُۥ بِمَا
تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾ وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا
تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَىِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ
﴿١١٤﴾ وَٱصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١١٥﴾ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ ٱلْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُو۟لُوا۟ بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْفَسَادِ
فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ ۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَآ أُتْرِفُوا۟ فِيهِ وَكَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ
رَبُّكَ لِيُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿١١٧﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةً ۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ
﴿١١٨﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١١٩﴾ وَكُلًّا
نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَقُل لِّلَّذِينَ
لَا يُؤْمِنُونَ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَٰمِلُونَ ﴿١٢١﴾ وَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ
ٱلْأَمْرُ كُلُّهُۥ فَٱعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٢٣﴾ ﴾ هود: ۱۰۰ - ۱۲۳

مناسبت او تړاو:

کله چي الله دخپلو انبیاوو علیهم السلام کیسي راوړي او هغه عذابونه او هلاکتونه يې یادکړل کوم چي دهغوی په امتونو راغلي وو نو دلته یې له هغو کیسو څخه مقصد پند او عبرت راوړي ترڅو په دې شاهدوي چي له دروغجنو څخه به ژرکسات اخیستل کېږي او وربانديي به عذاب نازلېږي او پدي

باندي برهان اوڅرګند دليل شي چي دالله جل جلاله ملاتړ اونصرت له خپلو انبياوو او اولياووسره شته اوهمداسي په آيتونوکي دقيامت ورځ ياده شوي اوداچي خلک په دوو برخو وېشل شوي چي نېکمرغه اوبدمرغه کسان دي دسورت په پای کي عالي جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دمشرکانو په کړاوونو اوربړونو دصبر امر شوی اوداچي په (حی قيوم) ذات دي توکل وکړي.

لغتونه:

(حصيد) رېبل شوی لورېدلی اوله بېخه ايستل شوی لکه کښت غوندي (تتبيب) هلاک اوخسران ته وايي (زفير) هغه ساغونډولوته وايي چي له زياتو منډو وهلو پيداکېږي (شهيق) ساغورځولوته وايي ليث وايي: چي (زفير) هغه چي سړی خپله سينه له ساڅخه دغم اوسختي خواشينی په سبب ډکه کړي اوبيايي راوکاږي او(شهيق) داچي هغه ساپه سختي اوشدت سره راوباسي([1]) ځيني دلغت پوهانو ويلي چي (زفير) دخره دهينګاري دلومړي پيل په مثال او(شهيق) بيا دخره دآواز دآخر پای په مثال دی (محذور) پرېکړی شوی (ترکنوا) له رکون څخه اخيستل شوی اورکون ديوشي خواته ميلان اوخوښي ته وايي (زلفًا) د(زلفة) جمع اودشپې يوې ټوټې ته وايي ثعلب ليکي چي: دغه دشپې اول شومي ته وايي او اصل يې له زلفی څخه اخيستل شوی چي نژدېوالي ته وايي لکه چي (وازلفت الجنة) يعني نژدې شوی (أترفوا) ترف هوسايي ته وايي يعني نعمت اوپراخي روزي يی موندلی(مرية) شک اوشبه بولي.

دنزول سبب:

ابن مسعود رضی الله عنه وايي چي يوسړی پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: مادمدينې (منورې) په ورستۍ برخه کي ديوې ښځي څخه پرته له دې چي ورباندي جنسي تېری وکړم (يوازي) مچه واخيستله زه داده راغلی يم هرڅه چي غواړې په ماباندي فيصله وباسه! عمر رضی الله عنه ورته وويل: الله ستاسترکړی دی کاشکي تاپخپله نه لوڅولای رسول الله صلی الله عليه وسلم څه ورته ونه ويل اوسړی روان شو او داآيت شريف چي فرمايي: ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ﴾ نازل شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم څوک پسي واستاوو هغه يې راوغوښت او داآيت شريف يې ورته ولوست([2])

تفسير:

﴿ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَۖ ﴾ دا(کيسي) له احوالو دکليو دي (چي موږ يې خلک درسولانو دتکذيب اوکفرپه سبب هلاک کړي) بيانوو موږ هغه پرتاباندي (اې محمده ! اود وحی په توګه درته اخبارکوو)

﴿ مِنۡهَا قَآئِمٞ وَحَصِيدٞ ﴾ (ځيني له هغوقريوولاړي دي (کنډوالې ددوی) اوځيني رېبلی شوي دي) يعني ځيني هغه دي چي اهل يې هلاک شوی خو ددوی بنيان لا ولاړ اوپاتي دي اوځيني هغه دي چي بېخي له اهل سره له مينځه تللي اولکه رېبلی کښت غوندي شوي دي ﴿ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡۖ ﴾ موږورباندي ظلم نه دی کړی (پرهلاکولو ددوی) وليکن ظلم کړی وو دوی پرخپلو ځانونو يعني په سبب دکفر او ګناهونو دعذاب او

([1]) البحر ۲۵۱/۵

([2]) القرطبي ۱۱۱/۹

هلاک وړ او مستحق وګرځېدل ﴿ فَمَآ أَغۡنَتۡ عَنۡهُمۡ ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِي يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ ﴾ نو هیڅ دفع ونکړه له دوی څخه هغه باطلو خدایانو د دوی هغه چي دوی به بلل غیر له الله نه هیڅ شی (دعذاب) ﴿ لَّمَّا جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ وَمَا زَادُوهُمۡ غَيۡرَ تَتۡبِيبٖ ﴾ کله چي راغی امر (حکم ،عذاب) د رب ستا او زیات نکړ دغو خدایانو دوی ته (هیڅ شی) غیر له هلاکته (او وراني) ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَخۡذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلۡقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ ﴾ او په شان دهمدغو (هلاکتونو) نیول د رب ستادي کله چي ونیسي الله اهل د قریو حال داچي دوی ظالمان وي (دانبیاوو مکذبین وي) الله پاک فاجران او ظالمان په عذاب اخته کوي. الوسي وايي : چي په آیت شریف کي داسي وېرونه او انذاردی چي له ورایه څرګندېږي او لکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :(ان الله لیملی للظالم حتی اذاأخذه لم یفلته) یعني الله پاک ظالم ته مهلت ورکوي خو کله چي یې ونیسي بیا یې هیڅلکه نه خوشی کوي بیا یې داآیت ولوست ﴿ إِنَّ أَخۡذَهُۥٓ أَلِيمٞ شَدِيدٌ ﴾ بېشکه نیول دالله ډېر دردناک سخت زورودي ؛ دلته په تهدید کي مبالغه راغلي ده ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّمَنۡ خَافَ عَذَابَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ ﴾ بېشکه پدې (کیسه) کي خامخا ډېر عبرت (پند) دی د پاره دهغه چاچي دآخرت له عذابه څخه وېرېږي ﴿ ذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّجۡمُوعٞ لَّهُ ٱلنَّاسُ ﴾ دغه ورځ قیامت داسي یوه ورځ ده چي جمع به کړی شي پدې کي ټول خلک (دحساب ، ثواب او عذاب لپاره ﴿ وَذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّشۡهُودٞ ﴾ او داهغه ورځ ده چي وبه ویني ټول مخلوقات دآسمان او ځمکي رومبني او وروستني . ابن عباس رضی الله عنه وايي : چي حاضر به شي نیک او فاجر ټول خلک(۱) ﴿ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٖ مَّعۡدُودٖ ﴾ او نه به وروستی کوو موږ دا (ورځ دقیامت) مګر لپاره دپوره کېدو دنېټي معلومي (هغه چي دالله له لوري دفیصلې لپاره ټاکلي شوي نه به رومبی کېږي او نه به وروسته کېږي ﴿ يَوۡمَ يَأۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ ﴾ هغه ورځ چي راشي (هیبتناکه د قیامت (ورځ خبري به نه کوي هیڅ نفس مګر په اذن دالله تعالی) ﴿ فَمِنۡهُمۡ شَقِيّٞ وَسَعِيدٞ ﴾ نو ځیني له دغو خلکو به بدبخته او ځیني به نیمکرغه وي لکه چي الله بل ځای فرمایي : ﴿ فَرِيقٞ فِي ٱلۡجَنَّةِ وَفَرِيقٞ فِي ٱلسَّعِيرِ ﴾ الشوری: ۷ ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَشَهِيقٌ ﴾ پس هر هغه څوک چي بدبختان شوي دي نو په اورکي به وي ، وي به هغوی ته په اورکي (له ډېري سختي) زفیر(هغه په سختي سره دساایستل ؛او بیرته ساګرزول) ځینو مفسرینو بیاویلي دي چي ددوی چیغي چي په دوزخ کي به یې وهي دخرو له هنګارو سره مشابه وګڼل شوي. طبري پخپل روایت کي له قتاده څخه راوړي چي : دکافر غږ به په دوزخ کي لکه دخره غوندي وي اول به یې زفیر او آخر به یې شهیق وي (سخت غږ او نرم غږ) ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ ﴾ همېشه به وي دوی په دغه اورکي څوچي وي آسمانونه او ځمکه. طبري وايي : چي عرب به کله هم چي کوم یو څیز په دوام سره ستایل نو به یې ویل چي داشی څوچي آسمانونه او ځمکي وي دا به هم وي پدې معناچي تل ترتله به وي نو الله تعالی دوی ته ددوی له دودسره سمه مخاطبه وکړه . ابن زید بیا وايي : چي معناداچي تر هغو به پکې وي څوچي آسمان

---
(۱) القرطبي ۹ / ۹۶۰

آسمان اوځمکه ځمکه وي يعني همېشه اوتل ترتله به پکې وي(۱) زمخشري وايې: چې پدې کي دوې وجهې دي يوداچي مقصد له آسمانونو اوځمكو څخه دآخرت ځمکي اوآسمانونه دي اوهغه پخپله همېشه اوتل ترتله دي اودوهم داچي عبارت به له تابيد اوهمېشه توب څخه وي چې هيڅ پرېکړون نلري (۲)﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ (مگرچي اراده وفرمايې رب ستا) دغه د اهل توحيدپه شان کي استثناء ده ځکه چې د ﴿ شَقُواْ ﴾ کلمه کفارو او گنهگارانو دواړوته شامله ده نو گنهگاران موحدين به ددوزخ په اورکي پاکېږي اوبيابه درسول الله صلى الله عليه وسلم په شفاعت بيرته را ايستل کېږي اوجنت ته به داخلېږي چي ورته به ويلاى شي ﴿ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴾ (بېشكه رب ستاكونكى دى (په كمال دقدرت سره) دهرهغه كار چي اراده يې وفرمايې) يعني رحم اومهرباني کوي په هغه چاچي ورته اراده يې شي اوهمدارنگه عذاب ورکوي هغه چاته چي اراده يې شي نه څوک دهغه فيصله ماتولاى شي اونه يې حكم منع كولاى شي ﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ اوهرهغه كسان چي نېک بختان شوي دي نو همېشه به په جنت كي وي ترڅو چي وي آسمانونه اوځمکه مگرچي اراده وفرمايې رب ستا) دغه ددوهم ټولگي نېکمرغه خلكودحال بيان دى الله دي موږ له دغه نيک بختانو څخه وگني يعني دوى به تل ترتله په جنت كي وى هيڅكله به څني نه راوزي ترڅوچي دوام دځمکو اوآسمانونو وي اوياچي ترڅودجنت او دوزخ ځمکه اوآسمان وي سم له ارادې دالله تعالى سره هغه چي ورته دخلود اودوام اراده يې کړي ده ﴿ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴾ دغه ورکړه بخشش دى بې انتهاء اوترمالانهايه پوري به وي ﴿ فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ پس مه كېږه ته په شک كي له هغوبتانو چي عبادت يې كوي دغه كسان يعني ددې مشركانو په عبادت كولوكي هيڅ شک مكوه ځكه چي داگمراهان دي اودين يې فاسد دى ﴿ مَا يَعْبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُهُم مِّن قَبْلُ ﴾ دوى عبادت نكوي مگرلكه چي عبادت به كاوو پلرونو ددوى پخوا(له دې نه يعني دوى دخپلو پلرونو تقليدكوي هيڅ دليل اوبرهان نلري اودغه درسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره تسلا اوډاډينه اوددوى لپاره دكسات اوانتقام اخيستلو اخطاردى ځكه حال ددوى په مثل دحال دپخوانيوگمراهانو او دروغجنانو دى اوتاته معلومه شوه چي په هغوى څه راغلي وو نوپردوى به هم هغه راپرېوزي ﴿ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمْ نَصِيبَهُمْ غَيْرَ مَنقُوصٍ ﴾ بېشکه موږ پوره ورکونكي يو دوى ته دبرخي ددوى بې له نقصانه) يعني دوى ته به دعذاب بشپړه برخه ورکړو چي نقصان به پکي نه وي ؟ ابن عباس رضى الله عنه وايې: معناداچي هغه څه چي ددوى لپاره دخير اوياشر ليكل شوي پوره به ورکول شي (۳)﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ﴾ او خامخاپه تحقيق موږ موسى ته كتاب وركړى وو نو اختلاف وکړشو په دغه كتاب (تورات) كي. طبري وايې: چي الله پاک رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دتسليت په ډول فرمايې چي ته دخپل قوم دمشركانو په تكذيب خفگان مكوه په تحقيق سره چي موږ موسى عليه السلام ته تورات وركړى وو خوپه هغه

---

(۱) الطبري ۱۲ / ۱۱۷
(۲) الكشاف ۲ / ۴۳
(۳) الطبري ۱۲۲۱۲

کي هم اختلاف وکړای شو ځينوهغه نه مانو اوځينو ورباندي ايمان راوور لکه چي ستاقوم اختلاف کوي (۱)﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ﴾ اوکه نه واى هغه حکم چي ړومبى شوى وو له ربه ستا (په تأخيرد جزا ترقيامته پوري) نو خامخافيصله به شوي وه په مينځ ددوى کي (په دنياکي) نو به نيکوکارته دنيکي ثواب ورکول شوى وو او ګنهکارته به دګناه عذاب ورکول شوى وو خود الله حکم پخوالاشوى چي جزابه ترقيامته پوري تأخيروي ﴿وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ﴾ اوبېشکه خامخادوى په شک کي دي له قرآنه چي زړونه يې په اضطراب کي اچونکي دي (ځکه نه پوهېږي چي دابه حق وي اوکه باطل؟ ﴿وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَٰلَهُمْ﴾ اوبېشکه هره فرقه (دمؤمنانو اوکافرانو) خامخاپوره به ورکړي دوى ته رب ستا(جزا) دعملونو ددوى (په آخرت کي) ﴿إِنَّهُۥ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾ بېشکه چي الله پرهغوکارونو چي دوى يې کوي ښه خبردارد ى (که کوچني وي اوکه غټ ژردى چي په هغوباندي به جزا ورکړي ﴿فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا۟﴾ نومستقيم اوثابت اوسه لکه چي حکم کړى شوى تاته (اې محمده) اوهم مستقيم اوثابت دي اوسي) هغه څوک چي توبه يې ايستلي ده له شرک اوکفرنه او ايمان يې راوړى دى له تاسره اومه تېرېږئ له حده (چي دمحرماتو ارتکاب کوئ) ﴿إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ بېشکه چي الله پرهغوکارونو چي تاسي يې کوئ ښه ليدونکى دى (اوپرهغه به جزادرکړي) ﴿وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ﴾ (اومه مائلېږئ په طرف دهغوکسانوچي ظلم يې کړى دى نو وبه رسېږي تاسي ته اور(ددوزخ) يعني دظالمانو حاکمانو اونوروفاسقانو فاجرانو لوري ته ميلان مکوئ چي تاسي به په دوزخ کي واچوي. بيضاوي وايي: چي (رکون) لږ څه ميلان ته وايي يعني تاسو لږ څه ميلان هم ددوى لورته مکوئ چي پدغه سبب به تاسوپه اورکي ولوېږئ نوکله چي لږ ميلان دهغه لوري ته چي له هغه څخه ظلم صادرشوى ددوزخ دلوېدلو سبب دى نوستاڅه ګومان دى په هغه چاچي په بشپړه توګه دهغه چالوري ته چي رښتوني ظالمان وي ميلان کوي ددوى به څه حال وي ؟ !(۲)﴿وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ﴾ (حال داچي نه به وي تاسي ته پرته له الله هيڅ دوستان بيابه ونکړى شي درسره مرسته) يعني نه به وي ستاسي لپاره هغه څوک چي دالله عذاب درڅخه منع کړي اوداسي څوک به ونه مومئ چي ددې بلاڅخه دژغورلو لپاره مومرستندوى شي. قرطبي وايي: چي په آيت شريف کي ددې دلالت شته چي له کفارو فاسقانو څخه دي هجران وشي او له دوى سره ملګرتياکفردى ځکه چي ملګرتياخوله دوستي څخه وي اوکله چي څوک دظالم له وېري ورسره ياري کوي دغه په اضطراري دول ځني مستثنى دى ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَىِ ٱلنَّهَارِ﴾ (اوقائم کړه لمونځ په دواړو طرفونو دورځي) يعني سم ودروه فرض لمنځونه سره له حقوقو په اول دورځي اوآخرکي يې مراد ځني دسهار او مازيګرلمنځونه دي ځکه چي دغه دورځي دوه طرفونه دي .(۳) ﴿وَزُلَفًا مِّنَ

(۱) الطبري ۱۲/ ۱۲۳

(۲) البيضاوي ص: ۲۵۸

(۳) دغه دحسن بصري اوقتاده قول دى اوطبري غوره کړى اودا له ابن عباس څخه روايت شوى چي له (طرفى النهار)څخه مقصد دسهاراو مازيګر لمونځ دى.

ٱلَّيْلِۚ ﴾ اوپه ساعاتوله شپې (چي نژدې وي ورځي ته چي مقصد ځني ماښام اوماخوستن دى ﴿ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ﴾ (ببشكه چي نيكې بدې ليرې كوي) يعني صالح اعمال چي له هغوى ځخه پنځه وخته لمنځونه دي صغيره گناهونه له مينځه وړي اوپه حديث شريف كي راځي چي : پنځه لمنځونه كفاره دي دهغو (وړو) گناهونو چي ترمينځ ددوى وي كله چي له لويو گناهونو ځخه پرهېز وكړاى شي . مفسرين كرام وايې : چي مرادپه حسناتو سره پنځه لمنځونه دي دي او دنزول په سبب بې دليل نيولى دى دغه دجمهورو علماوو وينااده ظاهره داده چي مرادځني عام گناهونه واخيستل شي اودغه دابن كثير غوره دى چي معنايې داچي نيک كارونه تېرشوي گناهونه ليرى كوي لكه چي په حديث شريف كي راځي : (مامن مسلم يذنب ذنباويصلى ركعتين الاغفرله)(١) يعني هرمسلمان چي كومه (صغيره)گناه وكړي اودوه ركعته لمونځ وگذاري ورته ببننه كېږي ﴿ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴾ دغه (ذكرشوى استقامت اودلمانځه ساتنه) پندى لپاره دپند قبلونكو (اوارشاددى لپاره دمسترشدينو) ﴿ وَٱصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ اوصبروكړه (اې محمده ! په زيان در رسولو دمشركانو اونورو تكاليفو الله درسره دى) نوببشكه الله نه ضائع كوي ثواب دنېكي كونكو ﴿ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ ٱلْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُوْلُواْ بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْفَسَادِ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ نو ولي نه وو(يعني نه و) له اهله دهغو زمانوچي وو پخواله تاسي نه خاوندان دفكر اوعقل چي منع كول بې خلک له كولو دفساد په ځمكه كي ﴿ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْۗ ﴾ مگرچي منع وكړه لږله هغو خلكو نه چي خلاص كړل موږ(دوى) له عذاب دهغوپخوانيو نه؛ په البحرالمحيط كي وايې : چي (لولا) په آيت كي دتحضيض اوهڅوني لپاره ده چي تأسف اوخواشيني پكي پرته ده لكه داقول چي فرمايې : ﴿ يَٰحَسْرَةً عَلَى ٱلْعِبَادِۚ ﴾[يس: ٣٠] غرض له آيت نه تأسف په هغو امتونو كول دى چي هدايت بې ونه موند لكه دنوح ، عاد ، ثمود او نورچي تېرشول(٢)﴿ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَآ أُتْرِفُواْ فِيهِ ﴾ اومتابعت وكړهغوكسانو چي ظلم بې كړى وو دهغي لاري چي آسوده كړى شوي وو دوى په هغې كي (په شهوتونو ، نعمتونو او لذائذوباندي اخته اودنيايې ترآخرت غوره كړي وه) ﴿ وَكَانُواْ مُجْرِمِينَ ﴾ او وودوى گنهكاران (اوپه گناه بې اصرار كاوو ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴾ اوله سره نه دى رب ستا(پدې بې عادت جاري نه دى) چې هلاک كړي قريې په ظلم سره حال داچي وي اهل ددغوقريو صالحان ؛ځكه چي الله تعالى له ظلم ځخه منزه دى اوپه تحقيق سره الله جل جلاله دوى دكفر اوگناهونو په سبب هلاكوي ﴿ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةًۖ ﴾ اوكه اراده فرمايلي وي رب ستانوهرومروبه بې گرزولي وو داخلک ټول سره يوامت (لارموندونكي مؤمنان ؛ خوداسي بې ونكړل چي حكمت بې پكي درلود ﴿ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ ﴾ (اوهمېشه به وي دوى اختلاف كونكي (په دين كي) مگرهغه څوک چي رحم

(١) المختصر ٢/ ٢٣٥
(٢) البحر ٥/ ٢٧١

وربانديِ وكړي رب ستا) يعني تل ترتله به دوی په دين کي) اختلاف کونکي وي څوک يهودي ، څوک نصراني اوڅوک به مجوسي وي مگر هغه چي الله له خپله فضله ورته هدايت کړی وي اوهغوی اهل حق دي ﴿ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ﴾ (اولپاره ددې (اختلاف) الله دوی پيداکړي دي) لام دعاقبت لپاره دی يعني دوی به ددې لپاره پيداکړي چي پايله به يې اختلاف وي څوک بدمرغه اوڅوک بيانېکمرغه وي . طبري وايي : چي دوی يې پدغه اختلاف دشقاء اوسعادت لپاره پيداکړي يوه ډله ددوی به په جنت کي وي اوبله ډله په دوزخ کي(١) ﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ (اوتمامه پوره شوه کلمه درب ستاچي خامخاډک به کړم هرومرو دوزخ له پېريانو اوانسانانوسره گډ) يعني دالله جل جلاله حکم بشپړ اوفيصله نافذه شوه چي جهنم به دپېريانانو اوانسانانو له کفارو فجارو څخه ډکوي. الوسي وايي: چي دجملې په ضمن کي دقسم معناپرته وه څکه نوپه لام سره راوړل شوه چي ويې فرمايل: ﴿ لَأَمْلَأَنَّ ﴾ اولکه چي فرمايلي يې وي زمادي قسم وي چي دوزخ به دابليس له پلويانوهغوی که پېريان اوکه انسانان وي ډک کړم ﴿ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ ﴾ او داټول اخبار لولو پرتا (اې محمده !) له خبرونو دپيغمبرانو (تېروشوو) هغه چي کلکوو په هغه سره ستازړه (لپاره دتثبيت په اداکولو درسالت)څوچي ستالپاره دهغوی کړنلاري اوپېښي سرمشق وي اوته هم ددوی په شان صبر وکړې ﴿ وَجَاءَكَ فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوراغلی دی تاته په دغو اخبارونو کي حق (رښتيايقيني) اوپند اويادونه دمؤمنانولپاره ؛ مؤمنان يې څکه څانگړي يادکړل چي دوی دقرآن په مواعظو گټه اوپنداخلي. ﴿ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَامِلُونَ ﴾ او ووايه (اې محمده!) هغوکسانوته چي ايمان نه راوړي چي عمل وکړئ پرڅای خپل (يعني خپله لاره دکفرونيسئ) بېشکه موږ هم عمل کونکي يوپه حال خپل (چي اسلام دی) دغه کلمه امر اومعنايې تهديددی او وېرول دي ﴿ وَانتَظِرُوا إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴾ (اوانتظارکوئ بېشکه موږ هم انتظارکونکي يو) دايوبل تهديد دی يعني تاسي انتظاروکړئ چي موږ ته څه راپېښوي موږ انتظار باسو چي پرتاسو څرنگه دالله عذاب راپرېوزي؟ ﴿ وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله لره دی (علم په) پټو دآسمانونو او(په پټو د)څمکي (هم) داهرڅه دالله په قدرت اوعلم کي دي ﴿ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الْأَمْرُ كُلُّهُ ﴾ اوهم ده ته بيرته گرځولی شي ټول کار (دهرشي نوله هغه چاڅخه چي عصيان کوي کسات اخلي اوهغه چاته ثواب ورکوي چي اطاعت يې کوي پدې کي درسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره ډاډينه اودکفارو لپاره دانتقام تهديد دی ﴿ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ﴾ نوعبادت کوه دالله (يوازي الله ستالپاره کافي دی ﴿ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ (اوندی رب ستابې خبره دهغوکارونو څخه چي تاسي يې کوئ) يعني پرالله باندي دبندگانو اعمال پټ نه دي هرچاته به له خپل عمل سره سمه سزا ورکړي.

---

(١) الطبري ١٢/١٤٤

بلاغت:

۱ - ﴿ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمْ ﴾ دلته د سلب طباق دی.

۲- پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿ إِذَآ أَخَذَ ٱلْقُرَىٰ ﴾ د مجاز صنعت دی ځکه چې مراد ځني (أهل القرى) يعني ذکر د محل او مراد ځني حال دی.

۳ - په دې برخه د آيت شريف کې چې فرمايلي يې دي ﴿ مِنْهَا قَآئِمٌ وَحَصِيدٌ ﴾ دلته يې د کليو پاتي شوني او د بوالونه ولاړ له داسي کښت سره مشابه وګڼل هغه چې ولاړوي او هغه هلاک شوی اهل يې له هغه کښته سره مشابه کړل چې په لور ربېل شوی او هيڅ اثر يې نه معلومېږي نو دغه مکنيه استعاره ده.

۴ - ﴿ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ﴾ دلته د طباق صنعت چې له بديعي محسناتو څخه يو دی راغلی دی.

۵ - ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ ... وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ ﴾ دلته لف او نشر مُرتب دی.

۶- کله چې الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ ﴾ کلمه دلته له قضا او قدر څخه کنايه راغلې ده.

۷ - ﴿ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ﴾ دلته بيا د طباق صنعت دی.

۸ - پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴾ دلته د اشتقاق جناس دی.

تنبيه:

په کوټلي توګه آيتونه ناطق دي چې تل ترتله جنتيان په جنت کې او دوزخيان په دوزخ کې پاتې کېږي او پدغه سورت کې په مشيت سره استثناء راغلې او د قرآني اسلوبو داډول استعمال په ثبوت او استمرار باندې د دلالت کولو لپاره دی او پدې کې دانکته نغښتې ده چې دغه ټولې چارې دالله جل جلاله په مشيت سره دي که وغواړي هغه به بدلې کړي دالله له مشيت او رضا څخه هيڅ شی وتلی نه دی ، ايمان او کفر ، سعادت او شقاوت ، وتل او خلود داټول دالله جل جلاله په مشيت او رضا پورې بالکل تړلي دي.

فائده او ګټه:

دقرآني بلاغت په هکله شهاب يوې لطيفې ته اشاره کړې هغه دا چې دخيرپه کارونو امر کول يې بواري دپيغمبر صلی الله عليه وسلم ته په يوازنۍ توګه امر فرمايلی که څه هم په معناکې عام وي لکه: ﴿ فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱصْبِرْ ﴾ او په منهياتو کې بيا دامت لپاره د جمعي صيغه راوړي لکه: ﴿ وَلَا تَطْغَوْاْ وَلَا تَرْكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ﴾ او داسې نور دا يې په عنايه کې ليکلي دي.

دالله تعالی په مرسته د هود د سورت تفسير بشپړ شو

* * *

د(يوسف)سورت مكي او يوسل يوولس آيتونه لري

د سورت په وړاندي:

ديوسف سورت يو دهغو مكي سورتونو څخه دی چي د انبياوو کيسې يې راوړي او پدې سورت کي يوازي دالله دنبي يوسف بن يعقوب کیسه راغلي او دهغه د هر ډول ربړونه او سختي چي دخپلو ورونو او نورو له پلوه ګاللي دمصر دعزيز په انګړکي په بنديخانه (محبس) كي او دښځو په دوكو فريبونو كي څو چي الله تعالى هغه له دې ګردو مشكلاتو وژغوره او مقصد پکي د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره د ادينه ده چي كوم تكاليف او مشكلات له خپلو ، پردو ورته رسېږي ترده له مخه حضرت يوسف عليه السلام ته هم رسېدلي وو.

په دې مبارک سورت کي دالفاظو ، تعبيرونو اداء او دکیسې په وړاندي کولو کي عجيبه ځانګړي خوندور اسلوب كارېدلى چي لطافت او باريكي يې له ساه اخيستو سره داسي جوخته ښكته ، پورته كېږي لكه چي وينه په رګونو كي دهغې نرم والى او خوږتوب زړه ته هسي لاره مومي لكه چي روح بدن ته داكه څه هم مكي سورت دى هغه چي غالبًا پكي تهديد او اخطار وړاندي كېږي خو دغه سورت په دې هكله له نورو مكي سورتونو څخه ګوښي ښه لري داسورت ښځي نرم او پاسته اسلوب چي خوراخوندور ، آسانه روان او ښايسته دی خپل کړی او درحمت ، الفت , ميني او رأفت فضا وړاندي خپره ده څكه نو خالدبن معدان وايې : چي ديوسف عليه السلام او مريم رضي الله عنهاسورتونه په جنتيان دساتېري لپاره لولي عطاء وايې چي : كه غمجن سړى سورت يوسف ولولي نو خوشحاله به شي(۱) ، دغه مبارک سورت په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي وروسته دهو دله سورت څخه خورا دناخوالو په موده کي نازل شوى هغه دخواشيني او خفګان وخت چي په سترپيغمبر عليه السلام باندي دهغه په ژوندانه او پرمؤمنانو باندي راغلی وو په ځانګړي توګه چي دوه مرستندويان يې له لاسه وركړل يويې مهربانه او مباركه مېرمن خديجة رضى الله عنها اوبل يې تره ابو طالب چي دده لپاره ښه مددګاران او مرستيالان وو ددوی له مړيني وروسته تكاليف او ربړونه په رسول الله صلى الله عليه وسلم او مؤمنانو دومره زيات شول چي دغه كال ته (عام الحزن) يعني دخفګان او غم كال وويل شو.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم دژوندانه په دې ترخه او لانجمن بهيركي چي پيغمبر او مؤمنانو دوېري ، ترهي او غربت وخت دجهالت دوري دقريشو په ناپخلاتوب ، انقطاع او شلون کي تېر او و الله تبارک وتعالى دغه سورت دتسليت لپاره ورته رانازل كړ ترڅويې وړباندي پرهارونه ټكور او دردونه آرام كړي چي د رسولانو كيسې واوري او لكه چي الله تعالى هغه ته وربښيې چي اې محمده ! پدې مه خوابدی کېږه چي ستاقوم ستاتكذيب وكړ او درته تكاليف يې ورسول چي وروسته له سختي څخه آساني او سوكالي شته وروسته له تنګسيا څخه پراخي وي ستا وروريوسف ته وګوره ژورفكر وكړه ! چي هغه ته څومره محنتونه او ازموينتونه ورپېښ شول څه ربړونه او تكاليف يې وګالل دورونو دكركي ، حسد او دهغوى ځلل او جفاچي په كوهي كي يې وغورځاوو او بياهغه مصيبت او محنت چي دعزيز مېرمني دعشق اړيكي ورسره ونښلولې او بيايې ځان ته راوغوښت او دفتنې او تېرايستني ټولي فتنې او بهانې يې په كاروا چولې او بياد ښځلخانې زحمتونه او له دې په وروسته بياهغه عزت او پراخ عيش وګوره چي كله هغه دعقيدې په لاره كي په تكالېفو صبروكړ نو الله هغه د ښځلخانې له تورو پنجرو څخه دپاچهي قصرته ولېږداوو او دمصر په هيواد كي يې عزيز وګمارو دمصر خزانې ورته حواله شوې په خلكو كي عزتمن او منلى شخصيت جوړ شو همداسي زه له خپلو دوستانو سره چي زما په ازموينه صبروكړي چلند كوم نو اكه

(۱) حاشية الصاوي على الجلالين ۲ / ۲۳۳

پکه خپل ځان په تکليفونو روږدي اودتېرو انبياوو تګلاره ونيسه ﴿ فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا۟ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ ﴾ [الاحقاف:٣٥] ﴿ وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴾ [النحل:١٢٧].

همداسي ديوسف عليه السلام کيسه درسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره دتکليفونو دزغملو لپاره تسلا اوپکي دالفت، راحت، اواطمينان زېرى شته دى چي که هرڅوک دانبياوو عليهم السلام په لاره درومي نو اروموبه له زحمتونو وروسته راحتونه ويني په تنګسياپسي ورته پراخي رادرومي اوله سختي بعد آسانتيا ويني پدې سورت کي نورډېر پندونه اوعجيبه نادر اخبار اوښېښي نغښتي دي ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى ٱلسَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴾ [ق:٣٧].

دغه دسورت فضا اودهغه رموز اواشارې دي دنصرت دنژدې والي زېرى ورکوي کله چي څوک صبر خپل کړي اودانبياوو عليهم السلام په پله پل کېږدي اودمخلصو دعوتګرانو په لاره ولاړشي دغه کيسه دزړه داډ اودېرهارونو تکوردى.

دقرآنکريم دود اوعادت دادى چي يوه کيسه ټوټه ټوټه ځوځايه تکرار دپند اوعبرت لپاره بيانوي خوپه لنده توګه وى پوره تفصيل پکي نه وي ترڅونوري کړى بې هم بشپړي کړي اوپرته له دې چي اورېدونکى ځني موړشي واوري خوديوسف عليه السلام دکيسې تولي حلقې (کړى) بې يوځاى دلته په خورا تفصيل سره يادي کړې او دنورو کيسو په شان بې ټوټه ټوټه نه دى راوړى ترڅو دقرآنکريم اعجاز ته په مجمل اومفصل يادا يجاز اواطناب حالت کي اشاره وکړي فسبحان الملک العلى الوهاب.

علامه قرطبي وايې: چي الله جل جلاله دانبياوو عليهم السلا م کيسې په مکرر ډول متضادو الفاظو او مختلفو ډولونو پداسي حال کي چي يوه معناافاده کوي راوړي چي دبلاغت اوبيان لوړي درجې لري خوديوسف عليه السلام کيسه بې په تکرارنده راوړي اومخالفين توان نلري چي دمکرر اويادغير مکرر قرآني بيان معارضه وکړي نو دقرآن کريم اعجاز هغه چاته چي پکي سوچ کوي ښخي ځرګند ى اوالله پاک رښتيافرمايې: ﴿ لَقَدْ كَانَ فِى قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾.

***

الله تعالى فرمايې:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓر ۚ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴿١﴾ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ
أَحْسَنَ ٱلْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴿٣﴾ إِذْ قَالَ يُوسُفُ
لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّى رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِى سَٰجِدِينَ ﴿٤﴾ قَالَ يَٰبُنَىَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ
إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا۟ لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٥﴾ وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ

الْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلَىٰ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ
(٦) ۞ لَّقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيَاتٌ لِّلسَّائِلِينَ (٧) إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ
عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ (٨) اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا مِن بَعْدِهِ قَوْمًا
صَالِحِينَ (٩) قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ
(١٠) قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ لَنَاصِحُونَ (١١) أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ
لَحَافِظُونَ (١٢) قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَن تَذْهَبُوا بِهِ وَأَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ وَأَنتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ (١٣) قَالُوا لَئِنْ
أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَّخَاسِرُونَ (١٤) فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَن يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ ۚ وَأَوْحَيْنَا
إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (١٥) وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ (١٦) قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ
وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ (١٧) وَجَاءُوا عَلَىٰ قَمِيصِهِ
بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ (١٨) وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا
وَارِدَهُمْ فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ ۖ قَالَ يَا بُشْرَىٰ هَٰذَا غُلَامٌ ۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ (١٩) وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ
دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ (٢٠) وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ أَن
يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ
أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (٢١) وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴾

يوسف: ١ - ٢٢

لغتونه:

(المبين) ځرګنده ښکاره (القصص) کیسې په لغت کي (قصة) پرله پسې اوپه اصطلاح کي په خبره پسي بله خبره چي کیسه ترې جوړه شي اوپه آیت کي راځي: (وقالت لاخته قصیه) یعني دهغه پل پسي واخله اومراددلته له (قصص) څخه هغه اخباردي چي الله پاک موږ ته پخپل عزیزکتاب کي کیسه کړیده (الرؤیا) دخوب لیدلوته وایې اوپه ویښه اوبیداري لیدلوته رؤیت وایې. الوسي لیکي: چي د (رای) حکمي مصدر رؤیا اودسترګولیدلو (بصري) مصدرته رؤیت وایې څکه نومتنبي وایې: (ورؤیاک أحلی فی العیون من الغمض) (١) یعني ستالیدل په رڼوسترګو ترپټوسترګوخوندوردي (یجتبیک) اجتباء غوره کول او اصل یې له (جبیت الیشئ) څخه اخیستل شوی چي حصول او موندلوته وایې (عصبة) ټولۍ ته وایې. فرآء وایې: چي معنایې ترلسو کسانو زیات کسان اوعصابة هم دغه شمېرته وایې اویاتردې زیاتوکسانوته (أطرحوه) ویې غورځوئ (غیابة الجب) دکوهي تل او څکه یې غیابة بولي چي له سترګوڅخه پناه دی (یرتع) پرېمانه خواړه (خوندور) خواړه خوړل. راغب وایې: چي رتع په حقیقت چي دچارپایانوخوړلوته وایې اوهله دانسانانو لپاره استعاره راوړل کېږي کله چي دېرخوراک ځیني مقصد وي.

(١) روح المعاني ١٢/ ١٧٩.

خنساء ويلي دي: ترتع مارتعت حتى اذاذكرت * فانماهي اقبال وادبار(١) (السيارة) مسافرين (سولت) ښايسته كړي دي (واردهم) هغه چي اوبه لټوي ترڅو خلګ ورباندي اوبه كړي.

دنزول سبب:

روايت كېږي چي يهودانو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل چي ديوسف عليه السلام اودهغه دورونو ترمينځ چي څه پېښ شوي په دې هكله دي ورته كيسه وكړي نو الله جل جلاله داآيتونه نازل كړل چي دغه سورت ورباندي مشتمل دى

تفسير:

﴿ الٓر ﴾ دغه دقرآنكريم اعجاز ته اشاره ده څكه له دغو تورو څخه دقرآنكريم آيتونه جوړشوي خو بياهم معجزدي بل څوک دداسي كلام دجوړولو توان نلري ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴾ (داآيتونه دي دڅرګند كتاب) يعني دغه آيتونه چي پرتانازل شوي اې محمده! دادمعجز كتاب آيتونه دي هغه چي دلائل اوحجج يې څرګند، معناګاني يې خورا روښانه، حقائق يې له ورايه ښكاره اودقائق يې نه پټېدونكي دي ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ بېشكه موږ نازل كړى دى داكتاب پداسي حال كي چي قرآن عربي دى دپاره ددې چي تاسي پوه شئ (چي دغه معجز كتاب دبشر له لوري نه بلكه دمقتدر الله كلام دى چي دهغه رب العالمين له خوا دوحى په توګه رانازلېږي ﴿ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ ٱلْقَصَصِ ﴾ (موږ لولوپرتا باندي ډېره ښه كيسه) يعني اې محمده! موږتاته دتېرو امتونو اخبار په رښتوني كلام كي در اوروو چي نهايت أحسن بيان دى ﴿ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ ﴾ په سبب دوحى زموږ تاته دغه قرآن (معجز) ﴿ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴾ اوبېشكه شان دادى چي وې ته پخوا(له نزوله) ددې قرآن خامخاله ناخبرانو(ندى اورېدلى وو اوندى لوستلى څكه چي ستاليک اولوست نه وو﴿ إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّى رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِى سَٰجِدِينَ ﴾ (يادكړه هغه وخت چي وويل: يوسف خپل پلار(يعقوب) ته اې پلاره زما ابېشكه ماوليدل (په خوب) كي يوولس ستوري اولمر اوسپوږمۍ چي ماته سجده كونكي وو) له همدې ځايه كيسه پيلېدونكي ده. ابن عباس رضى الله عنهما وايي: چي په دوى كي دخوب ليدل دوحى په ډول وو(٢) مفسرين كرام وايي: چي يوولس ستوري يې يوولس ورونه اولمر، سپوږمۍ يې مور اوپلار وو اوپدې وخت كي دحضرت يوسف عليه السلام عمر دوولس كاله وو اوددې خوب اوهغه ملګرتوب ترمينځ چي بياله خپل پلار او ورونوسره په مصر كي يوځاى شو څلوېښت كاله موده وه(٣)﴿ قَالَ يَٰبُنَىَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ ﴾ وويل: (يعقوب) اې زويكيه زمامه بيانوه خوب خپل ورونو خپلوته ﴿ فَيَكِيدُوا۟ لَكَ كَيْدًا ﴾ نو(ستره) حيله به وكړي دوى (دهلاک

(١)خنساء دهغي غواپه هكله وايي چي زوى (خوسى) يې ورک وي كله چي هغه يې هېروي نوخوراک زيات په خوندكوي او چي وريه يادشي مخ اوشاته لاړه شي دامثال هغې دخپل ورورصخر دبېلتون په وخت كي راوړى دى.

(٢)الطبري١٢/١٥١

(٣)الصاوي على الجلالين٢/٢٣٤

تاته په حیله کولو سره (چي ته به يې مخنيوى نشې کولاى) ﴿ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ بېشکه چي شيطان انسان ته ښکاره دښمن دى ؛ ابو حيان وايې : چي يعقوب عليه السلام ديوسف عليه السلام له خوب څخه پدې وپوهېدو چي الله پاک به يوسف عليه السلام ته نبوت ورکړي په حکمت به يې ونازوي او دوارينو شرافت به ورپه برخه کړي نو دهغه دورونو له حسد او کينې څخه ورباندي ووېرېدو او بيايې هغه دخوب له څرګندولو څخه منع کړ(١) ﴿ وَكَذَٰلِكَ يَجۡتَبِيكَ رَبُّكَ ﴾ او همداسي (چي دغه خوب يې درولید) غوره به کړي تا رب ستا ﴿ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِ ﴾ وبه ښيې تاته له تعبيرونو څخه ﴿ وَيُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعۡقُوبَ ﴾ او پوره به کړي نعمت خپل پرتا او پر (نوري) کورنۍ ديعقوب ﴿ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ مِن قَبۡلُ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَۚ ﴾ لکه چي پوره کړى يې دى دانعمت پر دوو پلرونو ستا (نيکه او ورنيکه) پخوا له تانه چي ابراهيم دى او اسحاق دى ﴿ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ بېشکه چي رب ستا ښه عالم دى (په هغه چاچي دفضل ورډى) ښه حکمت والادى (دخلګو داموروپه تدبير سره) ﴿ لَّقَدۡ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٌ لِّلسَّآئِلِينَ ﴾ خامخا په تحقيق چي وو په (کيسې د) يوسف او دده په (١١) ورونو کي دلائل د(قدرت دالله) لپاره دپوښتونکو ﴿ إِذۡ قَالُواْ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا ﴾ يادکړه هغه وخت چي وويل : دغو (ورونو يو بل ته) خامخا يوسف او ورور يې (بنيامين) ډېر ګران دي پلار زموږ ته له موږنه) دغه لومړنى محنت دى چي يوسف عليه السلام ته پېښېږي ورونو يې داسي وپتېيله چي دپلار مينه له دوى دواړو سره ډېرخي حقيقت دى او چي ورورېې هم ورسره يادکړ څکه چي ددوى دواړو مور يوه وه هسي خودوى تول دپلار له خوا سره ورونه وو ﴿ وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ ﴾ حال داچي موږ قوتناکه ډله يو (په ګټه او تاوان برېو نو دميني مستحق خو موږيو، نه داماشومان) ﴿ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴾ بېشکه پلار زموږ خامخا په ښکاره خطاکي دى (چي يوسف او ورور يې ترموږ پرځان باندي ګران کړي دي . قرطبي وايې : چي ددوى داإراده نه وه چي پلار يې په دين کي ګمراه ګڼي څکه که يې دغه اراده واى نو به کافران شوي وو خوددوى مقصد داوو چي پلار يې پدې کي خطادى چي دوه واړه ماشومان ترلسو تنو غوره ګڼي(٢) ﴿ ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا ﴾ (پردې خبره يې سره تړون وکړچي :) ووژنئ يوسف ، ياوغورځوئ هغه په کومي ځمکي (ليري) کي ﴿ يَخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ ﴾ چي وږګارشي تاسي ته مخ دپلار ستاسي يعني تاسو ته يې توجه شي . امام رازي فرمايې : چي معنايې داده چي يوسف هغه له موږ څخه مشغول کړى او دپلار توجه يې جلبه کړي ده که چېري هغه ورک شي نو به يې موږ ته ... نه . ميلان پيداشي (٣) ﴿ وَتَكُونُواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ ﴾ (اوشئ به تاسي وروسته له دې (کاره) يو قوم صالحان) يعني وروسته له دې ګناه به توبه ګارشئ او بيا به نېکان شئ ﴿ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ ﴾ (وويل يوه ويونکي له دوى څخه چي مه وژنئ يوسف (بلکه) وغورځوئ هغه په بېخ د(کوهي کي) دوى ته ددوى

---

(١) البحر ٥ / ٢٨٠
(٢) القرطبي ٩ / ١٣١
(٣) الرازي ١٨ / ٩٤

ورور يهودا (١) وويل هغه چي ديعقوب عليه السلام دزامنو مشروو ﴿ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴾ چي وايې خلي ځيني تېرېدونكي دلاري (مسافرين) كه يې تاسي كونكي ددې كارچي دهغه بېلتون دى دده رايه نرېتولو رايه آسانه وه ﴿ قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَ۫نَّا عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ نو وويل دوى: اې زموږ پلاره ! تالره څه باعث دى چي موږ پريوسف باندي امين نه گرزوې (چي موږ تول ستازامن يو؟) ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ﴾ (حال داچي بېشكه موږ ده ته خامخانصيحت كونكي يو) يعني موږ پرده شفقت كونكي دده خير خواهان يو . مفسرين وايي: كله چي يې ټينگ عزم اوتكل وكړ نوبيايې دغه خبري وكړې پلارته يې داسي ځرگندونه كوله چي گواكي دوى له يوسف سره خورامينه لري او وربانذي شفقت كونكي دي ترڅوهغه له خپلي رايې څخه رامات كړي لكه چي دوى هسي ويل چي ته ولي له موږ څخه وېرېږي ؟ موږ له يوسف سره محبت لرو او ورته خير غواړو !! ﴿ أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ ﴾ ولېږه دى سباله موږسره (صحراته) چي وخوري دېري مېوې اولوبي وكړي (په سيالي سره) ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ اوبېشكه موږ ده لره خامخا ساتونكي يو (له هره تكليفه اوزيانه دوى خپله وينا په (انّ) او(لام) باندي مؤكده كړه خودوى پدې كي دروغجنان وو) ﴿ قَالَ إِنِّى لَيَحْزُنُنِىٓ أَن تَذْهَبُوا۟ بِهِۦ وَأَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ ٱلذِّئْبُ وَأَنتُمْ عَنْهُ غَٰفِلُونَ ﴾ وويل: (يعقوب دوى ته) بېشكه زه يم چي خامخا غمجن كوي مي داچي بوزئ تاسي يوسف (زه صبرنلرم) اوپدې وېرېږم چي يوسف به لېوه وخوري اوتاسي به له ده نه غافلان ياست داسي معلومېږي لكه چي دوى ته يې دليل ور وښود . زمخشري وايي: چي دوى ته يې دوه څېزونه په عذركي وړاندي كړل يوداچي دهغه دبېلتون توان نلري كه څه هم ديوې شېبې لپاره وي ، بل داچي په هغه باندي وېرېږي چي تاسوبه په لوبو اومالونو ځرولو لگيا ياست ، هغه به لېوه وخوري(٢) ﴿ قَالُوا۟ لَئِنْ أَكَلَهُ ٱلذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّآ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴾ وويل: دوى قسم دى كه وخوري يوسف لره لېوه حال داچي موږ دله قوتناكه (مېړني) يو نوبېشكه موږ پدغه وخت كي له زيانكارانو څخه يو يعني بيادې وړيو چي موږ ته دخسران اوهلاكت بنېرا وكړل شي ﴿ فَلَمَّا ذَهَبُوا۟ بِهِۦ وَأَجْمَعُوٓا۟ أَن يَجْعَلُوهُ فِى غَيَٰبَتِ ٱلْجُبِّ ﴾ (په كلام كي محذوف شته يعني هغه يې ورسره واستاوو) نوكله چي بوتلودوى يوسف لره (ليري له پلاره) اواتفاق يې وكړېدې چي وغورځوي دى په ژور بېخ دكوهي كي ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ او وحى وكړه موږ يوسف ته چي ته به خامخا خبروركړې دوى ته په دې كاردوى حال داچي دوى به نه پوهېږي (چي ته يوسف يې . امام رازي وايي: چي ددغي وحى فائده داده چي ديوسف عليه السلام داډينه وشي اوآرام وموميي غم اووحشت يې له زړه څخه ليري شي چي هغه به له دې محنته ژر وژغورل شي(٣) ﴿ وَجَآءُوٓ أَبَاهُمْ عِشَآءً يَبْكُونَ ﴾ اوراغلل دوى پلارخپل ته بېگاه (دشپې) چي ژړل يې ؛ روايت كېږي كله چي حضرت يعقوب عليه السلام ددوى ژړا واورېده نو وويرېدو او دوى

---

(١) دغه دابن عباس رضى الله عنهما وينا ده اوقتادة وايي چې هغه روبيل وو.

(٢) الكشاف ٢ / ٤٤٨

(٣) الفخرالرازي ١٨-١١٥

ته يې ويل: چې اې زامنو ! څه در وشول او يوسف چېرې دى ؟ ﴿ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُ ﴾ وويل: دوى چې (اې پلاره زموږ بېشكه چې موږ لاړو مسابقه (سيالي) مو سره كوله (يوله بله په منډه سره تېرېدو يا موغشي ويشتل) او پرېښود موږ يوسف په نزد د اسباب (جامو) خپلو (چې ويې ساتي) نو وخوړه ده لره لېوه ﴿ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ ﴾ او نه يې ته باوركونكى موږ لره (پدې خبرې كې) او اګر كه موږ رښتوني يو (په واقعه كې نو څرنګه ته موږ تورنوې او په خبره مو باور نكوې ؟ د دوى دغه وينا د دوى په شكمن كېدلو دلالت كوي او لكه چې ويل كېږي (يكاد المريب يقول خذوني) ځيني خلك بيا دغه متل هسې كوي چې (خائن خائف وى). ﴿ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٖ كَذِبٖۚ ﴾ او راوړه دوى برسېره په كميس د يوسف باندې وينه دروغه) دويني صفت يې په مصدر و فرمايه چې مبالغه افاده كړي لكه چې هغه پخپله عيني دروغ وي. ابن عباس رضى الله عنهما وايي: چې دوى پسه حلال كړ او د يوسف كميس يې د هغه په وينو ولړل او كله چې يعقوب عليه السلام ته راغلل نو هغه ورته وويل: دروغ وايا ست كه په رښتيا هغه ښرمښ (لېوه) خوړلى واى نو به يې كميس څېرلى وو(¹) او روايت كېږي چې حضرت يعقوب عليه السلام وفرمايل: دا څومره هوښيار لېوه هوښيار لېوه دى چې زما زوى يې خوړلى او كميس يې نه دى ور بزه كړى (څېرلى) ﴿ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ ﴾ نو ويل : »(يعقوب عليه السلام چې دا دروغ دي) بلكه ښايسته كړى دى تاسو ته نفسونو ستاسو يو كار (د يوسف په هكله) ﴿ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴾ نو كار زما صبر جميل دى (شكايت نه كوم) او له الله څخه مدد غوښتلى شي په (تحمل د) هغې (خبرې) چې تاسې يې بيانوئ (له دروغو په هلاكت د يوسف كې) ﴿ وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ ﴾ او راغله قافله يعني مسافران پدې لاره راغلل ابن عباس رضى الله عنهما وايي چې يو قوم راغلل چې له مدين څخه د مصر په لوري تلل لاره ځني وركه شوه او په هغه لوري را برابر شول چې هلته يوسف عليه السلام په كوهي كې غورځول شوى وو هغه كوهى چې له آبادې او عمران څخه لېرې په شاړه ځمكه كې واقع وو (²) ﴿ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ ﴾ نو ولېږه دوى اوبه راوړونكى خپل نو خوشې يې كړه سلوا غه خپله (په كوهي كې؛ مفسرين كرام وايي: كله چې اوبه راوړونكي بوكه په كوهي كې وځړوله او يوسف عليه السلام په يو كونج كې ناست وو نو په رسۍ پسې ونښت او له كوهي را بهر شو كله چې دوى د هغه ښايست او جمال وليد بيا ﴿ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٞۚ ﴾ نو ويې ويل: اې خوشحالۍ زما ! (يعني ځان او خپل ټولګي ته يې زېرى وركړ چې :) دا يو هلك دى ډېر ښايسته. ابو السعود وايي چې: ګواكي هغه زېري ته ور نارې كړې چې را حاضر شه خوشحالۍ زما دغه دې وخت دى ځكه چې په دې ستر نعمت باندې بريالى شو(³) ﴿ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ ﴾ (او پټ كړ دوى هغه د تجارت د مال په توګه) يعني د هغه څرنګوالى او چاره يې له خلګو پټه كړه چې په مصر كې يې لكه د سوداګرۍ سامان غوندې وپلوري او د پټوونكو ضمير دلته د اوبه راوړونكي او د هغه د ټولګي لپاره راجع دى ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ

(¹) الطبري. ۱۲/ ۱۷۰
(²) الرازي ۱۸/ ۱۰۵

بِمَا يَعْمَلُونَ ﴾(اوالله ښه عالم په هغه کارونو دی چي دوی کول) يعني الله ته ددوی رازونه ښه معلوم دي اوداچي دوی دیوسف علیه السلام په هکله څه تصمیم لاره ؟ ﴿ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۭ بَخْسٍ دَرَٰهِمَ مَعْدُودَةٍ ﴾ (او وپلوره دوی هغه (یوسف) په پیسونا کارو چي یو څورو پی. شمېرلي شوي وي) دغه دوهم محنت دی چي دغلامی او مریتوب نیمه خواژوند بې په برخه شو یعني دغه کسانو چي دی بې له کوهي راوکیښ په لږو ناکاره پیسو یی وپلوره چي شل درهمه وو لکه چي ابن عباس ﷺ وايي: ﴿ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴾ اوو ودوی په شان د(یوسف کي له بې رغبتیانو ؛ ځکه دوی هغه موندلی وو او ورباندي وېرېدل چي دغه به تښتېدونکی بنده وي او کېدا يشي باداربې ددوی له لاسه بیرته واخلي نو ځکه بې په ډېرو لږو ناکاره پیسو خرڅ کړ ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِى ٱشْتَرَىٰهُ مِن مِّصْرَ لِٱمْرَأَتِهِۦٓ أَكْرِمِى مَثْوَىٰهُ ﴾ او وویل : هغه سړي چي اخیستی بې وو یوسف او وو له (اهله) دمصره خپلي ښځي ته چي په عزت لره ځای ددغه (یوسف اوقدربې کوه) يعني دمصريانو څخه هغه سړي چي دی بې رانیولی خپلي مېرمني ته بې وویل : ددې سړي عزت اوقدرکوه چي له موږ سره اوسي . ابن عباس رضی الله عنه وايي: دنوموړي سړي نوم قطفیر وو اوهغه دمصر(عزیز) وو چي په خزانو گمارل شوی وو(١) ﴿ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا ﴾ ښايې چي موږ ته گټه ورسوي اويا به بې موږ په زویتوب ونیسو (دوی دواړو لره اولادنه کېدو) ﴿ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اوهمداسي (لکه چي له کوهي څخه مونجات ورکړ یوسف ته) ځای اوقدرت مو ورکړ په ځمکه (دمصر) کي (چي واوسي په عزت اوامان کي) ﴿ وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ ۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمْرِهِۦ ﴾ او وښیو موږ یوسف ته له (تعبیرونود)ځینو خوبونو اوالله ښه غالب دی په کارونو خپلو (چي هیڅوک بې عاجز کولای نشي) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (ولیکن زیات خلک پدې نه پوهېږي) يعني دالله دمصنوعاتو په لطائفو اودفضل اومرحمت په رازونو ډېرخلک هډونه پوهېږي ﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ او کله چي ورسېدو یوسف قوت خپل ته (چي دېرش کلن شو) نو موږ ده ته علم اوحکم ورکړ يعني ديني پوهه اوحکمت مو ورباندي ولوراوو ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ همداسي جزا ورکوو نیکو کارانو ته.

بلاغت:

١ - ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ﴾ دلته په بعیدسره اشاره ددې لپاره شوي چي دشان لوړتیااو دمرتبې دکمال په توگه لیري والی وښیي.

٢ - پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيْكَ ﴾ دلته مجمله مرسله تشبیه ده.

(١) الطبري ١٢/ ١٧٥

۳ - ﴿ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ﴾ شریف رضي ددې کلام په هکله لیکي چي دا استعاره ده ځکه چي ستوري، لمر، سپوږمۍ خو (لایعقل) دي قاعده خو داوه چي (ساجدة) یې راوړي وای خو کله چي دوی ته یې دعاقلانو فعل اوکړه وړه ثابت کړل نو ددوی لپاره دعاقلانو صفت هم رواشو ځکه سجده خو دعاقلانو کار دی

۴ - دلته چي فرمایي: ﴿ بِدَمٍ كَذِبٍ ﴾ دوینو صفت خو په کذب سره نه کېږي مراد ځني (دم مکذوب) دي او یا (دم ذي کذب) خو په مصدر سره راوړل یې دمبالغې لپاره دي.

لطیفه:

وایې چي یوې ښځي شریح قاضي ته دعوی وړاندي کړه اوژړل یې نو شعبي شریح ته وویل: اې دا میه پلاره نه وینې چي هغه ژاړي؟! شریح وویل: چي دیوسف ورونه راغلل چي په سرو سترګو یې ژړل خو دوی دروغجنان ظالمان وو نه ښایي چي انسان پر ته له حق څخه په بل څه فیصله وکړي.

تنبیه:

ځیني مفسرینو ویلي: چي دیوسف علیه السلام ورونه نبیان اوپدې یې دلیل نیولی چي دوی اسباط دي چي دالله تعالی پدې قول کې راغلي: ﴿ قُلْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴾ [آل عمران ۸۴] خو سمه خبره داده چي اسباط دیعقوب علیه السلام اولاده نه وو بلکه هغوی قبائل او دیعقوب علیه السلام له ذوذات څخه وو دا د محققینو وینا ده، او که چېري دیوسف علیه السلام ورونه نبیان وای نو داسي ناکاره کارونه به یې نه کول لکه کینه، فساد، شرارت، دقتل اوو ژلو تکل، دروغ ویل، خپل ورور یوسف په کوهي کي غورځول دا ټول هغه کبیره ګناوي دي چي دانبیاوو له عصمت او پاکي سره منافي دي نو څوک چي دوی له هسي کارونو سره سره بیا هم انبیاء ګڼي دغه دعقل غوښتل او منل نه دي پدې هکله دعلامه ابن کثیر وینا چي باریکه اوګټوره ده ولوله.

***

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَرَٰوَدَتْهُ ٱلَّتِى هُوَ فِى بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلْأَبْوَٰبَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ رَبِّىٓ أَحْسَنَ مَثْوَاىَ ۖ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ (۲۳) وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِۦ ۖ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَٰنَ رَبِّهِۦ ۚ كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلْفَحْشَآءَ ۚ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُخْلَصِينَ (۲۴) وَٱسْتَبَقَا ٱلْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلْبَابِ ۚ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۲۵) قَالَ هِىَ رَٰوَدَتْنِى عَن نَّفْسِى ۚ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ (۲۶) وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ (۲۷) فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيْدِكُنَّ ۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ (۲۸) يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ۚ وَٱسْتَغْفِرِى لِذَنۢبِكِ ۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلْخَاطِـِٔينَ (۲۹) ۞ وَقَالَ نِسْوَةٌ فِى

الْمَدِينَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتَاهَا عَن نَّفْسِهِ ۖ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ۖ إِنَّا لَنَرَاهَا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ (٣٠) فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ
أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۖ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ
وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ (٣١) قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ ۖ وَلَقَدْ رَاوَدتُّهُ عَن نَّفْسِهِ
فَاسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ الصَّاغِرِينَ (٣٢) قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۖ
وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ (٣٣) فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ
الْعَلِيمُ (٣٤) ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّن بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّىٰ حِينٍ (٣٥) وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ ۖ قَالَ أَحَدُهُمَا
إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا ۖ وَقَالَ الْآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ۖ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ ۖ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ
الْمُحْسِنِينَ (٣٦) قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا ۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي ۚ إِنِّي تَرَكْتُ
مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ (٣٧) وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۚ مَا كَانَ
لَنَا أَن نُّشْرِكَ بِاللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ مِن فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ (٣٨) يَا صَاحِبَيِ
السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (٣٩) مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ
وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ
النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (٤٠) يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا ۖ وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ
مِن رَّأْسِهِ ۚ قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ (٤١) وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَاهُ
الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ (٤٢) ﴾ يوسف: ٢٣ – ٤٢

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تبارک وتعالی د حضرت یوسف علیه السلام هغه ناز ېدایاده کړه کومه چي په قصرکي يې وړاندي لوړولي وه نو دلته يې د هغه علیه السلام د محنت او ازمويښت کيسه راوړه کوم چي د عزيز مېرمني وړاندي راوستی وو همداسي د يوسف عليه السلام ټينګار، پوخ ايمان، سپېڅلی عفت او پاک لمني چي د داسي ازمويښت په وړاندي يې خپل کړی ترڅو هغه د ځېلخانې منل ترداسي ستري ګناه کولو غوره وبلل او همدا د هغه د سپېڅلتيا ستر دليل او د پاکي لپاره يې بس او کافي ده.

لغتونه:

(راودته) هغې ځانته وغوښت مراودة په کراره غوښتني ته وايې له (راد) (يرود) څخه اخيستل شوی کله چي راشي ولاړشي اوله دې څخه (رائد) هم راغلی چي څرځای معلومونکي ته وايې دسړي په باب ويل کېږي (راودها عن نفسها). او دښځي په باب (راودته عن نفسه) ويل کېږي يعني يو ځای ورسره څملاستل يې ځني وغوښتل (هيت) اسم فعل او معنايې داده ژر راشه ! (مثواى) مقام او د استقرار ځای زما (همت) (هم) د قصد په معنا راځي لکه چي: (وهمت كل امة برسولهم ليأخذوه) (غافر ٥) او د سوچ او خيال په معنا هم راځي چي عزم ورسره

وي نو دعزيز دمېرمني (هم) دعزم اوتصميم خبره وه او ديوسف عليه السلام (هم) يوازي سوچ اوفكروو (السوء) منكر اوفجورته وايي (الفحشآء) هغه چي په بدي کي منتهاته رسېدلی وي مراد ورڅخه زناده (قدت) (قد) څيري والي ته وايي د ډېرځله هغه په طول (اوږدوالي) څيرلو کي راځي او(قط) بيادپسور څيري والي ته وايي (الفيا) وبې موندل (كيدكن) مكراوحيله ستاسي (الخاطئين) په قصدسره ګناه کونکي أصمعي وايي: خطئ الرجل فهوخاطئ كله چي په قصد سره ګناه وکړي اوأخطأ يخطئ كله چي په سهوه اوغلطي سره څني ګناه صادره شي اوقصدیې نه وي (١) (شغفهاحبا) مينه يې زړه ته لوېدلي زجاج وايي: چي شغاف دزړه (نرۍ) پردې (سويدآء القلب) ته وايي (أصب) زه به ميلان وكړم ويل كېږي (صباالى اللهو) كله چي لهوي ته ميلان وكړي.

تفسير:

﴿ وَرَٰوَدَتْهُ ٱلَّتِى هُوَ فِى بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِۦ ﴾ (اوطلب وكړده لره هغې ښځې چي دغه يوسف دهغې په كوركي وو دده له نفسه) دغه دريم محنت اومشقت دازموينې دی چي يوسف عليه السلام وروسته دكوهي له غورځولو او مريتوب څخه ورسره مخامخ كېږي ؛ مراوده هغه په نرمه اوپسته لهجه لكه چي څوک تېرايستونكى په غوره مالي سره يوڅوک غولوي مقصد داچي دعزيز ارتينې له هغه څخه وغوښتل څو ورسره يوځای څملي اوكور والی وكړي اوټولي حيلې يې په كار واچولې ﴿ وَغَلَّقَتِ ٱلۡأَبۡوَٰبَ ﴾ اوكلكي يې پوري كړې ټولي دروازې. قرطبي وايي: چي اوه دروازې وې ټولي يې وتړلې اوبيايې ځان ته راوغوښت (٢) ﴿ وَقَالَتۡ هَيۡتَ لَكَ ﴾ (اوبياوويل: دغي ښځي هله ته ژر راشه زه تالره يم) يعني هله ژر پالنګ ته راشه دوېري كومه خبره نشته. په البحر المحيط كي وايي: چي ده ته يې امر وكړچي ژرځان ورته راورسوي (٣) ﴿ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ ﴾ وويل: يوسف پناه نيسم په الله پوري (له بده كاره) ابوالسعودوايي: چي دغه دې ته اشاره ده چي دغه خورابدكار دی لازمه ده چي له دې كاره څخه الله تعالی ته پناه يوړل شي څوبې وژغوري كله چي الله پاک هغه ته ددې كار دزيات بدوالی ځرګندبرهان اودليل ور وښود (٤) ﴿ إِنَّهُۥ رَبِّىٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَ ﴾ چي بېشكه عزيز مالک زمادی چي ښه يې كړي ده ساتنه زما(عزت يې راكړی نوزه به ولي دهغه په اهل كي خيانت كوم ؟) ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ بېشكه شان دادی چي برى نه مومي ظالمان (چي خپل مطلب ته ورسي اوظالمان هغه خائنان دي چي داحسان بدله په بدي وركوي بياالله تعالی فرمايي چي: دعزيز مېرمني وغوښتل هغه پخپله لومه كي ونښلوي نو دتېرايستلو او اغراء ټولي وسيلې يې په كار واچولې كه الله پاک حضرت يوسف عليه السلام ددې له چلونو څخه ژغورلی نه وای هلاک شوی به وو نويې وفرمايل: ﴿ وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦ ﴾ اوخامخا په تحقيق دې قصد كړی وودغه (يوسف) ته دجماع (هسي تينګ تكل چي هيڅ خيز راګرزولای نشوای غوښتل يې يوسف عليه السلام په زور دې ته اړباسي وروسته له هغه چي دروازې يې وتړلې اوپه تلواره يې ځان ته راوبالو اوهغه مجبورشو چي تېښته غوره كړي ﴿ وَهَمَّ بِهَا ﴾

---

(١) غريب القرآن لابن قتيبة
(٢) القرطبي ٩ / ١٢٣
(٣) البحر٥ / ١٩٣
(٤) ابو السعود٢ / ٧٢

او يوسف به قصد کړی وای دې ښځې ته (دبشري طبيعت دغوښتني له مخي يعني په زړه کي به يې ورګرزېدلي وي چي ددې ښځې رغبت ته غاړه کېږدي دا يوازي طبيعي ميلان چي قصد او عزم ورسره نه وو نو دداړو (همونو) ترمينځ ستر توپير موجود دی (۱) امام رازي وايي چي (هم) په زړه کي ديو څه راګرزېدل او يا طبعي ميلان ته وايه شي لکه چي صائم (روژتي) د دوبي په تکنده غرمه چي يخي اوبه ووينې زړه يې غواړي هغه وڅښي خودين ورته دڅښلو اجازه نه ورکوي (۲) ﴿ لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَـٰنَ رَبِّهِۦ ﴾ که نه وای ليدلی (يوسف عليه السلام) قاطع دليل درب خپل) د (لو) ځواب محذوف دی او هغه داچي که دالله عصمت او ساتنه نه وای نو به يې هغه دزړه سوچ دعمل په ډګرکي پلی کړی وای خوالله جل جلاله وژغوره او هيڅ ګناه هم ځني صادره نشوه . په البحرالمحيط کي وايي : چي ځينو يوسف عليه السلام ته داسي نسبتونه کړي چي دفساقو لپاره هم دغسي نسبت کول نه ښايي هغه چي زما په نزد غوره دي هغه داچي له يوسف عليه السلام څخه د(هم) نفی هم شوي ده ځکه چي برهان يې ليدلی او دغه ويناهسي مثال لري لکه چي ته يوچاته وايې : په ګناه کي به لوېدلی وای که الله پاک ژغورلی نه وای او لکه چي عرب وايي : ته ظالم يې که دي هسي وکړل نودلته هم دغسي تقدير کېږي که چېري يې دالله برهان ليدلی نه وای نو به يې قصد کړی وو وليکن برهان يې وليد او (هم) ځيني نفی شو هغه چي سلفو ځيني اقوال ليکلي نوموړ پدې بازر يو چي له هيچا څخه دداسي ويناوو سم والی او صحت نشته ځکه داد يو بل تکذيب کونکي اقوال دي او د ځيني ملتونو دفاسقانو په باب دغسي ګمان کول صحيح نه دی څه خولادمعصوم پيغمبر په هکله (۳) ابوالسعود وايي : چي ديوسف عليه السلام (هم) دبشري طبيعت دميل په معناوو نه داچي په خپل اختيار يې قصدته وويل شي آيانه وينئ چي دهغه استعصام ددې ګواهي ورکوي چي هغه له داسي ګناه څخه خومره کرکه او نفرت لري چي حکم کوي ظالمان به هيڅکله هم بری ونه مومي او آيادا پرته له دې چي دده په باب دغه ګناه مستحيل وګڼي بل څه کېدای شي ؟ او هغه څوک چي وايي : يوسف عليه السلام هميانی پرانسته او مخ په مخ هغې ته دکوروالي په توګه کېناست دغه چتي ويناوي دي چي عقل او زړه يې نه مني (۴) ﴿ كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ ٱلسُّوٓءَ ﴾ هم داسي (موږ يوسف ساتلی دی په عصمت دپاره ددې چي موږ له ده ځني بداوناكاره فعل وګرځوو) يعني همداسي موږ يوسف عليه السلام ته په پاکي او عفت باندي ثبات ورکړی چي دفتنې او اغراء په وړاندي ټينګار ولري ترڅو چي له ده څخه بداوناکاره کارونه وګرزوو او همدغه آيت پدې قاطع دليل دی چي هغه عليه السلام دګناه قصدلاهم نه دی کړی او که چېري داسي وای لکه چي خلګو ګمان کړی نو به الله تعالی داسي فرمايلي ووچي : لنصرفه عن السوء والفحشاء) يعني خوموږ دی له ګناه څخه وګرزوو او ﴿ لِنَصْرِفَ عَنْهُ ﴾ پدې دلالت کوي چي داهغه ښځه دی چي له ارادې څخه وتلی ، بېرته الله له ده څخه وګرزاوو او دعصمت او عفت موجبات يې ورته برابر کړل ﴿ وَٱلْفَحْشَآءَ ﴾ او چي وګرزوو له ده ځني زنا هغه چي په بدي کي خوراقبيح دی ﴿ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ (بېشکه دغه (يوسف) زموږ له مخلصو بندګانو څخه وو) يعني دهغو بندګانو څخه کوم چي الله

---

(۱) دغه دمشاکلې له ډوله دی يعني په لفظ يوشان خو په معناکي سره ګوښي دي دهغې هم قصد او عزم او دده يوازي طبعي ميلان او چورت وو.
(۲) الفخر الرازي ۱۸ / ۱۱۹
(۳) البحر ۵ / ۲۹۷
(۴) ابوالسعود ۲ / ۶۳

جل جلاله دخپل طاعت لپاره خالص ګرزولي اودوحی اورسالت لپاره یې غوره اوچاڼ کړي وو نوشیطان نشي کولای هغه وښویوي ... بیا الله جل جلاله دهغه نابره پېښې یادونه کوي چې ناڅاپه پداسي حال کې چې دوی دواړو یوله بله په سیالي سره دروازې ته منډې وهلې دهغې مېړه هم راغی اودایې په شهواني لېوتوب کې ولیده

﴿ وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ ﴾ اوسره منډې وهلې دواړو دروازې ته (هغه علیه السلام دتېښتي لپاره اودې دغوښتني لپاره) ﴿ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ ﴾ (اوڅیرې کړ (ښځي) کمیس ددغه (یوسف) دشاله خوا) ځکه هغې وررپسي هڅه کوله دشاله خوایې ترکمیس ونیو اوهغه وشلېدو ﴿ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلۡبَابِۚ ﴾ (اومخامخ شول دوی دواړه دزلیخا له مېړه عزیز سره په دروازه کې) یعني دوی عزیز دقصر په دروازه کې ناڅاپه ولیدو چې بې له خپله وخته راغلی وو اودا ښځې په پوره مهارت چې دابلیس مهارت ته ورته وو یوداسي اوښتون راغی چې ظالم دمظلوم او برئ (بې ګناه) دمتهم (تورن) په بڼه راڅرګند شول ﴿ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ وویل: (زلیخاعزیزته) چې نه ده جزادهغه چاچې ستاپه اهل یې دبدي اراده کړي مګرچې بندي کړی شي، یاعذاب دردناک دی) یعني نه شته جزایایې جزابندیخانه اویاسخت ټکول دي ﴿ قَالَ هِيَ رَٰوَدَتۡنِي عَن نَّفۡسِيۚ ﴾ وویل: (یوسف) همدې غوښتنه وکړه)اوویې ویل: چې همدې زه دزنالپاره غوښتلم نه داچې مابه دبدکاري اراده کړې وي ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۡ أَهۡلِهَآ ﴾ اوشاهدي ورکړه (یوه تی رودونکي) شاهد له اهله ددې. ابن عباس رضی الله عنهماوایې: چې دغه دهغې دمامازوی دزانګوماشوم وو په البحرکې وایې چې داصفت چې شاهد ددې له خپله کوره وو دیوسف لپاره دبرائت دپرښه دلیل اوله تور اوتهمت څخه ښه پاکونکی دی (١) ﴿ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٖ فَصَدَقَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴾ (داسې شاهدي) چې که وو کمیس دده (یوسف) څیرې کړی شوی دمخې له خوانو زلیخا رښتیاوایې اودغه (یوسف) له دروغجنانوڅخه دی ﴿ وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ فَكَذَبَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ اوکه کمیس ددغه (یوسف) څیري کړی شوی دشاله لوري نوزلیخادروغ وایې اودغه (یوسف) له رښتیاویونکوڅخه دی , ځکه چې دعقل او منطق هم دغه رایه ده چې که چېرې (زلیخا) غوښتونکي وي نودشاله لوري به پسې منډې وهي اوکمیس به یې ورڅیرې کړی هغه به ځیني تښتي ﴿ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيۡدِكُنَّۖ إِنَّ كَيۡدَكُنَّ عَظِيمٞ ﴾ نوکله چې ولید (عزیز) کمیس ددغه (یوسف) چې څیري شوی دی دشاله لوري نوو ویل: (عزیز) چې بېشکه دغه یوفریب ستاسوښځو دی بېشکه ستاسوفریب ډېرلوی دی , دغه وروستی ځل د(کیدکن) تکرار دتاکید لپاره راغلی یعني ستاسو له فریب څخه خلاصون سترځیزدی ﴿ يُوسُفُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَاۚ ﴾ اې یوسفه ! واوړه له دې کاره , یعني دغه خبره پټه کړه دزلیخاپټ وساته اوهیچاته مه وایه ! سیدقطب رحمه الله وایې: چې همدلته دجاهلیت د مترقي دموکراتیکي اومدني ټولنې څخه پرده پورته کېږي چې دجنسي فضیحتونوپه وړاندې څرنګه نرم اوپوست دریز غوره کوي اوغواړي چې له نورو خلکو څخه یې پټه کړي نوعزیز یوسف علیه السلام ته مخ را ګرزوي ، ورته وایې: چې دغه دشرم خبره پټه

---

(١) البحر ۵ / ۲۹۷

کړه اوهيچاته بې مه څرګندوه اوبيا خپلي خائني مېرمني ته دداسي کار په کولو چي دسړي درګووينه ايشوي داسي کرار وايي چي: (١) ﴿ وَٱسۡتَغۡفِرِي لِذَنۢبِكِۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلۡخَاطِـِٔينَ ﴾ اومغفرت غواړه ګناه خپلي ته بېشکه چي ته يې له زيانکارانو څخه اولکه چي همدادوی لپاره داهميت وړ وه چي په ظاهري توګه رسوانشي پدې کي دې ته هم اشاره ده چي عزيز چندان غيرت نه درلود چي دهغې څخه يې دخيانت دکسات اخيستلو هڅه ونکړه اونه يې په دې باندي څه پرواوکړه چي څرنګه هغې غوښتل دده پالنګ ته بل څوک دزنا اوفحشاء لپاره وروبولي. ابن کثيروايي: چي د زليخاخاوند ډېرنرم اوپستکی سړی وو اويادا چي هغه يې معذوره وګڼله چي هغې داسي ښايست وليد چي زغم اوصبرتوان يې څني نه کېدو(٢) ﴿ وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ ﴾ او وويل يوڅوښځوپه ښار (دمصر) کي ،چي داپنځه ښځي وې يوه دعزيز دساقي، بله دحاجب ، بله دخباز، څلورمه دآسونواومالونو د پالونکي اوپنځمه دپاچا دجېلخانو يعني دمحبسونو درئيس مېرمن. ابن عباس رضى الله عنهما اونورمفسرين وايي: څرګنده داچي په ټول ښارکي دغه پېښه رسواشوه اوښځي پکي وغږېدې چي: ﴿ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن نَّفۡسِهِۦۖ ﴾ ښځه د عزيز طلب کوي مريی خپل له نفسه دده (مرادخپل) يعني زليخاله خپل مريي څخه غواړي چي ورسره څملي هغه ته زاري کوي چي مرادېې ور ترسره کړي.او هغه تېر باسي ابوحيان وايي: چي دوی پدې تصريح وکړه چي دعزيز ښځه،يعني اضافت يې عزيز ته وکړ داپه بدنامي اورسوايي کي مبالغه ده څکه خلک دمرتبې دخاوندانوخبرونه خاري اوچي دمضارع په صيغه يې ﴿ تُرَٰوِدُ ﴾ وويل دغه داستمرار اوتجدد معنا ورکوي ګواکي دغه يې خوي او همېشه دغه غوښتنه څيني کوي(٣) ﴿ قَدۡ شَغَفَهَا حُبًّاۖ ﴾ په تحقيق څيري کړي ده پرده دزړه ددې له جهته دمحبته (ديوسف) يعني ټنوتلی دی محبت ديوسف په پرده دزړه دزليخاآن تردې چي زړه ته يې ور رسېدلی ﴿ إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴾ بېشکه موږ خامخا وينو زليخا په ګمراهي ښکاره کي (چي دې دمريي مينه غوره کړې ده) ﴿ فَلَمَّا سَمِعَتۡ بِمَكۡرِهِنَّ أَرۡسَلَتۡ إِلَيۡهِنَّ ﴾ (نوکله چي واورېدو (زليخاغيبت) فريب ددوی نو ولېږه (دې څوک) دغو ښځوته) مکر يې څکه وبالو چي دوی په پټه دغه پېغور خپراوو لکه چي فريبګر په پټه جال غوړوي خپل فريب پټوي هغه وو چي دوی يې خپل قصرته راوبللې څو مېلمستياورکړي. مفسرين کرام وايي چي څلوېښت ښځی يی راوبللی چي دغه دمرتبې دخاوندانو (صاحب منصبانو) ښځي وې چي هغه پنځه هم پکې وې چي پخواياد*ي* شوې ﴿ وَأَعۡتَدَتۡ لَهُنَّ مُتَّكَـٔٗا ﴾ اوتيارېي کړل (کښيښېنودل يې) ددوی لپاره بالښتونه(٤) (چي

(١) فی ظلال القرآن ١٢/ ٢٣٢

(٢) مختصرابن کثير ٢/ ٢٤٧

(٣) البحر ٥/ ٣٠١

(٤) شهيد سيد قطب رحمه الله وايي: چي دوی ته يې پخپل قصرکي مېلمستياتياره کړه اوله دې څخه موږپوهېږو چي دوی دلوړي پوړې (طبقې) مېرمني دي هغه چي په مانيوکي مېلمستياته رابلل کېږي اودوی هغه دي چي له داډول نعمتونو څخه برخورداري دي اوداسي ښکاري چي دوی پداسي حال کي خوراک ،څښاک کاووچي ډډې يې لګولي اوهريوې ته څانله چارو کې. ورکړل شوي وه چي دمېوو په غوڅولو کي يې په کارشي له دې ګردوڅخه داسي دعياشي اوسوکالي انځورڅرګندېږي چي دمانيو درلودونکي يې لري پداسي حال کي چي دوی دغوښو په غوڅولو ، يادمېووپه پوچولو لګياوې

دوي پرې واچوي) ﴿ وَءَاتَتْ كُلَّ وَٰحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا ﴾ په کلام کی محذوف شته یعنی دوی ته یی خواړه اومیوې
وړاندی کړی (او وریې کړی هري یوې ښځي ته له دوی نه چړوکی (چي مېوې وربانديې غوڅي (یاوګروي) ﴿ وَقَالَتِ
اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ﴾ (او وویل: (زلیخا یوسف ته) راووزه په دوی) یعني پداسي حال چي دوی دمېو په تراشلو او
غوڅولو بوختي وې چړې یې په لاسونو کي وې چي یوسف علیه السلام ته یې دراوتلو غږ وکړ ددوي په بی خبری
کی هغه راووت او ددوی په مینځ کي تېرشو ﴿ فَلَمَّا رَأَيْنَهُۥٓ أَكْبَرْنَهُۥ ﴾ نوکله چي ولید دوی دغه (یوسف) نو ډېر
لوی ښایسته یې وموند(اوحیراني شوې) ﴿ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ﴾ اوغوڅ یې کړل لاسونه خپل (ناڅاپه له ډېري
حیرانتیاڅخه) ﴿ وَقُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا ﴾ وویل: دوی پاکي ده الله ته (له عجز اونقصانه چي داسي بشر یې
پیداکړی دی) ندی دغه (زلمی) انسان ﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴾ ندی دغه زلمی مګرپرښته ده لویه (له
پرښتوڅخه) یعني دغه هیبنونکی اوحیرانونکی جمال اوښایست خوپه انسانانو کي نه وي ﴿ قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ الَّذِى
لُمْتُنَّنِى فِيهِ ﴾ (نووویل: (زلیخادغوښځوته) داهمغه زلمی دی چي تاسوزه دده (دمیني) په هکله ملامته کړې
وم) پدې وخت کي هغې دغه خبره په ډانګ پېیلي وکړه چي دې وانګېرله چي اوس پردوی باندي بريالۍ شوه
اودبریالیتوب په لهجه یې دوی ته وویل: چي دغه چي تاسو ولید اوله حیراني څخه هیښې شوی هغه کنعاني
مريي دی چي ماته موودده په هکله پېغور راکاوونووګورئ څرنګه دده له لېدلوحیرانی لالهاندی شوئ ﴿ وَلَقَدْ
رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ فَاسْتَعْصَمَ ﴾ اوپه تحقیق سره خامخاطلب کړی وو ماله ده نه نفس دده (مدعاخپله) نوځان یې
وساته (زمامطلب یې سرته ونه رساوو) اوسخت ممانعت یې وکړ زمخشري وایې: چي داستعصام معناپه امتناع
کي مبالغه کول دي اوپه ټینګارسره دځان ژغورلوته وایې (١)﴿ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ
الصَّٰغِرِينَ ﴾ اوقسم دی خامخاکه ونکړي هغه څه چي زه امرکوم ده ته نوخامخابه بندي کړی شي او هرومروبه شي
له ذلیلانو (په بندیخانه کي) قرطبي وایې: چي ددوی په وړاندي یې خپله غوښتنه ورته وړاندي کړه اودحیاپرونی
یې څېري لتارکړ هغه ته یې اخطار ورکړکه چیري ددې مطلب پرځای نکړي نوبه یې بندیخانې ته واستوي هغې
دهیچادملامتیااو پېغور پرواونکړه اودپخوانۍ غوښتني په خلاف چي په پټه اوددې اویوسف علیه السلام
ترمینځ ترسره شوي وه داځل یې برآلا په سپینه ورځ داخبري وکړې (٢)﴿ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَىَّ مِمَّا يَدْعُونَنِىٓ
إِلَيْهِ ﴾ نووویل: (یوسف) اې ربه زما ! بندیخانه مي ترهغه کارچي دوی مي هغه ته وربولي ډېره خوښه ده) یعني
یوسف علیه السلام الله جل جلاله ته پناه یوړه اوپه زارۍ جګۍ یې له الله سره مناجات کاوو چي اې پروردګاره !
تردغه ناولي کارچي دغه ښځي مي وربولي ماته بندیخانه غوره ده دلته یې دوی ټولوته ددغه فعل ددعوت نسبت

نابېره یې یوسف علیه السلام ولید اوهک پک حیراني شوې خپل لاسونه یې په چړوکیو غوڅ اوزخمي کړل. فی ظلال القرآن ۲۳۲/۱۲

(١) الکشاف ۲ / ۴۲۷

(٢) القرطبي ۹ / ۱۹۲

وکړ ځکه چي دوی ګردو ښځو د يوسف عليه السلام په پوهولو ژبي پرانستي وې او يا يې په اشارو کي ده ته نصيحت کړی وو چي د دغي مُحسِني غوښتني دي ومنه او ځان ښلخانې ته مه ورکوه ﴿ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ ﴾ او که ته ونه ګرځوې له ما نه فرېب د دوی نوزه به دوی ته ميلان وکړم) په بشري مقتضا سره ﴿ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ﴾ (او بيا به وګرځم (په سبب د دې ميلان) له جاهلانو څخه) دغه تولي خبرې يې د تضرع او عاجزي په توګه الله ته استغاثه پور ته کوله لکه چي د انبياوو او صالحانو دود او عادت همداسې وي ﴿ فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ﴾ (نو قبوله کړه ده ته رب د ده (دا دعا) نو ويې ګرځاوو له ده څخه فرېب د دوی يعني الله جل جلاله يې دعا ومنله او د ښځو له فرېب څخه يې وژغوره عصمت او عفت يې ور وساتو ﴿ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾
بېشکه الله ښه اورېدونکی ښه عالم دی. الله د التجاکونکو دعا اوري او په نيتونو ، احوالو يې ښه خبردار دی همداسې يوسف عليه السلام د غه د ريمه مرحله د محنت هم تېره کړه چي د الله لطف او ساتني يې ملګرتيا کوله

﴿ ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّن بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّىٰ حِينٍ ﴾ نو بيا ښکاره شو دوی (عزيز او د هغه تابعانو ته) وروسته له هغه چي دوی وليدل دلائل (د پاکي د يوسف) چي خامخا په بنديخانه کي به واچوي هرو مرو دی تر يو وخته پوري (څو چي د خلګو خبري غلي شي) دغه څلورمه او وروستی مرحله د محنت ده چي د يوسف عليه السلام په ژوندانه کي راغي چي د ښلخانې موده ده هرڅه چي له دې په وروسته راغي هغه د خوښی او سوکالی دي يعني کله چي عزيز او خپلوانو ته يې په کوتلي دلائلو دا څرګنده شوه چي يوسف عليه السلام بریٔ دی نو يې داسي مصلحت وکړ چي تر يوې نامعلومي مودې پوري يوسف عليه السلام په ښلخانه کي بندي کړي. روايت کېږي چي کله يوسف عليه السلام د عزيز د ښځي غوښتنه ونه منله او هغه ښځي ځني ناهيلې شوه نو يې په بله پلمه داسي فرېب وړاندي کړ او خپل خاوند ته يې وويل : چي دغه عبراني مريي زه په خلګو کي رسوا کړم خلګو ته وايې : چي ما هغه خپل ځان ته رابللی وي او زه د خپل عذر په وړاندي کولو توان نلرم يا دا چي ته ما ته اجازه راکړه چي بهر راووزم او خلګو ته خپل عذر او پاکي وړاندي کړم ، يا هغه بندي کړه نو دلته عزيز ته د يوسف عليه السلام بندي کېدل مصلحت ښکاره شو. ابن عباس رضیَ الله عنه وايې : چي يوسف عليه السلام يې په خره سپور کړ او ډول نغارې يې وهلې د مصر په کوڅو کي يې داسي جار واهو چي يوسف عبراني مريي د خپلي باداري د حرمت نه ساتلو اراده کړې وه نو د هغه جزا داده چي بندي شي. ابوصالح وايې : چي کله به هم ابن عباس رضی الله عنهما دغه حديث بياناوو ورسره به يې ژړل ﴿ وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ ﴾ او ننه وتل له ده سره په زندان کي دوه ځلميان يعني ناڅاپه دوه تنه نور چي يو د باچا ساقي او بل خباز (ډوډۍ پخوونکی) وو هم پدې تور چي دوی د واړو غوښتل د باچا په خوړو او بو کي زهر واچوي بنديخانې ته راوستل شول ﴿ قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا ﴾ وويل يوه له دوی د واړو (ساقی) بېشکه زه وينم (ځان خپل) په خوب کي چي انګور نچوړم د شرابو لپاره (او باچا ته يې ورڅښم) ﴿ وَقَالَ الْآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ﴾ او وويل بل (خباز)(بېشکه زه وينم (ځان خپل) په خوب کي چي په سر مي ډوډۍ بار کړي وي او خوري مرغان له هغې (ډوډۍ) څخه) يعني په سر مي ډوډۍ پتنوس ايښی او مرغان هغه په مښو کو خوري ﴿ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴾ خبر کړه ته موږ په تعبير د دې بېشکه موږ و نو تا له نيکو کارانو (ښو عالمانو د تعبير د خوبونو) کله چي دوی ته څرګنده شوه چي دی

دخوبونو ښه تعبیرګوی دی نو یې خپل خوبونه ورته وویل ﴿ قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِۦ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا ﴾ وویل: (یوسف) چې لانه به وي راغلي تاسي ته ډوډۍ چې روزي در کولی شي هغه تاسي ته مګرچې خبربه کړم تاسي په (حقیقت ، ماهیت او کیفیت یې) پخواله راتلو (ددې طعام) تاسي ته) دوی ته یې دخپلو معجزاتو په هکله خبرورکړ چې هغه په ناڅرګندوهم پوهېږي ترڅو یې ایمان ته درابللو لپاره توطئه او تمهید اینبی وی. بیضاوي وایې: چې ویې غوښتل دوی توحید ته راوبولي او سم دین ته دعوت ورکړي ترپخواله دې چې ددوی دخوبونو تعبیر وروښیې لکه چې دانبیاوو دود ، اودبلني اولارښووني اسلوب همداسي دی نوځکه یې اخباربالغیب معجزه ورته وړاندي کړه چې په دعوت او تعبیرکي دده رښتنولي وښیې (۱)﴿ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّيٓ ﴾ دا (اخباربالغیب) له هغه علم نه دی چې ماته زمارب ښودلی دی (کهانت او تنجیم نه دی بلکه الهي وحی اوالهام دی ﴿ إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ﴾ (بېشکه ماپرې اینبی دی دین دهغو خلګوچې پرالله ایمان نه راوړي) یعني ددغه علم انعام ځکه زمارب راکړی چې زه دنبوت له کورنۍ سره تعلق لرم اودمشرکانو هغوی چې په الله ایمان نلري دین مې پرې اینبی دی ﴿ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴾ اوحال دا چې دوی په آخرت هم کافران کېدونکي دي. په دوو سترو اصولو یې دوی ته تنبیه ورکړه یو ایمان په الله اوبل دآخرت په ورځې ځکه دغه دواړه ترټولو ستردایمان ارکان دي د ﴿ هُمْ ﴾ لفظ یې دتاکید لپاره مکرر راوړی دی ﴿ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَآءِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ﴾ (اومامتابعت کړی دی د خپلو پلرونو ددین چې ابراهیم ، اسحاق اویعقوب دی) یعني مادنبیانو ددین پیروي کړې دمشرکانو اوګمراهانو لاره مې نه ده غوره کړې مقصدله دې څخه دادی چې هغه دنبوت له خاندان څخه دی ترڅوددوی دواړو رغبت دده دخبرو اورېدلو اوپه هغه باندي باورکولو ته رامات کړي ﴿ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشْرِكَ بِاللَّهِ مِن شَيْءٍ ﴾ نه ښائېږي موږ ته چې شریک ونیسو په الله پوري هیڅ شی یعني موږ انبیاوو ته نه ښایې چې له الله سره شریک ونیسو پداسي حال کي چې په موږ یې دغوراوي انعام پېرزوینه کړي ده ﴿ ذَٰلِكَ مِن فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ ﴾ (دغه ایمان اوتوحید) دالله له فضل څخه دی پرموږباندي اوپرنوروخلګو) یعني دغه دالله توحید اوپه هغه ایمان راوړل دالله فضل پرموږباندي دی چې موږیې په رسالت نازولي یو اوپه خلګو دا فضل شوی چې ددوی دلارښووني اوهدایت لپاره یې ورته انبیاء علیهم السلام رااستولي دي ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴾ اولیکن زیات له خلګو شکرنه کاږي (دالله دفضل نو ورسره شریکان نیسي اوکله چې علیه السلام دخپل سپېڅلي اوحنیف دین یادونه وکړه هغه چې دانبیاوو دین دی نویې دحسن استدلال په ډول ددې زلمیانو ددین غندنه وکړه چې دبتانو عبادت کوي ویې ویل: ﴿ يَٰصَٰحِبَيِ السِّجْنِ ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَٰحِدُ الْقَهَّارُ ﴾ (اې دواړو زماد زندان ملګرو آیاتارپه تارخدایان غوره دي ، که هغه الله غوره دی) چې یودی ډېرقوي ، غالب دی) یعني اې زماد ځېلخانې دوو ملګرو !آیاهغه بې شمېره خدایا ن (بتان) چې نه ګټه رسوي اونه زیان دفع کوي غوره دي که هغه واحد ذوالجلال دعظمت

(۱) البیضاوي ۳۲۴

خاوند پرودګار؟ ﴿ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم ﴾ عبادت نکوئ تاسي غیر له الله مګر د ځونومونه چې نومونه مو ایښي پرهغو تاسي او ستاسي پلرونو, دخدایانو او هغوی د هیڅ څېز توان نلري ځکه جمادات دي ﴿ مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ ﴾ ندی الله نازل کړی په (عبادت د) هغوی کوم برهان حجت سند ﴿ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ ﴾ ندی حکومت د (هیچا)مګر خاص د الله دی یعني دعبادت او دین په هکله له الله پرته دهیچا حکم نه چلېږي ﴿ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ﴾ امرېې کړی دی پدې چې عبادت مکوئ تاسي مګر دهم ده ځکه چې الله دعبادت وړ دی دعظمت او جلال خاوند دی ﴿ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ دا (عبادت دده) دین دی سم (چې هیڅ کږوالی پکې نشته) یعني دا هغه د الله لپاره په عبادت کی اخلاص او سم دین دی کوم چې زه تاسو ورته رابولم ولیکن زیاتره دخلګونه پوهېږي (په عظمت د الله نو دهغه چاعبادت کوي چې نه ضرر دفع کوي اونه هم ګټه رسوي ,په تدریجي توګه علیه السلام پردوی باندي دلیل راوړچې لومړی یې دتوحید ښېګړي وریه ګوته کړې اوبیایې دا دلیل ورته ووایو چې هغه چې دوی یې دخدایانو په نامه پیژنی او عبادت یې کوي دالوهیت او عبادت مستحق نه دي اوبیا یې ورته صراحتا وویل: چې دغه دین چې حق او سم دي د واحد الاحداو فردالصمد ذات عبادت دی چې دالهي دعوت دغه ډول ته اسلوب حکیم ویلی شوچې لومړی یې هدایت اوارشاد وروسته یې پند اونصیحت وړاندي کړ اوله دې وروسته یې دخوبونو دتعبیرپه هکله ورته داسي وویل: ﴿ يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ ﴾ اې زمادبندیخانې دوارو ملګرو ! هرڅه یوله تاسي دوارو (چې دباچاساقي دی) نو وبه څښوي بادارخپل ته شراب (لکه دیخواپه شان) ﴿ وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ ﴾ اوهرچې دابل (دباچاډوډۍ پخونکی دی) نو په داربه شي نوبه مرغان خوري غوښې له سره دده) روایت کېږي کله چې یې دوی دواړوته دغه خبر وړ واورول نو دواړه منکرشول چې هیڅ موپه خوب نه دي لیدلي نو علیه السلام ورته وفرمایل: ﴿ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِي فِيهِ تَسۡتَفۡتِيَانِ ﴾ (فیصله شوی دی هغه کارچې دهغه (په هکله) تاسي فتواغوښتله له ماڅخه) یعني که رښتیا وایاست ، که دروغ همداسي ارو مروکېدونکي دي ﴿ وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٖ مِّنۡهُمَا ٱذۡكُرۡنِي عِندَ رَبِّكَ ﴾ نو وویل: یوسف هغه یوه ته چې یقین درلودچې بېشکه دی خلاصېدونکی دی (چې ساقي وو) یادکړه (مظلومیت زما) په نزد دمالک ستا (ښایې چې زماد خلاصون امر وفرمایې زمادمظلومیت په سبب ﴿ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ ذِكۡرَ رَبِّهِۦ ﴾ نوهېرکړل ترې شیطان یادول دیوسف هغه بادار خپل ته ﴿ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجۡنِ بِضۡعَ سِنِينَ ﴾ (نوپاتي شویوسف په بندیخانه کي څوکاله) یعني اوه کاله مفسرین کرام وایې: چې یوسف علیه السلام په بندیخانه کي دپاتي کېدلو سبب داوو چې هغه په مخلوق باندي اعتماد وکړاو دایې هېرکړل چې خالق تعالی ته خپل حاجت وړاندي کړي. قرطبي وایې: چې وهب بن منبه وایې: چې حضرت ایوب علیه السلام هم اوه کاله درنځ په ازموینت کي راغلی اویوسف علیه السلام هم اوه کاله بندي وو.

بلاغت:

۱- د ﴿فَصَدَقَتْ﴾ او ﴿فَكَذَبَتْ﴾ او ﴿ٱلصَّـٰدِقِينَ﴾ او ﴿ٱلْكَـٰذِبِينَ﴾ ترمينځ دطباق صنعت دی اوهغه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۲- پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿مِنَ ٱلْخَاطِـِٔينَ﴾ دلته يې ذکورپه أناثو باندې غالب ګڼلي دي.

۳- ﴿سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ﴾ مکريې دغيبت لپاره څکه استعاره کړی چې دواړه په پټېدلو کې سره مشابه دي.

۴- کله چې فرمايي: ﴿وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ﴾ پدې کې هم استعاره ده اوغوڅول دلاسونو يې له پرهارونو څخه استعاره کړي دي.

۵- د ﴿أَعْصِرُ خَمْرًا﴾ په کلام کې مجازمرسل صنعت دی اودمايؤل په اعتبارسره چې زه نچوړم انګور چې شراب ترې جوړشي راغلی دی.

فائده:

روايت کېږي چې حضرت جبريل عليه السلام حضرت يوسف عليه السلام ته بنديخانې ته حاضرشو (دعتاب په توګه) يې ورته وويل: چې اې يوسفه! د ورونو له قتل څخه چا وژغورلې؟ ويل يې (الله تعالی) ويل يې چاله کوهي څخه راوايستلې؟ ويل يې الله (تبارک وتعالی) ورته ويل يې چا له فحش کاره وژغورلې؟ ويل يې الله تعالی): ورته ويل يې دښځوفريب چا درڅخه ليرې کړ؟ ويل يې الله (سبحانه وتعالی) نو ورته ويل يې څرنګه دې له الله څخه دخلاصون غوښتنه ونکړه اوپه مخلوق دې اعتباروکړ!؟ نويوسف عليه السلام وويل: اې پروردګاره! دايوه خبره دښوئېدلو راڅخه صادره شوه له تاڅخه اې دابراهيم عليه السلام اوشيخ يعقوب عليه السلام پروردګاره اومعبوده! سوال کوم چې په ماورحمېږې! نوجبريل عليه السلام ورته وويل: ستاسزاداده چې څوکاله په بنديخانه کې تېرکړې(۱)

تنبيه:

علماء کرام دالله جل جلاله ددې وينا په باب چې فرمايي: ﴿وَٱسْتَبَقَا ٱلْبَابَ﴾ کې داسې وايي: چې دغه دقرآنکريم دمعجز اختصارڅخه ګڼل کېږي چې ډېري معناګانې په لږو الفاظو کې راغونډې کړې اوداپدې چې کله هغې ورڅخه دخپل مراد غوښتنه وکړه اوهغه انکار وکړنو ددروازې په لوري دواړو منډه واخيسته دې ددې لپاره چې هغه راوګرزوي اوهغه دخلاصون اوتېښتې هڅه دغه ټول قرآنکريم پدې بليغ عبارت سره چې (واستبقاالباب) دی اداکړل.

د(همّ) دتفسيرپه باب دځينو مفسرينو تېروتنې او (شطحات)

دځينومفسرينو قلمونه کاره شوي، پښې يې ښوئېدلې چې ليکلي يې دي: يوسف عليه السلام هغې ته دناولې کار(هم) قصدوکړ اوډېرو تفسيرکتابونه په اسرائيلي رواياتوډک شوي دي هغه چې باطل اوناکاره روايات

(۱) القرطبي ۹/ ۱۹۲

يې د(برهان) او(هم)په باب راغونډ کړي دي آن تردې چې ځينو ګمان کړی چې يوسف عليه السلام د پرتوګ وانښ پرانيستلی او هغې ته مخامخ کښښستلی دی او بيايې د خپل پلار انځور ليدلی چې د قهر ګوته يې په غاښ چيچله نو بيايې هغه خوشي کړې او له شرمه راپاڅېدلی دی او داسې نور ناسم روايات چې بند او سربند نلري ، زه نه پوهېږم چې دغه روايتونو څرنګه د تفسير کتابونو ته لاره موندلې ده او ځينو هغه د ښې خبرې په توګه منلې خو دغه ټول لکه چې علامة ابوالسعود خُرافات او أباطيل بللی دي چې عقل يې نه مني او غوږونه يې نه اوري بيا څرنګه له دغو مفسرينو څخه داورکه شوي چې يوسف عليه السلام صديق، کريم نبي او د بل کريم نبي زوی دی او دا چې عصمت د انبياوو عليهم السلام له صفاتو څخه وي. اې خلګو ! سوچ وکړئ ، عقل د روړاندې کړئ دغه کتابونه له داسې چټي او ناکاره رواياتو څخه ومينځئ ؛ زنا خو تر ټولو ګناهونو بدتره ګناه ده څرنګه به يو پيغمبر چې له مکرمينو انبياوو څخه دی زنا ته زړه ښه کړي ؟ او دادی چې زه يو ازې له کتاب الله څخه لس دلائل د دې عليه السلام په عصمت کې وړاندې کوم:

لومړی: دا چې سخت ممانعت يې کړی او پخپل ټول توان سره يې په وړاندې دريدلی چې الله تعالی فرمايي:
﴿قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ﴾ ..

دوهم: د هغه تېښته وروسته له دې چې هغې ټولې دروازې کلکې پورې کړې او لارې يې وربندې وتړلې الله تعالی فرمايي: ﴿وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ﴾.

دريم: دا چې بنديخانه يې تر زنا غوره کړه چې: ﴿قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ﴾.

څلورم: د الله تعالی ثنا او ستاينه چې د هغه څخه يې په ډېرو ځايونو کې راوړې لکه: ﴿إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ﴾ ﴿ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ﴾ نو آيا هغه الله جل جلاله ته مخلص به چېرې هم د زنا قصد وکړي ؟!

پنځم: د ورکوټي ماشوم شاهدي چې د ده په پاکي يې وويله کوټلی دليل دی چې ﴿وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۡ أَهۡلِهَآ﴾ د آيت تر پايه.

شپږم: د عزيز د ارتينې اعتراف چې حضرت يوسف پاک او عفيف دی چې وايي: ﴿وَلَقَدۡ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ فَٱسۡتَعۡصَمَۖ﴾.

اووم: خپل پروردګار ته پناه وروړل او مناجات وړاندې کول ترڅو يې د ښځو له فرېب څخه وساتي چې الله فرمايي: ﴿فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنۡهُ كَيۡدَهُنَّۚ﴾.

اتم: د څرګندو دلائلو او ښکاره علامو او نښو چې د ده برائت ښکاره کوي دا دی چې ځېلخانې ته يې واچاوو چې د خلکو خبرې ورکې شي ﴿ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ﴾.

نهم: تر هغو پورې له بنديخانې څخه نه راووتل ترڅو چې برائت يې تثبيت شوی نه وي لکه چې فرمايي:
﴿ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ﴾.

لسم: دعزيز دمېرمني او نوروښځوبربنداعتراف چي يوسف عليه السلام برئ دی ﴿ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْـَٰٔنَ حَصْحَصَ ٱلْحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ اوپدې کي دهغه په عفت اوسپېڅلتيا باندي بېشکه دليل اوبرهان موجوددی. والله يقول الحق وهويهدی السبيل.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَقَالَ ٱلْمَلِكُ إِنِّىٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ
يَابِسَٰتٍ ۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ أَفْتُونِى فِى رُءْيَٰىَ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾ قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ
بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ ٱلَّذِى نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾ يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِى
سَبْعِ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ لَّعَلِّىٓ أَرْجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ
يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِى سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ
سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾
وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِى بِهِۦ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ ٱلنِّسْوَةِ ٱلَّٰتِى قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ إِنَّ رَبِّى
بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ ﴿٥٠﴾ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ قُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِن سُوٓءٍ ۚ قَالَتِ
ٱمْرَأَتُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْـَٰٔنَ حَصْحَصَ ٱلْحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٥١﴾ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّى لَمْ أَخُنْهُ بِٱلْغَيْبِ وَأَنَّ
ٱللَّهَ لَا يَهْدِى كَيْدَ ٱلْخَآئِنِينَ ﴿٥٢﴾ ۞ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِىٓ ۚ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّىٓ ۚ إِنَّ رَبِّى غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٣﴾
وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِى بِهِۦٓ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِى ۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ﴿٥٤﴾ قَالَ ٱجْعَلْنِى عَلَىٰ خَزَآئِنِ
ٱلْأَرْضِ ۖ إِنِّى حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴿٥٥﴾ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ۚ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ
وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾ وَلَأَجْرُ ٱلْـَٔاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٥٧﴾ وَجَآءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا۟
عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ قَالَ ٱئْتُونِى بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ ۚ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّىٓ أُوفِى ٱلْكَيْلَ
وَأَنَا۠ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾ فَإِن لَّمْ تَأْتُونِى بِهِۦ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِى وَلَا تَقْرَبُونِ ﴿٦٠﴾ قَالُوا۟ سَنُرَٰوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ
﴿٦١﴾ وَقَالَ لِفِتْيَٰنِهِ ٱجْعَلُوا۟ بِضَٰعَتَهُمْ فِى رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٦٢﴾ فَلَمَّا
رَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيهِمْ قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلْكَيْلُ فَأَرْسِلْ مَعَنَآ أَخَانَا نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلْ
ءَامَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمْ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ۖ فَٱللَّهُ خَيْرٌ حَٰفِظًا ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَمَّا فَتَحُوا۟
مَتَٰعَهُمْ وَجَدُوا۟ بِضَٰعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ ۖ قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبْغِى ۖ هَٰذِهِۦ بِضَٰعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا ۖ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ
أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ۖ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴿٦٥﴾

أَن يُحَاطَ بِكُمْ فَلَمَّآ ءَاتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿۶۶﴾ وَقَالَ يَٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُواْ مِنۢ بَابٍ وَٰحِدٍ وَٱدْخُلُواْ مِنْ أَبْوَٰبٍ مُّتَفَرِّقَةٍ وَمَآ أُغْنِي عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيْءٍ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿۶۷﴾ وَلَمَّا دَخَلُواْ مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغْنِي عَنْهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَىٰهَا وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَٰهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۶۸﴾ يوسف: ۴۳ ـ ۶۸

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تبارک وتعالی وغوښتل چې یوسف علیه السلام له بندیخانې څخه آزاد کړي نو د مصر باچا عجیبه غوندې خوبونه ولیدل چې هغه یې ووېراوو نوېې کاهنان او منجمان راوغوښتل، خپل خوبونه یې ورته وراندې کړل چې تعبیر یې وکړئ خو الله ﷻ دوی ټول عاجز کړل او په تعبیر کولو یې و نه توانېدل ترڅو دیوسف علیه السلام دخلاصون سبب شي.

لغتونه:

(عجاف) ډنګر او کمزوري ښځینه عجفاء راځي (تعبرون) دخوبونو تعبیرونه تاسو کوئ (أضغاث) دضغث جمع هغه یوه ګېډۍ واښه بولي چې وچ اولامده سره ګډ وي (أحلام) هغه خوبونه چې ویده سړی یې ویني او معنایې داچې حق او باطل پکې خلط ملط شوي وي (اذکر) له هېرې وروسته ورپه یاد ېدل (دأبا) په یو شي باندي تل ترتله پاتي کېدل ویل کېږي: (دأب علی علمه) یعني پخپل علم یې استمرار کړی دی (تحصنون) تاسو ساتئ او ذخیره کوئ یې (حصحص) څرګند شو (مکین) دسترې مرتبې خاوند (رحالهم) د (رحل) جمع او هغه دمرکب په شا پېتې ته وایې (نمیر) یعني موږ به ورته خوراک راوړو (یحاط بکم) یعني چې ټول هلاک شئ تاسی.

تفسیر:

﴿ وَقَالَ ٱلْمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ ﴾ وویل (دمصر) باچا (ریان) بېشکه ما ولیدلې په خوب کې اوه څربې غواوې (چې له وچې ویالې رابهرشوې) چې خورې داڅربې اوو نورو خوارو غواوو لره) یعني کله چې داڅربې غواوې رابهرشوې ورپسې اوه نورې ډنګرې خوارې غواوې چې زښته کمزورې وې راغلې نو دغو څربو چاغو غواوو هغه ډنګرې ترستوني تېرې کړې ﴿ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ ﴾ (او (بیا مې ولیدل) اوه شنه وږي او نور اوه وچ وږي) یعني همداسې پاتې خوب مې اوه زرغونه وږي چې داني یې پخې شوې وې ولیدل چې اوه نور رېبل شوي وږي وچ کلک په همدې زرغونو باندې را تاو شول او هغه یې وخوړل ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُءْيَٰيَ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ﴾ اې ډلې دمشرانو! تعبیر راکړئ تاسې ټول ماته پدې خوب زما کې که یې تاسې چې دخوب (ښه) تعبیر کولای شئ (او په معنایې پوهېږئ)؟

﴿ قَالُوٓاْ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ﴾ نو وویل: دغو اشرافو (دولتي درباریانو) داګډ وډ خوبونه دي (چې حقیقت نلري) ضحاک وایې: چې معنایې دروغجن خوبونه ﴿ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴾ او نه یو موږ پوهېدونکي په

تعبير دخوشي (دروغجنو) خوبونو باندي(١) ﴿وَقَالَ ٱلَّذِى نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ﴾ او وويل: هغه سړي چي
خلاص شوی وو له هغو دواړو (چي ساقي وو) اوپه يادېې شو يوسف وروسته له ډېري مودې ﴿أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم
بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ﴾ چي زه به تاسي ددې په تعبير خبر کړم نو تاسي ما ولېږئ: دغه يې باچاته د تعظيم په توګه وويل
ابن عباس رضى الله عنهما وايې: چي څېلخانه په ښارکي دننه نه وه څکه يې وويل چي ما واستوئ(٢) ﴿يُوسُفُ
أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ﴾ اې يوسفه ! اې ډېره رښتوني ! په کلام کي محذوف راغلی اوپه هغه باندي دکلام سياق دلالت
کوي هغه داچي ساقي يې يوسف عليه السلام ته ورولېږه اوچي وړورسېدو نويې ورته وويل: اې يوسفه اې ډېره
رښتونيه ! څکه يې رښتونی وبالو چي ده له پخوالا دهغه رښتنولي دخوبونو په هکله ازموېلي وه صديق په صدق
کي مبالغه ده ﴿أَفْتِنَا فِى سَبْعِ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ﴾
فتوا راکړه موږ ته په اوو څربو غواووکي چي وخوري دې څربولره اوه خواري غواوي اوپه اوو وږو شنو او اوو
وچو کي (چي له شنو چاپېروي) يعني ددغه عجيبه خوب تعبير راکړه ﴿لَّعَلِّىٓ أَرْجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ﴾
ښايې چي زه بيرته لاړشم خلګوته (چي پاچا اودرباريان دی) دپاره ددې چي دوې پوه شي (ستا فضل اوعلم ورته
څرګند شي اوله دې څېلخانې دي خلاص کړي. امام فخر رازي وايې: چي دغه جمله چي ويې ويل: ﴿لَّعَلِّىٓ أَرْجِعُ إِلَى
ٱلنَّاسِ﴾ څکه يې زياته کړه چي هغه وپوهېدو چي ټول خلګ ددې خوب له تعبير څخه عاجزشوي نوېدې
ويرېدو چي مبادا (يوسف عليه السلام) به هم ترې عاجزه وي(٣) ﴿قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا﴾ وويل: (يوسف)
چي کرئ به تاسي اوه کاله پرله پسې، په ډېر زيار او کوښښ ﴿فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِى سُنۢبُلِهِۦٓ﴾ نو هرهغه چي
وربېل تاسي نوپرېږدئ هغه غله په وږي خپل کي (چي چينجي ياخوګی يې ونکړي) ﴿إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تَأْكُلُونَ﴾
مګرلږشاني له هغه چي تاسي يې خورئ (نوهغه ترې پاک اوميده کړئ اونور په وږوکي پرېږدئ) ﴿ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ
ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ﴾ بيابه راشي وروسته له دغو (اووکلونو ودانو) اوه نور کلونه سخت (دکاختي) ﴿يَأْكُلْنَ مَا
قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ﴾ چي وبه خورئ تاسي هغه غلې چي ذخيره کړې مو وي ددی کلونو لپاره (په ودانو کلونو کی) ﴿إِلَّا
قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ﴾ مګرلږشاني هغه چي تاسي يې (تخم ته) ساتئ ﴿ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ
وَفِيهِ يَعْصِرُونَ﴾ بيابه راشي وروسته له دې (کلونو دکاختي) يوکال چي په هغه کي به ډېرباران نه وي خلګوته
اوپدې کي به ونښتېښي خلګ (مېوې اوغوړي داني) زمخشري وايې چي عليه السلام
دڅربوغواواوشنووږوتعبيرپه ودانوکلونو اودخوارو غواوو وچو وږوتعبيرېې په کاختي کالونو وفرمايه

(١) چابياويلي چي معناداچي موږ له سره دخوبونو په تعبيرنه پوهېږو
(٢) الطبري ١٢ / ٢٢٩
(٣) الرازي ١٨ / ١٤٩

اوبیایې ددې زېرې ورکړچي له دې وروسته اتم کال به بیامبارک اوودان وي پرېمانه نعمتونه به پکي را واوري دغه خبره هغه ته په وحی معلومه شوي وه (١)﴿ وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِي بِهِۦ ﴾ (او وویل: باچاتاسي ماته دغه (یوسف) راولئ)یعني کله چي ساقي باچاته راستون شو اودیوسف علیه السلام تعبیرېي وروا واو نود باچا بېخي خوښ شو او ویې ویل: هغه ماته راولئ چي زه یې پخپله ځني واورم او هغه ووینم ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ ٱلنِّسْوَةِ ٱلَّٰتِى قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ﴾ نوکله چي راغی دغه (یوسف ته) استازی (دباچا) وویل: (یوسف) چي بیرته لاړ شه ا بادار خپل ته نو پوښتنه وکړه ته له ده نه چي دهغو ښځو چي غوڅ کړي یې وو لاسونه خپل څه حال وو ؟یعني دهغوښځو له کیسې څخه یې وپوښته چي آیا دهغوی حال ورته معلوم دی ؟آیا پوهېږي چي زه ولي بندي شوی یم او پرما ددوی په سبب ظلم شوی دی ؟یوسف علیه السلام له بندیخانې څخه ترڅویې له دغه ناولي تهمت څخه لمن پاکه شوي نه وي دراوتلو اعتصاب وکړ اوداچي ټول خلک وپوهېږي هغه بېګناه بندي شوی دی ﴿ إِنَّ رَبِّى بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ ﴾ بېشکه رب زما په فرېبونو ددوی ښه خبرداردی (هغه په ټولو پټو امورو اوددوی په مکرونو ښه خبردی)﴿ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِۦ ﴾ وویل: باچا(هغوښځوته) چي ستاسوحال څه وو چي تاسي طلب کړ یوسف له نفس دده څخه (مراد خپل) یعني ستاسو هغه ستره پېښه څرنګه وه کله چي یوسف مو ناولي کار(زنا) ته راوبالو(٢)؟ (دعزیز مېرمن هم ورسره ملګري راوستل شوه). دوی وویل :

﴿ قُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِن سُوٓءٍ ﴾ وویل: ټولوښځو پاکي ده الله ته نه یو پوهېدلي موږ په دغه یوسف باندي له هیڅ بدي نه) یعني معاذالله چي یوسف دي چاته په بده سترګه کتلي وي دغه دیوسف علیه السلام له تنزیه اوپاکي سره جوخت دهغه په پاکي باندي تعجب کول هم دی ﴿ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْـَٰٔنَ حَصْحَصَ ٱلْحَقُّ ﴾ وویل: دعزیز ښځي (زلیخا) چي اوس حق ظاهرشو (وروسته له پټېدلو یې) ﴿ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ ﴾ ماطلب کړی وو په فرېب لپاره دتېرایستلو دنفس دده (چي خپل مرادځني لاس ته کړم) ﴿ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ اوبېشکه چي یوسف خامخا له رښتنیوڅخه دی (چي وایې: ﴿ هِىَ رَٰوَدَتْنِى عَن نَّفْسِى ﴾ هودغه دخلګوپه وړاندي څرګند اعتراف دی چي یوسف علیه السلام بېخي برئ دی ﴿ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّى لَمْ أَخُنْهُ بِٱلْغَيْبِ ﴾ دغه (ددې لپاره) چي پوه شي (عزیز) چي ماخیانت ندی کړی له ده سره په پسې شا هم. أظهر خودادی چي دغه خبره دیوسف علیه السلام وي ، هغه وخت یې کړي وي کله چي ښځوده برائت بیان کړ نو ده وویل: چي دغه داستازي بیرته راڅواب

(١) کشاف-٢-٤٧٧

(٢) شهید سید قطب رحمه الله وایې: چي استازی راغبرګ شو اوباچاته یې وویل: هغه هم سمدستي ښځي راوبللې اودستري پېښي پوښتنه یې ځني وکړه چي :﴿ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِۦ ﴾ اوله دې څخه موږپوهېږو چي دعزیز په قصرکي دمېلمستیا په وخت کي څه تېرېدل ؟ چي ښځو ترهغو پوري یوسف علیه السلام ته مارېینه کوله چي دزناد غوښتني سرحد ته ورسېده اوله دې څخه موږ انګېرو چي ددغو خلګو او دمېرمنو یې په دغه تاریخي موده کي څنګه ژوند وو؟ جاهلیت خوتل هماغه جاهلیت اوناپوهي ده هغه چي دعیاشي ژوند تېروي هلته چي ماڼۍ او قصرونه دي چېري چي نوکران اوچاکران وي هلته یومخ ایزه تحلل، اوآزادي اوبې بندو باري وي چیری چي نرم اوپستکي غوندي خلګ وي هلته فجور اوفسق موجود وي هغه خلک چي ددوی به ارستوقراطي جامې په ځان کي وي.

کول مي ددې لپاره وکړل ترڅو عزيز پدې پوه شي چي ماده دمېرمني په باب ده سره په غياب کي هم خيانت ندی کړی بلکه په عفت کي اوسېدلی يم ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى كَيْدَ ٱلْخَآئِنِينَ ﴾ اوبېشکه چي الله په لاره نه برابروي مکر دخيانت کونکو (مقصد ته يې نه رسوي) ﴿ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِىٓ ۚ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ ﴾ اوزه نه پاکوم نفس خپل بېشکه نفس خامخا ډېر امر کونکی دی په بدي سره؛ زمخشري وايي: ويې غوښتل چي الله جل جلاله ته تواضع وړاندي کړي دنفس دماتولو لپاره يې داوېناوکړه ترڅو له کبر او غرور څخه ځان وژغوري(١) ﴿ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّىٓ ﴾ مګر هغه چي زما رب پرې رحم وکړي (په عصمت سره) ﴿ إِنَّ رَبِّى غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه رب زما بنه مغفرت کونکی (دګناهونو) ډېر رحم والادی په انعام ورکولو) ﴿ وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِى بِهِۦٓ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِى ۖ ﴾ او وويل: باچا چي راولئ ماته دغه (يوسف) چي خالص کړم دی لپاره (دکارونو) دځان خپل) دغه ورته معلومه شوه نو يې هغه دخپل (ځانګړي مشير) دخاصانو او مخلصانو په ډله کي عوره کېدل وغوښتل ﴿ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ﴾ (نو کله چي باچا ورسره خبري وکړې وويل: (باچا يوسف ته) چي بېشکه ته نن ورځ موږ ته خاوند دمرتبې امانتګرېې) يعني کله چي يې يوسف عليه السلام ورته راحاضر کړ اويوسف عليه السلام ورسره خبري اترې وکړې او باچا دهغه پر بېمانه عقل اوفضيلت له نژدې وليد، دهغه خوندوره وينايې واورېده نو يې وويل: چي ته زموږ په نزد نن ورځ دلوړي مرتبې خاوند په هر څه کي امانتکاريې ﴿ قَالَ ٱجْعَلْنِى عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلْأَرْضِ ۖ ﴾ وويل: (يوسف عليه السلام) باچاته) چي مقرر کړه ما پر خزانو دځمکي (ستا) ﴿ إِنِّى حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴾ بېشکه زه بنه ساتونکی، بنه پوه يم) يعني امين يم اوپه بنو تصرفاتو کولو بنه پوهېږم اوچي ولايت يې ځني وغوښت څکه دعدل دخپرولو اودحق او احسان دپرځای کولو رغبت يې لاره، دايې دځان دسپيناوي اوتزکيې لپاره نه ويل بلکه دماليې وزارت ترلاسه کولو لپاره يې دالهي ورکړي پوهي اظهار وکړ ﴿ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اوپه مثل ددغه (نعمت) ځای د(قدرت) ورکړ موږ يوسف ته په ځمکه (دمصر) کي يعني هغه ته مو عزت اوسلطان وروسته له بنديخانې اوربړونو ورکړ ﴿ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ۚ ﴾ چي اوسېدوبه له دغي ځمکي (دمصر) څخه هرچېري چي به يې خوبنه شوه ﴿ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ ﴾ (رسوو موږ رحمت خپل هرچاته چي موږ اراده وفرمايو) يعني موږ هغه څوک له خپلو بندګانو چي ورته دانعام اوفضل اراده وکړو نازوو ﴿ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ اونه ضائع کوو موږ اجر دنېکو کارانو بلکه ورزياتوو يې ﴿ وَلَأَجْرُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴾ اوخامخا اجر دآخرت ډېرغوره دی (له دنيايې نه) هغو کسانو ته چي ايمان يې راوړی او وو دوی چي پرهېزګاري يې کوله) پدي کي دې پلوته اشاره ده چي ستر مطلب دآخرت اجر اوثواب دی او هغه څه چي ددغو محسنانو لپاره ذخيره کېږي هغه تر دغه دنيوي نعمتونو خورا ستراولوی دي ﴿ وَجَآءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴾ او راغلل د يوسف عليه السلام ورونه نو راننوتل په دغه (يوسف) باندي پس

(١) الكشاف ٢/ ٤٨٠

(يوسف) دوی وپېژندل اودوی دغه (يوسف) لره ناپېژندونكي و؛ ځكه دباچهي هيبت وو زمانه اوږده تېره شوي وه اوډېرې بدلون راغلی وو . ابن عباس رضی الله عنهما وايي: چي دهغه دكوهي دغورځولو اوددغه راتګ ترمينځ دوه ويشت كاله موده تېره شوي وه نوځكه دوی هغه ونه پېژاند(١) اوددوی دراتګ لامل داوو چي ددوی په ټاټوبي كي سخته لوږه وه چي كاختي په ټولو ملكونو راغلي وه نو دوی مصرته راغلل چي ديوسف عليه السلام له هغو زېرمه كړي غلودانوڅخه څه وپېري (رانيسي) اوكله چي دوی يوسف عليه السلام ته ورننوتل هغه لكه چي نابلده خلګ وي ورته وويل: دڅه لپاره زماپاچهي ته راغلی؟ دوی وويل: دغلې دپېرلو لپاره راغلي يو نويوسف عليه السلام ورته وويل: ښايي تاسو به زموږ جاسوسي كوئ؟ دوی ويل: معاذ الله نويوسف عليه السلام ځني پوښتنه وكړه چي تاسو څوک ياست؟ له كومه راغلی دوی ويل: موږ له كنعان څخه راغلي اوپلار مو دالله نبي يعقوب عليه السلام دی نويوسف عليه السلام ځني پوښتنه وكړه چي آياله تاسو پرته دهغه نور زامن هم شته؟ دوی ويل: هو موږ دوولس تنه وروڼه وو زموږ كشری ورور له كوره بهر وتلی اوپه بېدياكي هلاک شوی دی هغه ترموږ ګردوپه پلار ګران وو ، دهغه سكنی ورور پاتي دی اوهغه يې اوس راسره ندی پرې اينښی چي زړه يې ورباندي ډاډه وي موږ لس تنه راغلي يو نويوسف عليه السلام دښكته كېدلو امر وكړاو ددوی داكرام اوعزت كولوفرمان يې صادركړ(٢) ﴿ وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ ﴾ اوكله چي تياركړ (يوسف) دوی ته اسباب دسفر ددوی يعني كله چي خوراک اوغله يې وركړه اودسفر نور ضروريات يې ورپوره كړل ﴿ قَالَ ٱئْتُونِى بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ ﴾ نو وويل: (يوسف وروڼوته) چي راولئ تاسي ماته هغه ستاسي له پلاره ورور ستاسي (بنيامين) چي زه ستاسي رښتيامعلوم كړم ﴿ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّىٓ أُوفِى ٱلْكَيْلَ وَأَنَا۠ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ﴾ آيانه وينئ تاسي چي بېشكه زه پوره دركومه پيمانه اوزه غوره دمېلمستيا وركونكويم (چي ددوی يې خورانبه اكرام اومېلمه پالنه كړي وه) ﴿ فَإِن لَّمْ تَأْتُونِى بِهِۦ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِى وَلَا تَقْرَبُونِ ﴾ نوكه نه راووست تاسي ماته دغه (ستاسي ورور) نوله سره نشته پيمانه (دغلې) زما په نزد تاسي ته اوتاسي بيا (زمانښارته) مه رانژدې كېږئ (دوهم ځلي) يو وار يې رغبت اوهڅونه وكړه اوبيايې اخطار وركړ په البحر كي وايي چي: ظاهر دادی هرڅه چي يوسف عليه السلام ترسره كړي دغه دالهي وحی سره سم وو دنېكي غوښتنه خو داده چي ژرترژره خپل بزګوار والد پلار راوغواړي مګر دالله جل جلاله اراده داسي وه چي ديعقوب عليه السلام اجر اومحنت بشپړكړي اوهغه رومبني خوب تعبيرشي(٣) ﴿ قَالُوا۟ سَنُرَٰوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَـٰعِلُونَ ﴾ وويل: دوی ژر به دی په كوښښ سره له پلاره غواړو اوبېشكه موږ خامخاكونكي يو (ددې كارچي دهغه دملګرتيا لپاره به هره بهانه ،چل اوپلمه لټوو) ﴿ وَقَالَ لِفِتْيَـٰنِهِ ٱجْعَلُوا۟ بِضَـٰعَتَهُمْ فِى رِحَالِهِمْ ﴾ او وويل: يوسف ځوانانو(مريو) (پېمانه كونكو) خپلوته چي كېږدئ هغه پانګه ددوی په بارونو ددوی كي په پټه سره ﴿ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ ﴾ ښايي چي دوی وپېژني داپانګه خپله كله چي بيرته لاړشي خپل اهل ددوی ته (اوبارونه وسپړي) ﴿ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ ښايي چي دوی به بيابيرته راشي (ځكه چي ددوی

(١) حاشية الصاوي ٢ / ٢٤٩
(٢) تفسير الجلالين ٢ / ٢٤٩
(٣) البحر المحيط ٥ / ٣٢٢

دين دروپو وركولو امركوي اودوى حرام نه خوري نودغه به پردوى باعث شي چي بيابيرته راشي ﴿ فَلَمَّا رَجَعُوٓا إِلَىٰٓ أَبِيهِمْ قَالُوا۟ يَـٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلْكَيْلُ ﴾ نوكله چي بيرته وگرزېدل دوى خپل پلارته نو وويل: دوى اې پلاره زموږ! منع كړه شوي ده له موږ څخه پېمانه (كه بنيامين راسره لاړنشي په راتلونكي پېره كي ځكه دمصرباچا داگومان كاوو چي موږ جاسوسان يو اوموږ ورته خپله كيسه واوروله ، بيايې له موږ څخه ورور وغوښتل چي زموږ رښتنولي ورته ثابته شي ﴿ فَأَرْسِلْ مَعَنَآ أَخَانَا نَكْتَلْ ﴾ نو ولېږه له موږ سره ورور زموږ (بنيامين) چي پېمانه واخلو (هغه چي موږ يې له غلودانوڅخه مستحق يو) ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَـٰفِظُونَ ﴾ اوبېشكه موږ ده لره خامخاساتونكي يو(له زيانونوكړاوونو) ﴿ قَالَ هَلْ ءَامَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمْ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ﴾ (وويل: (يعقوب) آياامينان كړم تاسي په بنيامين مگرلكه چي امينان كړي مي وى تاسي په ورور دده (يوسف پخواله دې نه) يعني څرنگه مو زه پرده امينان وگرزوم تاسوهغه خلك ياست چي په يوسف موڅه وكړل ؟ وروسته له هغه چي ماته مودده دساتني ضمانت كړى وو اوبيامو په عهدكي خيانت وكړ نوپدې وېرېږم چي له ده سره به هم دغسي فرېب وچلوئ لكه چي له يوسف سره موكړى وو زه نه پرتاسوباورلرم اونه ستاسي په ساتنه بلكه په لوى الله جل جلاله مي اعتماد اوباوردى. ﴿ فَٱللَّهُ خَيْرٌ حَـٰفِظًا ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ نوالله ډېرغوره دى له جهته دساتني اوهم دى دى ډېرمهربان دټولو مهربانانو) يعني دالله ساتنه ستاسي تر هغې غوره ده اوالله ډېرمهربان ترمور اوپلار او ورونوېې دى نوله الله څخه هيله من يم چي دهغه دساتني پېرزوينه (احسان) به راباندي وكړي اودوه مصيبتونه به يوځاى نه راپېښوي ﴿ وَلَمَّا فَتَحُوا۟ مَتَـٰعَهُمْ وَجَدُوا۟ بِضَـٰعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ ۖ ﴾ اوكله چي پرانيستل دوى بارونه خپل وموندل دوى پنگه خپله چي بيرته دوى ته رالېږلي شوي وه ﴿ قَالُوا۟ يَـٰٓأَبَانَا مَا نَبْغِى ۖ هَـٰذِهِۦ بِضَـٰعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا ۖ ﴾ وويل: دوى اې پلاره ! څه به (لازيات اكرام دباچا) غواړو موږ داده هغه پانگه زموږ چي بيرته رده كړى شوي ده موږته ؛ موږ ورباندي خبرهم نه وو آياتردې پورته نور احسان هم شته ؟! بشپړي پېمانې يې راكړي اوبيه يې هم بيرته راكړي ده پدې باندي دوى غوښتل چي خپل پلار له خپلي رايې څخه راواړوي ﴿ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا ﴾ (او بياځو) چي غله راوړو اهل خپل ته ﴿ وَنَحْفَظُ أَخَانَا ﴾ اوساتوبه ورور خپل (له كړاوونوڅخه د ورورساتنه يې ځكه مكرر وويله چي استولوته يې پلار وهځوي ﴿ وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ۖ ﴾ اوزيات به راوړو بارداوښ (دبنيامين برخه) روايت كېږي چي يوسف عليه السلام به هرتن ته داوښ يوبارغلې وركاوو نودوى ته يې دلسو اوښانو بارونه پخوا وركړي وو او يويې ځني گرزولى وو ترڅوخپل ورور هم راولي ﴿ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴾ دغه پېمانه ده آسانه (پدې سخي باچاباندي) ﴿ قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُۥ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأْتُنَّنِى بِهِۦٓ ﴾ وويل: (يعقوب زامنوته) له سره به ونه لېږم هغه (بنيامين) له تاسي سره ترهغه پوري چي راكړئ تاسي ماته عهدمحكم د الله (پدې خبره) چي هغه به خامخابيرته ماته راولئ (تاسي به سوگند كوئ) ﴿ إِلَّآ أَن يُحَاطَ بِكُمْ ۖ ﴾ مگركه چاپېروالى په تاسي وكړاى شي (اودخلاصون توان ونلرئ چي هغه راخلاص كړئ ټولي لاري درباندي وتړل شي . مجاهدوايې : چي ددې كلام معناداده چي مگركه تاسوټول ووژل شئ مړه شئ نو دغه به

ستاسو عذروي زما په وړاندي ﴿ فَلَمَّآ ءَاتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ ﴾ نو كله چي دوی ورکړه دغه (پلارته) وعده محكمه خپله نو ﴿ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴾ وويل: (يعقوب عليه السلام زامنوته) چي الله په هغه چي موږ يې وايو وكيل (شاهد) دی ﴿ وَقَالَ يَٰبَنِيَّ لَا تَدۡخُلُواْ مِنۢ بَابٖ وَٰحِدٖ وَٱدۡخُلُواْ مِنۡ أَبۡوَٰبٖ مُّتَفَرِّقَةٖۖ ﴾ او وويل (يعقوب) له شفقته اې زما زامنو! مه ننوزئ تاسي (مصرته) له يوې دروازې (چي نظرنشئ) اوننوزئ له دروازو بېلوبېلوڅخه) مفسرينو ويلي دي چي يعقوب عليه السلام پردوی له نظركېدلو وېرېدوځكه دوی دجمال اوهيبت خاوندان وو؛ اوله نظره كېدل حق دي ځيني خلګ له بدو ستر ګوڅخه هدېرې ته تللي دي (مړه شوي دي) (والعين حق تدخل الرجل القبر) لكه چي په حديث شريف كي راغلي دي ﴿ وَمَآ أُغۡنِي عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍۖ ﴾ اوزه نشم دفع كولای دالله له قضانه هيڅ شی (پخپل تدبيرسره) فان الحذر لايدفع القدر ﴿ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ ﴾ نه دی حكم مګرالله جل جلاله لره دی (هيڅوک ورسره شريک نشته اونه يې څوک فيصله ماتولای شي) ﴿ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَعَلَيۡهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ﴾ خاص پرهمده ماتوكل كړی دی اوپرده باندي نوتوكل دي وكړي توكل كونكي (اوايمان لرونكي خپلي ټولي چاري دي هغه ته وسپاري ﴿ وَلَمَّا دَخَلُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَمَرَهُمۡ أَبُوهُم ﴾ اوكله چي دوی (مصرته) ننوتل له هغه ځايه چي پلار ورته امركړی وو دوی ته (له بېلابېلو دروازوڅخه ﴿ مَّا كَانَ يُغۡنِي عَنۡهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍ ﴾ اونه وو دغه ننوتل ددوی له مختلفو دروازو څخه چي دفع كړي له دوی نه دالله له قضاڅخه هيڅ شی ﴿ إِلَّا حَاجَةٗ فِي نَفۡسِ يَعۡقُوبَ قَضَىٰهَاۚ ﴾ ليكن يو حاجت چي په نفس ديعقوب كي وو (هغه يې) اداكړ يعني وېرېدل ديعقوب عليه السلام پردوی باندي (له نظر كېدلوڅخه) ﴿ وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلۡمٖ لِّمَا عَلَّمۡنَٰهُ ﴾ اوبېشكه دغه يعقوب خامخا خاوند دپوهي وو په سبب ددې چي موږدی خبرداركړی وو (په وحی سره اودغه دالله جل جلاله له لوري ديعقوب عليه السلام ستاينه ده چي هغه دنبوت په نورباندي ليدل كوي پوهېږي چي تدبيرتقديرنشي بدلولای ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ (ليكن زيات دخلګو پدې نه پوهېږي) يعني دوی په هغو علومونه پوهېږي په كوموچي الله خپل نبيان اواستازي ځانګړي كړي اوپه دارينوكي ورته ګټه رسوي.

بلاغت:

۱- ﴿ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبۡعَ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ ﴾ دمضارع صيغه يې دماضي دحكايت لپاره غوره كړي ده.

۲- پدې كلام كي چي ﴿ سِمَانٖ ﴾ او ﴿ عِجَافٞ ﴾ او ﴿ خُضۡرٖ ﴾ او ﴿ يَابِسَٰتٖ ﴾ راغلي پدې كي دطباق صنعت كارول شويدی.

۳- ﴿ قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمٖۖ ﴾ دغه ترټولو استعاراتوأبلغ اوباريكه ده ځكه چي اضغاث هغه ګډوډ واښه بولي چي سره يوله بله اوډل شوي وي نودغه خوبونه چي ښه اوبدخيراوشر يوله بله پكي نغښتل شوي له هغو ونبوسره يې تشبيه كړل.

۴ - کله چي الله فرمايي: ﴿ يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ ﴾ دغه ته براعت استهلال وايي ځکه دوی لوړی دستايني پيل وکړ هيله من وو چي غوښتنه يې ومني.

۵ - ﴿ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ ﴾ دلته عقلي مجاز په کارول شوی دی ځکه کالونه خونه خوري بلکه هغه اوسېدونکي خلک هغه څه خوري چي پدې کالونوکي يې ذخيره کړي وي دغه زمانې ته نسبت کول دي لکه چي فصحاء وايي: نهار الزاهد صائم وليله قائم. يعني دزاهد ورځ روژه نيونکی اوشپه يې لمونځ کونکی وي.

۶ - ﴿ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ ﴾ دلته مبالغه راغلي ځکه چي نفس تل دهلاکت کندوته دغورځېدلو اوسرغړوني لورته دتللو په هڅه کي وي ځکه يې د(أمرة) پرځای امارة کلمة استعمال کړه.

۷ - ﴿ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴾ د﴿ عَرَفَ ﴾ او﴿ أنكرَ ﴾ ترمينځ طباق دی.

۸ - کله چي الله فرمايي: ﴿ لَا تَدْخُلُوا۟ مِنۢ بَابٍ وَٰحِدٍ وَٱدْخُلُوا۟ مِنْ أَبْوَٰبٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ﴾ پدې کي اطناب صنعت راغلی دی هغه چي زياتوالی دلفظ په معناوي اوګټه يې داده چي په نفس باندي دمعنی تمکين کوي اوبل دلته دبديعي محسناتو څخه طباق سلب هم پکي راغلی دی.

فائده:

رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت يوسف عليه السلام دهغه دکرم، صبر اوحلم په صفتونو وستايل اوداسي يې وفرمايل: (لولبثت فی السجن مالبث يوسف لأجبت الداعی) يعني که ديوسف پرځای زه دومره موده په بنديخانه کي پاتي شوی وای نوخامخابه مي دبلونکي خبره منلي وای (کله چي ده ته دباچا استازی راغی او ورته ويل يې: باچادي غواړي) اوهمدغه ديوسف عليه السلام دعفت اوپاکوالي په باب سترشاهد دی (چي ده ورته وويل: ﴿ ٱرْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ ٱلنِّسْوَةِ .... ﴾.

تنبيه:

ځيني علماء کرامو ويلي دي چي ترهغوپوري به تل ښځو ديوسف عليه السلام سره دشهواني ميني ميل درلود خوکله چي الله جل جلاله هغه په پيغمبري وټاکه نودنبوت هيبت ورباندي ولوېدو اوبيا ښځو اوهرچاچي به دی وليد نودنبوت هيبت به يې دوی له حسن اوجمال څخه بې پرواکړل.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَخَاهُ قَالَ إِنِّىٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ
(۶۹) فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَٰرِقُونَ (۷۰) قَالُوا۟
وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ (۷۱) قَالُوا۟ نَفْقِدُ صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٌ (۷۲)

قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا۟ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمْ كَٰذِبِينَ
﴿٧٤﴾ قَالُوا۟ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ أَخِيهِ
ثُمَّ ٱسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِ ۚ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ۖ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِى دِينِ ٱلْمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ
نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾ ۞ قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ
فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾ قَالُوا۟
يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓ ۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٧٨﴾ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن
نَّأْخُذَ إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذًا لَّظَٰلِمُونَ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا ٱسْتَيْـَٔسُوا۟ مِنْهُ خَلَصُوا۟ نَجِيًّا ۖ قَالَ كَبِيرُهُمْ
أَلَمْ تَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبْلُ مَا فَرَّطتُمْ فِى يُوسُفَ ۖ فَلَنْ أَبْرَحَ ٱلْأَرْضَ حَتَّىٰ
يَأْذَنَ لِىٓ أَبِىٓ أَوْ يَحْكُمَ ٱللَّهُ لِى ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٠﴾ ٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ فَقُولُوا۟ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ وَمَا
شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَٰفِظِينَ ﴿٨١﴾ وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ ٱلَّتِى كُنَّا فِيهَا وَٱلْعِيرَ ٱلَّتِىٓ أَقْبَلْنَا فِيهَا ۖ وَإِنَّا
لَصَٰدِقُونَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَنِى بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ
ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٨٣﴾ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ ٱلْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٨٤﴾
قَالُوا۟ تَٱللَّهِ تَفْتَؤُا۟ تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوْ تَكُونَ مِنَ ٱلْهَٰلِكِينَ ﴿٨٥﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَشْكُوا۟ بَثِّى
وَحُزْنِىٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ يَٰبَنِىَّ ٱذْهَبُوا۟ فَتَحَسَّسُوا۟ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَا۟يْـَٔسُوا۟
مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ لَا يَا۟يْـَٔسُ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٧﴾ فَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ قَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا
ٱلضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَٰعَةٍ مُّزْجَىٰةٍ فَأَوْفِ لَنَا ٱلْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجْزِى ٱلْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾ قَالَ هَلْ عَلِمْتُم مَّا
فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾ قَالُوٓا۟ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِى ۖ قَدْ
مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ ءَاثَرَكَ
ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ﴿٩١﴾ قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٩٢﴾ ٱذْهَبُوا۟ بِقَمِيصِى هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِى يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِى بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ
﴿٩٣﴾ ﴿يوسف: ٦٩ ـ ٩٣﴾

مناسبت او تړاو:

آیتونه د دوهم ځل لپاره د یوسف علیه السلام د ورونو د راتګ بیان کوم چې له دوی سره د اپلا (بنیامین) د یوسف علیه السلام سکنی ورور هم ملګری دی کوي او بیا د انبیې چې څرنګه پېمانه د هغه په بارکي پیدا او هغه

يې ديعقوب عليه السلام له شريعت سره سم په بدل كي بندي پاتي شو؟ اوبياهغه څه يادوي چي يعقوب عليه السلام ته ددوارو زامنو دبېلتون سختي شېبې وې اوخواشيني يې تورلېمه ورځخه يوورل (روندشو).

لغتونه:

(تبتئس) غمګين كېږه ته (العير) هغه اوښ چي وربانديي باروي اوبيا وروسته دهرې قافلې لپاره نوم شو (صواع) پېمانه چي مذكر اومؤنث دواړه راځي اوهغه (صاع) چي دشپانود پېمانې كولو لپاره وي هغه (سقاية) (جام) دی (زعيم) كفيل (سولت) ښايسته كړې اوآسانه كړې (كظيم) له غمه ډك چي اظهاريې نه كوي (تفتؤا) دتل ترتله په معنااود(كان) ناقصه له خوندكيانوڅخه دی (حرضًا) دوژونكي ناروغي په معنارا غلي (حَرَضَ) په اصل كي دجسم اوعقل خرابولوته وايي (بثی) هغه سخته پرېمانه غم اوماتم ژړا. (فتحسسوا) تحسس ديوڅيز پلټل دحواسوپه ذريعه چي خوراپه باريكه ترسره كېږي اوداپه خيراوشر دواړوكي راځي مګرتجسس په جيم سره په شركي استعمالېږي څوك بياوايي: چي په خيراوشر دواړو كي راځي (لاتثريب) نشته تثريب او تثريب ترټني اوتوبيخ ته وايي.

تفسير:

﴿ وَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَخَاهُ ﴾ اوكله چي پريوسف عليه السلام بانديي(دغه ورونه) ورننوتل نوخپل ورورېي خان ته رانژدې كړ(په غيږ كي يې خپل سكنى وروربنيامين ونيو ﴿ قَالَ إِنِّىٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ وويل: يوسف (په پټه) زه چي يم زه ستاورورېم (يوسف) نومه خفه كېږه ته چي وو دوی چي كول يې له موږ سره پخوازمانه كي ځكه چي الله پاک له موږ سره احسان وكړ اوپه خير يې سره جمع كړلو مفسرين كرام وايي چي: كله ديوسف عليه السلام ورونه هغه ته ورغلل نويې ښه عزت اوميلمستيا وكړه او هرو دووتنوته يې يوه كوټه ځانګړې كړه نوبنيامين يوازي پاتي شو نو يوسف عليه السلام وويل: چي له دې سره بل دوهم نشته دادي له ماسره وي نوبياله هغه سره غاړه غړی شو او ورته ويل يې چي همدازه ستاورور(يوسف) يم ته خوامه بدوه اوبيايې دا ورته وښودله چي هغه به له ځانه سره په يوچم پاتي كوي خوخبره دې پټه وساتي. ﴿ فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ﴾ نوكله چي دوی ته يې ددوی دسفراسباب تياركړل نوكښېښوده جام دابوښنلود(باچا) په بار دورور خپل كښي) يعني كله چي يې ددوی داوښانو بارونه ورتياركړل نويوسف عليه السلام امروكړچي دباچاسقايه چي هغه دسروزروپه ملغلرو ښايسته شوي جام(پېمانه) وه دبنيامين په باركي پټ كښېږدي ﴿ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَـٰرِقُونَ ﴾ (نوغږوكړ غږكونكي چي اوقافلې (ودرېږئ) بېشكه تاسي خامخاغله ياست) يعني اې اوښانو والاسپرومسافرو تاسوخوبېشكه غله ياست اوداچي دوی ته يې دغلانسبت وكړچي پدې كي مصلحت ووچي ورورځني راوګرزوي ﴿ قَالُوا۟ وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴾ وويل (ورونو ديوسف) اومخونه يې پردوی راواړول چي تاسي څه شی ورک كړی دی ؟ مفسرين كرام وايي: كله چي غږكونكي دوی ته وروړسېدل نويې (په ملامت كولوكي) ورته وويل: چي آياموږتاسوته عزت نه دی دركړی؟ ستاسوموښه ميلمستيا نه ده كړې؟ پوره پېمانه مودرنكړه ؟ اوتاسوسره موهسې ځانګړې معامله نه ده

كړي چي ترنوروغوره وي؟ هغوی وويل: هوكړي موده نوڅه پېښه وشوه؟ دوی ورته وويل: زموږ د باچاداوبو څښلو زرين جام ورک دی اوله تاسوپرته بل څوک موږ ورباندي نه تورووهمداالله ﷻ قول دی چي فرمايي: ﴿ قَالُوا۟ وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴾ اوداچي (ماذاتفقدون) كلمه يې دوی ته وويل دې ته اشاره ده چي حسن ادب او ښه اخلاق دي خپل كړي بېځايه دي بې ګناه خلګ په غلانه توروي چي په اټكل باندي په خلګودغلا تورپوري كوي همداوجه ده چي دوی بيادادب په مراعات كولو په ځواب كي ورته وويل: ﴿ قَالُوا۟ نَفْقِدُ صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ ﴾ وويل: دوی موږ دباچاپېمانه وركه كړي ده (اولتمويې) هغه په ملغلرو ښايسته شوی دپاچهي جام دی چي دپېمانې كاربه ځني اخيستل كېدو) ﴿ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمْلُ بَعِيرٍ ﴾ اوچاچي داپېمانه راوړه نوهغه ته ديوه اوښ څتی به وي) يعني چاچي دغه پېمانه موږته بېرته راوړه نوبه ديوه اوښ باردجائزې اوانعام په توګه ور كوو ﴿وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٌ ﴾ اوزه په دې (باروركولو) ضامن يم ﴿ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ وويل: دوی په الله ﷻ قسم دی چي په تحقيق تاسي پوهېږئ چي موږ ددې لپاره (مصرته) نه يو راغلي چي په ځمكه كي فسادوكړو. داهغه قسم اولوړه ده چي دتعجب معناپكي شته يعني قسم دی اې خلګو ! تاسوپوهېږئ چي موږدفسادلپاره نه يوراغلي ﴿ وَمَا كُنَّا سَـٰرِقِينَ ﴾ (اوهرګزنه يوموږ(ددې جام) غلاكونكي) يعني موږهغه څوک نه يوچي په غلاباندي تورن كړی شي موږ دنبي اولاده يواوداسي ناكاره اوچتې كارنه كوو. بيضاوي وايې: چي ددوی په علم باندي يې دځان دبرائت شاهدي وبلله چي تاسوليدل موږڅومره امانت كاره يوچي موږ هغه دغنموبيه بيرته تاسي ته راوړه كومه چي زموږپه باركي تللي وه اوبل داچي دبوده ګانوپه خولوكي مو وانبي وراچولي څو دچاكښت او مال ونه خوري(۱) ﴿ قَالُوا۟ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمْ كَـٰذِبِينَ ﴾ (نوووويل: بيا(دغونوكرانو) چي څه به وي جزادغله كه تاسي دروغجنان (ښكاره) شوی) يعني كه چېري تاسو دخپل برائت په دعوی كي دروغجن وختلی بيا ستاسوپه شريعت كي دغله لپاره څه جزاده ؟ ﴿ قَالُوا۟ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥ ﴾نوووويل: (ورونوديوسف) چي سزاددې غلا (نيول د دهغه چادي چي وموندل شي دغه پېمانه دده په باركي نوهمدئ سزادهغه دی (چي مريي شي دهغه چالپاره چي ځني غلايې كړي ده ﴿كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ همداسي سزاوركوموږ ظالمانوته چي دالله له حدودوتجاوزوكړي لكه غلا اونور داخبره ددوی هغه ديعقوب عليه السلام دشريعت حكم وو اودغه بيادلاس په غوڅولو باندي منسوخ شو چي د اسلامي شريعت حكم دی ﴿ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ أَخِيهِ ﴾ نوشروع وكړه (يوسف) په لټولو د بارونو ددوی ړومبی له باره دوروردده (بينامين) مفسرين وايې: چي دغه دبهانې (پلمې) تكميل دی اود تهمت دفع كول دي چي كله دوی دبرائت دعوی وكړه نودوی هغوی ته وويل: چي ارومروبه ستاسي ټولوبارونه پلټل كېږي اودوی يې يوسف عليه

(۱) البيضاوي ۲۶۷

السلام ته راوستل اوتربینامین له مخه یې دنوروښتې وشنل. قتاده وایي: چې دوی به دهرچابار(ختی) پرانست اوجام به یې ونه موندل نوبه یې استغفرالله ویل: چې بېځایه موتور درپوري کړ ترڅوچې کشرورور یې پاتي شو نوبې وویل: ګمان نه کوم چې دې دي هیڅ شی اخیستی وي نودوی ورته وویل: په الله سوګند که دي پرېږدو چې ددې باردي هم نه وي کتلی دغه هم ستااوهم زموږلپاره دزړه اطمینان دی کله چې یې بارخلاص کړ نوجام (پېمانه) یې وموند اوهم داد الله جل جلاله قول دی چې : ﴿ ثُمَّ اَسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِ ﴾ بیایې راوایستله دغه (پېمانه) له باره د(سکه) ورورخپل چې(بنیامین) اوکله چې یې راوایستله ټولوښکته وکتل اوپه بنیامین یې مخ راواړاووچې اې د(راحیل) زویه ! ودي شرمولومخ دي راتورکړولي هسي خوځوک نه کوي ؟ ﴿ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ﴾ (همدارنګه تدبیرنیولی وو موږیوسف ته)دابهانه مو ورښودلي وه چې خپل ورور راوګرزوي ﴿ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِى دِينِ ٱلْمَلِكِ ﴾ نه وودغه(یوسف) چې ونیسي (مربی) خپل وروره دین (قانون) دباچا(دمصر) کي ؛ هغه چې دسارق سزادباچا په قانون کي وهل ډبول اوپه دوه ګون ناغه جرمانه وه ﴿ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ مګرچې الله اراده وفرمایله (دغه تدبیربې ور وښود آیت شریف پدې دلالت کوي چې دغه پلمه دالله جل جلاله په تعلیم اوالهام سره ورښودل شوي وه ﴿ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴾ پورته کوو موږ(په علم اوحکمت سره) مرتبې دهرچاچي اراده وفرمایو موږ اودپاسه دهر خاوند دپوهي بل لوی پوه دی ؛ آن تردې چې الله ته رسېږي هغه چې رب العالمین دی حسن بصري رحمه الله وایي : چې هیڅ عالم نشته مګرترهغه پورته بل عالم وي ترڅوچې دغه لړۍ ا لله تبارک وتعالی ته ورسېږي اوابن عبــاس رضی الله عنه وایې چې الله خبیراوعالم ذات ترټولوعلماوو پورته دی[۱] ﴿ قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ ﴾ وویل: (ورونو د یوسف) که غلاوکړه دغه (بینامین نوعجیبه نه ده ه چي) پس په تحقیق سره غلاکړي وه (سکني) وروردده پخواله دي نه یعني دوی ځان له ملامتیاځخه وژغوره اودغلاتهمت یې له ځانه لیري کړ اویوسف او وروریې وربانديي تورن کړل. ﴿ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ ﴾ نوپټه وساتله دغه خبره (یوسف په خپل ځان کي اوښکاره یې نکړه دوی ته د(مهرباني له وجي) ﴿ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ ﴾ وویل: یوسف (پټ په زړه کي) چې تاسي ډېربدیې له جهته دمرتبې تاسوخپل ورور له پلارځخه غلاکړ اوبیاموپه برئ (بې ګناه) ورور باندي تورولګاوو ﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴾ اوالله ښه عالم دی په هغه خبره چې تاسي یې بیانوئ (اوافتراء کوی) ﴿ قَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا ﴾ وویل: دوی اې عزیزه ! ښېشکه ده لره یوپلاردی زوړ ډېربوډا(معمر) دغه دمهرباني غوښتلواو استعطاف موندلولپاره زارۍ دي چې ددغه یوبوډاسپین

[۱] الطبري ۱۳ ۲۷

ډېرى پلاردى چي دده دبېلتون توان نلري ﴿فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓ﴾ نو ونيسه يوزموږ په ځاى دده (موږ دده په شان په پلار ګران نه يو) ﴿إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ بېشكه موږ تا وينو له احسان كونكو خپل احسان پرموږ بشپړ كړه تاموږ په احسان كولو روږدي كړي يو ﴿قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأْخُذَ إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ﴾ وويل (يوسف) پناه غواړو په الله پوري چي پرته له هغه چا ونيسو چي موندلي مودي اسباب خپل په نزد دده يعني له الله پناه غواړو چي دمجرم پرځاى بېګناه راتېنګ كړو (ونيسو) ﴿إِنَّآ إِذًا لَّظَٰلِمُونَ﴾ (كه دهغه پرځاى بل څوك ونيسو) نوموږ به په هغه وخت كي اروموږ له ظالمانو څخه اوسو؛ الوسي وايې چي: پدې كلمه سره تعبيركول چي فرمايي: ﴿مَن وَجَدْنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ﴾ پرځاى ددې چي ووايې: (من سرق) چاچي غلا كړي وي ددې لپاره دى ترڅو حق وښيې اوله دروغو څخه وژغوري

(۱)﴿فَلَمَّا ٱسْتَيْـَٔسُوا۟ مِنْهُ خَلَصُوا۟ نَجِيًّا﴾ نو كله چي دوى (له دغه يوسفه) ناامېده شول نو ګوښه شول دوى پداسي حال كي چي مشوره كونكي وو (پخپلو منځو نوكي) يعني كله چي دوى ديوسف عليه السلام څخه دبنيامين په راخلاصولو كي ناهيلي شول او پدې وپوهېدل چي هيڅ ګټه نلري چي نور ورته زاري جګي كوو نو په ګوښه كي يې سره مشورې او دزړه خواله پيل كړل ﴿قَالَ كَبِيرُهُمْ أَلَمْ تَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ﴾ وويل: مشرددوى (په عمر كي چي هغه روبيل وو) آيا نه پوهېږئ چي بېشكه ستاسي پلارپه تحقيق له تاسي اخيستي وه سخته وعده له وعدو دالله (په ساتنه دبنيامين كي چي بيرته به يې راولئ) ﴿وَمِن قَبْلُ مَا فَرَّطتُمْ فِى يُوسُفَ﴾ (اوپخواله دې نه تاسي ديوسف په هكله تقصير(كوتاهي) كړي وه) يعني آيا ستاسو په يادنه دي چي پخواله دې نه موديوسف په باب څنګه نامناسبه رويه كړي وه څرنګه به اوس له پلارسره مخامخ كېږئ ؟ ﴿فَلَنْ أَبْرَحَ ٱلْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِىٓ أَبِىٓ﴾ نوله سره به زه نه خوځېږم له دې ځمكي (مصر) څخه ترڅو چي اجازه راكړي ماته پلار (په ورتلو كنعان ته اوله مصرنه دوتلو) ﴿أَوْ يَحْكُمَ ٱللَّهُ لِى﴾ اوياحكم راكړي الله ماته (په خلاصېدلو دوروزما) ﴿وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ﴾ (اوهم دغه الله ډېرغوره دحكم كونكو دى) چي دغه پرته له حق اوعدل څخه حكم نكوي ﴿ٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ فَقُولُوا۟ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ﴾ بيرته لاړشئ تاسي خپل پلارته نو ورته وواياست اې زموږ پلاره ! په تحقيق ستازوى (بنيامين) غلا وكړه (دپېښي په حقيقت يې خبر كړئ) ﴿وَمَا شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا﴾ اوموږ نه وو ويلى بل شى مګرهغه مو وويل كوم چي پرې خبروو بېشكه موږ دباچا جام دده په پېټي كي وليد ﴿وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَٰفِظِينَ﴾ اونه وو موږ دپټ كارلپاره ساتونكي يعني چي تاته

(۱) روح المعاني ۱۳ / ۳۴

مو دهغه دراوستلو تېنګه وعده درکړه موږ پدې نه وو خبرچې هغه به غلا کوي ﴿ وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ ٱلَّتِى كُنَّا فِيهَا ﴾ او پوښتنه وکړه پخپله دهغه کلي نه چې موږ پکې وو (مصرنه) بيضاوي وايې: معنايې داچې څوک قاصد واستوه او دهغه ښارله اوسېدونکو څخه دکيسې پوښتنه وکړه (۱) ﴿ وَٱلْعِيرَ ٱلَّتِىٓ أَقْبَلْنَا فِيهَا ﴾ (او پوښتنه وکړه) له هغه کاروانه چې موږ راغلي وو له دوی سره په دغه (قافله) کې (چې هغوی دکنعان خلګ او ددوی دسفرملګري وو) ﴿ وَإِنَّا لَصَـٰدِقُونَ ﴾ او بېشکه موږ خامخا صادقان يو (په هغه څه کې چې تاته وايو) ﴿ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ﴾ وويل: (يعقوب عليه السلام داسي نه ده) بلکه ښايسته کړې دی تاسو ته نفسونوستاسي يو کار (دبهانې پلمې چې بيامو ترسره کړ يعني دبينامين په هکله يې په دوکه کولو تورن کړل چې دوی پخواله يوسف عليه السلام سره هم داسي چلندکړی وو ﴿ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ﴾ نو (اوس کارزما) صبردی بهتريعني اوس ماته له صبرڅخه پرته بل هيڅ هم ندی پاتي زه به دخپل صبراجرله الله څخه غواړم ﴿ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَنِى بِهِمْ جَمِيعًا ﴾ نژدې دی چې الله ماته دوی ټول راولي (زماسترګي ددوی په ليدلويخي اوکورنۍ به موسره يوموټې شي ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ بېشکه هم دغه الله جل جلاله ښه عالم ښه حکمت والادی (عالم دی زماپه حال او حکمت والادی پخپل تدبيراوتصرف کې) ﴿ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَـٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ اومخ وګرزاوو دغه (يعقوب) له زامنو (په ناخوښي سره چې ددوی خبري يې واورېدې) او وې ويل: اې افسوسه اوغم زماپر (بېلتون د) يوسف ﴿ وَٱبْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ ٱلْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴾ (۲) اوتکي سپيني شوې دواړه سترګي ددغه (يعقوب له غمه (اوړندې شوې له ډېرې ژړاپه ورکېدو ددوو زامنو) اوهغه وو له غصې ډک (خوهغه يې زغمل پخپل زړه کې ابوسعود وايې: داچې ديوسف په هکله يې تاسف وکړسره له دې چې غم د دواړو ورونوپروت وو چې ديوسف ورياد ېدل دهغه په زړه منګولي لګولي وې هېڅکله به يې نه هېرېدو اوداچې ده پوخ باوردرلود چې دواړه ژوندي اوهيله من وو کله به راشي او ديوازې يوسف په باب يې داسي څه نه موندل چې هيله يې راپاخوي پرته له دې چې دالله فضل او احسان ته يې وسپاري (۳) امام رازي رحمه الله وايې: چې نوی غم زوړ غم زياتوي کوم چې پخوا پټ شوی وي او خواشيني يو پربل پسي غمونه راويښوي ﴿ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ تَفْتَؤُا۟ تَذْكُرُ يُوسُفَ ﴾ وويل: دوی قسم پرالله دی چې ته همېشه

---

(۱) البيضاوي ۲۶۸

(۲) (عشى البصر دسترګو خبرتللو ته وايې لکه چې پردې وربانديې راخپرې شوي وي لکه چې شاعروايې: (عشت عيناى من طول البكاء) مفسرين کرام وايې: چې ديعقوب عليه السلام دسترګوليدل (ديد) ديوسف عليه السلام له غمه ورک شوی وو اوشپږکلونه يې هيڅ نه ليدل ترڅوچې الله پاک يې دغه مصيبت ځني ليري کړاوپدې آيت يې دليل نيولی دی چې: ﴿ أَلْقَـٰهُ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ فَٱرْتَدَّ بَصِيرًا ﴾ .

(۳) ابوالسعود ۳ / ۸۸

یادوې یوسف (او په هغه ژاړې) ﴿ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوْ تَكُونَ مِنَ ٱلْهَٰلِكِينَ ﴾ ترهغه پورې چې شې ته قریب الموت (ناروغه) اویاشې ته (په غم) له هلاک شوونه ﴿ قَالَ إِنَّمَآ أَشْكُواْ بَثِّى وَحُزْنِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ وويل: (يعقوب) بېشکه هم داخبره ده چې شکايت کوم دغم او خفګان خپل الله تعالى ته هغه ذات چې هغه ته دشکايت وړوړل سړي ته ګټه رسوي تاسو ته خپل غم اوناوړين نه ژاړم ﴿ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ (او زه پوهېږم له جانبه دالله تعالى په هغه څه چې تاسي پرې نه پوهېږئ) يعني ماته دالله تعالى داسي رحمت اواحسان معلوم دی چې تاسو ته نه دی معلوم زه الله تعالى ته هيله اواميدلرم چې مابه له هغه لورې چې زه يې ګمان هم نه کوم پخپل مرحمت اواحسان کي پټ کړي اودبرياليتوب څرک به راته وبرېښوي ﴿ يَٰبَنِىَّ ٱذْهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ ﴾ اې زمازامنو! لاړشئ نولټون وکړئ له (حاله) ديوسف او ورور دده) يعني هغه ځای ته ولاړ شئ چې ځيني راغلي ياست اوهلته پخپلو حواسوددوی له احوالونه ځان خبرکړئ ﴿ وَلَا تَا۟يْـَٔسُواْ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ ﴾ اومه ناهيلي کېږئ دالله له رحمت نه (چې خلاصون به وموميئ) ﴿ إِنَّهُۥ لَا يَا۟يْـَٔسُ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ بېشکه شان دادی چې دالله له فيضه، رحمته نه نااميده کېږي مګر کافران خلک (چې دالله له قدرت څخه منکروي) ﴿ فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَيْهِ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا ٱلضُّرُّ ﴾ (نوکله چې پريوسف (ورونه) ورننوتل نوو ويل: دوی چې اې عزيزه! موږ اوزموږ اهل ته سختي (لوږه) رسېدلې ده) په کلام کې محذوف راغلی اوهغه دا چې دوی بيرته راووتل اودمصرلاره يې ونيوه نوکله چې هلته ورسېدل اوديوسف عليه السلام دربارته ورننوتل نوبې دغه اړتياواړاندې کړه ﴿ وَجِئْنَا بِبِضَٰعَةٍ مُّزْجَىٰةٍ ﴾ اوموږ ناقصه سرمايه (پانګه راوړې ده) يعني ددوی پانګه هغسې روپۍ وې چې سوداګرانو به سپکي اوبې ارزښته بللې. ابن عباس رضی الله عنه وايي: چې ددوی دراهم اوروپۍ ناکاره اوناچله وې چې دطعام په بدل کې چانه اخيستې (۱) دوی يوسف عليه السلام ته دزاريو اوعجز لمن وغوړوله اودخيرات اوترحم غوښتنه يې وکړه ﴿ فَأَوْفِ لَنَا ٱلْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَآ ﴾ نوپوره راکړه موږته پېمانه اوخيرات وکړه پرموږ (چې ياخوزموږ ورور راسره ستون کړه (۲) اوياداکوټ پانګه مه مسترد کوه اوهغه واخله ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَجْزِى ٱلْمُتَصَدِّقِينَ ﴾ بېشکه چې الله جزا (ثواب) ورکوي خيرات ورکونکو (محسنينو) ته اوکله چې خبره همدغه ځای ته ورسېده چې دومره زياتې زارې جګې يې وکړې نوحضرت يوسف عليه السلام ددغه حال له اورېدلو څخه بې اختياره دمهرباني له مخې دوی ته هغه څه ځرګند کړل چې پخوا يې ځني پټ کړي وو هغه داچې: ﴿ قَالَ هَلْ عَلِمْتُم

(۱) الرازي ۱۸/ ۱۹۳

(۲) دغه دابن جريج وينا ده اوطبري بيادا غوره کړي چې معنا يې داده زموږ دغه پانګه مه مسترد ده راسره بنه وکړه.

﴿ مَا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَٰهِلُونَ ﴾ وويل: (يوسف عليه السلام وروڼوته) آياپوهېږئ تاسي چې تاسي له يوسف اودده له وروړ سره څه فعل کړی وو؟ کله چې تاسي ناپوهان وئ يعني آياتاسوته دخوانی په لېونتوب چې له يوسف اودهغه له وروړسره څه ناخوالي کردې کړي وې اوغرض له دې څخه دپېښې لويوالی دی لکه چې ورته وايې څومره ستره ګناه موکړي چې يوسف اودده ورور مو رټلی وو(١) ابوالسعودوايې: چې دغه خبره يې ددې لپاره ورته وکړه چې زړه يې ورباندي وسوځېدو اونصيحت يې ورته وکړچې توبې ايستلوته يې وهڅوي (٢) ﴿ قَالُوٓاْ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ﴾ وويل: (وروڼو ديوسف) آيابېشکه ته چې يې خامخاداته يوسف يې؟ دوی تعجب اواستغراب وکړ ﴿ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِي قَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَآ ﴾ وويل: (يوسف هو) هم دازه يوسف يم اودا زماسکه ورور بينامين) دی په تحقيق الله پرموږ احسان فرمايلی دی (چې له بلاوو اوازميښتونوڅخه يې ژغورلي، وروسته له بېلتون څخه يې يوځای کړي اوله ذلت څخه يې راته عزت بښلی دی ﴿ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ بېشکه شان دادی هرڅوک چې وېرېږي له الله اوصبروکړي نوبېشکه الله دنېکوکارانو اجرنه ضائع کوي) يعني څوک چې له الله ووېرېږي اوپه محنتونوربړونو اوازميښتونوصبروکړي نوالله ددوی نېکي اواحسان نه ضائع کوي بلکه بشپړه جزا ورکوي. بيضاوي وايې چې (محسنين) يې دضميرپرځای ظاهر يادکړي له دې کبله چې محسن وښيې هغه چاته وايې چې تقوی اوصبرېې خپل کړی وي(٣) ﴿ قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدْ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيْنَا ﴾ وويل: (وروڼو ديوسف ده ته) په الله قسم چې خامخاپه تحقيق الله ته پرموږ غوره کړی يې) يعني دوی پخپله ګناه اعتراف وکړاوقسم يې وخوړچې يوسف عليه السلام الله پاک پردوی باندي دتقوی، صبر، علم اوحلم په سبب غوره او بهتر ګرزولی دی ﴿ وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ﴾ اوبېشکه چې موږ ووخامخاله ګناهګارانو (خطاکونکو) يعني اوزموږ حال اوشان داووچې موږ په هغوکړوچې وموکړل ګناهګاروونو الله پاک تاته عزت درکړ اوموږ يې سپک کړو ته يې بسيا اوموږ يې خوارکړو ﴿ قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ ﴾ وويل: (يوسف عليه السلام) خپلو وروڼوته) نشته هيڅ ملامتي پرتاسونن ورځ (اونه عذاب اوترټنه بلکه زه درته بښنه کوم ﴿ يَغْفِرُ ٱللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ الله دي تاسي ته مغفرت وکړي (دغه دعا ددوی لپاره ده اوزيات مکرمت يې کوي) اوهم دی (الله) ښه غوره مهربان دټولو مهرباني کونکو يعني الله تبارک وتعالی په توبه کونکي باندي ښه مغفرت اورحمت کونکی دی چې دده په شان بل هيڅوک غوره رحمت کونکی نشته ﴿ ٱذْهَبُواْ

---

(١) ابوالسعود ٣/ ٩٠

(٢) البيضاوي ٣٢٩

(٣) البيضاوي نفس المرجع

﴿ بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِي ﴾ (يوسئ زمادغه قميص (كميس) نوواچوئ هغه په مخ دپلارزما).
طبري وايي چي داسي راغلي : كله چي يوسف عليه السلام دوى ته خپل ځان ور وپېژانده نودپلارپوښتنه يې له ورونوڅخه وکړه هغوی ورته وویل: دسترګوتور يې له غمه تللي دي (نه ويني ، نو په دې وخت کي يې خپل کميس ورکړ(1) اوويې غوښتل چي خپل پلارته دخپل ژوندي اوسېدلوزېرى ورکړي اوخوښي ورته راولي ﴿ يَأْتِ بَصِيرًا ﴾ نووبه ګرزي بيالیدونکی یعني ديدبه يې ورته راوګرزي ﴿ وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ اوراشئ تاسي ماته سره له خپل ټول اهله(اوذوذاته دیعقوب علیه السلام له اولادنه).

بلاغت:

﴿ جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ ﴾ پدې کلا م کي اوهمدارنګه په ﴿ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ ﴾ کي اشتقاقي جناس موجوددی.

۲- کله چي الله تعالی فرمايي: ﴿ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ﴾ پدې دواړوکي دطباق صنعت راغلی دی.

۳- ﴿ شَيْخًا كَبِيرًا ﴾ دلته اطناب اودمهرباني جلبولو او استعطاف لپاره راغلی دی.

۴- پدې کلام کي چي: ﴿ وَسْئَلِ الْقَرْيَةَ ﴾ دلته مرسل مجازاو علاقه يې محليت دی.

۵- ﴿ يَا أَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ دأسف اويوسف دلفظونو ترمينځ اشتقاقي جناس دی.

۶- ﴿ تَاللَّهِ تَفْتَؤُا ﴾ پدې کلماتو کي ايجازبالحذف دی چي هغه داسي تقدير کېږي.(تالله لاتفتأ).

۷- پدې کلا م کي چي ﴿ وَلَا تَيْأَسُوا مِن رَّوْحِ اللَّهِ ﴾ استعاره راغلي چي هغه دباد وږمه کومه چي خوندوربوی اوخوږه هواوي له برياليتوب څخه هغه چي وروسته له تکاليفوراځي اوهغه آسانتياچي وروسته له مشکلاتو پېښېږي استعاره شوي ده.

لطيفه:

قاضي عياض رحمه الله په الشفاء کتاب کي ليکي چي يوه اعرابي له يوچانه داآيت واورېدوچي تلاوت يې کاوو ﴿ فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا مِنْهُ خَلَصُوا نَجِيًّا ﴾ نوهغه وويل: زه شاهدي وايم چي دغه دمخلوق کلام نه دی مخلوق په داسي کلام او وينا باندي قدرت نلري اوداپدې چي آيت شريف ددوی له ټولو خلګوڅخه ګوښه توب ښيي چي پردی ورسره هيڅوک هم نه وي اودوی خپلي رايې مخ اوشاسره واړوي راواړوي اودوی هغه بهانه ولټوي چي کله هم بياله پلارسره مخامخ شي او ورته ووايي اودغه پېښه ورته بيان کړي نوپه دغه لنډآيت شريف ديوې اوږدې کيسې ټولي معاني رانغښتلي دي.

(1) الطبري ۱۳/۵۷

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلۡعِيرُ قَالَ أَبُوهُمۡ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَۖ لَوۡلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾ قَالُواْ تَٱللَّهِ إِنَّكَ لَفِي
ضَلَٰلِكَ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ
ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوۡفَ أَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ
هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾ فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَبَوَيۡهِ وَقَالَ ٱدۡخُلُواْ مِصۡرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ
﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ أَبَوَيۡهِ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدٗاۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأۡوِيلُ رُءۡيَٰيَ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَعَلَهَا رَبِّي حَقّٗاۖ وَقَدۡ
أَحۡسَنَ بِيٓ إِذۡ أَخۡرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجۡنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ مِنۢ بَعۡدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بَيۡنِي وَبَيۡنَ إِخۡوَتِيٓۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ
لِّمَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾ ۞ رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ وَعَلَّمۡتَنِي مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠١﴾ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ
إِلَيۡكَۖ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ يَمۡكُرُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَمَا
تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ وَكَأَيِّن مِّنۡ ءَايَةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يَمُرُّونَ عَلَيۡهَا وَهُمۡ
عَنۡهَا مُعۡرِضُونَ ﴿١٠٥﴾ وَمَا يُؤۡمِنُ أَكۡثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشۡرِكُونَ ﴿١٠٦﴾ أَفَأَمِنُوٓاْ أَن تَأۡتِيَهُمۡ غَٰشِيَةٞ مِّنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوۡ
تَأۡتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿١٠٧﴾ قُلۡ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ
وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۗ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٠٩﴾ حَتَّىٰٓ
إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ
﴿١١٠﴾ لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ
وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿١١١﴾ ﴾

يوسف: ٩٤ - ١١١

مناسبت او تړاو:

دا آیتونه د یوسف علیه السلام د ټولي کورنۍ مصر ته د راتګ او یوسف علیه السلام سره د پیوستون خبري کوي هلته چي یوسف علیه السلام د عزت او لوړتیا په مقام کي اوسي او دا وخت دی چي دده هغه خوب چي پخوا یي لیدلی وو یوولس ورونه او مور او پلار ورته سجده کوي تعبیر مومي یو ځل بیا کورنۍ یو موټی او متحده کیږي او له خفګانه وروسته ورته خوښي لاره پیداکوي په پای کي د الله جل جلاله د قدرت او وحدانیت هغه دلالت کونکي نښي چي د کائناتو په عجائبو کي دي راسپړي او انسانان ورته

ځيركوي اوبيا دانبيې چي ديوسف عليه السلام او ورونړو په كيسه كي يې دعقل دخاوندانو لپاره پندونه خوندي دي فرمايي ﴿ لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُوْلِي الْأَلْبَابِ ﴾

لغتونه:

(تفندون) مابوډاتوب ته منسوب كوئ ؛ اصمعي وايي: كله چي ديوچا له بوډاوالي خبري زياتي شي نو ورته (مفنّد) وايي: زمخشري وايي چي (تفنيد) (فند) ته منسوب اوبېخي زوړوالي ته وايي: چي له زوړتوبه يې عقل كارپرېږدي نو ويل كېږي (شيخ مفند) اوداسي نشي ويل كېداى چي (عجوزمفندة) ځكه چي ښځه دځواني په وخت كي هم درأى (اوبشپړعقل) خاونده نه وي چي په بوډاوالي كي څني محرومه شي (۱) (ضلالک) له سمي لاري نه خطاستا (البدو) صحراء (نزغ) فساد غورځولى وو اواصل يې له (نزغ الراكب الدابة) څخه اخيستل شوى هغه چي څوک خپل مركب دچسپانده تللولپاره وچوغي (فاطر) بې نمونې پيداكونكى اصل يې له فطرڅخه اخيستل شوى كله چي وڅيرل شي خو وروسته بياله پنځولو(خلق) اوايجادڅخه عبارت ګرزېدلى دى (غاشية) پټونكى عذاب (بغتة) ناڅاپه (بأسنا) عذاب زموږ (عبرة) وعظ او پند.

تفسير:

﴿ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ ﴾ اوكله چي بياجلاشو كاروان (له مصره دشام په لوري) وويل: پلاردوى(خپلو مصاحبينو، حاضرينوقريبانوته) بېشكه زه چي يم خامخاديوسف بوى مومم ؛ ابن عباس رضى الله عنه وايي: هوا راوالوتله اوديوسف عليه السلام دكميس بوى يې داتوشپو واټن (مسافې) څخه يعقوب عليه السلام ته راووړ(۲) ﴿ لَوْلَا أَن تُفَنِّدُونِ ﴾ كه چېري دكم عقلي نسبت ماته نه كوئ (چي ته بوډاشوى يې) د(لو)كلمې ځواب محذوف اوهغه دادى چي نوزه به خبر دركړم چي هغه ژوندى دى ﴿ قَالُواْ تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ﴾ وويل (لمسيانو او حاضرينويعقوب ته) قسم په الله بېشكه چي يې اورمروپه هغه پخوانى خطاكي اوله سمي لاري كوږشوى يې چي ديوسف مينه دي په لويه پېمانه زړه ته اچولي اوپه يادكي يې ډوب يې اوداهيله لرې چي هغه به بيامومې. مفسرين كرام وايي: چي دوى ځكه دغه خبري كولې چي پوخ باوريې درلود يوسف عليه السلام خامخا مړشوى دى. ﴿ فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ ﴾ نوكله چي راغى زېرى كونكى (دخوښي خبر) مجاهدوايي: چي زېرى كونكى پخپله يهوذا وو هغه په وينوكميس يې له ځانه سره راوړى وو نوويې ويل: چي زه به يې هسي خوشحاله كړم لكه چي غمجن كړى مي وو(۳) ﴿ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا ﴾ نواچاووده (زېري كونكي) هغه كميس پرمخ ددغه (يعقوب) باندي نو وګرزېدو (يعقوب) ليدونكى

---

(۱) الكشاف ۲-۵۰۴.
(۲) القرطبي ۹ / ۲۵۹
(۳) الطبري ۱۳ / ۶۳

(چي ورته خوبني اوبيداري راغبرگه شوه) ﴿ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّيٓ أَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ وويل يعقوب عليه السلام آياماتاسوته نه وو ويلي چي زه دالله (له ښوونې) پوهېږم په هغه څه چي تاسي پرې نه پوهېږئ) يعني يعقوب عليه السلام خپلوزامنوته وويل: چي ماتاسوته نه وو ويلي چي زه پرهغه څه پوهېږم تاسو پرې نه پوهېږئ؛ چي يوسف ژوندى دى اوالله به يې ماته راولي چي دخوب تعبيروشي.

مفسرين كرام وايي: دوى ته يې هغه خبره وریاده کړه چي ورته ويلي يې وو: ﴿ إِنَّمَآ أَشْكُواْ بَثِّي وَحُزْنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ روايت كېږي چي يعقوب عليه السلام له زېري كونكي څخه وپوښتل چي يوسف څنگه وو؟ هغه ورته وويل: يوسف دمصر پاچاوو ده ورته ويل: پاچهي يې څه كوم په كوم دين باندي وو؟ هغه ورته وويل: داسلام په دين وو نويې بياوويل: چي اوس نعمت بشپړشو[1] ﴿ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَآ ﴾ وويل: (ورونړو ديوسف) اې زموږپلاره موږته له الله نه زموږ دگناهونومغفرت وغواړه (دوى پخپله خطااقراروكړچي ﴿ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴾ بېشكه موږ خطاكونكي وو (په هغه څه كي چي ديوسف په حق كي موترسره كړل) ﴿ قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيٓ ﴾ وويل: (يعقوب خپلوزامنوته) ژربه تاسي ته له خپله ربه مغفرت وغواړم؛ مفسرين كرام وايي: دغه دمغفرت غوښتنه يې دسهارخواته وځنډوله ترڅواجابت ته نژدې وي اوچابياويلي چي دجمعې ورځي ته يې وځنډوله ځكه دجمعې په ورځ كي ددعاقبلولولپاره يوه گړۍ شته[2] ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ بېشكه هم دغه الله هم دى ښه ښښونكى دگناهونو(او دگناهونو پټوونكى) ښه رحم والادى (په خپلوبندگانوباندي)

﴿ فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ ﴾ اوكله چي دوى په يوسف عليه السلام باندي راننوتل (ماڼۍ اومجلس ته) نوموراوپلاريې خپل ځان ته رانژدې كړل (هغوى يې په غېږ كي ونيول) ﴿ وَقَالَ ٱدْخُلُواْ مِصْرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴾ اووويل: يوسف عليه السلام چي ننوزئ(دمصر) ښارته حال داچي (له هري سختي به) انشاء الله په امن كي شئ؛ اوداچي انشاء الله يې ورسره زياته كړه مقصد يې پدي كلمه تبرک حاصلول وو ﴿ وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ اوپورته يې كړل مور اوپلارخپل (له ځانه سره يې دپاچهي) په تخت (كښېنول) ﴿ وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدًا ﴾ (او پرېوتل (دغه يوولس ورونه اوموراوپلار) دغه يوسف ته سجده كونكي) يعني كله چي دوى يوسف عليه السلام ته ورننوتل نوورته يې سجده وكړه مفسرين كرام وايي: چي دغه سجده ددوى په نزد تحيه اوتعظيم وو دعبادت لپاره نه وه ﴿ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَٰيَ مِن قَبْلُ ﴾ وويل: (يوسف) اې پلاره زمادا(دسجدې) بيان (تعبير) زمادپخواني خوب

---

[1] الرازي ۱۸ / ۲۰۹

[2] سيدقطب رحمه الله وايي: دغه ژمنه چي د ﴿ سَوْفَ ﴾ په كلمه يې له دوى سره وكړه داسي ښكاري چي دغه دانساني پرهارژلي زړه لوري ته اشاره وي چي ژربه ورته ښښنه وغواړي كله چي دزړه سكون يې پيداشي اوخفگان يې ليري شي.

دی (چي ما په کوچنيوالي کي ليدلی وو) ﴿قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا﴾ په تحقيق زما رب دا خوب حق وګرځاوو ﴿وَقَدْ أَحْسَنَ بِيٓ إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجْنِ﴾ او په تحقيق احسان انعام يې را باندي کړی دی کله چي زه يې له بنديخانې را وايستم. مفسرين کرام وايي: چي د کوهي څخه د را ايستلو کيسه يې هډو ياده نکړه ترڅو چي ورونه يې له شرمندګي سره مخ نشي او دا چي هغوی ته وروسته له ښېني کولو ددوی کړه وړه وربه يادنکړي ﴿وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلْبَدْوِ﴾ او تاسي يې له صحرانه (مصرته) راوستی؛ څکه دوی کوچيان خلک وو د فلسطين په صحرامېري کي به يې اوښان او پسونه درلودل نو يوسف عليه السلام د الله جل جلاله هغه نعمت وربه يادکړچي دوی يې له صحرانه ښارته راوستل ټوله کورنۍ يې چي ترسلو کسانو لږ وو مصر ته راغلل او کله چي بيرته له مصرنه وتل ترشپږ سوه زره کسانو زيات وو[1] ﴿مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيْطَٰنُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِيٓ﴾ وروسته له هغه چي شيطان زما او د ورونو ترمينځ فساد جګړه غورځولي وه ؛ ابوحيان وايي: چي فقط همدومره يادونه يې وکړه چي نعمت وروسته له کړاوونو څخه ځانله خوندلري[2] ﴿إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُ﴾ ببشکه زما رب چي دی باريک تدبير والا دی د هغه چالپاره چي چي ورته اراده وفرمايي يعني هغه خپل تدبير په باريکي او دقت سره داسي چي خلک يې احساس نه کوي او وربانديي نه پوهېږي ترسره کوي ﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ﴾ ببشکه الله ښه عالم ښه حکمت والادی ؛ پخپل مخلوق ښه عالم او په خپلو مصنوعاتو کي د حکمت خاونددی. مفسرين کرام وايي چي: يعقوب عليه السلام له يوسف عليه السلام سره په مصر کي خلېرويشت کاله واوسېدو بيا وفات شو او بيا يې وصيت وفرمايل: چي ما د خپل پلار اسحاق ترڅنګ په شام کي ښخ کړئ او حضرت يوسف عليه السلام پخپله ورسره ولاړ او هلته يې دفن کړ او بيا چي کله بيرته مصرته راستون شو له پلاره وروسته درويشت کاله په مصر کي ژوندی وو او چي وخت يې پوره شو او پدې و پوهېدو چي نورنو د ژوندانه وروستۍ شپې دي نو د تل ترتله پاچهي مينه يې په زړه کي پيدا شوه او ويې غوښتل د الله جل جلاله او د خپلو نيکانو پلرونو او اجدادو يعقوب او اسحاق عليهما السلام ملاقات يې ترسره شي نو يې وويل: ﴿رَبِّ قَدْ ءَاتَيْتَنِي مِنَ ٱلْمُلْكِ﴾ اې ربه زما په تحقيق ما ته دي راکړي ده څه له پاچهي (ما ته دي عزت، مرتبه، سلطان او دنيوي نعمتونه راکړي دي) ﴿وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ﴾ او ښوولي دي ما ته څه له تعبيره د خوبونو (چي دغه علمي نعمت دی) ﴿فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنْيَا وَٱلْآخِرَةِ﴾ ای د آسمانونو او ځمکي (بې له نمونې) پيدا کونکي هم ته يې دوست کارجوړونکی زما په دنيا او آخرت کي ﴿تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ﴾ وفات کړه ما په داسي حال کي چي مسلمان يم او له صالحانو سره مي يوځای کړه ؛ الله ته يې ابتهال وکړ چي اسلام يې ورته خوندي کړي ترڅو چي ورته مرګ راځي ،

---

(١) الطبري ١٣ / ٧٣

(٢) البحر المحيط ٥ / ٣٤٩

هم ترديږ ځايه دحضرت يوسف عليه السلام كيسه پاى ته رسيږي نورنو دمحمد رسول الله صلى الله عليه وسلم دنبوت په رښتنولي باندي دلائل دي ﴿ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَ ﴾ دغه (كيسه ديوسف) دغيبوله خبرونو څخه ده چي هغه موږ تاته وحى كوو(اې محمده ! چي تاته پخوا ددې علم نه وو اوموږ تاته دهغې په بشپړه توګه اوښكلي انځور سره ښودنه وكړه ترڅوستادنبوت دعوى درښتنولي لپاره دليل وي ﴿ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ يَمۡكُرُونَ ﴾ اونه وې ته (اې محمده !) له دوى (ديعقوب عليه السلام له زامنو) سره كله چي دوى خپل فكر راټول كړ(په غورځولو ديوسف عليه السلام په كوهي كي) اوحال داچي دوى مكرفريب كاوو له يعقوب عليه السلام اويوسف عليه السلام سره چي له دوى سره يې واستوي تاهغه دكيسې ننداره له نژدې نه ده كړي بلكه دوحى په سبب هغه چي عليم اوخبير ذات تاته كړي دي پوهېدلى يې ﴿ وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴾ اونه دي زياتره خلګ اګركه ته حرص وكړې (ددوى په ايمان راوړلو كي) ايمان راوړونكي ؛ څكه دوى دكفرتصميم لري دغه درسول الله لپاره تسلاده ﴿ وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ ﴾ اونه غواړې ته (اې محمده !) په دغه (ابلاغ دقرآن) هيڅ اجرمزدوري (چي پردوى دروند شي) ﴿ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾ نه دى دا قرآن مګرپند دى (له جانبه دالله تعالى) لپاره دټولو خلګو ؛ اوته ددغه قرآن په تلاوت سره له دوى څخه مال دولت نه غواړې نوكه دوى هوښياران وى منلى به يې وو سرغړونه به يې نه كوله ﴿ وَكَأَيِّن مِّنۡ ءَايَةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ اوډېردي له دلائلو(علاماتوچي دالله جل جلاله په وحدانيت اووجودباندي دلالت كوي) په آسمانونو اوځمكوكي (لكه لمر، سپوږمۍ، ستوري ، غرونه ، دريابونه ، ونې اونور عجائبات او څيزونه ﴿ يَمُرُّونَ عَلَيۡهَا وَهُمۡ عَنۡهَا مُعۡرِضُونَ ﴾ چي دوى (معاندين)ورباندي تېرېږي (په سترګويې سبابېګا ويني) حال داچي دوى له هغو نښوڅخني تل څنګ كونكي دي ؛ پكي سوچ اوفكرنه كوي نوددوى له اعراض څخه تعجب مكوه چي له تاڅخه يې كوي بلكه ددوى څنګ كول له آيتونو دوحدانيت اوقدرت دالله څخه خورا نادر اوعجيب دى ﴿ وَمَا يُؤۡمِنُ أَكۡثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشۡرِكُونَ ﴾ او ايمان نه راوړي اكثرله دغو (مشركانو دالله په وجود اوخالقيت باندي) مګر پداسي حال كي چي دوى له الله سره شريك نيونكي دي دغه مكذبين په الله ايمان نه راوړي مګر چي له الله سره شريك ونيسي بيا دوى اقراركوي چي الله پاک خالق، اورازق دى خو ورسره بتان په عبادت كولوكي شريكان ګڼي. ابن عباس رضى الله عنهماوايي: اوله دې جملې څخه ددوى هغه دتلبيې ويناده چي ويل به يې : لبيک لاشريک لک الاشريكا هولک تملكه ومامك (۱)﴿ أَفَأَمِنُوٓاْ أَن تَأۡتِيَهُمۡ غَٰشِيَةٞ مِّنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ ﴾ آيانوبېغمه دي دا(مشركان) له دې نه چي راشي دوى ته(عقوبت) چاپېربدونكى پټونكى له عذابه دالله نه ﴿ أَوۡ تَأۡتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴾ ياراشي دوى ته قيامت ناڅاپه حال داچي دوى پرې خبر(هم) نه وي

(۱) القرطبي ۹ / ۳۷۲

اونه يې انتظاركوي استفهام انكاري اوپه معناكي يې توبيخ پروت دى ﴿ قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ ﴾ وواية اې محمده! دوى ته) چي دغه څرګنداوسمه سيخه لاره) زماده (چي هيڅ شک اوشبه پکي نشته ﴿أَدْعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ ﴾ بولم زه (ټول خلک لوري دتوحيد دالله ته (طاعت اوعبادت ته يې) په بيان اوښكاره دليل سره اوهم هرهغه خلک چي زمامتابعت كوي (اوراباندي يې ايمان راوړى دى) ﴿ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ اوپاک دى الله (له شركه) اونه يم زه له شريک نيونكوڅخه ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِم ﴾ اونه وو لېږلي موږ پخواله تا(اى محمده !) په رسالت سره) مګرسړي(نه ملائكي دآسمان) چي موږبه دوى ته وحى كوله. طبري وايي: معناداچي نه مو ښځي په رسالت رااستولي اونه هم پرښتې چي خلک زموږ طاعت ته راوبولي (۱) اوپه آيت شريف كي په هغوكسانو ردشوى چي وايي: انبياء دي پرښتې وي اوياهغه كسان چي ګمان كوي ښځي به هم درسالت مقام ته رسېدلي وي ﴿ مِّنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰٓ ۗ ﴾ له اهل دقريو (ښارونو) نه دصحراء دبيابانونوڅخه . حسن بصري رحمه الله وايي: چي الله پاک هيچېري هم دصحرايي خلكو، ښځو اوپېريانوڅخه انبياء ندي رااستولي(۲) مفسرين كرام وايي: ددې لپاره انبياء عليهم السلام ګرد (ټول) له ښارونوڅخه غوره شوي چي دوى په حلم اوعلم سمبال وي اودصحرابيابان خلک په جهالت، قسوت اوجفاكي سارى نلري ﴿ أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۗ ﴾ آيانونه ګرزي دغه (دروغجنان كفار) په ځمكه كي نو ودي ويني (دعبرت په ليدلو) چي څرنګه وو عاقبت دهغو دروغجنانوچي تردوى پخواتېرشوي دي (اوپندونه دې ځني واخلي استفهام دتوبيخ لپاره راغلى دى ﴿ وَلَدَارُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ ۗ ﴾ اوخامخاكور د آخرت ډېرغوره دى دپاره دهغوكسانوچي ځان ساتي (له دغي فاني دنياڅخه ﴿أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ آيانوتاسي عقل نه چلوئ ؟ (چي ايمان راوړى) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسْتَيْـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُواْ ﴾ ترهغه پوري چي رسولان به نااميده شول چي ددوى قوم يې تكذيب وكړ اوايمان يې نه راوړى ﴿ جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ﴾ راغي ناڅاپه دوى ته نصرت زموږ(په سختوشېبوكي كله چي مشكلاتو اوكړاوونوپه دوى كي منګولي ښخي كړي وې اوله الله جل جلاله څخه پرته بل هيڅ داميدڅرک نه وي پاتي نوپه همدغه وخت ناڅاپه غوڅ برى الله پاک راواستوى ﴿ فَنُجِّىَ مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾نوخلاصي به وركړى شوه له عذابه هغه چاته چي موږ به ورته اراده وفرمايله (پيغمبرانواومؤمنانوته پرته له كافرانو) اونشي دفع كېداى عذاب زموږ له قوم ګنهګارانوڅخه ,كله چي وراباندي نازل شي ﴿ لَقَدْ كَانَ فِى قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُوْلِى ٱلْأَلْبَٰبِ ۗ ﴾ خامخاپه تحقيق شته په قصه

(۱) الطبري ۱۳ / ۸۰
(۲) القرطبي ۹ / ۲۷۴

ددوی (یوسف او ورونیو) کي پند لپاره دعقل د خاوندانو ﴿ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ ﴾ نه دی (دغه قرآن) یوه داسي خبره چي له ځانه په دروغو ویلي شوي وي (او یا چاجوړه کړي وي) ﴿ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ لیکن دی دغه قرآن تصدیق کونکی دهغو (آسماني) کتابونوچي ووپخواله دي نه ﴿ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ اودی تفصیل دهر شي (چي په دین کي له حلال او حرام څخه محتاج الیه وي) ﴿ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ اوهدایت اورحمت دی لپاره دهغه قوم چي ایمان یې (ورباندي) راوړی (اوپه اوامرو، نواهیو باندي یې عمل کوي).

بلاغت:

﴿ تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ﴾ دلته یې ددوی کلام په قسم او (إِنّ) او (لام) باندي مؤکد راووړچي دغه ډول ته انکاري تاکید ویل کېږي ځکه پرله پسې مؤکدات راوړل شوي دي.

۲ – کله چي الله تعالی فرمایي: ﴿ ادْخُلُوا مِصْرَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ ﴾ دلته د ﴿ إِن شَاءَ اللَّهُ ﴾ کلمه د تبرک لپاره راوړل شوي او په آیت شریف کي تقدیم او تأخیر دی چي تقدیریې داسي کېدای شي: (ادخلوا مصر آمنین انشاء الله).

۳ – ﴿ وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ﴾ له ابوینو څخه مراد مور او پلار دي او تغلیبا ابوین بلل شوي همداراز (رفع) یعني پورته کول د مور او پلار وروسته د سجدې تراداکولو دي خو لفظاورڅخه ړومبی راغلی چي ددوی تعظیم ترسره شي نو معنا داچي لومړی یې د سجدې کولو مراسم ترسره او بیایې شاهي تخت ته وخېژول.

۴ – کله چي الله تعالی فرمایي: ﴿ وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ دلته د ﴿ وَلَوْ حَرَصْتَ ﴾ جمله د ﴿ وَمَآ ﴾ د اسم او خبر ترمینځ معترضه راغلي او سبب یې داچي څرګنده کړي هدایت یوازي دالله جل جلاله په لاس کي دی.

۵ – پدې کلام کي چي راځي: ﴿ وَمَا تَسْأَلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ﴾ دغه دمضاف په حذف سره راغلی یعني ته له دوی څخه د قرآن کریم په تبلیغ د څه شي غوښتنه او سوال نه کوې.

۶ – ﴿ وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ ﴾ او ﴿ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴾ پدې کي له بدیعي محسناتو څخه هغه څه شته چي سجع بلل کېږي او هغه داچي ددواړو فاصلو په وروستني حرف او توري کي سره توافق وي.

تنبیه:

دالله تعالی داقول چي فرمایي: ﴿ لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴾ پدې دلالت کوي چي ددې کیسوله یادولو څخه مقصد پند او عبرت دی او پدې کیسه کي عبرت داچي هغه ذات چي یوسف علیه السلام یې له کوهي راوکیښ او بیایې له بندیخانې راویوست وروسته یې دمصرد پاچهي تاج ور وبانبه کوم چي څه موده پخوادی هلته دمریې په نامه خلګو پېژانده وریسې یې تو له کورنی او مور

اوپلار له ډېرې مودې بېلتونه وروسته سره یوځای او یوموټي کړه چي هڅه و هیچاهم دداسي څه انتظار نه کاوو نوهمدغه ذات جل جلاله پدې هم قادردی چي د محمد صلی الله علیه وسلم عزت وکړي شان یې لوړ کړي او دین یې خپورکړي بل له دغي کیسې څخه اخبارکول له پټو رازونوڅخه پرده پورته کول دي چي دغه داخباربالغیب معجزه الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته ورکړي ده.

دالله جل جلاله په مرسته اوتوفیق د یوسف سورت بشپړشو

***

(۱۳) دالرعد سورت مدني اودرې څلوېښت آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

*دالرعد سورت مدني اودمدني سورتونو اساسي اوبنسټیز مقصدونه دادي چي دوحدانیت ، رسالت اوبعث جزاء تقریرپکي شوی وي دمشرکانو دشکوکو اوشبهاتودفع پکي ویلي شوي وي.

* سورت په لمړي پیل کي یوه ستره قضیه چي دالله جل جلاله په وجوداو وحدانیت باندي ایمان راوړل دي راا خلي له دې سره سره چي حق خوراڅرګنداوښکاره دی خوبیاهم مشرکان دقرآن تکذیب کوي اودرحمان له توحیدڅخه منکرېږي دادی چي آیاتونه نازلېږي اودالله جل جلاله د بشپړ قدرت اوپه آسمانونواوځمکو کي دعجیب خلقت اوپیدا ښت یادونه کوي لمر، سپوږمۍ، شپه او ورځ کښتونه ، مېوې اوټول هغه څه چي په دغه ویره دنیا او پراخو کائناتو کي دي ورته دخلګو پام راا ړوي.

* وروسته بیاآیتونه دبعث اوجزاء اثبات کوي ورپسې دالله جل جلاله په یووالي او توحید ټینګار کوي داپه ډاګه کوي چي ژوند اومرګ ، پیدا ښت اوایجاد ، ګټه اوتاوان یوازي دالله له لوري ترسره کېږي دلته قرآن کریم دحق اوباطل لپاره دوه مثالونه راوړي یوبې داوبو په هکله چي له آسمانه راا وري اوبیاکندي اوخوړي بهېږي، خس اوخاشاک له ځانه سره لېږدوي اوداوبو په سرد خیري اوخړي په شان راپورته کېږي هغه چي هیڅ فائده پکي نه وي دوهم مثال دهغو کانونو اوفلزي موادو دی چي وېلې کېږي ترڅو دسرو اوسپینو زرولوښي ګېڼې ځني جوړي شي اوبیاهغه پاتي شوني لکه ځګ اونور چي سملاسي له پیداکېدلو سره له مینځه ځي اوخوړېږي خوپاک سپېڅلی معدن هماغسي صاف ستره همېشه اوتل ترتله وي ﴿ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَٱحْتَمَلَ ٱلسَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ﴾ ترپایه دآیتونو همدغه دحق اوباطل مثال دی.

* په سورت کي دنیکمرغه اوبدمرغه کسانوصفات یادشوي چي هغوی یې په ړندواو بینایانو تعبیرکړي دي او دهري ډلي تګلاره یې بېله ښکاره کړي اوپه پای کي سورت ددې ګواهي اداکوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دالله له لوري په رښتوني استازي دی.

تسمیه اونومول:

دغه مبارک سورت په (الرعد) ځکه ونومول شوچي دغه دکائناتوعجیبه پېښه چي دالله جل جلاله دقدرت اوسلطان وړانګي پکي ځلېږي اوبه دژوندانه سبب اوپه خپل قدرت سره بې له وريځي راتوی کړي اوپه همدې وريځ کي الله پاک رحمت اوعذاب دواړه خوندي کړي دي هغه لکه څرنګه چي پکي باران شته همداسي پکي تندرنغښتی دی په يوه کي ژوند اوپه بل کي مرګ پټ دی اوددوو متناقضو يوځای کول دقدرت کرشمې اوعجائبات دي.

الله تعالی فرمايي:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِۗ وَٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ
ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ﴿٢﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا
زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ
أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٤﴾ ۞ وَإِن تَعۡجَبۡ فَعَجَبٞ قَوۡلُهُمۡ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٥﴾ وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ
قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ وَقَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِمُ ٱلۡمَثُلَٰتُۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلۡمِهِمۡۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ
ٱلۡعِقَابِ ﴿٦﴾ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ﴿٧﴾ ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا
تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُۖ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ﴿٨﴾ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ
ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ﴿٩﴾ سَوَآءٞ مِّنكُم مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۭ بِٱلَّيۡلِ وَسَارِبُۢ بِٱلنَّهَارِ ﴿١٠﴾
لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ
ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنشِئُ
ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعۡدُ بِحَمۡدِهِۦ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ مِنۡ خِيفَتِهِۦ وَيُرۡسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ
وَهُمۡ يُجَٰدِلُونَ فِي ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلۡمِحَالِ ﴿١٣﴾ لَهُۥ دَعۡوَةُ ٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ
كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ﴿١٤﴾ وَلِلَّهِۤ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا
وَكَرۡهٗا وَظِلَٰلُهُم بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ۩ ﴿١٥﴾ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ قُلِ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ

لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ خَلَقُوا كَخَلْقِهِ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿١٦﴾ الرعد: ١ ـ ١٦

لغتونه:

(عمد) ستني ته وايي اودغه توری اسم جمع اوڅوک وايي چي: دعمود جمع دی (صنوان) د (صنو) جمع اوهغه له وني څخه راغزېدلي ښاخ ته وايي چي معنايې هم مثله (ساری) دی څکه نوعم (کاکا) ته (صنو) وايي چي له پلارسره مماثلت لري نوکله چي ونه (درخته) ګڼ ښاخونه لري هغوی ته صنوان وايي (الأغلال) د(غل) جمع اوهغه ترونکي ته وايي چي ورباندي لاس له غاړي سره تړي (المثلات) د(مثلت) جمع اوعذاب ته ويل کېږي (مثلت) ته څکه مثلت وايي چي دعذاب اومعذب ترمينځ مماثلت موجودوي (تغيض) له (غاض) څخه اخيستل شوی اوهغه وچېدلواوکمېدلوته وايي (سارب) په رڼا ورځ تګ کونکي ته وايي (معقبات) يوپه بل پسې راتلونکي پرښتې (المحال) په قوت هلاکول اوعذاب.

دنزول سبب:

أنس رضی الله عنه روايت کوي ، وايي چي : رسول الله صلی الله عليه وسلم دعربانو دجاهليت دفرعونيانو يوفرعون ته څوک ور واستول ، ورته ويل يې چي : هغه ماته راوبوله استازي ورته ويل: هغه خورا سرکښ اوجباردی خورسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي : ورشه هغه ته بلنه ورکړه اوقاصد ورغی هغه ته يې بلنه ورکړه ورته وې ويل چي : رسول الله صلی الله عليه وسلم درته بلنه کوي هغه په ځواب کي ورته زياته کړه چي: ماته خبر راکړه آيا دمحمد الله دسروزرو دی ، که دسپينوزرو او که دتلعي ؟ نواستازی پيغمبرته راستون شو دهغه ځواب يې ورته راوور او ويې ويل: چي ماويل هغه خورا سرکښه اومتکبر دی بيارسول الله صلی الله عليه وسلم قاصد ور واستاووچي هغه ته بلنه ورکړه هغه بيالومړنۍ خبره ورته غبرګه کړه دوی په همدې خبرو کي وو چي الله پاک يې په سرباندي وريځ راوستله اودتالندي غږ شو په سردپاسه يې تکه (تندر) راولوېده اودسرکوپړۍ يې څني يووړه بيا الله جل جلاله داآيتونه نازل کړل ﴿ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَاءُ وَهُمْ يُجَادِلُونَ فِي اللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ ﴾ (١)

(١)

تفسير:

﴿ الٓمٓرٰ ﴾ پدې کي دقرآنکريم اعجازته اشاره ده (٢) اوابن عباس رضی الله عنهماوايي معناداچي: (زه الله پوهېږم اووينم) ﴿ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ ﴾ داآيتونه دکتاب (قرآن) دي (هغه چي معجزاو ترټولوپورته کتاب دی ﴿ وَالَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ ﴾ اوهغه کتاب چي تاته نازل کړی شوی دی له

---

(١) اسباب النزول ١٥٦

(٢) دمقطعاتوتورو توضيحات دالبقره سورت په پيل کي ولولئ.

(طرفه) درب ستا حق دی (له باطل سره نه ګډېږي او نه پکي څه شک او شبه شته) ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ وليکن زيات خلګ وربانديې باور نکوي يعني سره له دې چي زښته ښکاره او روښانه ده خو بيا يې هم د هر کسان نه مني دروغ يې ګڼي) ﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا﴾ الله هغه ذات دی چي آسمانونه يې پورته کړي (درولي) بې له ستنو چي تاسويې وويني (چي ستني نلري او دغه دمبدع پيداکونکي حکيم ذات په وجود دليل دی) ﴿ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ﴾ بيا يې استواء وکړه په عرش باندي (هسي چي له ده سره ښايي بې له کيفه، تعطيله او تجسيم څخه (۱)) ﴿وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ (او مسخر کړی يې دي لمر او سپوږمۍ هريو (له دوی نه) روان دي تر معلومي نېټې پوري) يعني الله پاک لمر او سپوږمۍ د انسانانو د مصالحو لپاره تابع ګرزولي چي د الله په قدرت سره هر يو يې تر ټاکلي مودې چي د دنيا د فنا موده ده روان دي ﴿يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ﴾ (تدبير کوي د هري چاري) الله پاک پخپل حکمت او قدرت سره د خلګو امور او چاري سمبالوي چا ته ايجاد او چا ته اعدام ځينو ته ژوند او ځينو ته مرګ ورکوي ﴿يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ﴾ په تفصيل سره دلائل (د توحيد او قدرت) بيانوي ﴿لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ﴾ (لپاره د دې چي تاسي د خپل رب په ملاقات يقين وکړئ) يعني الله د خپل قدرت او توحيد دلائل د دې لپاره بيانوي څو تاسي د الله جل جلاله د ملاقات په هکله باور ولرئ چي له مرګه وروسته ژوندون حق دی ځکه څوک چي دومره توان او قدرت لري نو هغه بيا انسان له مرګه وروسته هم را ژوندی کولای شي. ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلْأَرْضَ﴾ او دغه (الله) همغه ذات دی چي ځمکه يې غوړولي ده (پخپل قدرت سره پراخه او دغه خبره د ځمکي له ګرويت سره منافي نه ده د ځمکي ګرويت منل شوي خبره ده او د لته مقصد دا چي الله پاک ځمکه ويره پراخه د دې لپاره ګرزولي چي د انسان او حيوان د اوسېدلو لپاره مناسبه وي که چېري خوړونه لاښونه او غرونه وای نو بيا به وربانديې اوسېدل ممکن نه وو په التسهيل نومي کتاب کي وايې چي د وېړولو او غوړولو لفظ له تکوير سره منافي نه ده ځکه هره ټوټه يې په ځانګړي توګه غوړېدلي خو ګرده ځمکه بيا ګروي الشکل ده(۲)) ﴿وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ﴾ او پيدا يې کړو په کړو په دغه (ځمکه) کي غرونه ثابت (محکم ترڅو ځمکه په اوسېدونکو باندي ونه لړزېږي لکه دا چي: ﴿أَن تَمِيدَ بِكُمْ﴾ او بيا فرمايې ﴿وَأَنْهَٰرًا﴾ او ويالې (دا وبو رواني) ﴿وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ﴾ او له هره ډوله مېوو څخه يې پيدا کړي دي (ځمکي) کي جوړه دوه يعني نر او ښځه ترڅو له

---

(۱) د سلفو اقوال په سورة الاعراف کي ولولئ طبري ۱۳/ ۹۱

(۲) التسهيل فی علوم التنزيل ۲/ ۱۳۰

حکمت سره سم زیاتوالی اووده وکړي (١) ابوالسعود وایي چي: معناداچي ددنیاله ټولو میوو څخه الله پاک دوه ډوله پیداکړي دي یاخوپه رنګ کي لکه تور اوسپین اویاپه خوند کي لکه خوږ اوتریو، یاهم په اندازه کي لکه لوی او وړ، یاهم په څرنګوالي کي لکه تود اوسوړ اوداسي نور(٢) ﴿ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ ﴾ دشپې په تیارې سره ورځ پټوي ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ بېشکه مذکوره وو خبروکي خامخا دلائل دقدرت دي لپاره دهغه قوم چي فکر کوي یعني دالله پاک په عجیبه مصنوعاتوکي هغه ځاته چي فکرکوي څرګندي نښې اودلائل دي چي دالله په قدرت اووحدانیت ګواهي ورکوي اودغه متفکرین بې ځانګړي ځکه یادکړل ګویاهغه عجائبات چي دغه دلائل ورباندي شاهددي له فکرکولو پرته څوک پېژندلای نشي ﴿ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ ﴾ اوپه ځمکه کي ټوټې دي (مختلفي) څنګ پرڅنګ پیوستي یوله بل سره. ابن عباس رضی الله عنهماوایې چي: خوږه مځکه اوتروه ځمکه چي دغه یوه نباتات زرغونوي اودابله ورسره پیوسته خوهیڅ نه شنه کوي (٣) ﴿ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ ﴾ اونور(ډېر)باغونه دي ځمکه کي له انګورو نه ﴿ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ ﴾ اوکښتونه (فصلونه) دي اووني دخرماوو دي چي ځیني له یوه بېخه پورته شوی اوځیني ځان ځان ته بېخ لري ﴿ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ ﴾ چي اوبه کولی شي په یوډول اوبوسره اوغوره کوو ځیني له هغوڅخه په ځینو نوروباندي په خوراک (خوند، رنګ کی) طبري وایې چي: یوه ځمکه وي خوپه هغه کي زردالو، اوناشپاتي تور اوسپین انګور چي ځیني یې خواږه اوځیني تروه وي ځیني یې ترنوروښه وي سره له دې چي په یوه اوبه خوړاوبېږي (٤) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴾ بېشکه په دغو مذکوره اشیاوو کي دلائل (دقدرت) دي دهغه چالپاره چي پکي عقل چلوي (دلته په هغوکسانوباندي دترديد وارشوی چي هغوی دغه څه دطبیعت زېږنده بولي) ﴿ وَإِن تَعۡجَبۡ فَعَجَبٞ قَوۡلُهُمۡ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍۗ ﴾ اوکه ته تعجب لري (اې محمده! له دې نه چي دوی تانه مني) نوتردې لاعجیبه داخبره ده چي دوی وایې کله چي موږ خاوري شو آیاشوبه موږ خامخاپه نوي پیدا ایښت کي) یعني اې محمده! ددوی انکارله بعث څخه دتعجب وړدی ځکه هغه ذات چي آسمانونه ځمکي، وني، میوې اونهرونه یې پیداکړي دي هغه په دې هم قادردی چي وروسته له مرګه دوی راپاخوي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ ﴾ دوی همغه کسان دي چي په رب خپل کافران شوي دي (له بعث اودالله تعالی

(١) په الظلال تفسیرکي سید قطب رحمه الله تعالی وایې چي: داهسي حقیقت دی چي دا اوس بشردخپل علمي توان اوڅېړني په مټه ترلاسه کړي دي هغه داچي ټول ژوندي ساري له نرینه اوښځینه څخه پایې ان تردې چي نباتات هم کوم چي پخوا ګمان کېدو هغوی به له خپله جنسه جوړه نلري اوس څرګنده ده چي هغه هم جوړې ته اړدي اودتذکیراوتأنیث اعضا یاخوپه یوه ګل کي خوندي اویاهم په مختلفوونوروکي موجودوي. الظلال ٥ / ٧٢

(٢) ابوالسعود ٣ / ٩٧

(٣) الطبري ١٣ / ٩٧

(٤) نفس المرجع

له قدرت څخه منکردي) ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ ﴾ اوهمدغه (ګمرهان)دي چي داور طوقونه به يې (په قيامت کي) په غاړو کي وي ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ اودغه خاوندان (دطوقونو) صاحبان داوردي دوی به تل په دغه اورکي وي (نه به مړه کېږي اونه به څيني راايستل کېږي ﴿ وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ ﴾ اوژرغواړي دوی له تانه عذاب پخواله روغتيا او سوکالي نه) يعني دوی په دنياکي دهغه عذاب چي دوی ته وربانديي تهديد ورکول شوی دمسخروپه توګه سمدستي غواړي ﴿ وَقَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِمُ ٱلۡمَثُلَٰتُۗ ﴾ حال داچي په تحقيق تېر شوي دي پخوا له دوی نه عذابونه (ددروغجنانوولي دوی ترې عبرت اوپند نه آخلي ؟) ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلۡمِهِمۡۖ ﴾ اوبېشکه رب ستا خامخادمغفرت څښتن دی خلګوته سره ددوی له ظلمه (ژر عذاب نه ورکوي بلکه مهلت اوځنډ ورکوي ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴾ اوبېشکه رب ستا خامخا سخت دی عذاب دده (هغه چاته چي په ګناهونو اصرارکوي اوتوبه نه کاږي الله تعالی دخپل پراخ حلم اوسخت عذاب يادونه يوځای وکړه ترڅوبنده درغبت اورهبت خوف او رجاء ترمينځ وي ﴿ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ ﴾ اووايي هغه کسان چي کافران شوي دي ولي نه نازلاوه شي په دغه محمد باندي کومه معجزه (چي دده په ربښتنولي دلالت وکړي لکه دموسی اوعيسی (عليهما السلام) معجزې په البحر المحيط کي وايې چي : دوی دغه معجزاتي لکه دسپوږمۍ ټوټه کېدل، دمبارکوګوتوله مينځ څخه يې اوبه بهېدل، وني ورته راتلل اودرسول الله امرته يې غاړه اېښودل دمعجزوپه توګه نه منل بلکه عناداً يې نوري معجزاتي غوښتې(۱) ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ﴾ (بېشکه همداخبره ده چي ته وېرېدونکی يې اودهر قوم لپاره لارښوونکی مقرردی) يعني اې محمده! ته نه يې مګر وېرونکی اومبصرېې ته دنورو رسولانوپه شان يو پيغمبرېې هرقوم ته يو پيمغبرشته چي الله ته يې رابولي اوخارق العاده معجزې دالله کاردی چي هغه يې چاته ورکوي ﴿ ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ ﴾ الله پوه (عالم) دی په هغه څه چي باراخلي (په ګېډه) هره ښځه (چي دانارينه ماشوم دی ، که ښځينه) کامل دی اوکه ناقص ښايسته دی اوکه قبيح المنظره ﴿ وَمَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ ﴾ او(الله عالم دی) په هغه څه چي ارحام يې کموي (يعني جنين پخواتربشپړېدلوغورځوي) ﴿ وَمَا تَزۡدَادُۖ ﴾ او(الله عالم دی) په هغه چي زياتوي يې (ترنهومياشتو) ابن عباس رضی الله عنهما وايې چي (تغيض الارحام) معناداچي ترنهو مياشتوپه لږه موده کي دجنين وضع کېږي اود(ماتزداد) معناداچي ترنهومياشتو زياته موده دوضع لپاره په کارشي اوله دې دواړوڅخه يعني له لومړي څخه ناقص مولود اوله دوهم څخه بشپړ کامل الاعضاء مولود مرادادی ﴿ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ﴾ او هرشی په نزد ددغه (الله) په اندازه دی چي هغه دمصلحت

---

(۱) البحر۵ / ۳۲۷

اومنفعت له مخي تجاوزنه کوي ﴿ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ پوه دی په پټو او ښکاره وو (هغه شيان چي له حواسو پټ او الونياوي اويا هغه چي ځرګند او ښکاره وي په ټولو باندي دالله پاک جل جلاله علم محيط دی ﴿ ٱلْكَبِيرُ ٱلْمُتَعَالِ ﴾ ډېر لوی، لوړ او برتردی (ترهرشي په خپل قدرت اومنزه دی له سيال اومثال نه ﴿ سَوَآءٌ مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ ٱلْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ ﴾ (يوشان دی له تاسونه (دالله علم ته) هرهغه څوک چي خبره پټوي اوهرهغه څوک چي ښکاره کوي داخبره) يعني په زړه کي په پټو خبرو اوپه ژبه ځرګندو خبروټولو باندي الله عالم دی ﴿ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ﴾ اوهرهغه څوک چي هغه په شپه کي پټېدونکی دی اوهرهغه څوک چي هغه ظاهرونکی (دخپل عمل دی) په ورځ کي يعني همداراز يوشان دي دالله پوهي ته هغه کسان چي خپل کړه وړه په توره شپه کي پټوي اوهغه چي په رڼا ورځ په لاره ځرګندتلونکي دي هغه کارچي کوي يې نه يې پټوي ﴿ لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ ﴾ انسان لره ملائکي دي نوبت په نوبت راتلوني) يعني دغه انسان لره ساتندويه ملائکي دي چي يوپه بل پسي ورته رادرومي اولکه په حکومتي دائروکي ساتونکي پوليس غوندي ﴿ مِّنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ ﴾ دمخي له طرفه ددغه (انسان اودشاله طرفه ددغه (انسان) ﴿ يَحْفَظُونَهُۥ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ﴾ چي دده ساتنه کوي دالله په حکم سره ؛ له مشکلاتو اوربړونو څخه يې ژغوري. مجاهدوايي چي هريوه تن لره ملائک شته چي هغه يې په ويښه اوخوب کي له پېريانو، انسانانو اوخزنده ګانو څخه ساتي (۱) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمْ ﴾ ببشکه الله نه بدلوي حالت دهيڅ قوم ترهغه پوري چي دوی بدل کړي هغه ښه حالت چي په نفسونو ددوی کي وي يعني الله پاک له هيڅ قوم څخه خپل نعمت نه اخلي ترڅوچي دوی يې پخپله په ځانونه دروي اوخپل ښه حالت په قبيح اوبد حالت بدل نکړي اودغه الهي سنت چي کوم نعمت اوعافيت ، سوکالي اوعزت يې په چالورولی وي ترهغويې ځيني بيرته نه اخلي څودوی ددغو نعمتونو کفران ونکړي اوعصيان ته ملاونه تړي. په اثرکي راځي: چي الله پاک دبني اسرائيلو کوم يونبي ته داسي وحی وکړه چي قوم ته ووايه چي هيڅ کلی اوکورنشته چي يوځل طاعت کوي اوبيامعصيت ته مخه کړي مګرداچي الله هغه څه چي دوی ورسره مينه لري په هغه څه وربدلوی کوم چې دوی ځني کرکه اونفرت کوي ﴿ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوْمٍ سُوٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥ ﴾ اوکله چي اراده وکړي الله په کوم قوم باندي دبدي (عذاب اوهلاک) نونشته بيرته ګرزېدل دهغه يعني هيڅوک يې ګرزولی نشي ﴿ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴾ اونشته دوی لره هيڅوک بې له الله څخه مددګار (چي عذاب اوبلاځني دفع کړي) ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ ﴾ (دغه (الله) هغه ذات دی چي درښيې تاسي ته بربښنا) دغه دالله جل جلاله دقدرت داغيزو بيان دی چي ای خلکوالله هغه ذات دی چي تاسوته په وريځوکي بربښنادرښيې ﴿ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾

---

(۱) الطبري ۱۳ / ۱۱۹

دپاره دخوف (ويري) اواميد(دګټي) ابن عباس رضی الله عنهماوايي : چي وېره له ټکي اوتندرڅخه اوهيله دباران ده (۱) ځکه چي برېښناغالباترتندر له مخي راځي اوکله کله تربرېښناوروسته بيا په شېبوشېبو باران وورېږي هغه چي دانسانانو اوحيوانانو ژوند وربانديي ولاړوي ﴿ وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴾ او راپورته کوي په اوبودرنې وريځي ﴿ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ ﴾ اوتسبيح وايې رعد سره له ثنادهغه (الله) اوتسبيح وايي نوري ګردي پرښتې له ويري ددغه (الله) د(عذاب) درعدتسبيح ويل هغه حقيقت دی چي قرآنکريم وربانديي دلالت کوي نوموړ په هغه ايمان لروکه څه هم په دغو اصواتو اوغږونو موږ نه پوهېږو الله پاک پرته له حق څيزنه په بل شي اخبارنه کوي لکه فرمايي: ﴿ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ ﴾ (بياالله تعالی فرمايي) ﴿ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ ﴾ اولېږي الله تندرونه رسوي (غورځوي) دغه تندرونه) پرهغه چاچي اراده وفرمايي (الله دهلاکت يې) ﴿ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِي ٱللَّهِ ﴾ (حال داچي دغه خلګ جګړې کوي دالله په شان کي) يعني دمکې کفاردالله په وجود، وحدانيت اودبيرته راپاڅولو دقدرت په هکله جګړې کوي ﴿ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ﴾ حال داچي الله سخت دی عقوبت دده (په هغه چاچي دده نافرماني کوي الله له هغه څخه په انتقام اوغچ اخيستلو قادراودالله نيول ډېرسخت دي ﴿ لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ ﴾ خاص همدغه الله ته دی بلنه دحق يعني يوازي الله ددې وړ اومستحق دی چي عبادت يې وکړی شي اوورڅخه هيله اواميدترسره شي ﴿ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيْءٍ ﴾ اوهغه کسان چي بلنه (عبادت کوي کفاردهغوی) بې له دغه (الله) څخه نه قبلوي دوی دغوبلونکولره په هيڅ شي سره) يعني بلنه يې نه اوري ﴿ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦ ﴾ مګرداسي قبلول لکه قبلول دغځونکي د دواړو لاسونو غوړونکی دارغويو خپلو داوبو لورته (په کوهي کي بې له رسۍ اوبوکې) دپاره ددې چي دغه اوبه دده خولې ته ورشي حال داچي نه دي دغه اوبه رسېدونکي خولې دده ته) يعني ددی دغه قبلول داسي دي لکه چي يوڅوک اوبوته لپه ورغزوي او ورته چيغي وهي چي دغه اوبه يې خولې ته را ورسېږي اوبه خوجماد دی احساس نلري اونه اوري. ابوالسعودوايي چي: دمشرکانوحال يې چي ددوی بتان ددوی سوال نشي اورېدلی اومنلی له هغه تړي سره يورنګه مشابه بيان کړهغه چي سخته تنده وربانديي راغلي وي، نه پوهېږي څه وکړي ؟ کله خولاسونه وغځوي اوغواړي چي اوبه يې خولې ته راورسېږي مګراوبه خوجماددی دده په تنده هډو خبري هم نه دي (۲) ﴿ وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ﴾ اونه ده دعادکافرانو (بتانولره) مګرپه زيان کي ده بتان دوی ته ګټه نه رسوي ﴿ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص (يوازي) الله ته سجده کوي

(۱) زادالمسير ۴ / ۳۱۳
(۲) ابوالسعود ۳ / ۱۰۲

هرهغه څوک چي په آسمانونوكي دی اوهغه چي په ځمكه كي دی ﴿ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا ﴾ (ځيني) په خوښه او(ځيني) په زور، حسن بصري رحمه الله وايي چي: مؤمن پخپله خوښه سجده كوي اوكافرپه ناخوښه كله چي مجبورشي او وويريږي ﴿ وَظِلَٰلُهُم بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ﴾ او(سجده كوي) سيوری ددغو(مخلوقاتو) په سبا اوبيګاه كي ؛ له دې څخه غرض دالله جل جلاله عظمت اوسلطان ښكاره كول دي چي ګرده كائنات هغه ته منقاددي آن تردې چي دبنيادمانوسيوري هم الله ته سبابيګاه سجده كوي اودالله امرمنونكي دي ﴿ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ ووايه (ای محمده ! دوی ته) څوك دی پالونكی دآسمانونو اوځمكي (چي داموراتو تدبير كوي ؟) دلته پوښتنه دتهكم په توګه شوي ده چي په دوی باندي استهزاء كول دي ځكه دوی خودبتانو عبادت كاوو ﴿ قُلِ ٱللَّهُۚ ﴾ ووايه (ای محمده !) چي الله دی ؛ يعني دوی ته دتبكيت اوتوبيخ په توګه ووايه چي الله يې پيداكونكی دی بل څوك نشته ﴿ قُلۡ أَفَٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ نَفۡعٗا وَلَا ضَرّٗاۚ ﴾ ووايه (ای محمده !دوی ته كله چي تاسي پوه شوی) نوآياپس تاسي نيولي پرته له الله څخه دوستان چي دوی اختيارنلري لپاره دځانونو خپلو دڅه ګټي رسولو اويادڅه زيان دفع كولو) يعني دغه دالزام حجت په توګه ورته ووايه چي دوی دځان لپاره نفع اوضرر په واک كي نلري نودبل چالپاره به څه وكړي ؟﴿ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ أَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُۗ ﴾ ووايه (ای محمده ! دوی ته) آيابرابردی ړوند اوليدونكی بلكه آيابرابري دي تيارې اورڼا) دغه دغيرالله دعبادت لپاره يوتمثيل دی،له ړانده څخه مقصد كافراوله بيناڅخه مؤمن دی،تاريكي دګمراهي څخه عبارت اورڼا دهدايت څلاده يعني لكه چي دغه سره برابرنه دي همداسي مؤمن اوكافرهم يوشانته نه دي دضلالت اودهدايت رڼاسره نه پرتله كېږي ددوی ترمينځ فرق اوبېلتون خوراښكاره دی لكه دړانده اوبيناترمينځ اويادرڼااو تياروترمينځ ﴿ أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ ﴾ آياګرزولي دوی الله لره شريكان چي پيداينښت يې كړی دی په شان دپيداكولو ددغه (الله) نوبياپردوی باندي مشتبه شول (پيداكول دشريكانو) له پيداينښت دالله (سره) ؟دغه دحجت وروستی پړاو اوپردوی باندي تمسخردی چي: آيادغومشركانو داسي كسان په خدايي اوالوهيت منلي چي هغوی هم دالله په شان مخلوقات پنځولي دي اوبياپردوی باندي دغه ورك شوی چي دالله مخلوقات كوم دي اودبتانو كوم دي؟ دغه يوداسي غاښ برېښوونكی تهكم دی ځكه دوی پخپله هم داسي عقيده لري چي ټول څيزونه الله پاك پيداكړي دي اودغه بتان هيڅ شی هم نشي پيداكولای خوله دې ټولوسره سره بياهم دوی يې عبادت كوي اوهمدغه دمشركانودسپك عقل اوناپوهي ښكارنده ننبه ده اوكله چي پردوی باندي حجت راوړل شونوبې داسي ښكاره بيان وفرمايل: ﴿ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ﴾ ووايه (ای محمده ! دوی ته) خاص الله پيداكونكی دهرڅېزدی اوهم دی دی يو، قوي غالب (په هرڅېزاوهرچا) يعني الله پاك دهرڅه پيداكونكی دی بل څوك خالق نشته الله پاك په ربوبيت اوالوهيت كي واحد اومنفرددی الله په هرڅه باندي زورور اوټول شيان دالله ترقدرت اوقهرلاندي دي.

بلاغت:

پدې مبارکو آیتونو کي د بدیع او بیان ښکلاوي دادي:

١- ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ دلته له نژدې څخه د لیري اشاره شوي ده او هغه یې د شان دلوړتیا او درتبې داوچتوالي په سبب کړي او (الف لام) په کتاب کلمه کي د تفخیم لپاره راوړل شوي یعني هغه عجیب کتاب چي اعجاز او بیان یې خورا لوړ دی.

٢- تبعیه استعاره په دې کلماتو کي چي فرمایې: ﴿ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ ﴾ دلته یې دورځي د روښنایې تلل د شپې په تیارو سره له یو پنډ پوښ سره مشابه ګڼلي او د (یغشي) لفظ یې ورته استعاره کړی دی او لکه څرنګه چي حسي شیان په برغولي پوښل کېږي همداسي یې د معنوي شیانو لپاره استعاره راوړې ده.

٣- پدې کلماتو کي چي فرمایې: ﴿ تَغِيضُ ٱلْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ﴾ او ﴿ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ او ﴿ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾ او ﴿ طَوْعًا وَكَرْهًا ﴾ پدې ټولو کي د طباق صنعت چي د بدیعي لفظي صنایعو څخه ګڼل کېږي راغلی دی.

٤- ایجاز بالحذف پدې کلام کي چي: ﴿ قُلِ ٱللَّهُ ﴾ او بشپړ کلام داسي دی چي: (قل الله خالق السموات والارض).

٥- تمثیلي تشبیه چي فرمایې: ﴿ كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ ﴾ دلته یې د بتانو په عدم استجابت باندي د هغه چا تشبیه وکړه چي له لیري واټن څخه اوبو ته لپه نیسي چي خولې ته یې راورسېږي خو هغه نه راځي نو د شبه وجه له متعدد د څخه را ایستل شوي ده.

٦- پدې قول کي چي فرمایې: ﴿ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ﴾ دلته یې ظلمات او نور د کفر او ایمان لپاره استعاره کړي او همدا راز ړوند د مشرک لپاره او بینا د مؤمن لپاره مستعار شوی دی.

تنبیه:

ملائکو او پرښتو ته (معقبات) وویل شوه دوی په نوبت د خلګو بندګانو اعمال په شپه او ورځ کي څاري لکه په بخاري شریف کي یو حدیث راځي فرمایې: چي دوی ته پرښتې په شپه او پرښتې په ورځ کي په نوبت راد رومي او د سهار، مازیګر په لمنځونو کي سره یو ځای کېږي.

فائده:

له ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت کېږي چي کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم د تالندې غږ واورېدو ویل به یې: سبحان من یسبح الرعد بحمده والملائکة من خیفته وهوعلی کل شئ قدیر) او ابوهریرة رضی الله عنه به ویل: که چا دغه کلماتي لوستلې خو بیا هم ورباندي تندر (تکه) ولوېده د هغه د دیت زه پوروړی یم.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ زَبَدٗا رَّابِيٗاۖ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ٱبۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ أَوۡ
مَتَٰعٖ زَبَدٞ مِّثۡلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءٗۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ كَذَٰلِكَ
يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ ﴿١٧﴾ لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا
وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٨﴾ ۞ أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن
رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلۡمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ
ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ
مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ
وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ
عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ
﴿٢٥﴾ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ﴿٢٦﴾ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم
بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ
﴿٢٩﴾ كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ
رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾ وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ
ٱلۡمَوۡتَىٰۗ بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ جَمِيعًاۗ أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ
بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾ أَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۗ
وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلۡ سَمُّوهُمۡۚ أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَم بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِۗ بَلۡ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ مَكۡرُهُمۡ
وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ﴿٣٣﴾ لَّهُمۡ عَذَابٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَقُّۖ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ
مِن وَاقٖ ﴿٣٤﴾ ﴾ الرعد: ١٧ ـ ٣٤

مناسبت او تړاو: کله چي الله تعالی په تېرو آیتونو کي یادونه وکړه چي بلني او دعوتونه دوه ډوله دي یو د حق دعوت او بل د باطل هغه چي الله ته دعوت او بلنه کېږي هغه حق او کوم چي د بتانو په لوري بلنه وي هغه د باطل دعوت دی نو دلته الله د دواړو ډلو لپاره مثالونه راوړل چي د حق او د حق د پلویانو مثال

اودباطل اودهغوى دډلي مثال ترڅودهدايت اوضلالت توپيروشي اوسمه اوکږه لاره سره بېل شي بيايې دمؤمنانوابدي هستوګنځى جنت اودکافرانوتل ترتله د اوسېدلوځاى دوزخ بيان کړ.

لغتونه : (زبدا) هغه چي سېلاب يې په سر راوړي (رابيا) لوړ پرسېدلى (جفآء) ورکېدونکى هغه چي بقانلري (١) ويل کېږي اوبو په سراخيستى کله چي بياپوپناشي (المهاد) دپرېوتلولپاره تيارشوى ځاى (يدرؤن) دوى دفع کوي (عقبىٰ) آخرت اوجزاته ځکه عاقبت وايې چي هغه هم له فعل څخه وروسته راځي (عدن) تل ترتله ثابت ته ويل کېږي (عدن بالمکان) کله چي په يوځاى کي اقامت غوره کړي (يبسط) پراخوي (يقدر) تنګوي(متاع) هرهغه څه چي تريوې ټاکلي مودې ځني کاراخيستل کېږي اوبياورکېږي (طوبى) خوښي ته وايې. زمخشري ليکي: چي دغه دطاب مصدراولکه (بشرى) او(زلفى) غوندي راغلى اومعنايې داچي خيراوپاکيزګي ته ورسېدو (ييأس) له يوشيزڅخه ناهيلي کېدل (أمليت) مهلت مى ورکړ (واق) له (وقى) څخه اسم فاعل اوساتونکي دفع کونکي ته وايې.

دنزول سبب:

ابن عباس رضى الله عنهماوايې : چي دغه دقريشي کفاروپه هکله نازل شوې دى کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دوى ته وفرمايل: ﴿ ٱسْجُدُوا۟ لِلرَّحْمَٰنِ قَالُوا۟ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا ؟ ﴾ نوالله پاک دا آيتونه نازل کړل چي: ﴿ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِٱلرَّحْمَٰنِ قُلْ هُوَ رَبِّى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ ﴾ (٢)

تفسير:

﴿ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ نازلي کړي دي (الله) له آسمانه اوبه (باران) ﴿ فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا ﴾ نووبهېدل خوړونه په اندازه (دپراخي ددوى) سره يعني وړوکي پخپله اندازه سره اوسترپخپله اندازه

﴿ فَٱحْتَمَلَ ٱلسَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ﴾ نوپه سر واخيست داسېلاب ځګ اوچت شوى ؛ داهغه څه دي چي سېلاب يې په سر راوړي خېري اوځګ داوبوپه سر اوچت وي. طبري وايې چي: داهغه مثال دى چي الله يې دحق اوباطل ايمان اوکفرلپاره بيانوي چي دحق دټينګار اوثبات اودباطل دورکېدو اوپناکېدلو څرګندوى وي داوبوهغه مثال چي الله يې له آسمانه ځمکي ته را اوروي اوبياسېلابونه ترې جوړ او د هغوپه سر ځګ راوپړسېږي نواوبه لکه هغه حق غوندي په ځمکه کي تل پاتي وي اوځګ هغسي باد يوسي دغه دهيچاپه ګټه هم نه دي اودغه يومثال له دوو مثالونو دحق اوباطل څخه دى دوهم داچي: ﴿ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِى ٱلنَّارِ ٱبْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَٰعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُۥ ﴾ اوله هغوڅيزونو چي بلوي يې (داخلق لمبې اوويلي کوي يې) په اورکي لپاره دطلب دګاڼې اونورسامانونه ځګ په شان دهغه (ځګ) دى يعني له هغوکانونو څخه چي هغه لکه سره زر سپين زر، قلعي اونوردي هغه چي خلګ ترې ګاڼې اولوښي جوړوي اوځني ګټه اخلي هغوى ته هم داسي ځګ شته لکه چي تېرشواوهمداسي يې پردغه ځګ هم لکه دسېلاب په ځګ

(١) البحر ٥ / ٣٨٢
(٢) اسبب النزول ١٧٥ القرطبى ٩ / ٣١٨

څوک ګټه اخیستلای نشي ﴿ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ وَٱلْبَٰطِلَ ﴾ په مثل ددې (مذکوره مثالونو) بیانوي الله (مثالونه) دحق اوباطل؛ نومثال دحق په ثبات اوټینګارکي داوبو په شان دی هغه چي صافي پاکي په مځکه کي زېرمه کېږي اوخلګ ځیني ګټي اخلي اودباطل مثال دځګ اوخیري په شان دی چي په هواکي الوزي اودهیچاپه دردنه خوري، بلکه ورکېږي ﴿ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ﴾ نوهرڅه چي ځګ اوخیري وي نو ولاړشي په دغه حال کي چي له نظره پرېوتی وي؛ دخوړ دواړو لوروته تیت او ووشیندل شي ﴿ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمْكُثُ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اوهرهغه شیزچي خلګوته ګټه رسوي (له صافواوبواو خالص فلزاتو نو په ځمکه کي پاتي کېږي (دګټي لپاره) ﴿ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ ﴾ همداسي الله مثالونه بیانوي ,دحق اوباطل هدایت اوګمراهي لپاره ترڅوخلګ پنداوعبرت واخلي (۱) ﴿ لِلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِرَبِّهِمُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ شته لپاره دهغوکسانوچي حکم قبول کړی دی دوی درب خپل جزانېکه (چي جنت اودنعمتونوکوردی) ﴿ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُۥ ﴾ اوهغه کسان چي دوی نه وي قبول کړی حکم ددغه (الله) یعني ایمان یې نه وي راوړی کفاروي ﴿ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ که چېري وي دوی ته هرهغه څه چي دي په ځمکه کي ټول (له مالونو) ﴿ وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ ﴾ اونورهم وي په مثل ددوی له دې سره ﴿ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦٓ ﴾ نوخامخابه دوی په هغوفدیه ورکړي (لپاره دځان خلاصولو له عذابه نونه به خلاصېږي له عذابه) ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ سُوٓءُ ٱلْحِسَابِ ﴾ دغه کسانوته مقرردی بدعذاب. حسن بصري رحمة الله وايې چي: ددوی دټولو ګناهونو محاسبه به کېږي هیڅ بخښنه به ورته نه کېږي ﴿ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴾ اوځای داستوګني ددوی دوزخ دی اوبدځای دآرام دی (دغه دوزخ) ﴿ أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰٓ ﴾ (آیانوهغه څوک چي پوهېږي پدې خبره چي بېشکه هغه (قرآن) چي تاته نازل کړی شوی دی له طرفه درب ستاحق دی په مثل دهغه چادی چي دی ړوندوي ؟) دلته همزه دانکاري استفهام لپاره ده یعني آیاهغه کسان چي ایمان یې راوړی په هغه کتاب چي په تارانازل شوی دی له هغه چاسره برابردي چي په توره تیاره کي لالهاند او ړوند غوندي وي لکه ابوجهل ؟ دلته مراد له ړوندوالي څخه دزړه دسترګو ړوندوالی دی. ابن عباس رضی الله عنهما وايې چي: دغه آیت شریف دحضرت حمزه

---

(۱) شهید سید قطب رحمه الله په خپل فی ظلال القرآن تفسیرکي لیکي چي همداسي مو ږ دحق اوباطل له مثال سره دتلپاتي دعوت اوسمدستي پناه کېدونکي بلني مثال ګورو بېشکه له آسمانه اوبه را واوري اوخوړونه ډک روان شي دلاري په اوږدوکي ځګ په سر واخلي هغه یوداسي پړسېدلی ډومبک وي خوله پوکي سره الوزي اوبه همداسي ترې لاندي هواري رواني وي داهغه اوبه دي چي له خیراوبرکت څخه یوه پېمانه دي همداسي دکانونومثال دی چي ویلی کېږي اوپسول ګانه څني جوړېږي اوپه دې پړاوونو کي یې کوټ راوزي هسي له مینځه درومي اوکان هماغسي پاک ستره پاتي وي همدغه دحق اوباطل مثال دی باطل به سر رااوچتوي هغه به پړسوب کوي خوسمدستي به ورکېږي دهیچاپه بنه به نه ورځي اوحق به تل آرام په مځکه کي لکه داوبو په شان، یابنایسته معدنونه خوندي اودهرچادګټي اخیستلو به وړوي.

رضی الله عنه اوابوجهل په باب رانازل شوی دی ﴿إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ بېشکه خبره همداده چي پندآخلي (په آيتونو دالله) خاوندان د(سليمو) عقلونو، بياالله پاک يې صفتونه هسي بيانوي چي: ﴿ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ﴾ هغه کسان چي دالله په عهدوفاکوي يعني دالله اوامر او نواهي مني هغه چي الله خپل بندگان وربانديء مکلف کړيدي ﴿وَلَا يَنقُضُونَ ٱلْمِيثَٰقَ﴾ اونه ماتوي دوی هغه ټينګ عهد؛ کوم چي دوی پرځان منلی اودالله اوبندګانو ترمينځ تړون دی ﴿وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ﴾ اوهغه کسان چي وصل کوي هغه چي حکم کړی دی الله په هغه سره داسي چي وصل دي شي يعني دوی دارحاموصله (دخپلوي پالنه) ساتي کوم چي الله يې په ساتلو امرکړی دی ﴿وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلْحِسَابِ﴾ او وېرېږي دوی له عذابه درب خپل اوخوف کوي له بده حسابه؛ يعني دوی له دې وېرېږي چي بده محاسبه به ورسره وشي او اورته به يې وغورځوي نودوی له همدې وېري دالله طاعت ته لېځي رانغاړلي اود حدودو يې پوره پوره ساتنه کوي ﴿وَٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ﴾ اوهغه کسان چي صبرکوي (په تکليفونو) دخپل رب درضا دغوښتني لپاره ﴿وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً﴾ او قائموي (سم اداکوي سره له ټولوحقوقو) لمونځ اونفقه کوي ځيني له هغومالونو چي موږ دوی ته ورکړي دي هم په پټه اوهم په ښکاره ﴿وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ﴾ (اودفع کوي دوی په نېکي سره بدي) يعني دوی دجهل مقابله په حلم سره اوربړونه تکاليف په صبرسره ګالي. ابن عباس رضی الله عنه وايي: چي دوی په نېک اوصالح عمل سره دبدعمل دفع کوي[1] دلته ﴿وَيَدْرَءُونَ﴾ د(ويفعلون) په معنا اخلي اوپه حديث شريف کي راځي: (واتبع السيئة الحسنة تمحها) په بدي پسي نېکي ترسره کړه چي هغه ومينځي ﴿أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى ٱلدَّارِ﴾ دغه کسان (موصوفين) شته دوی ته ښه عاقبت ددارد آخرت (چي جنتونه دي) اودغه ډول تفسيرېږي پدي قول دالله کي راغلی چي فرمايي: ﴿جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ﴾ چي جنتونه دي دتل اوسېدلو چي ننوزي به دوی په هغوکي او(هم) هغه څوک چي صالح (مؤمن) وي له پلرونو ددوی اوله ښځوددوی اوله اولادې ددوی (ترڅوچي دوی يې په وصال اوملاقات خوښ شي که څه هم چي دغه وروستني دداسي لوړودرجاتو وړ اومستحق نه وي خودړومبنيو داکرام له کبله به يې الله دغوپوړيو ته ورسوي اودغه په دې مؤمنانو باندي دالله فضل دی اوددوی لپاره يوبل اکرام هم شته هغه داچي: ﴿وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ﴾ اوپرښتې به ورننوزي پردوی (دمبارکي ويلولپاره) له هري دروازې (دجنت څخه او وايي به ورته) ﴿سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ﴾ (سلامتيادي پرتاسي په سبب دصبرکولوستاسي) يعني تاسو له آفتونو اومحنتونو څخه

[1] القرطبي ۹ / ۳۱۱

دخپل صبراوزغم په سبب چي په دنيا كي موكړى وو سلامت ياست كه تاسو پخوا په سترپياو كړاوونو كي وي خواوس موسوكالي اوراحت په برخه شو اودغه دوى ته دتل ترتله سلامتيازيرى دى ﴿ فَنِعْمَ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴾ نوښه عاقبت ددار (دآخرت عاقبت ستاسودى) چي هغه داورپه مقابل كي جنت دى اوكله چي الله تعالى دمؤمنانواوصاف ښكاره كړل ورپسي يې دكافرانو صفتونه داسي بيان كړل چي : ﴿ وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ ﴾ (اوهرهغه كسان چي ماتوي عهد دالله وروسته له محكم والي دهغه) يعني دوى هغه عهدونه چي پرخپل ځان يې په ټينګه منلي وو چي په الله تعالى به ايمان راوړي اوطاعت عبادت به يې كوي ماتوي ﴿ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ ﴾ اوپرې كوي دوى هغه شى چي حكم كړى دى الله په هغه سره چي وصل دي كړى شي يعني خپلوي نه پالي قطع صله رحمي كوي هغه چي الله يې په وصل كولوحكم كړى دى ﴿ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اوفسادكوي دوى په ځمكه كي ﴿ أُولَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعْنَةُ ﴾ دغه (مذكوركسان) شته ده دوى ته لعنت (ليري والى دالله له رحمته) ﴿ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴾ اوشته دى دوى ته بدعاقبت د دار (دآخرت چي اوردى) يعني دوى لره هغه خواشينونكى ځېزپه آخرت كي دى چي ددوزخ اوردى ﴿ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ﴾ الله پراخوي روزي هرهغه چاته چي اراده وفرمايې (دپراخي يې) اوتنګوي يې (لپاره دهغه چاچي اراده وفرمايې (دتنګولويې پخپل حكمت اومصلحت سره) ﴿ وَفَرِحُوا۟ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ اوخوشحاله شوي دي (دغه (مشركان) په ژوند ددنيا ؛ (په خوښي دغرور اوتكبرسره داهسي اخباردي چي پكي دهغه چابدي نغښتي ده چي په دنياخوښحالېږي ځكه ددنياسپكاوى هسي بيانوي چي : ﴿ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٌ ﴾ اوندى داژوندون لږ خسيس ددنيا (په مقابل د) آخرت كي مګرلږ متاع (دآخرت د ژوند په پرتله) ﴿ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ (اووايې هغه كسان چي كافران شوي دي ولي نه ده رالېږلي شوي پردغه (محمد) باندي (هغه معجزه چي موږ يې غواړو له (طرفه) درب دده ؟) يعني ولي په محمدصلى الله عليه وسلم باندي دموسى عليه السلام په شان چي سيندورته وچاودېدو (لاري لاري شو) هسي معجزه دالله له لوري نه نازلېږي اويا لكه دعيسى عليه السلام په شان چي مړي به يې ژوندي كول اويا داسي نوري معجزې ﴿ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِىٓ إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴾ (ووايه (اى محمده ! دوى ته) بېشكه الله ګمراه كوي هغه څوك چي اراده وفرمايې (دګمراهي يې) اوهدايت كوي په طرف خپل هغه ته چي رجوع وكړي الله ته) يعني اى محمده دوى تهووايه چي حكم دالله جل جلاله په لاس كي دى زماپه وس كي څه نشته الله پاك ګمراه كوي هغه څوك چي دګمراهي اراده يې وفرمايې بياهغه ته معجزې ګټه نه رسوي اودهغه چاخپلي لاري اودين ته لاربنوونه كوي چي ورته يې اراده وشي ځكه هغه الله ته په توبه اوانابت سره رجوع كړي ده په التسهيل نومي كتاب كي وايې چي : دغه كلام دتعجب په ډول راښكاره شوى كله چي دوى معجزه

وغوښتله معناداچي محمدصلی الله علیه وسلم خوقرآنکريم اوډېري نوري معجزې راوړي دي خوتاسوځني رانده ياست اوله هغوپرته نوري غواړئ اوپه کفراوطغيان کي لاپسي ډوبېږئ بېشکه الله پاک هغه څوک چي وغواړي ګمراه يې کړي له معجزاتوسره سره هم ګمراه کوي اوچاته چي دهدايت اراده وکړي پرته له معجزاتويې هم لاربښوونه کوي ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ ﴾ (دغه رجوع کونکي) هغه کسان دي چي ايمان يې راوړی اوزړونه يې دالله په ذکرسره آرام نيسي) دغه بدل دی اومعنايې داچي الله پاک رجوع کونکوته هدايت کوي هغوی چي ايمان يې راوړی اودالله په توحيداويادسره يې زړونه سکون اوالفت مومي دمضارع صيغه يې دد لپاره غوره کړه چي داطمينان دوام اواستمرار وښيې ﴿ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴾ واورئ خبردارشئ چي دالله په ذکرسره آرام نيسی زړونه دمؤمنانو) اومطمئن کېږي (بيانوهيڅ اضطراب اوپرېشاني ورته دعذاب په هکله لاره نه مومي اوداهغوکسانوپه خلاف دي کوم چي دالله جل جلاله يادونه وشي نوددوی زړونه کرکه کوي ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ﴾ (هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) ښه حال دی دوی ته اوښه ځای دهستوګني (جنت) دی) يعني دنېکو اعمالو کونکي مؤمنان هغوی له هره حيثه دښه حال خاوندان دي دوی چي کوم سعادت اوغوره حال ويني هغه دهوسايې اونېمکرغي هستوګنځی جنت دی، ابن عباس رضی الله عنه دطوبی معناپه خوښي او سوکالي سره کړي ده ﴿ كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ ﴾ همدارنګه (لکه چي مو پخواله تاانبياء لېږلي وو) لېږلی يې موږ ته (ای محمده !) پداسي يوامت کي چي په تحقيق تېرشوي دي پخواله دې نه ډېر امتونه (نودغه ستاامت وروستنی امت اوته خاتم الانبياء يې ﴿ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ﴾ چي ولولې ته پردوی هغه (قرآن) چي موږتاته وحی کړی دی (هغه چي وحی عظيم اوذکرحکيم دی) ﴿ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ ﴾ حال داچي دوی کافران دي په رحمن (هغه چي رحمت يې هرڅه ته رسېدلی دی) ﴿ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ ووايه (ای محمده ! دې مشرکانوته) چي دغه (رحمن) رب زمادی نشته بل هيڅ لائق دعبادت مګريوازي هم دی دی (ماورباندي ايمان راوړی اوله ده پرته بل معبودنلرم) ﴿ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴾ (پرهم ده ماتوکل کړی دی اوخاص همده ته بياورتله اورجوع زمادی) هغه به زمادزياراو مجاهدې ثواب راکړي غرض له دې نه درسول الله صلی الله علیه وسلم ډاډينه اوتسليت دی چي دکفاروله انکار،سرغړوني اوتکذيب څخه دي نه خواشينی کېږي څکه ترده پخوا امتونوهم دخپلوانبياوو تکذيب کړی دی ﴿ وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ ﴾ اوکه په تحقيق يوقرآن (آسماني کتاب) داسي وای چي) روان کېدلی (په لوستلود) ده سره غرونه (اوله خپله ځايه خوځېدلای) ﴿ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ ﴾ ياڅېرېدلی ټوټې کېدلای پرې ځمکه ﴿ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ ٱلۡمَوۡتَىٰۗ ﴾ ياپه خبرو راوستلای شوای په هغه سره مړي يعني کله چي ورته خطاب شوی وای نوبه مړو ورته ځواب ويلای ووچي په تلاوت کولوبه يې راژوندي شوي وود(لو) ځواب محذوف دی چي تقديريې داسي راځي چي

هغه دغه قرآن ووځکه چې په لارښوونه اوهدايت کې ساری نلري په پند ورکولوکې بې مثله دی، په وېرولواوانذارکې يې سيال نشته(۱) اوزجاج وايې چې: تقديريې (لماآمنو) دی يعني بياهم دوی به هېڅکله ايمان نه وو راوړی ځکه چې ښځې يومخ ايزه په ګمراهي کې غوپه اوپه فساداوسرغړونه کې اوج ته رسېدلي دي ﴿بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ جَمِيعًا﴾ (بلکه الله لره دی (اختياردده) ټول امر) د(بل) کلمه داضراب لپاره ده اومعناداچې که قرآن همداټول يادشوي کارونه هم ترسره کولای همدغه قرآن به وای خوالله پاک ددوی له غوښتني سره سم ددوی وړانديز ندی منلی ځکه چې الله پاک دټولو امورو اختيارلرونکې خاوندی هغه چې څه وغواړي همغه کوي څوک ورباندي دتحکم اواقتراح تپلو واک نلري ﴿أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعًاۗ﴾ آيا لاناأميده شوي ندي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی (له ايمان راوړلوددغو کسانوپداسي حال کي چې دغه مؤمنان پوهېږي) که الله دهدايت اراده فرمايلي وای نوخامخابه يې ټولوخلکوته هدايت فرمايلی وای (ځکه چې الله واکمن دی اوداالله حکمت داغوښتي چې دتکليف بنسټ دي په اختيار ولاړوي(۲)) ﴿وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ﴾ اوهمېشه هغه کسان چې کافران شو ي دي رسېږي دوی ته په سبب دهغوعملونو چې دوی کړي دی ټکونکی عذاب (هسي بلاګاني او مصيبتونه چې ددوی غوږونه ټکوي اوزړونه يې لالهانده کوي ﴿أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ﴾ ياچې ښکته شي نژدې کورونوددوی ته (چې دوی ځني وډارېږي اوسپرغي بڅرکي يې دوی ته هم ور والوزي ﴿حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ﴾ ترهغه پوري چې راشي وعده دالله (په نصرت داسلام اوستاپه برياليتوب پردوی باندي (ای محمده) دمکې په فتح کولوسره) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ﴾ بېشکه چې الله هيڅېري له خپلي وعدې څخه خلاف نه کوي) کومه چې له انبياوو، اولياووسره يې په دښمنانوباندي دبري ورکولوفرمايلي دي ﴿وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ﴾ (اوخامخامسخرې کړی شوي دي له نورو پيمغبرانو (انبياوو) سره (چې وو) پخواله تانه) پدې کې دنبي عليه السلام لپاره داډينه اوتسلاده ﴿فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ﴾ نومهلت مي ورکړی ووهغوکسانوته چې کافران شوي وو(څه موده په امن اوسوکالي کي اوسېدل) بيامي ونيول دوی (په عذاب) سره) ﴿فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ﴾ نوڅرنګه به ووعقوبت ؟(زما يعني ډېرسخت وو) معنی دا چې زماعذاب چې دوی ته مي په کفراوتکذيب ورکړڅرنګه وو؟ ﴿أَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۗ﴾ آيانوهغه ذات چې وي دی ولاړ (څارونکی، ساتونکی) پرهر نفس (صالح او طالح)سره له هغه عمله چې کړی يې وي ؟) يعني هغه ذات

(۱) دغه دزمخشري غوره دی اوزجاج وايې چې تقديريې (لماآمنوا) دی

(۲) ځيني مفسرينوويلي چې ددې کلمې چې ﴿أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾ معناداېللي چې آيادوی ته نه ده معلومه اوڅرګنده ؟ چې دغه دهوازن لغت اوله ځينو سلفوڅخه رانقل شوی دی خودکلمې له خپلي معناڅخه ترهغوپوري دګرزولوڅه اړتيانشته ترڅوچې په متبادرباندي يې ددلالت کولوڅه امکان وي لکه چې موږ وليکل

چي دبندګانو اوددوى داعمالوڅارونکى ساتونکى دى اوهرڅه دبندګانوله کړو وړو څخه ورته څرګندوي چي الله تعالى دى ؟ددې خبرپوښتني ځواب حذف کړى شوى اوهغه داچي آيادالکه هغه څوک غوندي دى چي داسي صفات نلري بلکه بت وي نه اوري ، نه ويني نه ګټه رسوي اونه هم تاوان دفع کوي هيڅ واک اواختيارنلري ،فرآء وايې چي خبرددې لپاره حذف شوى چي معنايې معلومه ده اوهغه په دې وينابيان شوي چي: ﴿ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ﴾ (اوګرځولى دي (کفارو) الله ته شريکان) لکه چي ويل شوي دي آياالله لکه ددوى شريکان غوندي دى ؟(١)زمخشري وايې چي: دغه پردوى يوډول احتجاج کول دي چي له الله سره يې شريکان نيولي دي يعني آياهغه الله چي په هرنفس باندي که صالح وي اوکه طالح څارونکى وي دهغه ټول اعمال څاري اودهغه لپاره يې جزاټاکلي وي داسي دى لکه هغه څوک چي داسي نه وي ؟ بلکه داسي نه دى (٢)﴿ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلْ سَمُّوهُمْ ﴾ اومشرکانو ګرزولي خدايان له الله سره شريکان چي عبادت يې کوي هسي بتان چي نهايت عاجزسپک اوناپوهان دي) دوى ته ووايه (اى محمده!) چي واخلئ نومونه ددوى (چي وګوروآياپه رښتيادوى دعبادت وړ اوله الله سره دشريک کېدلومستحق دي ؟﴿ أَمْ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ بلکه آيااخبار کوي تاسي ته الله په هغه باطل شريکانوباندي چي الله ته نه دي معلوم په ځمکه کي ؟دغه استفهام دتوبيخ لپاره دى (يعني له سره نشته که واى نوبه الله ته معلوم وو) ﴿ أَم بِظَـٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ﴾ بلکه (مسمى کوي دوى شريکان) په ظاهره ويناسره (چي حقيقت نلري يوازي فاسدګمان دى چي له ډېري ناپوهي اوخوساعقل څخه زېږېدلى دى ﴿ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ مَكْرُهُمْ ﴾ (داسي نه دى) بلکه ښايسته کړى شوى دى هغوکسانوته چي کافران شوي دي مکردروغ ددوى يعني شيطان دوى لره کفراوګمراهي ښايسته کړي ده ﴿ وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ﴾ اوبند(اړول) شوي دي دوى له سمي لاري نه ﴿ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴾ اوهرڅوک چي الله يې ګمراه کړي نونشته ده لره هيڅ لارښوونکى (چي ورته لاره وښيې ﴿ لَّهُمْ عَذَابٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ دوى ته عذاب دى په ژوندانه لږ خسيس ددنياکي (په وژلو، بندي کېدلو، قحط اونوروربړونو سره) ﴿ وَلَعَذَابُ ٱلْـَٔاخِرَةِ أَشَقُّ ﴾ اوخامخاعذاب دآخرت ډېرسخت دى (لِه عذابه ددنيا) په دروندوالي اوملامتياکي ﴿ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴾ اونه به وي دوى ته له عذابه دالله څخه هيڅ ساتونکى چي دوى وژغوري اويادالله کسات اوغضب څني دفع کړي.

بلاغت:

﴿ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا ﴾ پدې آيت کي الله تعالى حق اوباطل په خورا خوندوره تشبيه سره څرګند کړى چي ورته تمثيلي تشبيه وايې ځکه چي دشباهت وجه له متعددڅخه اخيستل

(١) زادالمسير ٤ / ٣٣٣

(٢) الکشاف .

شوي نودحق مثال لکه درنواوبوهغه چي په ځمکه کي پاتي او يا هغه صفامعدني جوهرچي خلگ ورڅخه گڼه اخلي تلپاتي وي اودباطل مثال لکه ځګ اوهغه دخړو اوبوپه سرخپري وي څرګندوي همداسي لکه داوسپني اويانورو معادنو دويلي کولوپه وخت کي کوټ راوتل چي سمدستي پوپنااوبې ګټي ليري وغورځول شي دغه انځور دحق اوباطل په هکله هم دی اوداسي سره په ټکرکي وي چي داځګ ځپې په يوه بله خواغورځوي همداسي حق اوباطل تل سره يوله بله ډغري وهي ﴿فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءً وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ دغه خورانبايسته اغلي او خوندور تمثيل دی.

٢ - ﴿فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا﴾ دغه عقلي مجازاوديوڅېزنسبت کول ځای اومکان ته وايي اوپه اصل کي خودخوړونو اوبه بهېږي خودلته يې نسبت پخپله خوړونوته شوی دی.

٣ - ﴿كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَ﴾ دلته ايجازبالحذف دی يعني دحق اوباطل مثالونه بيانوي

٤ - ﴿كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓ﴾ دلته يې ناپوهي اوکفرله ړندوالي سره دتبعيې استعارې په شکل تشبيه کړې ځکه مراد له ړانده څخه جاهل اوکافردی.

٥ - ﴿لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ﴾ دلته دسلب طباق دی.

٦ - ﴿سِرًّا وَعَلَانِيَةً﴾ دلته دطباق صنعت راغلی اوهمداسي د﴿يَبۡسُطُ وَيَقۡدِرُ﴾ او﴿بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ﴾ او﴿يُضِلُّ وَيَهۡدِيٓ﴾ ترمينځ تضاد راغلی دی.

٧ - ﴿إِلَّا مَتَٰعٞ﴾ يعني (الامثل المتاع) هغه څه چي انسان پخپلو مؤقتي اړتياوو کي ځني ګټه پورته کوي نوپدې کي بليغه تشبيه ده ځکه چي دتشبيه ادات اودشبه وجه حذف شوي ده.

فائده: الله تعالی پدې قول کي چي فرمايي: ﴿وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ﴾ داسي ښيي چي نسب ګټه نه رسوي کله چي ورسره نېک عمل ملګری نه وي اوپدې کي دهغوکسانودتمي اوهيلې پرېکول دي چي دوی په انسابواوخپلوي وياړي.

تنبيه:

امام طيبي دالله جل جلاله ددې قول په هکله چې فرمايي ﴿أَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفۡسِۭ﴾ داسي فرمايي چي پدې کي خوراسخت احتجاج دی چي دبيان دعلم په تله څوښکلاوي پکې دي لومړی توبيخ ځکه دوی دغيرالله په عبادت کولوکي له خوسا قياس څخه کاراخيستی دی دوهم داچي ظاهردضميرپرځای راغلی چي فرمايي: ﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ﴾ چي ددوی په ګمراهي دلالت کوي چي دواحدفرد اوصمدذات لپاره يې شريکان نيولي دريم داچي په برهاني توګه دشريکانو له وجودڅخه انکارښکاره شوی چي فرمايي: ﴿قُلۡ سَمُّوهُمۡۚ﴾ څلورم نفی ديوشي په نفی دلازم دهغه څېزچي فرمايي: ﴿أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعۡلَمُ﴾ پنځم دتدرج او ورو وروپه توګه پردوی احتجاج کول چي دوی سوچ کولوته

وهخوي چي فرمايي: ﴿ أَم بِظَـٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ﴾ يعني آيا تاسو يوازي په ظاهري وينا داسي وايا ست پرته له دې چي ددې وينا باطل ګڼلو په هکله سوچ وکړئ نو دغه احتجاج پخپله داعجاز ناري وهي چي دغه د بشر کلام نه دی (۱)

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ۖ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ ۖ وَّعُقْبَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ﴿٣٥﴾ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ۖ وَمِنَ ٱلْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُۥ ۚ قُلْ إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشْرِكَ بِهِۦٓ ۚ إِلَيْهِ أَدْعُوا۟ وَإِلَيْهِ مَـَٔابِ ﴿٣٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَـٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَمَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَٰجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِىَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾ يَمْحُوا۟ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَـٰبِ ﴿٣٩﴾ وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَـٰغُ وَعَلَيْنَا ٱلْحِسَابُ ﴿٤٠﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا نَأْتِى ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَٱللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٤١﴾ وَقَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ ٱلْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلْكُفَّـٰرُ لِمَنْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَـٰبِ ﴿٤٣﴾ الرعد: ۳۵ - ۴۳

مناسبت او تړاو:

کله چي الله جل جلاله هغه څه یاد کړل چي کافرانو ته به په آخرت کي ورکول کېږي وروسته يي دهغه څه یادونه وکړه چي په جنت کي به يې مؤمنان مومي بيايې مشرکانو ته د دردناک عذاب اخطار ورکړ او ددغه مبارک سورت په پای کي يې درسول الله صلی الله علیه وآله وسلم درسالت دربنتنولي په باب دالله جل جلاله شهادت او همداسي دکتابيانو مؤمنانو ګواهي بيان کړه.

لغتونه:

(الاحزاب) متفرقي طآئفې اوډلي چي له يهودانو او نصرانيانو څخه تشکيل شوي وي څکه ورته احزاب وويل شول چي دوی ډلي تپلي اوديوې عقيدې خاوندان نه دي (مآب) ځمادرجوع ځای (يمحو) محو ورکېدلو ته وايې هغه چي ليکلی توری وي يانورڅه اودغه داثبات عکس (اپوټه) دی (أم الكتاب) دکتاب بنسټ مراد ورڅخه دالله علم اولوح محفوظ دی (البلاغ) اسم اودتبليغ په معنادی (مکر) په پټه کي ديوامر تدبير کولو ته وايي اوداکله په خيراوکله په شرکي استعمالېږي.

دنزول سبب:

---

(۱) صاوي دجلالين په حاشيه باندي.

کلبي رحمه الله وايي چي يهودانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم (عیب) بیانول چي دغه سړي پر ته له مېرمنو او نکاح کولو بل کار نلري که چېري لکه چي ګمان کوي پیغمبر وای نو به نبوت له مېرمنو څخه را اړولی او د پیغمبري په کار به مشغول وای الله جل جلاله دا آیتونه نازل کړل چي: ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ﴾ (١)

تفسير:

﴿ مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ دهغه جنت مثال چي له پرهېزګارانو سره یې وعده کړی شوي ده دادی (چي) بهېږي له لاندي د ونو او ماڼیو) دهغو ويالې ﴿ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا ﴾ مېوې دهغې به همېشه وي او سیوری دهغه (به هم تل او بې انتهاء) وي (لمر به ورباندي تېری نه کوي ﴿ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا ﴾ دغه (جنت عاقبت (او ځای) دهغو کسانو دی چي تقوی کوي ﴿ وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ ﴾ او عاقبت (ځای) د کافرانو اور د دوزخ دی ﴿ وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ او هغه کسان چي موږ دوی ته کتاب ورکړی دی (تورات او انجیل.هغوی چي پر تا یې ایمان هم راوړی لکه عبدالله ابن سلام ، نجاشي او دهغه ملګري) خوښحالېږي په هغه (قرآن) چي تا ته نازل شوی دی (ځکه چي د دوی په کتابونو کي د پیغمبر په ربښتنولي شواهد او زېری موجود دی ﴿ وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُ ﴾ (او ځیني له فرقو(د اهل کتاب) نه هغه دی چي ځیني احکام ددې (قرآن) نه مني) یعني د دغو ملتونو ځیني ټولی. د دغه قرآن ځیني احکام سره له دې چي په ربښتنولي یې باورلري ځکه د دوی له کتابونو سره موافق دي خود تکبر او عناد له مخي یې نه مني ﴿ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ ﴾ و وایه (اې محمده ! دوی ته) بېشکه ما ته امرشوی دی په دې چي زه دالله عبادت وکړم او شریک ونه نیسم له دغه الله سره هیڅوک ﴿ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ ﴾ خاص دهغه لوري ته بلنه کوم او هغه ته ورتله زما دي ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ﴾ او لکه چي (پخوا مونورو انبیاوو ته د دوی د قومونو په ژبه کتابونه لېږلي وو)نازل کړي (لېږلی) مو دی دغه قرآن حکم کونکی په عربي ژبه) یعني تر څو ته دهغه په وسیله د خلګو ترمینځ حکم صادر کړې ﴿ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَمَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ﴾ او که چېري متابعت وکړې ته (اې محمده !) د خواهشاتو د دغو(مشرکانو) وروسته له هغه چي راغلی دی تا ته علم (په براهینو او حجتونو) ﴿ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا وَاقٍ ﴾ (نو نه به وي تا ته له جانبه د الله څخه هیڅ ولي (یار او مددګار) او نه ساتونکی (له الهي عذابه) یعني نه به وي تا ته مرستندوی او ژغورونکی د الله له عذابه، دلته مقصد د اُمت وېرونه ده چي د خلګو د خواهشاتو متابعت دي نه کوي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم معصوم دی او کله چي معصوم ذات ته د غسي خطاب کول کېږي غرض ځني نور خلګ وي .

(١) اسباب النزول ص: ١٥٨

ترطبي وايي چي: خطاب پيغمبرته او مرادئني أمت دی (١) ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ ﴾ اوخامخاپه تحقيق لېږلي وو موږ دېررسولان پخواله تانه ﴿ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَٰجًا وَذُرِّيَّةً ﴾ او ورکړي وو موږ دوی ته ښځي او اولادونه ؛ دغه په هغه چاباندي رد دی چي درسول الله صلی الله عليه وسلم په دېرو مېرمنو درلودلويې عيب لګاوو اوويل به يې که چېري پيغمبراونبي وای نوتارک ددنيا اوزاهدبه وای نوالله ددوی ترديدوفرمايل اودايې وښودله چي محمد صلی الله عليه وسلم يوازي هسي نوی نه دی بلکه پخواهم چي زموږ پيغمبران وو ښځي اولادونه يې درلودل ﴿ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ اونه ښائېږي لپاره دهيڅ پيغمبر چي راوړي داسي يوه معجزه (چي خلګ يې غواړي) مګر په اذن دالله سره ؛ پدې کي دهغوکسانو ترديد دی چي دمعجزاتو راوړلو وړانديز يې کاوو ﴿ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴾ دپاره دهروخت يوحکم دی يعني هري ټاکلي مودې لره دالله حکم په لوح محفوظ کي کښل شوی اوهرڅه دالله په وړاندي اندازه شوي طبري وايې: معناداچي دهرحکم لپاره چي الله يې فيصله فرمايلي وي ليکلی مکتوب دده په نزدشته (٢) ﴿ يَمْحُوا۟ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ﴾ (محوه کوي الله هغه چي اراده يې (دامحاء) وفرمايې اوثابتوي (هرهغه چي داثبات اراده يې وفرمايې) يعني الله پاک هغه شرعي احکام چي دمنسوخ کېدلو اراده يې وفرمايې نسخ کوي همداسي هغه دکرام الکاتبين ملائکو صحيفې چي دورکېدلو اراده يې وفرمايې محوه کوي اوچي داثبات اراده يې وشي پرته له کوم تغيرڅخه يې ثابت پاتي کوي. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: الله دهرشي دمحوکولو اراده وفرمايې هغه محوه کوي پرته له ژوند اومرګ اوسعادت اوشقاوت څخه ځکه هغه فيصله شوي اموردي (٣) چاپياويلي چي مرادله محوي اواثبات څخه عمومي شيان دي لکه چي روايت کېږي عمربن الخطاب په بيت الله باندي طواف کاوو اوژړل يې داسي يې ويل: الهي که دي په ماباندي شقاوت اوګناه ليکلی وي هغه محوه کړې ځکه ته محوه کوې هغه چي ته يې وغواړې اوستاپه نزد أم الکتاب دی او زمالپاره نېکمرغي اومغفرت وليکې (٤) ابوالسعود هم دغه خبري ته ترجيح ورکړي اودابن مسعودرضی الله عنه هم دغه رايه ده.

﴿ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ اوپه نزد دالله اصل د هرکتاب دی (لوح محفوظ) هغه چي الله پاک په هغه کي دهرڅه اندازه ټوله ليکلي ده. ﴿ وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ ﴾ اوکه موږ خامخاتاته وښيوځيني له هغه عذابه چي وعده يې کوو موږ له دغوکفارو سره (چي ستاسترګي ورباندي يخي شي) ﴿ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ ﴾ ياکه موږ وفات کړو تاپخواله دې تعذيبه دکفارو ﴿ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ وَعَلَيْنَا ٱلْحِسَابُ ﴾ نوبېشکه هم داخبره ده چي پرتادپيغامونو رسونه ده اوپرموږ حساب (اودوی ته جزا ورکول دي) ﴿ أَوَلَمْ

---

(١) القرطبي ٩ / ٣٢٧

(٢) الطبري ١٣ / ١٦٥

(٣) اودغه دمجاهد قول دی چي هغه پرته له ژوند مرګ اوسعادت شقاوت څخه ځکه په هغوی کي بدلون نه راځي.

(٤) الطبري ١٣ / ١٦٧

يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ﴾ (آيا نه ګوري (كفارمشركين) چي په تحقيق مونږ راځوځمكي ته (ددوی) چي كموو يې له څنډو (غاړو) ددې (چي مسلمانانو ته) يې ورفتح كوو) يعني آيا دغه مشركان نه ګوري چي مونږ پيغمبرانو مؤمنانو ته داځواک وركوو چي د كفرځمكي يو په بل پسي لاندي كړي ترڅو چي ددوی ځمكي كمي اود مسلمانانو زياتي شي او دغه ترټولو قوي دليل دی چي الله پاک له پيغمبرسره چي كومه ژمنه كړي هغه ترسره كوي (١) ﴿ وَٱللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِۦ ﴾ (او الله حكم كوي (په هرڅه چي اراده وفرمايي) نشته هيڅوک ردكونكی لپاره دحكم دالله) يعني هيڅوک دالله جل جلاله حكم ته ماتوالی اوبدلون نشي وركولی ﴿ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴾ او الله ډېر ژر ذی حساب (دده) يعني الله له هغه چانه چي ورڅخه سرغړونه او عصيان كوي ژرانتقام اخيستونكی دی. ﴿ وَقَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ او په تحقيق مكركړی وو (له خپلو انبياووسره هغو(كفارو) چي پخوا تېرشوي وو له دغو (كفارو) څخه لكه چي دقريشو كافرانو له تاسره مكركړی وو ﴿ فَلِلَّهِ ٱلْمَكْرُ جَمِيعًا ﴾ او خاص الله لره دي (اسباب) دمكرټول (چي چاته پرته دالله له ارادې تاوان نه رسوي او الله دوی ته له داسي لوري چي ورباندي نه پوهېږي عذاب راوړي ﴿ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ﴾ معلوم دی الله ته هرهغه (ښه اوبد) كارچي كوي يې هرڅوک (نو به جزا وركړي) ﴿ وَسَيَعْلَمُ ٱلْكُفَّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴾ اوژربه پوه شي (په قيامت اوآخرت) چي چاته به وو(ښه) عاقبت دآخرت دكور ﴿ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسْتَ مُرْسَلًا ﴾ اووايې هغه كسان چي كافران (دمكې) دي(تاته ای محمده !) چې نه يې ته لېږلی شوی (دالله له لوري) ﴿ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ﴾ (ووايه (ای محمده! دوی ته) چي كافي دی الله شاهد په مينځ زما او ستاسي كي) يعني زما دالله جل جلاله شاهدي چي زما د رښتنولي په هكله يې ماته معجزې راكړې بس او كافي دی ﴿ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ او هغه څوک چي په نزدده علم دكتاب دی (هغه داهل كتابو مؤمنانو علماء).

بلاغت:

پدې آيتونو كي چي دبديع او بيان كومي ښكلاوي شته څه يې دادي:

١- تشبيه دالله تعالی پدې قول كي چي فرمايي: ﴿ كَذَٰلِكَ أَرْسَلْنَٰكَ ﴾ ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ ﴾ او دې ته مرسله مجمله تشبيه وايې.

---

(١) سيدقطب رحمه الله وايي چي: دالله پاک سترقدرت كله چي كوم كفري دولتونه په ځمكه كي دتكبر، عصيان اوفساد خپرولو ته ملاوتړي نو الله يې توان ورماتوي قدرت اوعزت يې پوپناكوي بدايې اوشتمني ځني اخلي او هيوادېې وروسته له هغه چي خورابډای اوپراخ وو وركوتی كوي زه وايم دغه نوی تفسير اوپكي دنورځلا او د جمال او ښايست ښكلاده.

۲ - کله چي الله تعالی فرمايي ﴿ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ﴾ دلته ايجاز بالحذف دی چي دلته له (ظلها) څخه (دائم) چي خبردی حذف شوی او پخوانی (دائم) يې دليل دی.

۳ - مقابله لکه چي الله فرمايي: ﴿ تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّعُقْبَى ٱلْكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ﴾ او داهم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي.

۴ - دالله جل جلاله پدې قول کي چي فرمايي ﴿ أَرْسَلْنَا رُسُلًا ﴾ دلته اشتقاقي جناس شتون لري.

۵ - د طباق صنعت لکه چي الله فرمايي: ﴿ يَمْحُواْ وَيُثْبِتُ ﴾ .

۶ - دالله تعالی پدې قول کي چي فرمايي: ﴿ إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ ﴾ او په ﴿ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ﴾ دواړه ځايه قصر اضافي اوله هغه ډوله څخه ګڼل کيږي چي دموصوف قصرپه صفت پسي راغلی وي يعني ستاڵپاره بل څه وصف پرته له تبليغ نه نشته.

۷ - پارونه او هڅونه لکه چي فرمايي: ﴿ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم ﴾ .

۸ - مرسل مجاز لکه چي وايي: ﴿ نَأْتِى ٱلْأَرْضَ ﴾ چي معنايې دی زموږ حکم ځمکي ته راځي يا زموږ عذاب ورته رادرومي.

لطيفه:

ځينو مفسرينو دالله جل جلاله داقول چي فرمايي: ﴿ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ﴾ پدې تفسير کړی چي دځمکي نقصان دعلماوو اوپوهانو په مړينه دی همداراز دنېکانو کسانو مړينه دځمکي نقصان دی دغه دمجاهد قول او دابن عباس يوه وينا هم ده.

دالله جل جلاله په مرسته دالرعد سورت تفسير بشپړشو.

***

(۱۴) د (ابراهیم) سورت مکي او دوه پنځوس آیتونه لري.

دغه مبارک سورت د عقیدې بنسټیز موضوعات را اخلي چې ایمان په الله تعالی، ایمان په پیغمبري، ایمان په قیامت او جزاء دی او نړدې د سورت محور دي هم (رسالت او رسول) وبلل شي په سورت کي د پیغمبرانو بلنه او دعوت په تفصیل سره راغلی دی او دهغوی دنده یې څرګنده کړې د آسماني رسالتونو توحیدې په ډاګه کړی چې انبیاء علیهم الصلوات ټول ددې لپاره راغلي چې دغه دایمان مانی ودانه کړي او خلګ په واحد او لاشریک ذات هغه چې برحق او ټول مخلوق ورته محتاج دی وپوهوي، بشریت له توري تیارې څخه د رڼالوري ته راوباسي ددوی بلنه یوه او موخه (هدف) یې یو دی که څه هم په ځیني فروعاتو کي اختلاف لري.

* په سورت کي د موسی علیه السلام د رسالت کیسه راغلي چې هغه خپل ټبر ته بلنه ورکوله څو د الله عبادت وکړي او شکریې پرځای کړي او دهغو کسانو لپاره چې د پیغمبرانو تکذیب یې کاوو مثالونه بیان شوي دي هغوی چې د پخوانیو اُمتونو وو لکه د نوح علیه السلام قوم، عادیان او ثمودیان، او بیا آیتونه د پیغمبرانو کړاوونه چې له خپلو قومونو سره چې په پخوانیو وختونو او زمانو کي یې ستونزې لرلې راوړي او دهغوی د قومونو چال چلند له خپلو پیغمبرانو سره بیانوي او بیا هغوی ته پېښ هلاکتونه او عذابونه را اخلي فرمایي: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِهِمْۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴾.

* بیا سورت د آخرت له مشاهدو څخه یو مشهد راوړي کله چې بد مرغه مجرمان له خپلو بېوزله پلویانو سره یو ځای کېږي او ترمینځ یې اوږدې خبري اتري کېږي چې په وروستي پړاو کي ټول د دوزخ په اورکي غورځول کېږي او د بېوزلو پیروانو ښکنځل او بدي ردي ګڼه نلري کله چې یې مشرانو ته کوي څکه ټول په اورکي غوپه وي، بیا آیتونه د ایمان او ګمراهي لپاره مثالونه په سپېڅلي ونه او پلیته ونه باندي راوړي او د ظالمانو د قیامت د ورځي هستوګنځی بیانوي.

* دغه سورت ته څکه د ابراهیم سورت وویل شوچې د انبیاوو د پلار ابراهیم علیه السلام هغه چې د حنفاوو امام او مقتداء یوازنی تن وو چې د بتانو سته یې وایستله او د توحید بیرغ یې رپاند کړ هغه چې د اسلام سپېڅلی دین یې راوړ کوم چې خاتم المرسلین هم ورباندي راغلی دی قرآنکریم دده هغه دعاګاني هم را اخلي کومي چې د کعبې له ودانولو وروسته یې کړي او ټولې د ایمان او توحید دعاګاني دي

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الٓر كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْعَزِيزِ
ٱلْحَمِيدِ ﴿١﴾ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٢﴾
ٱلَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْءَاخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍۭ
بَعِيدٍ ﴿٣﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن
يَشَآءُ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٤﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ
ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرْهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٥﴾ وَإِذْ قَالَ
مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَىٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ
وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٦﴾ وَإِذْ تَأَذَّنَ
رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِى لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾ وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكْفُرُوٓا۟ أَنتُمْ وَمَن فِى
ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا۟ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ ۛ
وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓا۟ أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ وَقَالُوٓا۟ إِنَّا
كَفَرْنَا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٩﴾ ۞ قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِى ٱللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ قَالُوٓا۟ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا
بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن
نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ
ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ
مَآ ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَآ أَوْ
لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۖ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ
خَافَ مَقَامِى وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ وَٱسْتَفْتَحُوا۟ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿١٥﴾ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ
صَدِيدٍ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأْتِيهِ ٱلْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِن
وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴿١٧﴾ ﴾ ابراهيم: ١ - ١٧

لغتونه:

(ویل) هلاکت ته وایې (یستحبون) غوره کوي خوښوي (یسومونکم) درڅکي ویل کېږي (سامه الذل) یعني سپکتیایې وروڅکله (تاذن) اعلان یې وکړ چي پکي هیڅ شک پاتي نشو(نبأ) خبري ته وایې جمع یې(أنباء) راځي (سلطان) حجت اوبرهان ته وایه شي (فاطر) نوی پیداکونکی مخترع (استفتحوا) پخپلو دښمنانوباندي یې طلب دبري وکړ (جبار) متکبرهغه څوک چي دهیچاواک په ځان نه مني (عنید) معاند سرغړونکی بولي هغه چي له سمي لاري کوږ دږومي عربان دغسي اوښ ته (الابل العنود) وایي (صدید) خوناب (نوونه)هغه چي ددوزخیانوڅخه بهېږي (یتجرعه) چي په تکلیف اوناخوښي یې تېروي (یسیغه) ترکومي تېرولوته وایې.

تفسیر:

﴿الٓر﴾ مقطعات حروف دي اودې ته اشاره کوي چي قرآنکریم معجز کتاب دی اوسره له دې چي له همدغو تورو جوړشوی دی څوڅوک یې په مثل یوسورت هم جوړولای نشي ﴿كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ﴾ دا(قرآن) یو کتاب دی چي لېږلی دی موږتاته (ای محمده !) تاله ځانه نه دی جوړکړی بلکه زموږ وحی ده) ﴿لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ﴾ دپاره ددې چي راوباسې خلک له تیارو (دجهل کفراوګمراهي نه) رڼا(دایمان اوعلم) ته ﴿بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ﴾ په اذن درب ددوی طرف دلاري دالله ته هغه الله چي ښه غالب ښه ثناویلی شوی دی (یعني هغه پروردګارچي په هره ژبه یې ثناویلي شوي اوترټولو زورور دی ﴿ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ هغه الله چي خاص ده ته دي هغه څه چي په آسمانونوکي دي اوهرهغه څه چي په ځمکي کي دي (یعني مالک دعلویاتو اوسفلیاتو مسیطر دټولو کائناتو دی) ﴿وَوَيۡلٌ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ﴾ (اوعذاب اوهلاکت لپاره دکفارو له عذابه سخته) (ویل) داسي کلمه ده چي دعذاب او هلاکت لپاره استعمالېږي (۱) بیاوروسته دکافرانو صفات هسي راوړي چي: ﴿ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ﴾ هغه کسان چي خوښوي (غوره کوي) ژوندون (فاني) ددنیاپه (باقي) دآخرت باندي ﴿وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ او اړوي (بندوي) خلک له لاري دالله (اسلام) نه ﴿وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًا﴾ اولټوي دوی دغي لاري ته کوږوالی (چي ددوی له خواهشاتوسره سمه شي) ﴿أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ﴾ دغه کسان په ګمراهي لېري کي دي) یعني په دغوصفتونو سره موصوف کسان له ځرګند حق څخه په ګمراهي کي دي چي هیڅ دسمون اوبري څرک یې نه برېښي ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ﴾ اوندی لېږلی موږ هیڅ پیغمبرمګرخوپه ژبه دقوم دده ﴿لِيُبَيِّنَ لَهُمۡ﴾ دپاره ددې چي دوی ته بیان کړي، شریعت دالله اودوی

(۱) القرطبي ۹ /۳۹۹

وپوهوي دالله په مراد ترڅو درسالت موخه ترسره شي ﴿ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ ﴾ (نوګمراه کوي الله هرهغه چي (دګمراهي) اراده يې وفرمايې اوهدايت کوي الله هرهغه ته چي (دهدايت اراده يې وفرمايې) يعني دپيغمبرانو دنده يوازي دامراونهی تبليغ کول دي اودهدايت اوايمان واک دالله جل جلاله په لاس کي دی ځوک چي فيصله يې شوي وي ګمراه اوچاته لاره ښيې ﴿ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ اوهم دی ښه قوي غالب دی (پخپله پاچهي کي) ښه حکمت والادی (پخپلو کړو وړو کي) ﴿ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ او خامخا په تحقيق لېږلی وو موږ موسی په ښکاره او څرګندو معجزاتو زموږ (په رښتنولي دده) ﴿ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ﴾ چي را وباسه قوم خپل له تيارو (دجهل اوکفر) رڼا (دايمان اوتوحيد) ته ! ابوحيان وايي چي : پدې کلمه کي چي : فـــــرمايې: ﴿ قَوۡمَكَ ﴾ دحضرت موسی عليه السلام ځانګړتيايوازي دخپل ټبرلپاره وه هسي نه لکه دمحمدصلی الله عليه وسلم چي ټول بشريت ته مبعوث دی اوالله ورته فرمايې ﴿ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ ﴾ چي درسالت په عموم دلالت کوي (۱) ﴿ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ ﴾ او وريادکړه دوی ته نعمتونه دالله ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ﴾ ببشکه په دغه يادونه کي پندونه اودلالتونه دي هرډېرصبرکونکي ډېرشکر کونکي ته ﴿ وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ ﴾ اويادکړه) هغه وخت چي موسی خپل قوم ته وويل : يادکړئ دالله نعمت پرتاسي ﴿ إِذۡ أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ ﴾ کله چي خلاص يې کړی (نيکونه د)تاسي له تابعانو دفرعون څخه (چي په ذلت اواستعباد کي يې ښکېل کړي وی ﴿ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ ﴾ چي رساووبه يې تاسي ته سخت بدعذاب ﴿ وَيُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ ﴾ اوذبح کول به يې واړه زامن ستاسي اوژوندي به يې پرېښودې (لپاره دخدمت)لوڼي ښځي ستاسي (چي ورباندي چوپړ ووهي) ﴿ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ﴾ اوپدې (محنت اوابتلاء) کي ازموينبت وو له جانبه دډېرلوی رب ستاسي. مفسرين وايي چي: دنارينه وو دوژلو سبب داووچي کاهنانو فرعون ته ويلي ووچي په بني اسرائيلوکي يوماشوم زېږېدونکی دی چي ستادپاچهي زوال به دهغه په لاسونو کېدونکی وي نوبيې دهرزېږېدوکي ماشوم په وژلو لاس پوري کړ اوامريې وفرمايه ﴿ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكُمۡ لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡۖ ﴾ (اويادکړه هغه وخت چي خبر درکړ تاسي ته رب ستاسي پدې چي که چېري شکر وويست تاسي (په تېرونعمتونو زما) نوخامخابه زيات کړم تاسي ته نعمت) دغه دموسی عليه السلام دوينابشپړونکی دی يعني همداسي يادکړئ کله چي الله تاسي ته داسي ببشکه خبره درکړه چي هيڅ شبه پکي نه وه که مودتېرونعمتونو شکرپرځای کړ

نوخامخابه نعمت درزيات کړم ﴿ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴾ (اوکه موناشکري وکړه تاسي نوبېشکه عذاب زماډېرسخت دی) يعني که موپه کفراوعصيان ددغو نعمتونو بې قدري وکړه بېشکه زماعذاب ډېرسخت دی دوی ته يې په کفرد عذاب وعيد ورکړی همدغسي يې په شکرباندي دزياتوالي

وعده کړې ده ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ إِن تَكْفُرُوا أَنتُمْ وَمَن فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ اوووېل: موسی که کافران شئ تاسي اوهرهغه څوک چي په ځمکه کي دي(له انسانانواوپېريانانو) ټول) يعني موسی عليه السلام بني اسرائيلوته کله چي له ايمان راوړلوېې ناهيلی شوداسي ووېل چي: ستاسوايمان نه راوړل به الله ته هيڅ

تاوان ونه رسوي ﴿ فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴾ نوبېشکه الله خامخا غني (بې پروا) دی (دبندګانوله شکرنه) مستحق دحمد(اوثنا) دی که څه هم څوک کفران کوي ﴿ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ

وَعَادٍ وَثَمُودَ ﴾ آيانه دی راغلی تاسوته خبر دهغو کسانو چي (تېرشوي دي) پخواله تاسي نه چي قوم دنوح اوعاد (چي دهود قوم) وو او ثمود(چي د صالح عليه السلام قوم ووچي پردوی څه راغلل کله چي

يې دخپلو انبياوو تکذيب وکړ؟ ﴿ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ ﴾ اوهغه کسان چي پس له دوی نه وو ﴿ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ ﴾ چي نه دي خبرپردوی هيڅوک پرته له يوالله ﴿ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ﴾ چي

راوړي وو دوی ته ددوی پيغمبرانو ښکاره دلائل اوځرګندحجتونه ﴿ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ ﴾ نوردکړل (ونيول) دغو (کفارو) لاسونه خپل په خولو خپلو يعني دپيغمبرانوتکذيب يې وکړ . ابن مسعودرضی الله عنه ددې جملې معناداسي کوي چي دوی خپلې ګوتي له قهراوغصې نه چيچلې

(١)﴿ وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ ﴾ اوووېل: دوی چي بېشکه موږ کافران يوپه هغه چي تاسي په هغه سره لېږلی شوي ياست (يعني په هغه څه چي تاسوګمان کوئ دالله له لوري درباندي رااستول شوي

ياست موږ ايمان نلرو . ﴿ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴾ اوبېشکه موږ خامخاپه شک شبه (لويه) کي يوله هغه (دين) څخه چي موږ تاسي هغه ته بولئ (پداسي شک کي) چي واقع کونکی (زموږ دی په

اضطراب کي)﴿ قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللَّهِ شَكٌّ ﴾ (وويل رسولانوددوی آياپه (وجودد) الله کي شبه شته ؟) يعني انبياوو دوی ته هسي ووېل چي: آيادالله په وحدانيت اوشتون کي شک شته ؟ استفهام لپاره دانکاراوتوبيخ دی يعني دغه خبره خودشک شبهې کوم احتمال هم نلري ځکه دلائل موجوددي

نوانبياوو عليهم السلام ددوی پاملرنه دالله په وجود باندي دلائلوته راواړوله چي فرمايې : ﴿ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ (هسي الله) چي پيداکونکی دآسمانواودځمکي دی (بې له پخواني مثاله)

---

(١) ددوهم قول بناپرمجازولاړه ده اومثال يې لکه داچي ﴿ عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ﴾ دی اولومړنی وينا په حقيقت بناده اووضاحت يې داچي کله به دوی دانبياوو عليهم السلام خبري واورېدې تعجب به يې وکړاودملنډوپه توګه به يې وخندل نوبيابه يې په خولولاسونه ونيول لکه څوک چي دخنداکابو کول غواړي.

﴿ يَدۡعُوكُمۡ لِيَغۡفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ ﴾ الله بولي تاسي (زموږ په ژبه ايمان ته) ددې لپاره چې وبښي تاسي ته (گناهونه ستاسي) ﴿ وَيُؤَخِّرَكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ ﴾ (اوچي مهلت درکړي تاسي ته (له عذابه) ترټاکلي موده پورې) يعني که مو ايمان راووړ نوستاسي دعمرونو ترپايه به عذاب نه درکوي چي عاجل مو هلاک کړي ﴿ قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا ﴾ وويل: (کفارو) چي نه يی تاسي مگرآدميان په شان زموږ (تاسو پر موږ څه بهتري نلرئ) ﴿ تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴾ تاسي اراده لرئ ددې چي موږ له هغه څه منع کړئ له هغو شيانو څخه چي وو پلرونه زموږ چي (دهغو) عبادت به يې کاوو نوراوړئ موږ ته کوم ښکاره برهان (ستاسو په رښتنولي او نبوت) ﴿ قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ ﴾ وويل: دوی ته رسولانو ددوی (هولکه چي تاسي وایاست) نه يو موږ مگر آدميان يو ستاسي په شان ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ ﴾ ولکن الله احسان کوي (په نبوت اورسالت) په هرچاچي اراده وفرمايې (داحسان دهغوی) له بندگانو خپلو څخه؛ زمخشري وايې دوی خپله بهتري دتواضع له کبله څرگنده نکړه اودهغوی وينايې ورسره ومنله چي دوی غوندي بنيادمان دي خوله دې وروسته بيا ددوی په شان نه دي (څکه الله دوی ته نبوت ورکړی دی[1]) ﴿ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ﴾ (اونه ښايې موږ ته داچي راوړو تاسي ته کوم برهان (معجزه) مگر په حکم دالله سره) يعني ستاسي وړانديز شوي معجزه موږ پخپل سر درته راوړلای نشو ترڅوالله يې اذن ونه فرمايې ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴾ اوخاص پرالله دي مؤمنان توکل وکړي (په ټولوچاروکي) ﴿ وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ اوڅه (عذر) دی موږ ته په دې کي چي توکل به نه کوو پر الله ؟ (دغه دانبياوو قول دی) ﴿ وَقَدۡ هَدَىٰنَا سُبُلَنَاۚ ﴾ حال داچي ښودلي يې دي موږ ته لاري (دنجات دعذاب) زموږ ﴿ وَلَنَصۡبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيۡتُمُونَاۚ ﴾ (اوقسم دی چي صبربه وکړو خامخاپه ضرر رسولودتاسي موږ لره) ابن الجوزي وايې ددې لپاره دغه کيسه اودې ته ورته نوري کيسې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وفرمايلې ترڅو چي په ړومبنيو نبيانو پسي اقتداء وکړي زغم اوصبرخپل کړي اوپه هغه څه خبرشي چي دوی ته څه رسيدلي وو ؟[2] ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ﴾ (اوخاص پرالله نودي تل ترتله توکل وکړي متوکلان) دغه جمله تکرارنه دی بلکه معنايې په توکل باندي ثبات اودوام دی اودلته يې دطغيان له مخي پلو پورته کړي چې دوی په مادي زور او توان وياړي (افتخارکوي) هغه زور چي سرکښان اوجبابره يې لري داسي وايې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ

---

(١) الكشاف ٢ / ٥٤٤

(٢) زاد المسير ٤ / ٣٥٠

﴿ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ﴾ (او ووېل: هغو کسانو چي کافران شوي وو رسولانو خپلو ته چي خامخا موږ به تاسي وباسو ارو مرو له ځمکي خپلي، یا به خامخا وګرزئ تاسي خامخا په دین زموږ کي) یعني کفارو به خپلو سپېڅلو پیغمبرانو ته په ګواښ ویل: قسم دی یا به مو له خپله هیواده وشړو او یا به زموږ دین ته راستانه شئ ﴿ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ ﴾ (پس وحی وکړه دوی ته رب ددوی چي خامخا موږ به ظالمان هلاک کړو) یعني الله پاک نبیانو ته داسي وحی وفرمایله چي ستاسو دښمنان کافران مجرمین به هرومرو هلاک کړم ﴿ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ﴾ او خامخا به و اوسوو موږ تاسو په ځمکه ددوی کي وروسته (له هلاکته) ددوی ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴾ دغه (مرسته د پیغمبرانو او هلاک د ظالمانو) لپاره دهغه چا چي وېرېږي له درېدلو زما په مخ کي او وېرېږي له وعدې (دعذاب زما) په البحر کي وایي کله چي دوی قسم وخوړ په ایستلو د پیغمبرانو او یا ددوی په دین کښي د ورستنېدلو نو الله پاک قسم وکړ چي خامخا به دوی هلاک او دد غه دهلاکت ایستل بیا داسي دی چي هیڅ ستنېدل یې نشته (۱) ﴿ وَاسْتَفْتَحُوا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴾ او نصرت (فتح) وغوښتله (أنبیاوو په خپلو قومونو باندي) او نامراده شول هر یو متکبر سرکښ حق نه منونکی ﴿ مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ ﴾ چي وړاندي دده دوزخ دی پس له مرګه او ورڅښلی به شي (په دوزخ کي) له اوبو چي زوي ویني وي ﴿ يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ ﴾ چي غوړپ غوړپ به یې څښي او نه به وي نژدې چي هغه په آساني سره تېر کړي (له ډېره تریخوالي او بدبویې څخه چي کرکه ځني کېږي) ﴿ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ﴾ او را به شي ده ته (اسباب د) مرګ له هره لوري حال دا چي نه به وي دی مړکېدونکی ﴿ وَمِن وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴾ او په مخ دده کي به عذاب ډېر سخت وي (ترهغه چي پخوایې لیدلی وو).

بلاغت:

پدې آیتونو کي د بلاغت، بدیع او بیان لاندني ښکلاوي نغښتل شوي چي لنډیزیې دادی:

۱- استعاره دالله تعالی پدې قول کي چي فرمایې: ﴿ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ﴾ ځکه چي تاریکي یې د کفر او ضلالت لپاره استعاره کړي او رڼایې دهدایت او ایمان لپاره راوړي ده او همدا راز په دې قول کي چي: ﴿ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ ﴾ ځکه سختي او ستونزي یې په مرینه استعاره کړي او څوک چي خوراپه غم او درد اخته وي ورته ویل کېږي چي دغه د مرګ په اسبابو مبتلا دی چي دهغه د ستونزو او دردونو په هکله یې مبالغه کول کېږي.

---

(۱) البحر ۵/ ۴۱۱

۲ - د طباق صنعت د ﴿ يُضِلُّ وَيَهْدِي ﴾ او همداراز د ﴿ شَكَرْتُمْ ﴾ او ﴿ كَفَرْتُمْ ﴾ او ﴿ لَنُخْرِجَنَّكُم ﴾ او ﴿ لَتَعُودُنَّ ﴾ ترمينځ شتون لري.

۳ - د مبالغې صيغه لکه چې په ﴿ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ او ﴿ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴾ کښې ده.

۴ - اشتقاقي جناس پدې دواړو جملو کې چې: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ ﴾ او ﴿ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴾.

۵ - د سجع صنعت لکه په ﴿ شَدِيدٍ ، بَعِيدٍ ، عَنِيدٍ ﴾ او نورو کې.

فائده:

الله تعالی دالبقرة په سورت کې ﴿ يُذَبِّحُونَ ﴾ له واو توري پرته ذکر کړی او دلته يې ﴿ وَيُذَبِّحُونَ ﴾ په واو سره راوړی پدې کې راز دادی چې دالبقرة په سورت کې دغه لفظ د تفسير لپاره راوړل شوی چې ړومبی ﴿ سُوءَ الْعَذَابِ ﴾ ذکرشوی لکه چې ويل شوي وي: (يسومونکم سوء العذاب) بيا يې دهغه تفسير په ﴿ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ ﴾ سره فرمايلی وي او پدغه سورت کې تفسيرنه دی ځکه چې معنا داده چې دوی ته په ډول ډول عذابونه ور ووينې او په حلالولو هم عذاب ورکوي چې دغه له پخواني عذاب نه يو بل ډول عذاب دی والله اعلم.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ۖ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ ۖ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا
عَلَىٰ شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ (۱۸) أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ
بِخَلْقٍ جَدِيدٍ (۱۹) وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ (۲۰) وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ
تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ ۖ سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ
صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ (۲۱) وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ
فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنفُسَكُم ۖ مَّا
أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ ۖ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ ۗ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ
أَلِيمٌ (۲۲) وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ۖ
تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ (۲۳) أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي
السَّمَاءِ (۲۴) تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ (۲۵)
وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ (۲۶) يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا

بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّٰلِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ ﴿٢٧﴾ ۞ أَلَمْ تَرَ
إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾ وَجَعَلُوا
لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ قُلْ تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ﴿٣٠﴾ قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَوٰةَ
وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ﴿٣١﴾ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَٰوَٰتِ
وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ
بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿٣٣﴾
وَآتَاكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

ابراهيم: ۱۸ – ۳۴

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی دکفارو ملنډي چي په پیغمبرانو يې وهلې بيان کړې او بيادوی ته يې دتيارشوي عذاب ښودنه وکړه ، ددوی دعملونو لپاره يې مثالونه راوړل او بيا ددوی درئيسانو او پيشوايانو ترمينځ په ځرګندونو يې رڼاواچوله وروسته يې دخپلو نعمتونو يادونه وکړه ترڅو چي بندګان دالله شکر پرځای او عبادت ته يې چمتو شي.

لغتونه:

(عاصف) سخت باد (برزوا) بروز له خفا وروسته ظهورته وايې (براز) هغه پراخ ځای ته ويل کيږي ځکه چي ځرګندوي او ويل کيږي چي : (امرأة برزة) هغه ميرمن چي خلکو ته ځرګنديږي (محيص) دتيښتي ځای ويل کيږي (حاص عن شئ) يعني وتښتېدوله شي نه او وايي دتيښتي اراده ورڅخه وکړه (جزعنا) زغم نه درلودلو ته (جزع) وايې. (مصرخکم) مصرخ دمُغيث په معنا فريادرس ته ويل کيږي (أجتثت) له بېخه ايستل شوی (البوار) هلاکت (خلال) د(خلت) جمع او ملګرتيا،صداقت ته وايې. (دائبين) دؤب په لغت کي شامل عادت ته وايه شي ويل کيږي: (دأب دؤبا).

تفسير:

﴿ مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ ﴾ (مثال دهغو کسانو چي پخپل رب باندي کافران شوي دي عملونه ددوی په شان د(ايرې) دی چي پرې سخت باد راوالوزي) يعني دکافرانو دعملونو مثال ده‌يرې دايرو دی هغه عملونه چي دوی په دنياکي کړي لکه صدقه، صله رحمي او نور اوپردي داجرهيله کوي لکه ايرې دی کله چي وربا ندي سخت بادرا والوزي او هغه دوړي دوړي کړي ﴿ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ ﴾ په هغه ورځ کي چي باديې سخت اوښورونکی وي قرطبي وايې : الله پاک دغه آيت دکافرانو دعملونو لپاره متل راوړی دی چي ددوی عملونه به داسي ابته کيږي لکه چي سخت باد ايرې په

سخته ورځ کي دوړوي څکه دوی پخپلو اعمالو کي له الله جل جلاله سره شريک نيولی دی(١) ﴿لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا۟ عَلَىٰ شَىْءٍ﴾ نه به قادرېږي دوی دهغو عملونو چي دوی کړي دي يعني ثواب به يې نه مومي څکه چي په کفريي ابته کړي دي لکه څنګه چي څوک په الوتلو ايرو ګته نشي اخيستلای ﴿ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ﴾ (دغه ګمان دنېکي ددوی ليري ګمراهي ده) سترخسران دی ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ﴾ (آيانه ويني چي بېشکه الله پيداکړي دي آسمانونه او ځمکه په حقه سره) يعني ای مخاطبه ته دزړه په سترګونه ويني چي يوازي الله پاک دپيدا ايښت او پنځولو مالک دی اوهغه ځمکي اوآسمانونه ومافيها پيداکړي ترڅودده په قدرت باندي دليل شي مفسرين کرام وايي: معناداچي دغه يې عبث نه دي پيداکړي بلکه ديو سترامرلپاره يې پيداکړي دي ﴿إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ﴾ که الله (ستاسي دهلاکولو) اراده وفرمايي نوتاسي به بوزي (په مرينه سره) اونورنوي خلګ به راولي. ابن عباس رضی الله عنهما وايي: معناداچي که الله وغواړي ای کفارو! تاسوبه ووژني اونور خلګ چي ترتاسوبه بهتر غوره اوفرمان منونکي وي راولي ﴿وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٍ﴾ اونه دی دغه (هلاکول ستاسواوپيداکول دنورو) په الله باندي سخت اومشکل) څکه په زورور الله باندي هيڅ هم مشکل نه دی ﴿وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ (اوظاهر به شي دوی الله ته ټول) يعني دمحشرپه ورځ به ټول دحساب لپاره الله ته څرګند ودرېږي هيڅ پټونکی به دوی پټولای نشي . امام فخرالرازي وايي چي: دماضي په لفظ ﴿وَبَرَزُوا۟﴾ باندي ذکرشوی که څه هم معنايې داستقبال ده څکه له هرڅيز څخه چي الله اخبارفرمايي هغه حق اوربښتيادی نوهسي وګرزېدولکه په وجودکي راغلی وي ددې مثال بل آيت هم شته لکه: ﴿وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ﴾ (٢)﴿فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟﴾ نوبه وايي کمزوري (دکفارو) هغوکسانوته چي کبرلويي به يې کوله (اودوی يې ګمراهان کړي وو) ﴿إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ﴾ بېشکه وو موږ تاسي ته تابعان (چي ستاسوحکم مومانوپه دنياکي نوآياتاسي اوس دفع کونکي ياست له موږ نه ددغه (أخروي) عذابه دالله څخه څه شي، استفهام دتوبيخ اوټکوني لپاره راغلی دی ﴿قَالُوا۟ لَوْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيْنَٰكُمْ﴾ نو وبه وايي دغه (مشران په معذرت سره) که هدايت کړی وای موږ ته الله (دايمان) نوخامخابه موږ لاربنوونه کړي وه تاسي ته (دهغه خوموږ ته ګمراهي اوضلالت حاصل شوی دی اوموږ بياتاسوګمراه کړئ نوملامتيااوفرياد کول ګټه نلري ﴿سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا﴾ (برابر دی (اوس) پرموږ چي

---

(١) القرطبي ٣٥٣/٩
(٢) الفخرالرازي ١٠٧/١٩

آیاشور، فریاد وکړو یاکه صبروکړو) طبري وايي چي : دوزخيان به سره راغونډ شي ځيني به ځيني نوروته وايي چي: جنتيانوخوخپل مراد په ژړا زاري موندلی دی راشئ چي موږ هم الله ته وژاړو اوزاری جګي ورته وړاندي کړو نوبه وژاړي خوکله چي پوه شي دغه ژړا ورته ګټه نه رسوي نو وايي راشئ چي صبر وکړو نوبیاصبرخپل کړي داسي صبرچي چایي مثال هم لیدلی نه وي اوچي ویني داهم ورته ګټورنه دی نو ووايي ﴿ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَجَزِعۡنَآ أَمۡ صَبَرۡنَا ﴾ (۱) مقاتل وايي چي پنځه سوه کاله ژړافریادوکړي اوبیاپنځه سوه کاله صبروکړي (۲)﴿ مَا لَنَا مِن مَّحِيصٖ ﴾ نشته موږ ته هيڅ ځای دخلاصون (اوتېښتي) ﴿ وَقَالَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ﴾ (اووبه وايي : شيطان کله چي امرفيصله وشي) دغه هغه بدمرغه دشيطان خطبه ده چي ابليس لعين به يې دبدمرغانواشقياوو په محفل کي هله ايرادوي کله چي حساب سرته ورسېږي جنتيان جنت ته اودوزخيان دوزخ ته لاړشي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ ٱلۡحَقِّ ﴾ بېشکه چي الله له تاسي سره وعده کړي (په دنياکي) وعده دحق (چي مطيع ته به ثواب ورکوي اوعاصي ته عذاب هماغه وعده يې بشپړه کړه) ﴿ وَوَعَدتُّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُكُمۡ ﴾ (اوماله تاسي سره وعده کړي وه بيانو خلاف مي وکړ له تاسي سره) يعني ماله تاسوسره داوعده کړي وه چي نه پاځېدل شته اونه ثواب اوعذاب خومادرته دروغ ويلي اوخلاف مي وکړ ﴿ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ ﴾ اونه وو ماته پرتاسي هيڅ حکومت (چي تاسي مي په زور کفراوګناهونو ته راکاږلي وای) ﴿ إِلَّآ أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِي ﴾ مګردومره چي وبللی ماتاسي (ګمراهي ته) نوقبول کړي تاسي (په غولولو) زمابلنه) يعني کله چي ماتاسوته وسوسې اودګمراهي سينګاراوسمبالښت وړاندي کړی نوتاسو پخپله خوښه هغه زمابلنه ومنله ﴿ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُم ﴾ نوتاسومامه ملامتوئ او ملامت کړئ ځانونه خپل (ځکه داستاسوګناه ده) ﴿ مَّآ أَنَا۠ بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّ ﴾ نه يم زه اوس فريادرس ستاسي اونه یاست تاسي زمافريادرس (له عذابه دالله نه) ﴿ إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن قَبۡلُ ﴾ (بېشکه زه کافر(بېزاره يم) له هغه اشراکه ستاسي (له الله سره په عبادت کي) مالره پخوا) ﴿ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ (الله فرمايي) بېشکه چي مشرکانوته شته دردناک عذاب) مفسرين کرام وايي چي: دغه خطبه به هغه وخت چي جنتيان جنت ته اودوزخيان دوزخ ته لاړشي اودوزخيان ابليس ملامتول شروع کړي نوابليس دخطابي لپاره اوچت شي اوهغه څه چي قرآنکريم يې حکايت کړي ايراد کړي(۳) حسن بصري رحمه الله وايي : ابليس به دقيامت په ورځ په دوزخ کي داورپه منبر ودرېږي ،خطبه

---

(۱) الطبري ۱۳ / ۳۰۰

(۲) زادالمسير ۴ / ۳۵۲

(۳) الفخرالرازي ۱۹ / ۱۱۰

به ورکوي چي ګرد خلک به يې اوري (۱) ﴿ وَأُدْخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ﴾ (او داخل به کړی شي هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه عملونه (په هسي) جنتونو کي چي بهېږي لاندي (له مانيوونو) دهغو ويالې په دې حال چي همېشه به وي دوی په دغو کي په اذن درب ددوی) کله چي الله پاک دبدمرغه کسانو احوال يادکړل ورپسې يې دنېکمرغه خلګو بيان راووړ چي بنده دترغيب اوترهيب اوخوف اورجاپه پړاوکي واوسي نو يې وفرمايل: چي مؤمنان به الله هغو جنتونو ته داخل کړي چي له مانيولاندي يې جنتي ويالې بهېږي دالله په امربه تل هلته اوسي اودابه دالله په هدايت اوتوفيق مومي ﴿ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ ﴾ (پېشکش ددوی به په دغه جنت کي (دملګو دملاقات په وخت کي لفظ د) سلام وي) يعني پرښتې به دوی ته داجلال اولويې له پلوه دتعظيم لپاره سلام وايي ﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ ﴾ (آيا نه وينې ته (اې بنده) څرنګه بيانوي الله يو مثال ؟ پاکيزه کلمه په شان دهغي پاکيزې ونې دی) داهغه مثال دی چي الله پاک دايمان کلمه دپاکيزې ونې په مثال ښودلي ده اودشرک کلمه يې دپليتي ونې په شان ښللي ده . ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: طيبه کلمه (لااله الا الله) دی اوپاکيزه ونه مؤمن دی (۲) ﴿ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴾ چي بېخ ددې خښ دی (په ځمکه کي) اوڅانګي يې (پورته) په (لوري د) آسمان اوږدې) دي ﴿ تُؤْتِىٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍۭ بِإِذْنِ رَبِّهَا ﴾ چي ورکوي خوراک (مېوه) خپله هروخت په حکم درب خپل) يعني دالله په تکوين اوآسانتيا همداسي دايمان دکلمې مثال دی چي دمؤمن په زړه کي خښه اوعمل يې آسمان ته پورته کېږي هروخت يې ثواب اوبرکت مومي ﴿ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴾ اوبيانوي الله مثالونه لپاره دخلګوددې لپاره چي دوی پند پرې واخلي (اوايمان راوړي) ﴿ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ﴾ اومثال دخبيثي کلمې (چي دکفرکلمه ده) په شان د هغي خبيثي ونې دی (لکه دمړغوني (خبيث بوټی) ﴿ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ ﴾ چي دځمکي له سرڅخه (له بېخه) ايستل شوی دی (څکه چي بېخ يې ثبات نلري) ﴿ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴾ چي نه وي دې ته هيڅ قرار (استحکام) (همداسي دکفرکلمه ده چي هيڅ ثبات اوټينګارنلري نه يې ښاخونه شته اونه برکت پکې دی . ابن جوزي رحمه الله وايي چي: دمؤمن هغه اعمال چي دايمان له برکته څخه هروخت ترسره کوي له يوډول مېوې سره مشابه وګڼل چي هروخت يې راټولوي نوکله چي مؤمن مسلمان (لااله الاالله) ولولي هغه آسمان ته پورته کېږي اوبيايې خيراومنفعت ده ته راستنېږي اودکافرعمل دمنلو وړنه وي اونه هم (الله) ته اوچتېږي څکه هغه په ځمکه ثابت بېخ نلري اونه هم دآسمان لوري ته ښاخونه

---

(۱) القرطبي ۹ / ۳۵۲
(۲) المختصر ۲ / ۲۹۶

کوي(۱) ﴿ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ مضبوطوي الله هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی په خبره ثابته سره په ژوند د دنیا کي) یعني هغوی د توحید په کلمه باندي چي (لااله الاالله) دی د دنیا په ژوندانه کي ثابت پاتي کوي او په وخت د فتنو کي (د مرګ) کي یي له ایمان څخه نه اړوي ﴿ وَفِي ٱلْأٓخِرَةِ ﴾ (او په آخرت کي) یعني په قبر کي کله چي دوه پرښتي ورڅخه پوښتنه کوي لکه چي په حدیث شریف کي راغلي وایي: کله چي مسلمان په قبر کي وپوښتل شي نو هغه په خواب کي وایي چي: (لااله الاالله وان محمداً رسول الله) همدغه دالله جل جلاله وینا ده چي فرمایي ﴿ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ (۲) ﴿ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ او ښويوي الله ظالمان یعني الله نه دوی ته په ژوند کي لارښوونه کوي او نه هم د نکیر منکر د پوښتني په وخت کي کله چي په قبر کي کښېښودل شي ﴿ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴾ او الله کوي هر هغه څه چي اراده وفرمایي له هدایت د مؤمن او اضلال د کافر نه له الله ﷻ څخه څوک پوښتلای نشي خو الله له خلکو پوښتونکی دی ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ كُفْرًا ﴾ (آیا نه ګورې ته هغو کسانو ته چي دالله نعمت یې په ناشکري سره بدل کړی دی استفهام د تعجب لپاره دی یعني ای اورېدونکي ! ته تعجب نه کوې هغو ته چي دوی دالله نعمت په کفر بدل کړی او دروغ یې ګڼلی . مفسرین وایي چي: دوی د مکې کفار دي څکه چي الله پاک دامن او هوسایي خاوند حرم کي مېشت کړي ، پراخه روزي یې ورکړي محمد صلی الله علیه وسلم یې پکي مبعوث کړی خو دوی د دغه نعمت قدر نه دی کړی او ورباندي کافران شوي دي نو الله دوی په کاختي او وچکالي اخته کړل ﴿ وَأَحَلُّواْ قَوْمَهُمْ دَارَ ٱلْبَوَارِ ﴾ او راښکته کړی دوی خپل قوم ځای د هلاکت ته (پخپل کفر او طغیان سره بیا یې پدې قول تفسیر وفرمایو چي ﴿ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ ٱلْقَرَارُ ﴾ (چي دوزخ دی داخل به شي دوی په هغه کي او بد ځای د قرار او هستوګني دی) یعني دوی خپل تېر دوزخ ته غورځولي چي اور به یې څکي او دوزخ بد هستوګنځی دی ﴿ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِۦ ﴾ (او ګرزولي وو دوی الله ته شریکان لپاره ددې چي ګمراه کړي (واړوي خلګ) له لاري دده نه) یعني دوی له الله سره شریکان منلي وو چي د هغوی به یې هسي عبادت کاوو لکه دالله ترڅو خلګ له دین څخه واړوي ﴿ قُلْ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى ٱلنَّارِ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته !) چي نفعه واخلئ تاسي) په شهواتو سره په دنیا کي) نو بېشکه بیرته ورتله ستاسي اور د دوزخ ته دي (او دغه وعید او تهدید دی) ﴿ قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ ووایه (ای محمده !) هغو بندګانو زما ته چي ایمان یې راوړی دی چي ودي دروي لمنځونه (په

---

(۱) زاد المسیر ۴ / ۳۶۰
(۲) أخرجه البخاري او همدغه رایه د ظ... هم غوره ده.

بشپړه توګه له ټولو احکاموسره سم دي اداکړي) ﴿ وَيُنفِقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَـٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً ﴾ او ورکړه دي کوي له هغه ماله چي موږ دوی ته ورکړی دی په پټه اوښکاره ﴿ مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَـٰلٌ ﴾ (پخواله راتلودهغي ورځي چي نشته سوداپلورل اوپېرودل اونه دوستي په هغې کي) يعني پخواله راتلودهغي ورځي چي نه هلته خپلوي ، ملګرتيااوشفاعت چلېږي اونه هم سودا راکړه ورکړه کېدای شي

څرنګه چي کلام دنېکمرغه اوبدمرغه کسانوپه حال احوال کي اوږدشو نوپه پای کي يې هغه دلائل چي دخالق اوحکيم ذات په وجود دلالت کوي راوړل اوداسي يې وفرمايل :﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ الله هغه ذات دی چي ځمکه اوآسمانونه يې پيداکړي دي يعني الله جل جلاله دغه آسمان اوځمکه داختراع اوابداع په توګه چي پخوايې مثال نه درلود پنځولي دي ﴿ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ اونازلي کړي يې دي دآسمان له لوري اوبه (باران) ﴿ فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ﴾ (١) نو راايستلي يې دي په دې اوبوسره له هرقسمه مېوو څخه روزي تاسي ته (چي بندګان يې وخوري) ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ﴾ اوتابع کړی يې ده تاسي ته بېړۍ دپاره ددې چي ګرزي په سيندکي په امر(حکم) ددغه الله (تاسوپکي سپرېږئ ، مالونه پکي باروئ اوله يوهيوادنه بل ته يې لېږدوئ) ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَـٰرَ ﴾ اومسخرکړي يې دي تاسي ته ويالې (دخوړو اوبوچي ويې څښئ اوکښتونه ورباندي اوبه کړئ) ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ﴾ اومسخرکړي يې دي تاسي ته لمراوسپوږمۍ (ستاسي دګټولپاره) پداسي حال کي چي سم له دستورسره ګرځېدونکي دي اونه ستومانه کېږي ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴾ اوپه کارکي يې لګولي دي تاسي شپه او ورځ (ترڅوپه شپه کي آرام وکړئ اود ورځي دالله روزي ومومئ يوه مود آرام اوخوب اوبله مودمعاش اوژواک لپاره ده ﴿ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ﴾ اودرکړی دی تاسي ځيني ځيني له هرهغه څيزڅخه چي تاسي غوښتی هغه يعني ټول هغه ستاسي دارتياوړشيان چي ستاسوداحوال اومعاش لپاره په کارېږي اوتاسودحال ياقال په ژبه غوښتی وي درکول شوي دی ﴿ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ﴾ اوکه وشمېرئ تاسي (ګردانواع د) نعمت دالله نو وبه نه شمېرلی شئ تاسي دادالله نعمتونه (ځکه داترحصر

---

(١) شهيد سيد قطب رحمه الله وايي چي: همدلته دکائناتو دکتاب دروازه دواړه پلې پرانستل کېږي اوکرښي يې له ورايه دالله جل جلاله دبېشمېره نعمتونوڅخه غږېږي ، ځمکي آسمانونه ، لمراوسپوږمۍ ، شپه او ورځ ، رودونه اوسيندونه ، مېوې اوبارانونه دغه ټول دهمدې کتاب پرانستل شوي پاڼي دي خوبشريې نه ګوري اونه يې لولي نه پکي سوچ کوي اونه يې شکراداکوي (ان الانسان لظلوم کفار) همدغه انسان له الله سره شريکان نيسي اوالله هغه خالق اورازق ذات دی چي دانسان لپاره يې دغه کائنات تابع کړي دي کله چي دغه دالله دسترو نعمتونو کاروانونه ګوري نوفکرکېږي چي آيادغه ټول کائنات ددغه واړه مخلوق (بشر) لپاره الله مسخر کړي ؟ له آسمانونوباران ورېږي ځمکه مېوې زرغونوي ، په دريابا کي بېړۍ چلېږي ، رودونه بهېږي اوانسان ته يې ګټه رسېږي لمراوسپوږمۍ شپه او ورځ ټول دانسان په چوپړ کي بياهم انسانان شکرنه کوي ؟ في ظلال القرآن ١٣ / ١٢٢

او شمېرتېر دي چې ستر توب او زيات والى يې دومره دى چې شوک يې ګڼلاى نشي ﴿إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ بېشکه انسان خامخا لوى ظالم ، ډېر ناشکره دى (دخپل ځان لپاره پدې ظالم دى چې دالله له حدودو څخه يې تجاوز کړى او ناشکره پدې چې دالله دنعمتونو انکار يې کړى دى او چابياويلي چې ظالم پدې دى چې په سختي کې شکايت کوي او وژاړي خو په سوکالي کې بيا نعمتونه ټولوي او بل چا ته يې نه ورکوي بخيل دى.

بلاغت:

پدې آيتونو کې چې دبيان او بديع کومې ښکلاوې شته په لاندې ډول دي:

۱- تمثيلي تشبيه پدې آيت کې چې: ﴿أَعْمَـٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ٱشْتَدَّتْ بِهِ ٱلرِّيحُ﴾ ځکه دتشبيه وجه له متعدد څخه اخيستل شوي ده.

۲- مرسله مجمله تشبيه چې فرمايې: ﴿وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ﴾ او دا ﴿مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً﴾.

۳- پدې کلماتو کې چې الله تعالى فرمايې: ﴿أَصْلُهَا ..... وَفَرْعُهَا﴾ او ﴿طَيِّبَةً ..... خَبِيثَةٍ﴾ او ﴿يُذْهِبْكُمْ ..... وَيَأْتِ﴾ او ﴿سِرًّا ..... وَعَلَانِيَةً﴾ ﴿أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا﴾ پدې ټولو کې دطباق صنعت راغلى دى.

۴- دطباق سلب صنعت پدې کلام کې چې: ﴿فَلَا تَلُومُونِى وَلُومُوٓا۟ أَنفُسَكُم﴾.

۵- تعجب پدې کلام کې چې فرمايې: ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا﴾.

۶- پدې کلام کې تهديد او وعيد راغلى چې فرمايې: ﴿قُلْ تَمَتَّعُوا۟﴾.

۷- دمبالغې صيغه چې پدې کلماتو کې افاده کېږي ﴿لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ ځکه فعول او فعال دمبالغې صيغې دي

۸- پدې کلماتو کې چې: ﴿ٱلْبَوَارِ ، ٱلْقَرَارُ ، ٱلنَّارِ﴾ مرصع سجع شته چې پرته له څه تکلفه راغلې ده.

***

الله تعالى فرمايې:

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَـٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ وَمَنْ عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَآ إِنِّىٓ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِى بِوَادٍ غَيْرِ ذِى زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجْعَلْ أَفْـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ

لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيْءٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٣٨﴾
ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلْكِبَرِ إِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾ رَبِّ ٱجْعَلْنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ
وَمِن ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ ﴿٤١﴾ وَلَا
تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعْمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴿٤٢﴾ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي
رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ وَأَفْـِٔدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ ٱلْعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رَبَّنَآ
أَخِّرْنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَ أَوَلَمْ تَكُونُوٓا۟ أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ
﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ
ٱلْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ مَكَرُوا۟ مَكْرَهُمْ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ ٱلْجِبَالُ ﴿٤٦﴾
فَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِۦ رُسُلَهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ
وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلْأَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ
وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجْزِيَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٥١﴾ هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ
وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٢﴾ ﴾ ابراهيم: ٣٥ – ٥٢

مناسبت او تړاو:

کله چي الله پاک د خپل وحدانيت په هکله حسي او سمعي دلائل بيان کړل او دا يې وفرمايل چي له الله پرته بل معبود نشته نو دلته يې د انبياوو د پلار حضرت ابراهيم عليه السلام هغه ځوک چي د توحيد منار بلل کېږي او د شرک او بت پرستي سته يې ايستلي يادونه وکړه ورپسې يې بيا د ظالمانو د قيامت دورځي د ريزا او هغه سپکاوی او خواري چي دوی به ورسره په قيامت کي لاس او ګرېوان وي راوړل

لغتونه:

(أجنبنى) ليري کړې ماپه اصل کي داله (جنب) څخه اخيستل شوي چي پلوا وطرف ته وابې او مقصد يې ګوښه کېدل دي (تشخص) د ستر ګو رډ ختل او کتل چي ستر ګي له ډېره هيبته پرانستلي پاتي شي (مهطعين) په منډه تلونکي (مقنعى) مقنع اوچت سرچي ځوک مخامخ ځيزته ګوري (هوآء) خالي (مقرنين) تړلي (الاصفاد) هتکړۍ او قيدونه يوېې (صفد) دی (سرابيلهم) د سربال جمع او کميس جامې ته وايي (تغشى) پټوي نغاړي.

تفسير:

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا ﴾ او (ياد کړه) هغه وخت چي وويل ابراهيم ای زمار به وګرځوه دا ښار (مکه) د امن (ښار) چي اوسېدونکي يې په امن کي وي ﴿ وَٱجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ

﴿ٱلْأَصْنَامَ﴾ اولیري وساته ماواوزامن زماله دې نه چي دبتانوعبادت به کوو (غرض له دې دعانه دوام اوتثبیت دی چي هغه په توحید اواسلام کي ټینګ کړي) ﴿رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ﴾ . ای زماربه ! دغو(بتانو) ښویولي دي ډېرخلک (چي له ایمان څخه یې دکفرلوري ته ګمراه کړي) ﴿فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُۥ مِنِّي﴾ نوچاچي متابعت کړی دی زما(په توحید کي) نوبېشکه هغه له (اهل ددین) زما څخه دی ﴿وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ اوهرچاچي نافرماني کړي ده زمابېشکه ته ښه بخښونکی (دګناهونو) یې ډېررحم والایې (په بندګانو) ﴿رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي﴾ ای زموږ ربه ! بېشکه ما اوسولي دي ځیني له اولادونو (زمازوی اسماعیل اومېرمن هاجره) (١) نداء یې تکرار دتذلل لپاره راوړه اوداچي دمنلورغبت یې وو ﴿بِوَادٍ غَيْرِ ذِى زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ﴾ پداسي یوه ناوه کي چي دکښت خاوند نه ده په نزد دکوټې ستاچي عظمت والاده ﴿رَبَّنَا لِيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجْعَلْ أَفْـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ﴾ ای زموږ ربه ددې لپاره می دوی په دې وادي کي مېشت کړي) چي سم ودروي (اداکړي) لمونځ نو(مائل) وګرزوه زړونه دځینوخلګوپه مینه چي راځغلي دوی ته (په شوق) ابن عباس رضی الله عنه وایي: که چېري یې ویلي وای چي (أفئدة الناس) نوبه دفارس اوروم او ټولو خلګو ورته راځغاسته اوګڼه ګونه وه خوویې ویل (أفئدة من الناس) نودایوازي مسلمانان دي . (٢) ﴿وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ﴾ اوروزي ورکړه دوی ته له هرډول مېووڅخه دپاره ددې چي دوی شکر وباسي یعني دوی ته پدغه بې کښته ناوه کي ډول ډول مېوې ورکړه ترڅوستادنعمتونو شکرپرځای کړي اوهمداسي الله پاک یې دعاومنله اومکه یې دامن ځای حرم جوړکړ چي دهرڅېز مېوې دالله له لوري رزق روزي ورته رادرومي ﴿رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِى وَمَا نُعْلِنُ﴾ ای زموږ ربه ! بېشکه چي تاته معلوم دي هغه چي موږ یې پټوو اوپه هغه چي موږ یې ښکاره کوویعني ای زموږ ربه ته دزړونو په پټو رازونو خبریې ﴿وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ﴾ اونه دی پټ په الله باندي هیڅ څېز (نه) په ځمکه او(نه) په آسمان کي (اوڅرنګه به ورڅخه پټ شي پداسي حال کي چي الله یې پیداکونکی اوموجودکوونکی دی) ؟ ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى وَهَبَ لِى عَلَى ٱلْكِبَرِ إِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ﴾ ټول ثناصفت هغه الله لره دی چي رابښلی یې دی ماته سره له زوړوالي اسماعیل اواسحاق ؛ ابن عباس رضی الله عنهماوایي چي: کوم وخت اسماعیل علیه السلام زېږېدلو دابراهیم علیه السلام عمر(٩٩) نه نوي کاله وو اواسحاق علیه السلام بیاپه یو سل او

---

(١) روایت کېږي کله چي حضرت اسماعیل علیه السلام له خپلي موري هاجرې رضی الله عنهانه پیداشو حضرت ساره رضی الله عنهاته چي دابراهیم علیه السلام مېرمن وه غیرت ودرېدو نوالله جل جلاله ابراهیم علیه السلام ته امر وفرمایو چي اسماعیل علیه السلام اوموریې له شام څخه مکې ته ولېږدوي ده ﷺ همغسي وکړل اودزمزم په ځای یې دوی پرېښودل

(٢) القرطبي ٩ / ٣٧٣

دوولس کلني (۱۱۲) کي الله پاک ورکړ(۱) ﴿ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴾ ببشکه چي رب زماخامخا بنه اوریدنکی ددعادی (چي څوک يې بولي) ﴿ رَبِّ ٱجْعَلْنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴾ ای ربه زماوګرزوې ماهمېشه اداکونکی دلمانځه (سره له ټولو حقوقو) اوځيني له اولادې زمانه او دعا مي ومنی (دغه دحضرت خليل عليه السلام شپږمه دعاده اودمسلمان لپاره همدغه غوره دعا ده چي دخپلي اولادې لپاره يې وکړي ځکه تردې بل ښه کارنشته چي سړی پخپله اواولاد يې دلمانځه اداکونکی وي ځکه چي لمونځ ددين ستنه ده. ﴿ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ ﴾ ای ربه خمور ببښنه وکړې ماته اومور او پلار زماته اومؤمنانوته په هغه ورځ (دقيامت) چي حساب قائمېږي ؛ دغه اوومه دعاده اوپدې باندي ابراهيم عليه السلام هغه دعجز اوزاري نه ډکه دمغفرت دعابشپړه کړه چي پکي خپل ځان ، مور اوپلار اومؤمنان ګرديې يادکړل مفسرين وايې چي: مور اوپلارته يې دغه ببښنه هغه وخت وغوښتله چي لاورته څرګنده شوي نه وه چي پلاريې دالله دښمن دی قشيري وايې چي دغه ليري نه ده چي مور يې مسلمانه وي ځکه الله پاک دده عذر دهغه دپلارلپاره دببښني په هکله يادکړي دي اودمور يادونه يې نده کړي اودلته خبره دقيامت دورځي دهيبت نه ډکوصحنوته اوړېدېږي هلته چي زړونه اوقدمونه لړزېږي الله فرمايې: ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعْمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَۚ ﴾ اوګمان مکوه (ای محمده !) چي الله بې خبره دی له هغوکارونو چي ظالمان يې کوي (ځکه دالله جل جلاله سنت داسي دی چي عاصيانوته مهلت ورکوي اوبيايې په سخته نيونه سره نيسي ميمون بن مهران وايې: چي دغه دظالم لپاره وعيداودمظلوم لپاره تعزيت اوغم رازي ده (۲) ﴿ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴾ ببشکه هم داخبره ده چي دوی وروستي کوي هغي ورځي ته چي خلاصي به پاتي وي (له ډېري وېري) په هغې کي سترګي (ابوالسعودوايې چي سترګي به خلاصي پاتي وي اوبانوګان به يې له ډېري وېري څخه نه رپېږي (۳) ﴿ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ ﴾ چي منډي وهونکي به وي دا(مخلوقات) هيچاته به نه ګوري) جګ نيونکي به وي دسرونوخپلو . حسن رحمه الله وايې دخلګومخونه به پدغي ورځ کي دآسمان لوري ته اوچت وي هيڅوک به هيچاته نه ګوري (۴) ﴿ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْۖ ﴾ بېرته به نه ګرزي دوی ته رپول دسترګوددوی (له ډېري وېري اوهيبته) ﴿ وَأَفْـِٔدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴾ اوزړونه ددوی به تش وي (له عقل اوفهمه له جهته دډېرهيبت نه ﴿ وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ او ووېروه (ای پيغمبره) خلک له هغي ورځي څخه چي رابه شي دوی ته عذاب (چي دقيامت سخت عذاب

(۱) زادالمسير ۴ / ۳۶۷
(۲) الطبري ۱۳ / ۲۳۶
(۳) ابوالسعود ۳ / ۱۳۳
(۴) القرطبي ۹ / ۳۷۷

دی) ﴿ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رَبَّنَآ أَخِّرْنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ﴾ نو وبه وايي هغه کسان چي ظلم يې کړی دی ای ربه زموږ وروستی کړه (مهلت راکړه) موږ ته ترنږدې نژدې پوري (چي د تېروګناهونو تدارک وکړو) ﴿ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَ ﴾ چي قبوله کړو بلنه ستا (د ايمان لپاره) او د رسولانو متابعت وکړو (چي موږ ته يې څه راوړي دي ﴿ أَوَلَمْ تَكُونُوٓا۟ أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴾ (دوی ته به توبيخاوويل شي) آيا نه وی تاسي چي تاسي به پخوا (په دنياکي) قسم کاوو چي نشته تاسي ته هيڅ زوال (له دنيا څخه آخرت ته ؟ (او مراد دلته ددوی له آخرت څخه انکار او د بعث او نشور نه منل دي ﴿ وَسَكَنتُمْ فِى مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ ﴾ (او سېدلي وی تاسي په کورونو د هغو کسانو کي چي ظلم يې کړی وو په ځانونو خپلو يعني تاسو د هغو ظالمانو په هستوګنځي کي اوسېدلي وی چي موږ هغوی هلاک کړي وو نو آيا له دوی څخه مو پند نه واخيستل ؟ ﴿ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ ﴾ او ښکاره شوي وه تاسي ته د غه خبره (په مشاهده او اخبار) چي موږ پر دوی باندي څرنګه کار کړی وو ؟ د هلاکت او انتقام له مخي ﴿ وَضَرَبْنَا لَكُمُ ٱلْأَمْثَالَ ﴾ او بيان کړي وو موږ تاسي ته مثالونه (په دنياکي خو بياهم تاسي عبرت نه واخيست) ﴿ وَقَدْ مَكَرُوا۟ مَكْرَهُمْ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ ٱلْجِبَالُ ﴾ او په تحقيق سره کوښښ د مکر او فريب وکړ دوی د مکر او فريب خپل حال دا چي له الله سره ده جزا د د غه مکر (چي الله ور باندي محيط دی) او که څه هم وو مکر ددوی (په توان او اغيزه کي (آن دومره) چي له ځايه به بيرته شي له د غه مکره ددوی غرونه (خو بياهم الله خپل استازي ته ژغورنه او نجات ور وباښه هغه وخت چي دوی يې دوژلو تکل کړی وو ﴿ فَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِۦ رُسُلَهُۥٓ ﴾ نو په الله باندي د خلاف کونکي ګمان مه کوه (ای مخاطبه !) چي له خپلو استازو سره به خلاف وکړي (او نصرت به ورونه ښښي دوی ته او ظالمان به هلاک نکړي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴾ بېشکه الله د ېر غالب ښه قوي څښتن د انتقام دی (له هغه چا څخه چي دده عصيان کوي) ﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ ﴾ (انتقام اخلي په) هغه ورځ چي بدل به کړی شي د غه ځمکه په بلي ځمکي او آسمانونه به هم بدل کړی شي (په نورو آسمانونو باندي؛ ابن مسعود رضی الله عنه وايي چي ځمکه به په بله ځمکه چي لکه خالص د سپينو زرو وي بدله کړه شي چي نه به ور باندي وينه توی شوي وي او نه به ور باندي ګناه شوي وي (۱) ﴿ وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴾ او را وبه وزي (خلګ له قبرونو او په ښکاره ميدان به) الله ته چي واحد ذات ښه غالب او قوي دی و د ربړي (يعني ټول خلګ به له خپلو قبرونو راپاڅي

---

(۱) الطبري ۱۳ / او له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چي همدا ځمکه به وي خو غرونه به يې هوار وني به يې له بېخه وابستل شي او رودونه به يې وران او وستوري وشيندل شي داسي ويل شوي : وماالناس بالناس الذی عهدتهم * وماالدار بالدار التی کنت تعلم. داهغه خلګ نه دي چي تا پېژندل او نه هم داهغه کوردی چي تا ته معلوم وو.

دالله په وړاندي به ودرېږي نه به يې له الله نه څوک پټولای اونه به يې ژغورلای شي نه به په کورونو اوند په ګورونو کي وي بلکه دمحشرپه څرګندميدان به ولاړوي ﴿ وَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلْأَصْفَادِ ﴾ او وينې به ته دغه ګنهګاران (کافران) چي تړل شوي به وي (له خپلو شيطانانوسره) په دغه ورځ کي) په ځولنود ځنځيرونو باندي ؛ طبري وايې چي ددوی لاسونه او پښې به ددوی له غاړو سره په ځنځيرونو اوقيدونو باندي تړلي وي ﴿ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ ﴾ د دوی قميصونه به له زرنېو(نانزړو) وي داهغه ماده ده چي ډېرژر اور اخلي اوښان کله چي پمن شي په همدغو زرنېو يې غوړوي اودهغوی تپ بياوچ شي بل ځای ته سرايت نکوي توربخون رنګ اوبدبوی لري ﴿ وَتَغْشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴾ اوپټ به کړي مخونه ددوی اور(ددوزخ) ځکه چي دوی به مکراو تکبرکاوو ﴿ لِيَجْزِيَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ﴾ لپاره ددې چي جزاء ورکړي الله هريوه نفس ته (جزاء) دهغه عمل چي کړی يې دی (نېکوکارته نېکي اوګنهګارته دګناه جزاء ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴾ بېشکه الله ډېرژردی حساب دده) خوراژربه په لنډه موده کي له ټولو خلکو سره حساب وکړي لکه چي په اثرکي راځي ددنيادورځي په نيمايې ورځ موده کي به يې حساب بشپړشي ﴿ هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ ﴾ دغه قرآن خبررسونه ده لپاره دخلکو(هغه که پېريان اوکه انسانان دي ددوی دخبرتيالپاره قرآن نازل شوی چي ډول ډول پندونه اوعبرتونه پکې دي ﴿ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ ﴾ اولپاره ددې چي ووېرولی شي (له عذابه دالله نه) اوده نصيحت ومني) ﴿ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ﴾ اوچي دوی په دې وپوهېږي چي بېشکه خبره هم داده چي الله واحدمعبوددی يعني ترڅودوی ته په څرګنده دلائلو وبرېښي چي الله پاک واحد،أحد اوفرد، صمددی ﴿ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ اوچي پندواخلي ترې خاوندان د(سليمو) عقلونو(هغه چي صالح اونېکمرغه انسانان دي

بلاغت:

پدې مبارکوآيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته په لاندي ډول دي:

۱ – بليغه تشبيه پدې کلام کي: ﴿ وَأَفْـِٔدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴾ دتشبيه ادات اودشبه وجه حذف شوي يعني زړونه يې لکه هواء له هرڅه نه تش دي نوبليغه تشبيه ده.

۲- پدې کلام کي چي: ﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ ﴾ دلتهٔ ايجاز بالحذف راغلی ځکه داسي ندي ذکرشوي چي (والسماوات غيرالسماوات) اوپخواني تبديل ورباندي دلالت کوي.

۳ – دطباق صنعت پدې کلماتوکي چي: ﴿ تَبِعَنِى ..... عَصَانِى ﴾ او ﴿ نُخْفِى ... نُعْلِنُ ﴾ او ﴿ ٱلْأَرْضِ ... ٱلسَّمَآءِ ﴾ کي راغلی دی.

۴ –اشتقاقي جناس لکه پدې جملوکي ﴿ مَكَرُوا۟ مَكْرَهُمْ ﴾ .

۵-له مضارع څخه ماضي ته عدول چي پدې كلمه كي راغلى ﴿ وَبَرَزُواْ ﴾ د(يتبرزون) پرځاى دى ترڅو په يقيني وقوع باندي دلالت وكړي لكه چي بل ځاى هم الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ ﴾ لكه چي واقع شوي او په ماضي باندي ورڅخه اخبار كول كېږي.

۶-داستعارې صنعت چي الله فرمايلي: ﴿ فَٱجْعَلْ أَفْـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ ﴾ شريف رضي وايې چي دغه داستعارې له محاسنو څخه دى او د(هُوِىَ) حقيقت خوله لوړ څخه خوړ ته راكوزېدلو ته وايه شي او مراد ځني دا چي په منډه او مينه ورته رادرومي لكه چي له ميني ورته را الوزي او كه يې داسي فرمايلي واى چي: (تحن اليهم) نو دومره ښكلا لكه چي په ﴿ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ ﴾ كي شته نه راتله ځكه (حنين) كله دهغه چاهم وي چي په مكان كي مقيم وي(۱)

لطيفه:

دلته چي الله پاک (البلد) معرفه راووړ چي: ﴿ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا ﴾ او په البقرة سورت كي يې نكره ذكر كړچي: ﴿ ٱجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا ﴾ حكمت پكي دادى چي په البقره كي ترجوړېدلو (بنآء) دمخه دعاوه نويې لومړى دادعاوكړه چي ښار وي او بيا دامن ځاى خودلته يې بياله جوړېدلو وروسته دعاده چي دغه ځاى د امن او استقرار كړه (۲) او هم دغه ددواړو آيتونو ترمينځ دتوپير رازدى. اللهم ارزقنا فهم اسرار كتابک العظيم ووفقنا لاقامة بيتک الكريم آمين

دالله په مرسته دابراهيم دسورت تفسير بشپړ شو.

***

(۱) تلخيص البيان ۱۸۴

(۲) حاشية الصاوى على الجلالين ۲ / ۲۸۲

(۱۵) دالحجر سورت مکي اونه نوي آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

* دالحجر سورت له مکي سورتونو څخه يو دی هغه چي داسلامي عقيدې بنستيزي موخي (أهداف) څرګندوي چي وحدانيت ، نبوت اوبعث اوجزاء دی دسورت محور دسرغړونکو دروغ ګڼونکو اومجرمانو چي دتاريخ په اوږدوکي راغلي په انجام راڅرخي څکه نودسورت پيل په وېرونه اوتهديد کېږي چي دهيبت اوترهي سيوری ورباندي پروت دی فرمايي: ﴿ رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ كَانُوا۟ مُسْلِمِينَ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا۟ وَيَتَمَتَّعُوا۟ وَيُلْهِهِمُ ٱلْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴾ دآيتونو ترپايه

* سورت دانبياوودعوت اودهغوی په وړاندي دبدمرغه کسانو اوګمراهانو دريغ رااخلي چي هيڅ نبي ندی راغلی مګردتېرګمراهانوېې ورباندي ملنډي وهلي دي له شيخ الانبياء حضرت نوح عليه السلام څخه راونيسه ترخاتم الانبياء محمدصلی الله عليه وسلم پوری اوګواکي دغه دمکذبينو په هروخت اوزمانه کي تېره لاره ده ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى شِيَعِ ٱلْأَوَّلِينَ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾.

* وروسته سورت هغه څرګندي نښي چي ددغه کون په پانه کي شته اودمبدع اومقتدرذات په جلال اوعظمت ګواهي ورکوي بيانوي ړومبی دآسمان منظر، بيادځمکي، وروستهٔ دښېرازه کونکو بادونو بيادژوند اومرګ،وروسته دحشر او نشر لکه چي ټول دالله په عظمت ، جلال اوکبرياګويادي اوپه وحدانيت اوقدرت يې اقرار کوي ﴿ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ وَحَفِظْنَٰهَا مِن كُلِّ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴾ دآيتونو ترپايه

* دلته سورت لويهٔ دبشريت کيسه رااخلي دهدايت اوضلالت کيسه چي دحضرت آدم عليه السلام په پيدايښت اودهغه دسرکښ اومخکښ دښمن ابليس لعين اوهغه چي دپرښتو دسجدې کولو آدم ته امرشوی اوابليس سرغړونه کړي اودالله په امرېې اعتراض کړی اودآدم اولادته يې ګوت څنډنه کړي بيانوي چي: ﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴾ ترپايه.

* دآدم عليه السلام له کيسې څخه سورت دنورو انبياوو کيسوته لېږدي او رسول الله ﷺ ته داډينه ورکوي دهغه زړه ته ډلاسانه اوتثبيت وربښي چي ناهيلي ورته مخه نکړي نو دحضرت لوط عليه السلام ، شعيب عليه السلام ، صالح عليه السلام کيسې اوڅه چي دهغوی قومونوته وروپېښ شوي بيانوي.

* په پای کي سورت رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دسترنعمت دپېرزو کولو يادونه کوي چي الله پاک دغه مجيد معجزکتاب ورته رالستولی او ورته داسي مارښنه کوي چي له صبرڅخه کار واخلي دمشرکانو له خوا په تکاليفو دي زغم ولري اوددې زېری ورکوي چي دالله جل جلاله مرسته او نصرت له ده اومؤمنانوسره رانژدې دی فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِى وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴾ دسورت ترپايه پوري

تسميه اونومول يې:

سورة الحجرېې ځکه بولي چې الله پاک پدې سورت کې هغه څه یادکړي چې صالح علیه السلام قوم ته
وريپښ شوي اودغه دثمودیانوقبیله وه ددوې مېشت ځای (حجروو) چې دمدینې اوشام ترمینځ دی
دوی ډېرزورور خلک وو له غرونوڅخه به یې پرښې سکښتلې اوکوټې به یې ښکې جوړولې چې پکې و
اوسي لکه چې دوی انګیرله پدې ژوندکي به تل ترتله وي، ورته مرګ اوفنانه راځي دوی هم داسي
ګلالي ښغمه وو چې دعذاب چيغه دسباوون په وخت کې ورته راغله ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ ﴾ .
الله تعالی فرمايې:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓر ۚ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ وَقُرْءَانٍ مُّبِينٍ ﴿١﴾ رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ كَانُوا۟ مُسْلِمِينَ ﴿٢﴾ ذَرْهُمْ
يَأْكُلُوا۟ وَيَتَمَتَّعُوا۟ وَيُلْهِهِمُ ٱلْأَمَلُ ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤﴾ مَّا
تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴿٥﴾ وَقَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِى نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴿٦﴾ لَّوْ مَا تَأْتِينَا
بِٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٧﴾ مَا نُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَمَا كَانُوٓا۟ إِذًا مُّنظَرِينَ ﴿٨﴾ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا
ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى شِيَعِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١١﴾ كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُۥ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا
عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّوا۟ فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوٓا۟ إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَٰرُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ جَعَلْنَا
فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٦﴾ وَحَفِظْنَٰهَا مِن كُلِّ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴿١٧﴾ إِلَّا مَنِ ٱسْتَرَقَ ٱلسَّمْعَ فَأَتْبَعَهُۥ
شِهَابٌ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا
مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢١﴾ وَأَرْسَلْنَا
ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ﴿٢٢﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْىِۦ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ
ٱلْوَٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾
وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾ وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ
إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾
فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٣٠﴾ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ يَٰٓإِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ
مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُۥ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ
﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ ٱللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٣٥﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾

إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ
مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَىَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ عِبَادِى لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ
ٱلْغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَٰبٍ لِّكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿٤٤﴾

الحجر ۱-۴۴

لغتونه:

(ربما) (ربّ) دتقليل لپاره او(ما) نكره موصوفه ده (لوما) لكه (لولا) او(هلا) غوندي دتحضيض اوهڅوني لپاره ده (شيع) دشيعة جمع اوتولی (فرقې) ته وايې (نسلكه) موږ پكي داخلېږو(سلک) يوشی په بل كي دننې كولوته وايې (يعرجون) لوړخېژي له (عروج) څخه اخيستل شوی دی (سكِرت) منع شوي (بروجا) دبرج جمع اودستورومنزلونوته بروج وايې اصل يې له (برج) يعني څرګندېدلوڅخه اخيستل شوی وايې چي (تبرج المرأة) كله چي زينت څرګند كړي (لواقح) د(لاقح) جمع اوهغوبادونو ته ويل كېږي چي باران راولي اوهغه بادونه چي خيرپكي نه وي (الريح العقيم) يې بولي يعني شنډبادونه او دونولپاره چي (ملقحة) راځي هغه بادونه دي چي وني ښېرازه (بارداره) كوي (صلصال) هغه وچه خټه چي غږ ځني خېژي (حما) توره خته (مسنون) بوی لرونكي متغيره فراء وايې چي: دغه متغيرته وايې اوله (سننت الحجر) څخه اخيستل شوي كله چي وګرول شي (السموم) تېزهلاكوني بادته وايې.

دنزول سبب:

له ابن عباس رضي الله عنهماڅخه روايت شوی، وايې چي: يوي مېرمنې په رسول الله ﷺ پسي لمونځ كاوودزيات حسن اوښكلاڅښتنه وه نوځيني خلكوكوښښ كاووچي په لومړني صف كي ځای ونيسي ترڅوچي هغه ونه ويني اوځينونورو بيادوروستي صف زيار يوست اوكله چي په ركوع شول نودبغل لاندي به يې ورته كتل نوالله جل جلاله دغه آيت شريف نازل كړچي ﴿وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ﴾ (۱)

تفسير:

﴿ الٓر ﴾ پدې كي دقرآنكريم اعجازته اشاره ده چي دغه عجيب كتاب دالله جل جلاله كلام اوله همداسي هجايي حروفو اوتورو څخه اخيستل شوی چي تاسوهم ورباندي ګړېږي او الف، لام، راء دي ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ دغه (چي وروسته راځي) آيتونه دكتاب دي هغه چي په فصاحت اوبلاغت كي بشپړ اوله بشري توان څخه پورته دی ﴿ وَقُرْءَانٍ مُّبِينٍ ﴾ اوڅرګند قرآن دی عظيم الشان دی چي خلل اواضطراب ورته لاره نه لري ﴿ رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ دېرځله به آرزوكوي هغه كسان چي كافران

---
(۱) اسباب النزول ۱۸۵ والقرطبی ۱/ ۱۹

شوي دي ﴿ لَوْ كَانُوا۟ مُسْلِمِينَ ﴾ کاشکي دوی مؤمنان وای (په دنیاکي) دا په هغه وخت کي چي دآخرت کړاوونه خپل احوال او دمؤمنانو حال ويني ﴿ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا۟ وَيَتَمَتَّعُوا۟ ﴾ دوی پرېږده ای (محمده !) چي وخوري (لکه چارپایان) اوګټي اخلي (په فاني دنیاکي) ﴿ وَيُلْهِهِمُ ٱلْأَمَلُ ﴾ او مشغول کړي دوی اوږد امید(له سوچ کولو دالله له عذاب څخه په نجات موندلو باندي ﴿ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴾ نوژر دی چي دوی به پوه شي (په خپل عاقبت) کله چي قیامت ويني او دخپل عمل وبال وګټي پدې کي ددوی لپاره وعید او تهدید نغښتی دی ﴿ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ ﴾ اوندی هلاک کړی موږ له (أهل) د هيڅ کلي (له هغو کليونه چي دالله دپيغمبرانو تکذيب يې کاوو ﴿ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُومٌ ﴾ مګرخو لپاره د(هلاک ددوی به یو معلوم وخت وو ﴿ مَّا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا ﴾ نه ړومبی کېږي هيڅ أمت له وخته د هلاک خپل ﴿ وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴾ اونه وروسته کېږي ؛ ابن کثیر وايې چي: پدې کي دا هل مکې لپاره تنبيه ده او ورته لاربنوونه کوي چي خپل ناوړه کړه وړه دي پرېږدي عناد او الحاد دي نه کوي ځکه چي د هلاکت موجب دی ⁽¹⁾ ﴿ وَقَالُوا۟ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِى نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلذِّكْرُ ﴾ (اوويل: دوی (کفارو محمدته) ای هغه سړيه چي ورباندي ذکر نازل شوی دی) يعني دمکې کفارو به محمدصلى الله عليه وسلم ته دملنډو او استهزآء په ډول ويل: ای هغه سړيه چي ته ګمان کوي او دعوی لرې چي پرتا قرآن نازل شوی دی ﴿ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴾ بېشکه ته خامخا لېونی يې ! دلته يې خبرپه اِن اولام سره مؤکدراوړل ترڅو دمحمدصلى الله عليه وسلم په سپکاوي او ملنډوکي يې مبالغه څرګنده شوي وي (العياذبالله) ﴿ لَّوْ مَا تَأْتِينَا بِٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴾ ولي نه راولې موږ ته ملائکي (ترڅو ستا په رسالت شاهدي ووايې که چېري ته پخپله دعوی کي رښتونی يې چي پيغمبريې الله پاک ددوی په رد کي وفرمایل: ﴿ مَا نُنَزِّلُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ چي نه نازلوو موږ ملائکي مګرپه حق (عذاب) سره (دهغه چالپاره چي دتعذيب او هلاک اراده يې وکړو) ﴿ وَمَا كَانُوٓا۟ إِذًا مُّنظَرِينَ ﴾ اونه به وي پدې وخت کي دوی ته مهلت ورکړل شوی (په تاخيرسره او غرض دلته دادی چي دالله جل جلاله عادت پدې جاري شوی دی چي الله پاک ملائکي نه نازلوي مګردهغه چالپاره چي یومخ ايزه يې دهلاکت اراده ورته شوي وي خودغه له بېخه ايستل په هلاک سره يې دمحمدي أمت لپاره اراده نشته ځکه الله پدې علم لري چي ددوی له پشته به ډاسی کسان پيداکېږي چي دالله جل جلاله عبادت به کوي نو پدې کي ددوی د وړاندېز ځواب راغلی دی ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَـٰفِظُونَ ﴾ بېشکه موږ پخپله نازل کړی دی ذکر(پند قرآن په تاباندي ای محمد !) او بېشکه موږ خامخا دده ساتونکي يو (له تغيير او تبديل نه . مفسرين کرام وايې چي الله پاک دقرآنکريم دساتني تکفل په

⁽¹⁾ المختصر ۲ / ۳۰۸

خپله اخيستى نو هيڅوک نشي کولای چې پکي زيادت او نقصان وکړي او يا هم پکي تغير او تبديل راولي لکه چې په نورو آسماني کتابونو کي يې راوړی وو ځکه د هغوی ساتنه يې همغو اُمتونو ته حواله کړې وه چې الله فرمايلي: ﴿ بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ وګوره د دې آيت او هغه آيت ترمينځ څومره فرق دی؟ دلته الله فرمايي ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ چې دلته يې الله پخپله ساتنه کوي او هلته يې دوی ته سپارلې هغوی هم پکي تبديل او تغير راوستی دی ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى شِيَعِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ او خامخا په تحقيق لېږلي وو موږ (رسولان) په خواله تا (ای محمده) په ټوليو د پخوانيو (اُمتونو) کي ﴿ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ او نه به راتو هغوی ته هيڅ پيغمبر مګر حال دا چې وو به دوی (د کبر او عناده) په هغه پوري به يې مسخرې کولې (پدې کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره د ډاډينه او تسلا ده او معنا دا چې لکه څرنګه چې په تا پسي دغه مشرکان ملنډې وهي هغسي په پخوانيو پيغمبرانو باندي هم ملنډې وهل شوي دي نو ته مه خفه کېږه ! ﴿ كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُۥ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ هم داسي ننې باسو (باطل ، ضلالت او تمسخر په انبياوو) په زړونو د مجرمينو (د زماني ستا هم لکه چې ننې ايستلی مو وو د پخوا زماني د کفارو په زړونو کي چې په انبياوو به يې تمسخر کاوو ﴿ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ چې ايمان نه راوړي په دغه (قرآن) او په تحقيق تېره شوي ده لاره د الله په (هلاکت د کفارو) د رومبنيو (نو دغه د زماني کفار هم هلاک ته خوراتږدې دي وروسته بيا الله جل جلاله فرمايي چې د مکې کفارو ته د ايماني دلائلو کمی نشته خو دوی عناد او تکبر کوي او پخپله ګمراهي کي غوپه دي فرمايي: ﴿ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّوا۟ فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴾ او که پرانستلی وی موږ په دغو (کفارو) دروازه له آسمانه پس تل ګرزېدلي وای دوی په هغه دروازه کي چې ختلای آسمان ته (خوبې پربنتې او ملکوت ليدلي وای ﴿ لَقَالُوٓا۟ إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَٰرُنَا ﴾ نو خامخا به يې (له ډېره عناده) ويلي وای بېشکه هم دا خبره ده چې تړلي شوي دي سترګي زموږ(او موږ غولېدلي يو په دې ختلو او پورته کېدلو باندي ﴿ بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴾ بلکه موږ يو قوم يو چې جادو راباندي شوی دی (د دوی له خوا) يعني پر موږ محمد کوډې کړي او هسي راته څرګند کړي چې دغه له سحرنه پرته بل هيڅ نه دی. امام رازي وايي: که مشرکان تل په دغو زينو آسمان ته ختلای او د الله ملکوت او سلطان يې پخپلو سترګو ليدلای چې څرنګه پربنتې د الله په عبادت کي لګيا او د الله نه وېرېږي خو بيا به هم دوی په دغه رؤيت کي شک او شبه کوله او په کفر او عناد کي به پاتي کېدل لکه چې د نورو ټولو معجزاتو څخه منکر شوي دي لکه د سپوږمۍ چاودېدل او د معجز قرآن نازلېدل هغه چې انسانان او پېريانان يې په مثل يو وړوکی سورت هم راوړلای نشي([1]) بيا الله تعالى پخپل قدرت او وحدانيت دلائل راوړي ، فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا ﴾ او خامخا په تحقيق سره پيدا کړي دي موږ په آسمان کي برجونه (چې هلته پکي (افلاک او

([1]) للفخر الرازي ۱۹ / ۱۶۷

كواكب ګرزي) ﴿ وَزَيَّنَّـٰهَا لِلنَّـٰظِرِينَ ﴾ او ښايسته کړي دي موږ دغه (آسمانونه په ستورو) لپاره دکتونکو (چي ور باندي خوشحال شي) ﴿ وَحَفِظْنَـٰهَا مِن كُلِّ شَيْطَـٰنٍ رَّجِيمٍ ﴾ او ساتلی دی موږ دغه (آسمان ددنیا)له هره شیطانه ویشتلی شوي (رټلی شوي دالله له رحمته) ﴿ إِلَّا مَنِ ٱسْتَرَقَ ٱلسَّمْعَ فَأَتْبَعَهُۥ شِهَابٌ مُّبِينٌ ﴾ لېکن هغه (شیطان ختونکی آسمان ته) چي غلا کړي (خبره او رېدلي شوي له (ملائکو) پس وروسې شي ښکاره ستوری (نوپخپلي لمبې سره یې وسوځوي) ﴿ وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَـٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ ﴾ او ځمکه غځولي (غوړولي) ده موږ دغه ځمکه او غورځولي وه موږ په دغه (ځمکه) کي غرونه (مضبوط) (١) ﴿ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْزُونٍ ﴾ او زرغون کړي دي موږ پکي له هرشي اندازه کړی شوي څخه (دحکمت او تقدیرپه باریکه کچه سره له مېوو ، کښتو او هرڅېزنه ﴿ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَـٰيِشَ ﴾ او پیدا کړي مو دي تاسي لره پدې (ځمکه) کي (اسباب د) دمعیشت (له خوراک ،څښاک نه) ﴿ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ﴾ او هغه شیان چي نه یاست تاسي هغوی ته روزي ورکونکي لکه عیال اولاد او حیوانات او نور چي موږ یې خوراک پیدا کوو ، تاسي نه یاست) ﴿ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ ﴾ (او نشته هیڅ څیز مګر زموږ په نزددي دهغه خزانې) یعني نشته هیڅ روزي دبندګانو او منافع دهغوی مګر له موږ سره یې خزانې او ګودامونه دي ﴿ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴾ او نه نازلوو هغه شی مګر په معلومي اندازې سره (چي دخلګو اړتیا او مصالح مو څنګه چي غواړو او اراده لرو په نظر کي نیولي دي) ﴿ وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَـٰحَ لَوَٰقِحَ ﴾ او رالېږلي دي موږ بادونه بلاربوونکي یعني وریځ ښېرازه کړي او باران واوروي وني ښېرازه کړي او پاني ، او ښکي وغوړوي نوباد ته ځکه بلاربونکی وویل شو ﴿ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَـٰكُمُوهُ ﴾ (پس نازله کړي دي اوبه له آسمان څخه نو دروڅښلې موږ تاسي ته دغه اوبه)یعني موږ له آسمانه خوړې اوبه تاسي ته راولېږلې چي ستاسو او حیواناتو دڅښاک او د ځمکو دخړوبولو لپاره مو په کار شي ﴿ وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَـٰزِنِينَ ﴾ (او نه یې تاسي دغو اوبو لره خزانه کونکي ، ساتونکي) یعني تاسو ددغو اوبو په خزانه کولو او ساتلو توان نلرئ بلکه موږ یې پخپل قدرت درته زېرمه کوو چي په کوهیو ، خاګانو او رودونو کي وي او که موږ وغواړو دغه اوبه ژوري دځمکي تل ته ننې باسو او تاسو به له تندي ومرئ لکه چي الله فرمایې: ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍ ﴾ الملك: ٣٠

---

(١) امام فخررازي وایې: چي دغه ځمکه خوراستره ګڼه ده او دستري کړې هري کوچنۍ ټوټې ته چي یې وګورې لکه مستوي سطح غوندي څرګندېږي نودځمکي دغوړولو په هکله کوم اشکال نه راځي او پدې باندي دالله جل جلاله داقول هم دلیل کېدای شي چي الله فرمایې: ﴿ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴾ النبا: ٧ غرونه یې اوتاد (مېخونه) وبلل سره له دې چي دغرونو ستري مستوي سطحي شته دلته دځمکې په هکله هم داسي ده. الفخر الرازي ١٩/ ١٧٠

﴿ وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴾ (او بېشکه موږ خامخا هم راژوندي کول او هم وژل کوو او هم داموږ وارث پاتي کېدونکي يو) يعني ژوند او مرګ زموږ په لاس کي دی او موږ د خلګو له فنا کېدلو څخه وروسته پاتي کېدونکي او دټولو راتګ بيرته موږته دی ﴿ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴾ (او خامخا په تحقيق معلوم دي موږ ته ړومبني له تاسي او خامخا په تحقيق معلوم دي موږ ته وروستني خلګ) يعني زموږ علم په ټولو خلګو که مړه او که ژوندي دي محيط دی. ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي: (مستقدمين) ټول هغه کسان چي د آدم عليه السلام له وخته مړه شوي او مستأخرين بيا هغه کسان چي ژوندي او د قيامت تر ورځي پوري راتلونکي دي (۱) مجاهد رحمه الله وايي چي: مستقدمين پخواني اُمتونه او مستأخرين محمدي اُمت غرض دا چي د الله جل جلاله علم او پوهه په پخوانيو اُو وروستنيو باندي احاطه کړي د بندګانو احوال له الله څخه پټ او الونيانه دي او دغه ګواکي د الله په بشپړ علم باندي وروسته له بشپړ قدرت څخه دليل نيول دي ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ﴾ او بېشکه رب ستا هم دی به را ټولوي دوی (په محشر کي د حساب او جزاء لپاره) ﴿ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴾ بېشکه چي دغه الله ښه حکمت والا دی (په خپل صنعت کي) ښه علم والا دی (په خپل مخلوق باندي کله چي الله مرګ او فنا را وروړه بعث او جزا يې ذکر کړه نو دوی يې د خپلي مبدأ او تکوين خواته متوجه کړل چي له يوه ذات څخه يې پنځولي دي تر څو دې لوري اشاره وکړي چي په پيدا اينبت باندي قادر ذات په فنا او اعاده هم توان لري او بيا يې د ابليس لعين د ښمني چي د دوی له پلار ه آدم سره يې کړي ورپه ياد کړه تر څو يې ځني وېروي ويې فرمايل: ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴾ او خامخا په تحقيق موږ پيدا کړی دی انسان له وچي ختي چي کړنګېده (کله چي وګرول شي لکه کودري) له توري ختي څسا شوي نه ﴿ وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴾ (او د پېريانو پلار موږ پخوا له انسانه له بې لوګي اوره پيدا کړی دی) يعني تر آدم ړومبی موږ (جان) يعني شيطانان او د دوی رئيس ابليس له هغه سخته اوره پيدا کړي هغه وژونکی اور. مفسرين کرام وايي چي: له (جان) څخه مراد دلته ابليس دی د پېريانانو پلار ځکه له هغه څخه پېريانان زېږېدلي نو هغه يې پلار دی لکه چي آدم د انسان پلار دی ﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴾ (او ياد کړه) هغه وخت چي وويل: رب ستا ملائکو ته چي بېشکه زه پيدا کونکی يم ديوه بشر له کودرو کړنګېدونکو وچو څخه چي (جوړ شوي دي) له توري ختي خوساشوي څخه) يعني او ياد کړه ای محمده! وخت دو يناد رب ستا چي پرښتوته يې هسي ويل. ابن کثير وايي چي: پدې کي ددې څرګندونه ده چي د آدم عليه السلام يادونه يې ملائکو ته پخوا له پيدا اينبت دده څخه کړي او دهغه تشريف يې پدې فرمايلی چي پرښتوته يې دده په وړاندي د سجدې کولو امر کړی

(۱) دغه د طبري غوره دی او آيت په اته ډوله تأويل سره راغلی دی چي په بحر کي شته او بيا يې ويلي چي دغه تمثيل دی حصر نه دی. البحر ۴۵۱/۵

دی اوهمداسي چي ابليس دحسد اوکفرله مخي له سجدې کولوڅخه ممانعت وکړ(١)﴿ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ ﴾نوکله چي برابرمي کړ دغه بشر(اوکامل انسان معتدل الاعضآء مي کړ) ﴿ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴾ اوپومي کړپه ده کي روح خپل نوپرېوزئ تاسي ده ته پدې حال کي چي سجده کونکي يئ؛ په سجده دتکريم اوتحيې سره نه دعبادت سجده مفسرين وايې چي: دروح نسبت الله ته دشرافت اوتکريم له لوري دی لکه چي وايې: (بيت الله، ناقة الله، شهر الله) اودغه دملک نسبت خپل مالک ته دی اودصنعت نسبت خپل صانع ته دی ﴿ فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴾ نوسجده وکړه ملائکوټولو ددوی تمامو(هيچاهم ممانعت ونکړ) ﴿ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾ مګرخوابليس چي منع يې راوړه له دې نه چي شي دی سره له سجده کونکو(آدم ته) استثناء منقطع دی ځکه ابليس خوله ملائکوڅخه نه دی(٢) هغه له اوره پيداشوی اودوی له نورڅخه دوی هغه څوک دي چي دالله له امرڅخه سرغړونه نکوي اوهغه وکړه نويقيني ده چي شيطان ددوی له ډلي څخه نه دی اوځرنګه چي دی دهغوی دصفونو په مينځ کي وو ځکه خطاب ورته راغی ﴿ قَالَ يَٰٓإِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾ (وفرمايل (الله) ای ابليسه! څه (مانع دی) تالره په دې کي) چي نه شوې ته سره له سجده کونکو؟) اوڅه شي تاته دممانعت بلنه درکړه ؟ دغه استفهام د توبيخ اوتبکيت لپاره دی ﴿ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُۥ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴾ (وويل (ابليس) چي زه نه يم (لائق) ددې کارچي سجده وکړم (داسي) بشرته چي تاپيداکړی دی له کودرو ګړنګېدونکو وچ له توري ختي څخه شوي) هغه له ختي اوزه له اوره يم نوځرنګه ستردوړوکي اوبهتر د کهترلپاره سرپه سجده شي ؟ دالله دښمن خپل ځان تردې لوړ وګاڼه چي آدم ته سجده وکړي اودده کبراورخې (کينې) هغه دالله جل جلاله دامرله امتثال اوپرځای کولو څخه راوګرزاوو ﴿ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴾ نو وفرمايل (الله ابليس ته) نو ووزه ته له (آسمانه) نوبېشکه ته رټلی شوی يې (زماله رحمت نه) ﴿ وَإِنَّ عَلَيْكَ ٱللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾ نوبېشکه پرتاباندي دي لعنت وي تر وورځي دجزاء پوري ﴿ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴾ وويل: (ابليس لعين) ای زماربه ! پس مهلت راکړه ماته ترهغې ورځي پوري چي بياپورته کولی شي (خلګ) ﴿ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴾ وفرمايل: (الله) نوبېشکه چي ته له مهلت ورکول شويوڅخه يې ترهغې ورځي دمعلوم وخت (قيامت) پوري (چي دخلګومرګ راځي. قرطبي وايې چي شيطان ځکه

(١) المختصر٢ /٢١١

(٢) موږپدې هکله په سورة البقره اوهم داسي په الاعراف کي تحقيق اوخبرنه کړي اودحسن بصري رحمه الله وينامو پخوالاراوړي چي هغه وايې: زمادي په الله سوګندوي که به ابليس دسترګوپه رپ کي هم دملائکوڅخه شوی وي زموږ کتاب النبوة والانبيآء ١٢٨ مخ وګورئ هلته بشپړبيان شته.

ترقيامته پورې مهلت وغوښت چي ونه مري ځکه چي له بعث نه وروسته مرګ هډو نشته نوالله پاک هغه ته دخلکو ترمړيني پورې وخت ورکړنو به ابليس مړشي او بيرته به راپاڅي (١)﴿ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ وويل: (ابليس) اى زمارب قسم دى مالره په ګمراه کولو دتامالره چي خامخابنايسته به کړم هرومرو ګناهونه دوى ته په ځمکه کي يعني دآدم اولادې ته به ګناهونه ښايسته کړم ﴿ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ اوخامخازه به هرومرو ګمراهان کړم دوى ټول (له سمي لاري) ﴿ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ مګرخو هغه بندګان ستاله دوى څخه چي(له ګناهونو) خالص کړى شوي دي (ستادطاعت اورضالپاره زماپه هغوى باندي دګمراه کولو وس نه رسېږي ﴿ قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴾ نو وفرمايل: (الله) دغه لاره ده ترما پورې برابره (هغه داچي:) ﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ﴾ بېشکه خاص بندګان زما(مؤمنان) چي دي تاته پردوى باندي هيڅ تسلط نشته (چي ګمراهان يې کړې) ﴿ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ ﴾ (مګرهغه څوک چي متابعت کوي ستاله ګمراهانو) دلته استثناء منقطع ده يعني (غاوين) له مخلصومؤمنانوڅخه نه دي ځکه دي ورباندي زور رسېږي؛ دشيطان په هغوخلکوچي له الله نه ليرې او تنښتېدلي دي زور بردى اولېوه هغه مېږه خوري چي ليرې اوګوښه ځي ﴿ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ نوبېشکه چي دوزخ خامخاځاى دوعدې ددغوټولو تابعانوستادى ﴿ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَٰبٍ لِّكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴾ چي دي دوزخ لره اوه دروازې دي دهري دروازې به له دغوګمراهانوڅخه معلومه ونډه وي؛ يعني ددوزخ اوه دروازې دي، دوى به له دې ټولو ورته رادرومي ځکه چي دوى زيات دي اوله علي رضى الله عنه نه ثابته شوي چي دوزخ پوړ پوړدى اوځيني يې ترځينوسخت اوتکليفي دي. ابن کثيروايې چي: دوى به دعمل په تله ټول له خپلي خپلي دروازې دوزخ ته ورلوېږي اوهلته به دخپل عمل په اندازه ددوزخوپه اطباقوکي پراته وي(٢)

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان ښکلاوي شته هغه دادي:

١- مرسل مجازلکه: ﴿ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ ﴾ چي دلته ذکردمحل اومرادځني حال دى.

٢- تخيليه استعاره لکه پدې قول دالله کي چي راځي ﴿ عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ ﴾ دغه دالله جل جلاله دبشپړقدرت لپاره تمثيل دى دالله قدرت يې په هرڅه باندي له خوندي خزانوسره مشابه کړچي دهرڅه راايستل له حکمت سره صورت نيسي او داهم داستعارې په ډول.

٣- اشتقاقي جناس لکه: ﴿ خَزَآئِنُهُۥ ﴾ ﴿ بِخَٰزِنِينَ ﴾.

(١) القرطبي ١٠/٢٧

(٢) المختصر ٢/٣١٢

۴-سجع کله چي په اورېدلو کي خوراتاثيرلري لکه: ﴿ ٱلْمُجْرِمِينَ ... ٱلْأَوَّلِينَ ... ٱلْمُنظَرِينَ ﴾

لطيفه:

وايي چي يوتن غوښتل ټول اديان وازمويي چي کوم يودين ښه اوسم دی نويې تورات ، انجيل اوقرآن ته مخه کړه هغه پخپله خطاط وو له دريوسره کتابونوڅخه يې يوه يوه نسخه وليکله ډېره ښايسته خوېکي زياتوالی اوکمبود يې هم وکړبيايې تورات ديهودانوعلماوو ته تقديم کړهغوی چي واړاوو ، راواړاوو نويې ده ته مال دولت ورکړ بيايې انجيل قسيسانوته وړاندي کړ دهغوی هم خوښ شو اوپه ډېرو روپو يې څني رانيول ، وروسته يې قرآنکريم دمسلمانانوسپين روبوعالمانوته وښودل هغوی وکتل نويې زياتوالی اوکمبود پکي وموندل دی يې وتړل اوبيايې جوړ وډبول پاچاته يې لاس ترلی بوت اوهغه يې هم په وژلو حکم صادرکړ اوکله چي يې واژو نواسلام يې راووړ اوخپله کيسه يې ورته واوروله نوپدې وپوهېدوچي اسلام حق دين دی (۱)

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾ ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِى صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَٰنًا
عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٧﴾ لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾ ۞ نَبِّئْ عِبَادِىٓ أَنِّىٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِى هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾ وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٥١﴾ إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَقَالُوا۟ سَلَٰمًا
قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا۟ لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِى عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِىَ ٱلْكِبَرُ فَبِمَ
تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُوا۟ بَشَّرْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْقَٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا
ٱلضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا
لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَآ ۙ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ
إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُوا۟ بَلْ جِئْنَٰكَ بِمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٦٣﴾ وَأَتَيْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٦٤﴾
فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ وَٱتَّبِعْ أَدْبَٰرَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَٱمْضُوا۟ حَيْثُ تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ
ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ أَهْلُ ٱلْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِى فَلَا
تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓا۟ أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىٓ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ
﴿٧١﴾ لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِى سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٢﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً
مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾ وَإِن

(۱) تفسير القرطبي ۱۰/۶

كَانَ أَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ لَظَٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ ٱلْحِجْرِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾
وَءَاتَيْنَٰهُمْ ءَايَٰتِنَا فَكَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوا۟ يَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ﴿٨٢﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ
﴿٨٣﴾ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ ۖ
فَٱصْفَحِ ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِى وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾
لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ إِنِّىٓ أَنَا
ٱلنَّذِيرُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ أَنزَلْنَا عَلَى ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾ ٱلَّذِينَ جَعَلُوا۟ ٱلْقُرْءَانَ عِضِينَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ
أَجْمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ فَٱصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾ إِنَّا كَفَيْنَٰكَ ٱلْمُسْتَهْزِءِينَ ﴿٩٥﴾
ٱلَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ
رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٩٨﴾ وَٱعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ ٱلْيَقِينُ ﴿٩٩﴾ الحجر: ٤٥ ـ ٩٩

مناسبت او تړاو:

كله چي الله تعالى د دوزخيانو حال بيان كړنو ورپسې يې د لته د نېكمرغه كسانو جنتيانو ذكر وفرمايو د هغوى نعمتونه يې وشمېرل او بيا يې د ځينو پيغمبرانو كيسې راوړې چي له خپل قوم او تېرسره يې څه حال وو لكه د لوط ، شعيب او صالح عليهم السلام يادونه او دغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره تسليت او داچي د هغوى په پله پل كېږدي او صبر خپل كړي بيا الله رب العالمين د خپل وحدانيت په هكله دلائل څرګند كړل او په پاى كي الله تعالى خپل نازولي استازي ته زېرى وركوي چي د غه دښمنان چي ملنډي وهونكي دي دوى به هلاكېږي.

لغتونه:

(نصب) ستړيا او تكليف (وجلون) وېرېدونكي (الغابرين) په عذاب كي پاتي (القانطين) د ناهيلي بشپړتوب يو مخه ايزه يأس (تفضحون) رسوا كېدل د فضاحت معناده او دادهسي يو خيز څرګندېدلو ته وايې چي له هغه څخه شرم احساس كېږي ويل كېږي سهار رسوا كړ كله چي يې خلكو ته څرګند كړي (لعمرك) د رسول الله په ژوندانه سوګند دى (سَكرتهم) ضلالت او غوايت ته ويل كېږي (يعمهون) له لاربنووني څخه حيران اولالهاند ،وايې چي (عمه) د زړه ړوند والى او (عمى) د ستر ګو ړوندوالي ته وايې (المتوسمين) له توسم څخه اخيستل شوى او علامې ته وايې چي په مطلوب دلالت كوي لكه چي وايې (توسم فيه الخير) يعني خيرپكي ليدلى شي او اصل يې (تثبت) او لكه (تفرس) غوندي دى په حديث شريف كي راځي: (اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظربنور الايمان) د مسلمان له ځيراكتنه ووېرېږئ ځكه هغه د ايمان په روښنايي ليدل كوي(١) (الأيكة) هغه د ډېرو پاڼوتته ونه او جمع يې (أيک) راځي (الحجر) د هغې وادي نوم دى چي ثموديان پكي اوسېدل (عضين) تيت او پرک غړي (اليقين) مرګ ته وايې ځكه چي هغه يقيني دى

(١) رواه الترمذى .

دنزول سبب:

روایت کېږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وخت راووت ویې لیدل چي اصحابان رضوان الله علیهم په خندادي نوبې ورته وویل: آیاتاسو خاندئ پداسي حال کي چي ستاسي په وړاندي جنت او اور دی نو دغه خبره په دوی ډېره سخته شوه نو دا آیت نازل شو: ﴿ نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴾ (۱)

تفسیر: ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴾ بېشکه متقیان (له شرک او کفرنه به په آخرت کي) په جنتونو (ښایسته وو) او چینو (بهېدونکو په اوبو، سلسبیل، شرابو او شاتو) کي وي ﴿ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ ﴾ (او به ویلی شي دوی ته) ننوزئ دغو جنتونو ته په سلامتي له هرآفته پداسي حال کي چي په امن به یې (له مړیني او دنعمت له زوال نه) ﴿ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ ﴾ او وبه باسو (لیري به کړو) هرهغه چي په زړونو د دغو جنتیانو) کي له کیني (حسد او بغض) څخه وي ﴿ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ ﴾ حال دا چي (لکه) وروڼه به وی مخامخ ناست په تختونو باندي یعني دوی به لکه وروڼه غوندي خوښ خوښحاله مخامخ په تختونو ناست وي. مجاهد رَحِمَهُ اللهُ وایي ځیني ددوی دځینو روشاته نه ګوري او دغه به دأنس او اکرام له مخي وي او ابن عباس رضی الله عنهما وایي: چي دوی به د سروزرو په تختونو چي په لعلونو، زبرجد و ملغلرو به ښایسته شوي وی مخامخ یو بل ته ناست وي (۲) ﴿ لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ ﴾ نه به رسېږي دغو (جنتیانو) ته په جنت کي هیڅ قدر تکلیف (او ستړیا) ﴿ وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴾ او نه به وي دوی له دغه جنته ایستلی شوي؛ ددوی نعمتونه به تل ترتله وي ځکه دغه دخوښي او بقا ځای دی ﴿ نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴾ خبر کړه (ای محمده!) بندګان زما (په دې) چي بېشکه همدا زه ښه بخښونکی (دګناهونو) ډېر رحم والایم (هغه چاته چي توبه ګارشي او رجوع وکړي) ﴿ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴾ او (خبر یې کړه پدې چي) زما عذاب هم دغه عذاب ډېر دردناک دی (هغه چا لره چي په ګناهونو اصرار کوي. ابو حیان وایي چي: دغه کلام چي ویې فرمایل ﴿ وَأَنَّ عَذَابِي ﴾ خورا له لطف او مهرباني څخه څرګندونه کوي ځکه هسي یې ونه فرمایل چي: زه دردناک عذاب ورکونکی یم او پدې ګروکي دبښني او مهرباني لوري ته لورونه ده (۳) ﴿ وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ ﴾ (او خبردار کړه دوی له احواله) دمېلمنو دابراهیم) یعني دوی ته خبرور کړه له کیسې دمېلمنو دابراهیم هغه پرښتې چي الله تعالی دلوط علیه السلام دقوم دهلاکت لپاره رااستولي اولس تنه دزلمو ښایسته ځوانانو په شکل وو

(۱) القرطبي ۱۰/۲۴

(۲) زادالمسیر ۴/۴۰۴

(۳) البحر ۵/۴۵۷

له دوى سره يو حضرت جبريل عليه السلام ملګرى وو ﴿ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا ﴾ كله چي ننوتلي دغه پرښتې (په كور) دده (ابراهيم) نوويل: دوى (سلام اچوو موږ په تا) په سلام اچولو سره ﴿ قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ﴾ نو وويل: (ابراهيم كله چي دوى ته يې ډوډۍ وړاندي كړه او ويې نه خوړه) بېشكه موږ له تاسي څخه ويرېدونكي يو ﴿ قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴾ نو وويل: (ملائكو) مه ويرېږه بېشكه چي موږ زېرى كوو تاته په هلک ډېرپوه هوښيار سره (چي خورا زيرک، د پراخ علم خاوند به وي او هغه اسحاق عليه السلام وو) ﴿ قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰ أَن مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴾ وويل ابراهيم آيا زېرى كوئ ماته (په ولد سره) سره له دې چي ماته زوړوالى رسېدلى دى په كوم وجه ماته زېرى راكوئ؟ دغه يې د تعجب او استبعاد په توګه وويل ﴿ قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ الْقَانِطِينَ ﴾ وويل (پرښتو) چي زېرى كړى دى موږ تاته په حقه (رښتيا) سره نو مه كېږه ته د نااُميدانو له ډلي نه (دغه ليري مه بوله) ﴿ قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ ﴾ وويل: (ابراهيم) او څوک دى چي نااُميده كېږي به له رحمته د رب خپل؟ (نه نااُميده كېږي هيڅوک) مګر ګمراهان كافران؛ دلته استفهام انكاري دى يعني د الله له رحمته پرته دهغو لاروركو چي د معرفت او صواب لاره يې وركه كړې وي بل څوک نه نااُميده كېږي او هغه زړه چي په ايمان ودان او له رحمن سره پتلېږوي هيڅكله به مايوسه نشي. بيضاوي وايي چي: د ابراهيم عليه السلام تعجب دعادت له مخي وو، نه دقدرت په هكله څكه چي الله پدې هم قادر دى چي له مور او پلاره پرته ماشوم پيدا كړي نو څرنګه به له زړې ښځي او بوډا سړي څخه ونشي كولاى چي اولاد پيدا كړي؟ څكه يې نو پورتنى ځواب وركړ ﴿ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴾ وويل: (ابراهيم نو نورڅه مقصود دى ستاسي اى رالېږل شويو (پرښتو (بر سېره پردې زېري ؟) ﴿ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴾ نو وويل: (ملائكو چي بېشكه موږ رالېږلى شوي يو (لپاره د هلاكولو) دهغه قوم (دلوط عليه السلام) چي مجرمان دي ﴿ إِلَّا آلَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ مګر آل دلوط چي بېشكه هرو مرو موږ نجات وركونكي يو ټولو ته (له عذابه) ﴿ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا إِنَّهَا لَمِنَ الْغَابِرِينَ ﴾ مګر ښځه د دغه (لوط) موږ مقدر مقرره كړې وه چي بېشكه داله بيرته پاتي كېدونكو څخه ده (په معذبينو كي) قرطبي وايي: الله تعالى د حضرت لوط عليه السلام مېرمن دهغه له آل څخه مستثنى كړه هغه كافره وه نو له كافرانو سره په هلاكت كي يوځاى ملګري شوه [1] ﴿ فَلَمَّا جَاءَ آلَ لُوطٍ الْمُرْسَلُونَ ﴾ نو كله چي راغلل آل دلوط ته (هغه) لېږلي شوي ملائک ﴿ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴾ وويل (لوط) دوى ته بېشكه تاسي يو قوم نا آشنا (زه مو نه پېژنم څه اراده لرئ؟) ﴿ قَالُوا بَلْ جِئْنَاكَ بِمَا

(١) القرطبي ١٠/٣٦

﴿كَانُوا۟ فِيهِ يَمْتَرُونَ﴾ وويل: پرښتو (نه يو موږ ناآشنا) بلکه (ملائک يو) چي راغلي يو په هغه عذاب سره چي وه (ستاقوم چي په هغه (عذاب) کي د راتللو) به يې شک کاوو (کوم چي تاور سره وعده کړې وه) ﴿وَأَتَيْنَـٰكَ بِٱلْحَقِّ وَإِنَّا لَصَـٰدِقُونَ ۝ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ﴾ او راوړې دی موږ تاته حق او بیشکه موږ خامخا صادقان يو نو بوزه عيال خپل په يوه ټوټه د شپې کي (له دې ښاره) ﴿وَٱتَّبِعْ أَدْبَـٰرَهُمْ﴾ او ته (هم ځه) وروسته په دوی پسي (چي ورباندي مطمئن يې) ﴿وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ﴾ اوندی ګوري بیرته له تاسو څخه هيڅ يو (چي ونه ويني هغه سترعذاب او ونه وېرېږئ) ﴿وَٱمْضُوا۟ حَيْثُ تُؤْمَرُونَ﴾ او ځئ تاسي هغه ځای ته چي ورباندي (تاسي ته) حکم شوی دی ابن عباس رضی الله عنه وايي يعني شام ته ﴿وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَـٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ﴾ اووحی کړې وو موږ ده (لوط) ته ددې کارچي بېشکه بېخ ددې کسانو به پرې کړی شي (چي هيڅ يو به پاتي نشي) په داسي حال کي چی دوی په سباکي داخلېږي ﴿وَجَآءَ أَهْلُ ٱلْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ﴾ اوراغلل اهل دهغه ښار (سدوم) چي دلوط عليه السلا قوم وو په منډه) دخوښي زېری يې سره کاوو (دمېلمنو په هکله دلواطت په چورت کي وو ګومان يې کاوو دغه مېلمانه هم ددوی په شان بنیادمان دي. مفسرين کرام وايي چي: دوی ته خبر ورکول شوی وو چي دلوط په کورکي ډېرحسين او ښکلي هلکان مېلمانه شوي دي نو په منډه منډه راغلل په خوښي سره يې يو په بل باندی زېري کول ([1]) ﴿قَالَ إِنَّ هَـٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِى فَلَا تَفْضَحُونِ﴾ وويل: (لوط) چي بېشکه داکسان زما مېلمانه دي نو مامه شرموئ (هغوته دبدکاري قصد مکوئ!) ﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ﴾ او وېرېږئ تاسي له الله او تاسي مامه سپکوئ (دوی ته په تعرض کولو دبدکار) ﴿قَالُوٓا۟ أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ ٱلْعَـٰلَمِينَ﴾ وويل دوی ته (قوم دلوط) آيا موږ ته نه وې منع کړی (له مېلمه کولو دچا) خلګونه؟. امام رازي وايي: چی معناداچي آيا موږ ته نه وې منع کړی چي کله موږ له چاسره دغه ناولی عمل ترسره کوو ته به څه نه وايي؟! ([2]) ﴿قَالَ هَـٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىٓ إِن كُنتُمْ فَـٰعِلِينَ﴾ وويل: (لوط) دغه (ښځي) زمالوني دي که يې تاسي (نکاح) کونکي له دوی سره يعني که چېري دشهوت قضاء مومقصدوي! دغه مېرمني په حلاله

([1]) شهيد سيد قطب عليه الرحمة والرضوان وايي: دوی واورېدل چي دلوط په کورکي خورا ډېر مخي هلکان مېلمانه دي نوخوښحاله شول چي ښکار ورسېدو ﴿وَجَآءَ أَهْلُ ٱلْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ﴾ اوپدې ډول تعبيرکول دلوط عليه السلام دقوم هغه دبشاعت اوشناعت وروستي پړاوته رسېدل ځرګندوي چي دوی په پليتي اوفجورکي څومره ککړ ول؟ دغه ددوی په اجتماعي ډول راتلل او يو په بل باندي زېري کولو څخه چي بيانه دوی په رښاورځ له هغوی سره بدکاري کوي په جنايت ښکاره شاهدی له داسي کولو څخه خو حيوان هم ځان ژغوري خودوی هغه ترسره کوي دغه ډېخي بې مثله جنايت اوګناه ده اوپاتي شو لوط عليه السلام هغه سخت خواشيني وواوغوښتل يې له خپلو مېلمنو څخه دفاع وکړي دهغوی شرف خوندي کړي قوم ته يې دسرېتوب پيداکولو خواست وکړ له الله څخه يې ووېرول هغه پوهېدو په دې ظالمانو کي انسانيت نشته خوهلی ځلي يې کولي. الظلال ۱۴/ ۳۱

([2]) الفخر الرازي ۱۹ / ۲۰۲

نکاح واخلئ اوحرام کارمه کوئ مفسرین کرام وایې: چي مراد له دې قوله چي ﴿ هَٰؤُلَاءِ بَنَاتِي ﴾ دامت لوڼي دي ځکه هرپیغمبردامت لپاره پلارګڼلی شي ﴿ لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴾ (نووفرمایل الله) قسم دی په ژوندستا (ای محمده!) دوی د(لوط قوم) په مستي (دګمراهي خپلی کي مدهوشان دي؛ دغه اعتراضیه جمله ده چي دلوط علیه السلا م دکیسې په ترخ کي راغلي اودرسول الله ﷺ په ژوندلوړه درسول الله صلی الله علیه وسلم تکریم اوتشریف ښیي. ابن عباس رضی الله عنهماوایې چي: الله پاک تررسول الله صلی الله علیه وسلم بل عزتمن هیڅوک هم نه دی پیدا کړی اومانه دي اورېدلي چي دهیچاپه ژوندیې هم له ده پرته قسم اخیستی وي(۱) ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴾ نوونیول هغوی لره غږ هیبتناک (هلاکونکي) حال دا چي دوی دلمرختلو په وخت کي داخلېدل ﴿ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا ﴾ نو وګرزاوو موږ پورته لوری ددې ښارونو ښکته طرف؛ مفسرین کرام وایې چي: جبریل علیه السلام ددوی ښارله بنسټه وایستل ځوچي یې آسمانونوته نژدې ورسول اودپرښتو تسبیحات یې واورېدل بیایې سرپه څېږي را وغورځول ﴿ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴾ او وأورول موږپرهغوی کاڼي پخي شوي(ختي) دجهنم په اور ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴾ اوبېشکه په دغه (هلاکت ددوی) کي خامخادلیل (دقدرت) دي مؤمنینوته یعني دغه ددوی په اهلاک اوعذاب کي دهغه چالپاره: چي پنداخلي اوپه سترګواوزړه ویني ننبي اودلالتونه شته دي. ﴿ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴾ اوبېشکه دغه (هلاکي شوي) قریبې پرتې دي پرسمه لاره کي (چي ورانه شوي نه ده ټول خلګ چي پدې لاره درومي هغه ځای ویني آیانوپندنه آخلي؟. ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوبېشکه په دغه (اهلاک دهغوی) کي خامخادلیل (دقدرت) دی مؤمنینوته ﴿ وَإِن كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ لَظَالِمِينَ ﴾اوشان دادی چي وو خاوندان دځنګل (دشعیب قوم) خامخاله ظالمانو(چي دشعیب تکذیب یې کاوو، لاري یې وهلې اوتول پېمانه یې کموله) ﴿ فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ ﴾ (نو موږ له دوی څخه انتقام واخیست) یعني دوی موپه زلزله اود(یوم الظلة) په عذاب هلاک کړل. مفسرین وایې چي پردوی باندي اوه شپې ګرمي راغله آن تردې چي هلاکت ته یې نژدې کړل بیاالله ورباندي وریځ راوسته نودوی ټولو هغې ته پناه وروړه اوترې لاندي راټول شول نوالله له همدې وریځي څخه اور راوالوزول اوټول یې وسوځول ﴿ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴾ اوبېشکه دادواړه ښارونه (دلوط اوشعیب) خامخا په لویه لاره کي پراته دي (آیاله هغوی څخه پندنه اخلئ ای دمکې خلګو؟!) ﴿ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ ﴾ اوخامخاپه تحقیق دروغجن شمېرلي وو خاوندانودحجر (کندي چي ثمودیان وو) دالله رسولانولره؛ دغه خلورمه کیسه د حضرت صالح علیه السلام ده حجر هغي کندي ته وایې چي دمدینې منورې اوشام ترمنځ ده آثاریې پاتي دي اومسافران ورباندي تېرېږي راتېرېږي. بیضاوي وایې:

(۱) الطبري ۱۴/۴۴

ځوک چي دیوه پیغمبرتکذیب وکړي لکه چي دټولو یې کړی وي ځکه الله فرمایلي دي ﴿ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾
(۱)﴿ وَءَاتَيْنَٰهُمْ ءَايَٰتِنَا فَكَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴾ او ورکړي دي موږ دغو (ثمودیانو) ته دلائل (دقدرت) خپل نو وو دوی له هغو(معجزو) څخه مخ ګرزونکي (چي پندبه یې نه ځني اخیست. ابن عباس رضی الله عنه وایي چي: په اونښه کي ډېري معجزې وې له ډبري راووته اوله راوتلو سره جوخت یې ولادت نژدې وو خوراستره وه بله اونښه یې په مثل نه وه، زښته زیاتي شیدې یې کولې آن تردې چي دټولو بس کېدلې خودوی ورڅخه عبرت نه اخیست اوچُرت یې پکي نه واهو (۲)﴿ وَكَانُوا۟ يَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ﴾
او وودوی چي توږلې به یې له غرونو څخه کوټې پدي حال کي چي په امن کي به وو یعني دوی ګمان کاوو چي دغه کوټې به دوی لره دالله له عذاب څخه وژغوري ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ ﴾ نو ونیول دوی لره غږ هیبتناک (دهلاکت) پداسي حال کي چي دوی په سباکي داخلېدل ﴿ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴾ نودفع نکړ له دوی نه (هیڅ عذاب) هغوشیانو چي دوی به حاصلول (له ټینګوبناګانو او برجورو کلاګانو څخه ﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ اوندي پیداکړي موږ دغه آسمانونه اوځمکه اوهرهغه څه چي په مینځ ددوی کي دي مګرپه حق سره؛ نوځکه دحکمت داغوښتنه ده چي ددادول مکذبینو هلاکت ترسره شي ځوچي فساد خپورنشي ﴿ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ فَٱصْفَحِ ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ ﴾ اوبېشکه قیامت خامخاراتلونکی دی نو ځنګ وکړه ته له دوی نه په ښځنګ کولو نېکو سره ځکه په قیامت کي به محسن ته داحسان اوبدکاروته دبدي سز اور کول شي ته له دې بې عقلانو تېرشه اودهغوی دتېریو په هکله حلم اوزغم لره ﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ بېشکه رب ستا هم دی دی ښه پیداکونکی ډېرعلم والا(دبندګانو په احوالو باندي) ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِى ﴾ او خامخا په تحقیق درکړی دی موږتاته أوه آیته له وظائفو یعني موږ تاته ای محمده! دفاتحې أوه آیتونه درکړي اومثاني ځکه وبلل شوچي لوستل یې په لمانځه کي تکرارېږي په حدیث شریف کي راځي: الحمد لله رب العلمین هی السبع المثاني والقرآن العظیم الذی أوتیته (۳) یعني الحمد لله رب العلمین هغه اوه آیتونه اوقرآن دی چي ماته راکول شوی دی، چاییاویلي دغه اوه اوږده سورتونه دي خولومړی قول ارجح دی ﴿ وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴾ اوقرآن عظیم الشان خوراډېرلوی هغه چي دټولو آسماني کتابونو د کمالاتوجامع دی ﴿ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ ﴾ مه پورته کوه سترګي خپلي (په رغبت سره) هغوشیانوته چي نفع ورکړي ده موږ په هغه سره حال داچي قسم قسم شیان دي دغوکفارو ته) ځکه چي

(۱) البیضاوي ۳۷۲

(۲) زاد المسیر ۴/ ۴۱۱

(۳) أخرجه البخاري وهواختیار الطبري

موږ تاته درکړی دهغوی ترشیانو مشرف اومعززدی اودغه دقرآن نزول دنعمت له پلوه کافي دی ﴿ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ ﴾ اوخفګان مه کوه پردغو(کفاروچي ایمان نه راوړي) ﴿ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوښکته کړه وزرخپل لپاره د(مؤمنانو(اوبېوزلانو ددوی ته) ﴿ وَقُلْ إِنِّىٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلْمُبِينُ ﴾ اووایه (ای محمده !) چي بېشکه زه چي یم همداراز ښکاره وېروونکی یم (دالله له عذابه هغه سرغړونکي خلګوته چي دجبارذات له امرنه سرکښي کوي ﴿ كَمَآ أَنزَلْنَا عَلَى ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴾ (قرآن موپر تانازل کړی) لکه چي (پراهل کتابو) قسمت کونکومو(کتاب) نازل کړی وو) چي هغوی یهودو او نصاراوو هغوی چي په څیني کتاب یې ایمان لاره اوپه څیني کافران وو نوپه دوه برخو ووېشل شول ﴿ ٱلَّذِينَ جَعَلُوا۟ ٱلْقُرْءَانَ عِضِينَ ﴾ هغوچي ګرزولی یې وودغه قرآن ټوټې ټوټې (اوپه هغه کي یې مختلفي وېناګاني کولې. ابن عباس رضی الله عنهما وایي : معناداچي په څینوبرخویې ایمان راووړ اوپه څینوکافران کېدل اوپدې کي درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډاډینه ده چي قوم یې دقرآن تکذیب وکړ هغه ته یې سحر، شعر اودپخوانیو کیسو نسبت کاوونو تردوی له مخه قومونوهم داسي کړي دي لکه چي دمکې کفارېي کوي ﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ نوقسم دی په رب ستاچي خامخاوبه پوښتو موږ خامخا دوی ټول دهغواعمالوڅخه چي دوی به کول (په دنیاکي) ﴿ فَٱصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ نوښکاره کړه(تبلیغ ای محمده) هغه چي ته وربانديمأمورېږي اوله مشرکانوڅخه مخ واړوه (دهغوی وېناته غوږ مه نیسه پروایې مکوه) ﴿ إِنَّا كَفَيْنَٰكَ ٱلْمُسْتَهْزِءِينَ ﴾ بېشکه موږ کافي شوي یوستالپاره (له شره) دمسخره کونکو(دښمنانو چي هغوی به هلاکوو اودغه پنځه تنه دقریشو مشران وو ﴿ ٱلَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ هغه کسان چي ګرزوي سره له الله (شریک) معبود بل (له بتانو) ﴿ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴾ نوژربه پوه شي دوی (په عاقبت دخپل کارپه دنیااوآخرت کي پدې کي ددوی لپاره وعید اوتهدیددی) ﴿ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴾ اوخامخاپه تحقیق معلوم دی موږ ته چي بېشکه ته یې چي تنګي راوړي سینه ستاپه سبب دهغوخبرو چي دوی یې وایې (له استهزاء اوتکذیب نه) ﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾ (نوتل تسبیح وایه سره له حمده درب خپل اوته له سجده کونکوشه) یعني کله چي ددوی له لوري تاته تکلیف ورسېږي نوته تسبیح ، لمانځه اودالله ډېرذکرکولوته مخه کړه ﴿ وَٱعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ ٱلْيَقِينُ ﴾ اوعبادت کوه دخپل رب ترهغه پوري چي تاته مرګ راشي ، مرګ ته یې ځکه یقین وایوچي دهغه راتلل بېخي یقیني دی.

بلاغت: پدې آیتونوکي دبیان اوبدیع لاندنی ښکلاوي خوندي دي:

۱-ایجاز بالحذف په دې کلمه کي چي ﴿ ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ﴾ چي تقدیریې دادی دوی ته به ویل کېږي: أدخلوها.

۲ - لطیفه مقابله چي الله فرمايي: ﴿ نَبِّئْ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ وروسته بيا ﴿ وَأَنَّ عَذَابِي ﴾ ځکه چي دلته يې دعذاب اومغفرت ترمينځ مقابله اوبياد پراخ رحمت اودردناک عذاب ترمينځ مخامخ توب راوور چي له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۳ - کله چي الله فرمايي: ﴿ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ ﴾ پدې کي له يومخ ايزه هلاکت څخه په بېخ پرېکېدلوسره کنايه راغلي ده.

۴ - دمجاز صنعت لکه په: ﴿ قَدَّرْنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ پرښتو دتقديرفعل ځان له نسبت وکړ اودغه مجازي نسبت دی ځکه تقديريوازي دالله ځانګړتياده خوځرنګه چي دوی دالله استازي اودهغه په امرراغلي وو نويې ځان ته نسبت وکړ.

۵ - کله چي فرمايي ﴿ ٱلصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ ﴾ دلته ناقص جناس اوپه ﴿ فَٱصْفَحِ ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ ﴾ کي بيا اشتقاقي جناس ترسترګوکېږي.

۶ - دمبالغې صيغې لکه په: ﴿ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ او ﴿ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ کي چي راغلي دي.

۷ - دطباق صنعت لکه چي پدې کلماتو کي شته: ﴿ عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا ﴾.

۸ - په ډېروځايونو کي بې تکلفه سجع راغلي لکه په ﴿ ءَامِنِينَ ... مُصْبِحِينَ ... مُعْرِضِينَ ﴾ کي.

۹ - تبعيه استعاره پدې کلام کي چي: ﴿ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴾ چي دلته يې تواضع دوزرله ښکته کولو سره تشبيه کړه او دمشبه لپاره يې دمشبه به نوم راوور چي دغه له بليغو استعاراتوڅخه دي ځکه کله چي مارغه له الوتلو څخه ودرېږي وزرښکته کوي.

تنبيه: ددې آيتونو ترمينځ موافقت چي فرمايي: ﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ اوداچي ﴿ قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِيٓ ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ القصص: ۷۸ اوداچي ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا جَآنٌّ ﴾ الرحمن: ۳۹ داسي کېږي چي دقيامت په ورځ به داسي ځاى هم وي چي هلته به پوښتني اوکلام وي داسي ځاى به هم وي چي هلته به داسي نه وي دغه دعکرمة رضی الله عنه رايه ده اوابن عباس رضی الله عنه وايي چي: له دوی څخه به دمعلوماتو ترلاسه کولو اواستخباراتي پوښتني نه کېږي ځکه الله جل جلاله په هرڅه عالم دی خوله دوی څخه به دتوبيخ اوترټني په ډول ابښتني پوښتني کېږي او ورته به ويلی شي: ولي موله قرآن څخه سرغړونه کوله اوپدې کي تاسوڅه دليل وړاندي کوئ ؟[1]

دالله جل جلاله په مرسته دالحجرسورت تفسيربشپړشو

---

(۱) القرطبي ۱۰ / ۶۱

(١٦) دالنحل سورت مکي او یو سل اته ویشت آیتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالنحل سورت مکي او دستري عقیدې موضوعات لکه ألوهیت ، وحی ، بعث او نشور څېړي او له دې سره سره دقدرت دلائل او وحدانیت شواهد پدې ویړ او پراخ عالم کي چي آسمانونه ، ځمکه ، سیندونه ، غرونه ، دښتي او کندي ، اوربښت او زرغونېدل ، په دریاب کي رواني بېړۍ ، په آسمان کي روښانه ستوري چي لاروي ورباندي خپل هدف ته رسېږي او داسي نوري بېلګي راوړي کوم چي انسانان یې پخپل ژوندکي ګوري په سترګو او غوږونو یې مومي چي داګرد دالله جل وعلا په وحدانیت باندي ژوندي مثالونه او په قدرت باندي یې ګواهان دي.

* دامبارک سورت په لومړي پیل کي وحی راواخلي هغه چي مشرکانو به ځیني انکارکاوو او ملنډې به یې ورباندي وهلې وحی به یې دروغ ګڼله او د قیامت د ورځي راتلل به یې لیري ګڼل له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه به یې په تلواره دعذاب د راتلو غوښتنه کوله او چي څومره به دعذاب راتلل ځنډېدل هغومره به د دوی استعجال او استهزاء زیاتېدله.

* دسورت موخه دالله جل جلاله په وحدانیت او دالله جل جلاله دقدرت لوري ته دخلګو پام راړول دي نو په انسان کي شته حواسو ته یې خطاب کړی او دوجود هرغړی یې متوجه کړی څو چي انسان خپل عقل دالله لوري ته وګوماري او دالله په صنعت کي چي کوم آثار وینې دهغوی په وسیله دالله جل جلاله عظمت وپېژني.

* وروسته بیا خلګو ته دا یادونه کوي چي دالله دنعمتونو کفران او شکر نه اداکول دستر ناخواله انجام درلودونکی دي او له دې څخه خلګ وېروي کوم چي دهر معاند او منکر عاقبت وي. په اخیرکي سورت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امر کوي چي دالله لوري ته په حکمت ، نېک پند او ښه مجادله سره بلنه وکړي او په هغو رېړونو او تکالیفو چي ددعوت او تبلیغ په لاره کي ورته رسېږي صبر او زغم ولري پای ته رسېږي.

دسورت نومول:

دغه سورت ته ځکه سورت (النحل) وایې چي دالله دهسي عجیبه مخلوق (دشاتومچۍ) چي یو مخ ایزه دعبرت وړدی او دالله سبحانه وتعالی په ألوهیت دلالت کوي یادونه پکي شویده.

الله تعالی فرمایي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١﴾ يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ
مِنْ عِبَادِهِ أَنْ أَنذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ ﴿٢﴾ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ تَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ
﴿٣﴾ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾ وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا ۗ لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ

وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ (٥) وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ (٦) وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ
تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ (٧) وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ
وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ (٨) وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ ۚ وَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ (٩) هُوَ الَّذِي
أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ (١٠) يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ
وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (١١) وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ
وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (١٢) وَمَا ذَرَأَ
لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ (١٣) وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ
الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ
وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (١٤) وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَارًا وَسُبُلًا
لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (١٥) وَعَلَامَاتٍ ۚ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ (١٦) أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (١٧)
وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ (١٨) وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ (١٩) وَالَّذِينَ
يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ (٢٠) أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ ۖ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ (٢١) إِلَٰهُكُمْ
إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ (٢٢) لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا
يُعْلِنُونَ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ (٢٣) وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ (٢٤) لِيَحْمِلُوا
أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۙ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ (٢٥) قَدْ مَكَرَ
الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ
حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ (٢٦) ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تُشَاقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ
الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوءَ عَلَى الْكَافِرِينَ (٢٧) الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا
السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوءٍ ۚ بَلَىٰ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (٢٨) فَادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ
فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ (٢٩) النحل: ١ - ٢٩

لغتونه:

(نطفة) هغه اوبه چي انسان ورڅخه پيدا کېږي له (نطف) يعني څاڅکي څخه اخيستل شوي (دفء) هغه څېزچي انسان له يخني څخه ورباندي ځان تودوي (تريحون) (رواح) دماښام په وخت کي دځړېدونکوحيواناتوله ځرځايونو څخه راستنېدلوته وايې (تسرحون) (سراح) په ګهيځ کي د ځرېدونکو حيواناتو ځرځايونو بيولوته وايې (اثقالكم) (أثقال) د(أثقل) جمع سامانونو ته وايې ځکه هغوی هم د پورته

کولو په وخت کي درانه وي (جائر) له حق څخه مائل او کوږ ته وايي (تسيمون) (أسام) د څرېدلو لپاره خوشي کولو ته وايي (ذرأ) د (خلق) په معناده (مواخر) (مخر) په اصل کي د اوبو څيرولو ته وايي او د بېړۍ لپاره راځي (مخرت السفينة) کله چي بېړۍ او به ښي او کيڼ لوري ته څيري او غږ څني پورته کېږي (تميد) اضطراب او ښوريدلو ته ويل کېږي

دنزول سبب:

ابن عباس رضی الله عنهما وايي: کله چي د الله تعالى دا قول چي فرمايي: ﴿ ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ﴾ (القمر ۱) نازل شو نو څينو کفارو څينو نورو ته وويل: محمد گمان کوي چي قيامت رانژدې شوى دى نوله څيني هغو کارونو چي کول مو لاس ونيسئ څو وګورو قيامت کله راځي خو کله چي ورځي اوږدې شوې نوېي وويل: اى محمده! هغه څه موږ نه وينو چي تا وربا ندي وېرولو بيا الله تعالى دا آيت چي فرمايي: ﴿ أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ ﴾ نازل کړ(۱)

تفسير:

﴿ أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ ﴾ راغی حکم د الله (د قيامت نژدې والى) نو تلوار مه کوئ تاسي هغه (عذاب) ته (چي محمد يې وعده درکړي ده) او دا چي د ماضي په صيغه يې تعبير و فرمايه ځکه چي حکم ثابت او راتلل يې نژدې دى. امام رازي وايي: څرنګه چي دغه واجب الوقوع وو نو ځکه يې په ماضي صيغه وړاندي کړ لکه چي مستغيث ته وايي: (جاءک الغوث فلاتجزع) يعني فرياد دي اورېدل شوى دى ژړا، زاري بس کړه(۲) ﴿ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾ پاکي ده الله لره او لوى دى له هغه چي دوى ورسره شريک پيدا کوي ﴿ يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ﴾ نازلوي ملائکي سره له روح (وحى او نبوت) په امر (او ارادې) خپلي پر هغه چا چي اراده وفرمايي له بندګانو خپلو (د نبوت يې) وحی ته ځکه روح وويل شو چي په وحی زړونه داسي ژوندي کېږي لکه چي په روح کالبوت او بدن، فرمايي انبياوو ته چي) وو يروئ (کفار، خلګ) پدې چي بېشکه نشته معبود مګر هم دا زه يم نو وو يرېږئ له (عذابه زما) څخه) وروسته بيا الله پخپل وحدانيت او قدرت باندي داسي دلائل راوړي فرمايي: ﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ ﴾ پيدا کړي دي (الله) آسمانونه او ځمکي په حق سره (يعني الله په ثابت حق او لوړ حکمت پيدا کړي عبث او بېهوده نه دي ﴿ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾ (پورته دى (الله) له هغه چي شريکان ورسره نيسي (دامشرکان) يعني الله له دې پاک او منزه دى چي شريک او سيال ورسره ونيول شي ﴿ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ ﴾ پيدا کړي دي (الله)

---

(۱) زادالمسير ۴ / ۴۲۲

(۲) الرازي ۱۹ / ۳۱۸

انسانان (بشري جنس) له نطفې (خوارو اوکمزورو اوبوچي مني دي) ﴿ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴾ (نوناځاپه دغه انسان سخت ښکاره جګړه کوونکی دی) يعني وروسته له هغه چي دانسان تکامل وشي بيادخپل خالق سره په ډاګه خصومت اوعنادکوي ، کبراو غرور ته مخه کړي سره له دې چي ددې لپاره پنځول شوی چي بنده وي منونکی وي اوانکارکونکی ، سرغړونکی نه وي ابن الجوزي وايې چي: انسان له نطفې پيداشوی خوبياهم له بعث څخه انکارکوي آياهغه له لومړني پيدايښت څخه په دوهم باندي دليل نشي نيولی ؟چي هغه ذات چي انسان يې په لومړي ځل پيداکړی په دوهم ځل راپورته کولو يې هم توانا اوقادردی (۱)﴿ وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا ﴾ او چارپايان يې پيداکړي دي ستاسي دمصالحو لپاره لکه اوښان ، غوايې اوپسونه) ﴿ لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ ﴾ چي شته په دوی کي اسباب دتودوخي (چي درباندي له يخني ځان ژغوري ددوی له وړينو، وړښتانو څخه داغوسټلو اوهوارولو شيان لاس ته راوړي ﴿ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴾ (او(نوري ډېري) ګټي اوله ځينو دغو(چارپايانو) څخه تاسي خورئ) يعني اوتاسوته پدې کي بېشمېره ګټي اومنافع شته چي هغه ددوی نسل اوذوذات پالل ،شيدې ځني ترلاسه کول ورباندي سپرېدل اوترتولوغته ګټه دهغوی غوښې خوړل دي ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ﴾ (اوشته تاسي ته په دغو(چارپايانو) کي زينت کله چي بيرته يې کورته راولئ لپاره دراحت اوکله چي بهرته يې دڅرني لپاره بيايئ) يعني اوپه دغوچارپايانو اوڅارويو کي کله چي يې ماښام له څرځايه راولئ اويايې ګهيځ بيرته څرځای ته بيايا ست پداسي حال کي چي چاغ، پيرړ ، روغ رمټ وي دزېب، زينت اوښکلا منظرستاسو لپاره شته دی ﴿ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ﴾ اوباروي دغه (چارپايان) درانه بارونه ستاسي (اورسوي يې) هغه ښارته چي نه واست تاسي رسېدونکي هغه ښارته مګرپه سختي اومشقت دځانونو خپلوسره ﴿ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه چي ستاسي رب خامخالوی شفقت والاډېرمهربان دی (چي تاسو ته يې دغه څاروي تابع کړي دي ﴿ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ﴾ او(پيداکړي دي الله) آسونه، قچر (غاتري) اوخره لپاره ددې چي سپرېږئ تاسي په دوی باندي او(زينت کوئ پردغو) په زينت کولوسره ﴿ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ اوالله پيداکوي (ډېرنور) شيان چي تاسي يې اوس نه پېژنئ ،لکه په اوس زمانه کي پرمخ تللي بېړۍ ، موټري ، الوتکي او..... چي الله جل جلاله يې انسان ته زده کړه ورکړي ده(۲)﴿ وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ

---

(۱) زادالمسير۴ / ۴۲۹

(۲) په تفسيرفی ظلال کي ليکي چي: اوس دحمل اونقل لپاره داسي وسائل اود سپرلۍ لپاره هسي اسباب موندل شوي چي پخوانيو هډو، نه پېژندل قرآن کريم ددغولپاره زړونه اوذهنونه تيارکړي دي ترڅوخلګ له دغومعاصرو آلاتو ، اسبابوڅخه انکاراوتردد ونکړي نوالله فرمايلي ﴿ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ دلته به بيا انسانان هسي نه وايې چي زموږپلرونو آسان اوقچرپه

﴿ ٱلسَّبِيلِ ﴾ او پر الله دی بیان دلاري (برابري هغه چي لاروی جنت ته رسوي) ﴿ وَمِنْهَا جَآئِرٌ ﴾ او ځيني له دغو لارو څخه کږې هم دي (له حقه چي ورباندي تلونکي الله ته نه رسېږي دغه د ګمراهي او ضلالت لاري دي لکه يهوديت، نصرانيت اومجوسيت غوندي) ﴿ وَلَوْ شَآءَ لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ او که اراده فرمايلي وی (الله دهدايت ستاسي) نو خامخا سمه برابره لاره به يې ښودلي وه تاسي ټولو ته؛ دايمان لاره خو دالله دحکمت داغوښتنه ده چي انسان لره يې دحريت آزادي اختيار پرې ايښی دی چي ﴿ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ﴾ ترڅو ثواب او عذاب ورباندي مرتب شي ځرنګه چي الله تعالی دهغه انعام چي چارپايان يې دانسان لپاره پيدا او تابع کړي يادونه وکړه ورپسې يې دټولو سترو نعمتونو اونښانيو سترنعمت چي په کائناتو کي شتون لري يادوي چي ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ الله هغه (ذات) دی چي نازل کړي (رالېږلي) دي له (طرفه د) آسمانه اوبه ﴿ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ ﴾ (چي دی تاسي ته له دغو اوبو څخه څښل) يعني الله خوږې اوبه رالېږلي چي تنده ورباندي ماته کړئ ﴿ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴾ او له دغو اوبو څخه ونه (واښه) هم ده چي په دغو ونو کي څروئ تاسي (حيوانات خپل) ﴿ يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرْعَ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلْأَعْنَـٰبَ ﴾ زرغونوي (الله) تاسي ته په دغو اوبو سره کښت او زيتون او خرماګاني او (تاکونه د) انګورو (چي ډول ډول رنګونه او خوندونه لري) ﴿ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ او له هرډول مېوو څخه (پاکيزه خوراکونه) ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ بېشکه په دغو (داوبو نازلولو او مېوو راايستلو کي) خامخا ډېر دلائل (دقدرت او وحدانيت) دي لپاره (دهغه) قوم چي فکرچلوي (دالله په صنعت کي سوچ کوي. ابوحيان وايي: آيت شريف يې پدې بشپړ کړ چي ﴿ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ ځکه پدې کي نظر کول سوچ او فکر ته اړوي چي آيا ته نه ګورې چي يو دانه زړی کله چي په ځمکه کي ننې وزي او ريښې ځغلوي برسېره تنه يې دځمکي په سر وده کوي پنډېږي، ښې او ګلان سپړي، مېوې او ګټې منافع لري دغه ټول د مقتدر قادرلايزال (الله) په قدرت او تقديرصورت مومي([1]) ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ﴾ (او مسخره کړي يې ده تاسي ته شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ) يعني الله تابع کړي ده ستاسي دګټو او منافعو لپاره ځي راځي ﴿ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتٌۢ بِأَمْرِهِۦٓ ﴾ (او ستوري مسخر دي په حکم ددغه (الله) سره يعني الله ستوري ستاسو دګټي اخيستلو لپاره په کاراچولي دي پخپلو افلاکو کي راځرخي ترڅو تاسو دبېديا او سيند په تيارو کي ورباندي لاره پيدا کړئ ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ بېشکه په دغو کي خامخا ډېر دلائل (دقدرت) دي

کاراچولي او موږ هم له هغه پرته نورشيان نه منو ځکه نو قرآنکريم دهغه پرمخ تللي علمي کارنامو او دمستقبل او راتلونکې داختراعاتو لپاره زړونه او ذهنونه تيارسئ کړل.

([1]) البحر ۵ / ۴۷۹

لپاره دهغه قوم چي پکي عقل چلوي (اودسالم عقل خاوندان وي) ﴿ وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي ٱلْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥٓ ﴾ اوهغه چي پيدا کړي دي (الله) تاسي ته په ځمکه کي (عجيبه شيان) له حيواناتو ، نباتاتو، معدنونو ، جماداتو) حال داچي مختلف دي سره رنگونه (شکلونه، ډولونه ، ځانګړتياوي اومنافع) ددوی ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴾ بېشکه په دغه (اختلاف داشکالواو انواعو دمخلوقاتو) کي خامخا(دقدرت لوی) دليل دی دهغه قوم لپاره چي پنداخلي ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى سَخَّرَ ٱلْبَحْرَ ﴾ اوالله هغه (ذات) دی چي مسخرکړی يې دی (ځپاند) درياب (لپاره ددې چي سپاره پکي وګرزئ اوپه تل کي يې غوپې ووهئ ﴿ لِتَأْكُلُوا۟ مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا ﴾ دپاره ددې چي وخورئ تاسي (له ښکاره) ددې درياب نه تازه غوښه (دماهيانو) ﴿ وَتَسْتَخْرِجُوا۟ مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ﴾ اوراوباسئ تاسي په (غوپه وهلو سره) له دغه (دريابه) ګاڼه چي تاسي يې اغوندی (يعني لؤلؤ اومرجان چي ستاسي ښځي يې اغوندي ﴿ وَتَرَى ٱلْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ ﴾ اووينې به ته (ای کتونکيه !) بېړی روانه په دغه (درياب) کي (چي څيروي به اوبه اوستاسي روزي اوبارونه به لېږدوي) ﴿ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ اوچي طلب کړئ تاسي (روزي) له فضله ددغه (الله) ﴿ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ اولپاره ددې چي تاسي شکروباسئ (پردغو سترونعمتونو دپالونکي الله پاندي) ﴿ وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ ﴾ اوغورځولي يې دي په ځمکه کي غرونه مېخونه ټينګ لپاره ددې چي ونه ښورېږي په تاسي ؛ ابوالسعود ليکي چي : ځمکه پخوادغرونو له پيدا ايښت نه يوه سپکه کره غوندي وه او دا ورسره ښائېدل چي په أدنی او وړوکي سبب هم وښورېږي اوکله چي غرونه ورباندي پيدا شول نو دمرکزپه لوري يې دروندوالي مخ کړاودغه غرونه لکه مېخونه غوندي ورباندي ووهل شول (١) ﴿ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ او(پيدا کړي الله) ويالې اولاري لپاره ددې چي لاره پيدا کړئ (خپلو موخو اومقصدونو ته) ﴿ وَعَلَٰمَٰتٍ ۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴾ (اوپيدا کړي دي (الله په ځمکه کي) نښې (دلياري) اوپه ستوروسره دغه (لاروي) لاره مومي) يعني الله جل جلاله داسي علامې پيدا کړي چي: دلاري په پيدا کولو کي په کارېږي دستورو په ذريعه دشپې په ښديا کي لاره مومي په دريابونو کي دلاري پيدا کولو لپاره هم له ستورو استفاده کېږي . ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي: (علامات) دلارونښې په ورځ کي اوپه ستورو سره دوی دشپې لاره پيدا کوي ﴿ أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ ﴾ آياهغه (ذات) چي هرشی)پيدا کولای شي په شان دهغه چادی چي نشي پيدا کولای (هيڅ شی ؟) دلته انکاري استفهام دی اومعنا دا چي آيا ددغه سترو شيانوپيدا کونکی ذات چي دومره نعمتونه يې درکړي له هغه چاسره برابروئ چي هيڅ يې دځان

---

(١) ابوالسعود ٣ / ١٢٧

لپاره په لاس کي نشته نه گټه رسوي او نه هم ضرر دفع کولای شي نورخولا پرېږده ؟آیا نو دغه سپک بُت له هغه سترذات دعالم پیداکونکي سره شریک نیسئ ؟ پدې کي دکافرانولپاره تبکیت اوددوی دهغه عبادت چي دبتانوپه وړاندي یې ترسره کوي ابطال دی ﴿ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ آیا نو تاسي پند نه اخلئ؟ (نوبه تاسي ته خپله خطا څرګنده شي چي تاسو دغیرالله عبادت کوئ او دا بل توبیخ دی ﴿ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ او که وشمېرئ تاسي دالله نعمتونه (چي درکړي یې دي) نو نه یې شئ شمېرلای (نو څرنګه به یې شکراداکړی شي؟) بېشکه چي الله خامخا بنه بخښونکی (دګناهونو اوتقصیراتو) دی ډېر رحم والادی (په بندګانو خپلو چي ددوی له ګناهونو سره سره ورباندي انعامات اوروي ﴿ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴾ او الله ته معلوم دي هغه نیتونه او اعمال) چي پټوئ یې تاسي او هغه چي تاسو یې ښکاروی (نو به ورباندي جزادرکړي ﴿ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴾ او هغه بتان چي دغه (کفار) یې بولي غیرله الله نه نشي پیداکولای دوی هیڅ څیز حال دا چي دوی پخپله (هم) پیداکاوه شي (دوی دبشردلاس پیداوار او صنعت دی نو څرنګه به دوی له الله پرته معبود جوړشي) ﴿ أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ ﴾ دغه (بتان) مړه دي (روح پکي نشته نهویني ، نه اوري ځکه دوی جمادات دي) ژوندي نه دي (نو څرنګه تاسو ددوی عبادت کوئ ؟ حال دا چي ترهغوی تاسي بهتریاست ځکه ژوند خولرئ؟ ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴾ او(په دي هم) نه پوهېږي دغه (بتان) چي کله به راولاړاوه شي (عابدان ددوی یعني دوی جمادات دي احساس او شعورنه لري پدې کي په مشرکانو باندي تهکم کول دي ﴿ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ﴾ معبود ستاسي یو معبود دی (دعبادت مستحق او ور هیڅ شریک نلري) ﴿ فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ ﴾ نو هغه (کسان) چي ایمان نه راوړي په آخرت زړونه ددغو (بې ایمانو) منکردي (له وحدانیت دالله او دبعث او جزاڅخه ﴿ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴾ او دوی تکبر کونکي دي (له منلو دحق نه وروسته له هغه چي دلائل یې ورته څرګند شوي هم دي ﴿ لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴾ رښتیا واقعي خبره داده چي بېشکه الله ته معلوم دي (هغه حالات) چي پټوي یې دوی او هغه چي ښکاره کوي یې ﴿ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴾ بېشکه چي دغه الله نه خوښوي تکبر کونکي (له توحید او ایمان څخه) ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ ﴾ او کله چي دغو(متکبرانو) ته وویلی شي چي ستاسي رب (پخپل استازي ﷺ)؟ څه شی نازل کړی دی ؟ ﴿ قَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴾ نو وایې دوی دغه خوشي افسانې دپخوانیو(خلګو) دي دغه به یې داستهزاء او ملنډو په توګه ویل چي دغه درب العالمین کلام نه دی بلکه دپخوانیو امتونو خُرافات اوچټیات دي . مفسرین کرام وایې چي : کله به مشرکان دمکې په لاروکي کښېناستل نو به یې خلګ له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه شړل او وېرول کله چي به دحجاجو ټولګیو ورڅخه وپوښتل چي په

محمدصلی الله علیه وسلم څه شی نازل شوی دی ؟ نودوی به ورته ویل د پخوانیو اُمتونو باطلي کیسې اواپلتي دي (۱) ﴿ لِيَحۡمِلُوٓاْ أَوۡزَارَهُمۡ ﴾ (نوالله فرمایي چي:) دپاره ددې چي په شاواخلي پېټې (دګناهونو) خپلو) یعني دوی دغه بهتان ویلو ترڅو خپل بشپړ ګناهونه بارکړي پرته له دې نه چي هیڅ هم ځني کم شي ﴿ كَامِلَةً يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴾ پوره په ورځ دقیامت کي ﴿ وَمِنۡ أَوۡزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ ﴾ او(هم داسي واخلي) له پېټي (دګناهونو) دهغوکسانو) چي ګمراه کړي دي دوی هغولره په ناپوهي کي) څکه دوی دهغومشران اورئیسان وو څکه به یې ګناهونه ورباندي باربږي ﴿ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴾ خبردارشئ بددی هغه څیز چي دوی یې باروي (پخپلوشاوو باندي) دغه په زجرکي زیاته مبالغه ده ﴿ قَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ ﴾ په تحقیق مکرکړی دی (مجرمانوله انبیاووسره) هغو کسانوچي (تېرشوي) دي پخواله دوی نه ؛ دوی غوښتل چي دالله دنورشغله مړه کړي هغوی دمکې له کفاروپخواتېرشوي وو پدې کي درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډاډینه اوتسلاده ﴿ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنۡيَٰنَهُم مِّنَ ٱلۡقَوَاعِدِ ﴾ نوراغی حکم) دالله په (چپه کولو) د(اوچتو) مانیو ددوی له تاداوونو څخه) پدې کي ددوی دمکرتمثیل شوی دی چي انجام یې څه وو؟ ﴿ فَخَرَّ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّقۡفُ مِن فَوۡقِهِمۡ ﴾ نوپرېوت پردوی چت (دکوټو ددوی) له پاسه دسرونو (ددوی اومړه شول) ﴿ وَأَتَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴾ اوراغی دوی ته عذاب له هغه لوري چي نه پوهېدل ؛ په زړه کي یې هم نه ورتېرېدل په آیت شریف کي دهلاکت پوره تمثیل راغلی چي هغه کسان چي په انبیاوو علیهم السلام ملنډي وهي له هغوی سره مکرکوي دالله ددعوت اوبلني په وړاندي خنډجوړوي داسي سوچ کوي چي ددوی مکراوفرېب به شنډنشي اوتدبیربه یې مات نشي خوالله پردوی چاپېردی الله یې له داسي پلوه چي دوی ګومان هم نکوي هلاکوي ﴿ ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُخۡزِيهِمۡ ﴾ بیاپه ورځ دقیامت کي به(الله وشرموي) رسواکړي دوی ﴿ وَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمۡۚ ﴾ اووبه فرمایي چي: چېرته دي شریکان زما؟ (ستاسي په زعم) هغه چي وی تاسي چي مخالفت به موکاوو (له انبیاوو سره)هغوی راحاضرکړئ چي ستاسي شفاعت وکړي په آیت شریف کي داستهزاء اوتهکم اسلوب راغلی دی ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ إِنَّ ٱلۡخِزۡيَ ٱلۡيَوۡمَ وَٱلسُّوٓءَ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ وبه وایي هغه کسان چي دوی ته علم ورکول شوی دی (بلونکي ، علماء دعوتګر) چي بېشکه رسوایي ده نن ورځ اوعذاب پرکافرانودی؛ دغه به دشماتت په توګه ووایي ﴿ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ ﴾ هغه (کافران) چي قبضوي (ارواح د) دوی ملائکي پدې حال کي چي ظلم کونکي دي دوی په نفسونوخپلو (په کفراوشرک سره) ﴿ فَأَلۡقَوُاْ

(۱) البحر ۵ / ۴۸۴

ﭐلسَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوٓءٍ ﴾ نو وراندي به کړي روغه (غاړه به کښېږدي خلاف العادة په دغه حال دمرګ کي اووبه وايي) نه وو موږه چي عمل به موکاوو دهيڅ قسم بدي (لکه چي بل ځای الله ددوی هسي حکايت کوي چي وايي به : ﴿ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ الانعام: ۲۳ ﴿ بَلَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ (نووبه وايي الله ولي مونه کاوو دروغ مه وايئ !)بلکه کاووتاسي معصيت ګناه بېشکه چي الله ښه عالم دی په هغه څه چي تاسي به کول (په دنياکي) ﴿ فَٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ نو(وبه ويلی شي دغوظالمانوته) چي ننوزئ اوس تاسي ددوزخ په دروازوکي چي تل به پکي ياست ﴿ فَلَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴾ نوخامخابدځای دهستوګني دادوزخ دی دمتکبرانولپاره.

بلاغت:

پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته څه يې دلته په لاندي ډول دي:

۱- پدې آيت کي چي فرمايې: ﴿ فَٱتَّقُونِ ﴾ دالتفات صنعت راغلی او دمستعجلينو لپاره خطاب دی

۲- داطناب اسلوب چي فرمايې: ﴿ أَمْوَٰتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍ ﴾ چي دغه دهغوکسانوچي دبتانوعبادت کوي سفاهت څرګندوي اوبل مثال يې داآيت چي: ﴿ لَا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴾ دی.

۳- دطباق صنعت د ﴿ يُسِرُّونَ ... او ... يُعْلِنُونَ ﴾ او ﴿ تُرِيحُونَ ... و تَسْرَحُونَ ﴾ ترمينځ

۴-دمبالغې صيغه لکه په ﴿ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴾ او ﴿ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ کي چي راغلی دی.

۵-دسلب طباق لکه په ﴿ أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ﴾ کي چي راغلی دی.

۶-پدې آيت کي چي فرمايې ﴿ لَا يَخْلُقُونَ وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴾ ناقص جناس شتون لري.

۷-تمثيلي استعاره لکه ﴿ قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ..... فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ ﴾ کي چي ددغومکرجنوحال يې له هغه چاسره تشبيه کړچي دنګي ماڼۍ يې وداني کړي وي او ورباندي راپرېوزي دوی ترې لاندي ومري پدې کي تمثيلي استعاره راغلی ده اودمشابهت وجه يې داده چي دوی خوګومان کاوودغه به ددوی دبقاسبب وي خوهغه يې دهلاکت سبب جوړشي لکه چي وايې:

کوهی مه کينه دبل سړي په لارکي * ناګهانه به دستاپه کوهي لارشي.

فائده:

قرطبي وايې چي : سورة النحل ته دنعمتونو سورت هم وايې ځکه چي الله کوم زيات نعمتونه پخپلوبندګانو پېرزوکړي دلته يې يادونه شوي ده(۱)

***

(۱) القرطبي ۱۰/ ۳۶

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ
خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ
ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٣٢﴾ هَلۡ
يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ أَمۡرُ رَبِّكَۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن
كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٤﴾ وَقَالَ
ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ
فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ
وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ
كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾ إِن تَحۡرِصۡ عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَن يُضِلُّۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٣٧﴾
وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٨﴾
لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي يَخۡتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰذِبِينَ ﴿٣٩﴾ إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن
نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ
لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۚ
فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ
وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾ أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا
يَشۡعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾
أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدٗا لِّلَّهِ وَهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ دَٰخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَلِلَّهِ
يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُونَ
مَا يُؤۡمَرُونَ ۩ ﴿٥٠﴾ ﴾ النحل: ۳۰ ــ ۵۰

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی دهغو بدمرغو کسانو چي دالله دنعمتونو کفران يې کړی يادونه وکړه هغوی چي قرآنکريم يې پېغور ګڼه او ويل يې چي دغه دپخوانيو امتونو چټيات او اپلتي کيسې دي نو الله ددوی اخروي انجام او هغه خواري ، شرمندګي او سپک والی وښودچي دوی به ورسره په قيامت کي لاس اوګرېوان وي ورپسې دلته الله پاک دنېکمرغه خلګو هغه نعمتونه او پېرزويني راوړې چي الله به يې په

جنت کي ورکوي ترڅو ددوارو ډلو ترمينځ جلاوالی بربنډشي اوډابرارو اوفجارو ترمينځ ښه بېلتون وشي لکه چي دقرآنکريم تل همدغه اسلوب دی.

لغتونه:

(الزبر) آسماني کتابونه دزبورجمع اوليکلي کتاب ته وايي (يخسف) په ځمکه کي ننوتل ته (خسف)وايي (يتفيأ) يوبل لوري ته کږېږي اوسيوري ته (فئ) څکه وايي چي: له يوه لوري بل ته خوځېږي درومي (داخرون) سپک اوذليل.

تفسير:

﴿ وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ ﴾ او وبه ويل شي هغوکسانوته چي متقيان (دايمان خاوندان دوهمه ټولگی ده ﴿مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا۟ خَيْرًا ۗ ﴾ (چي څه شيزدی هغه چي ستاسي رب نازل کړی دی ؟ نو وايي دغه (مؤمنان) چي (رالېږلی يې دی زموږ) خير) مفسرين کرام وايي: دحج دموسم په وخت کي به چي کله سړی مکې ته راغی نوله مشرکانوڅخه به يې دمحمدصلی الله عليه وسلم په هکله اودهغه چاري پوښتنه کوله هغوی به ورته ويل: بېشکه دغه کاهن ، کوډگر اودروغجن دی اوبيابه مسلمانانوته راغی اودمحمدصلی الله عليه وسلم اوهغه څه چي ورباندي نازل شوي پوښتنه به يې وکړه هغوی به په ځواب کي ورته ويل: الله ورباندي خير، هدايت اوقرآن نازل کړی دی نوالله جل جلاله ددوی دنېکي جزا په هکله بيان فرمايي: ﴿لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ ﴾ شته هغو کسانوته چي نېکي يې کړي ده په دغه دنياکي نېکه جزاء (داحسان په سبب) ﴿وَلَدَارُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ ۚ ﴾ اوخامخاکورد آخرت (جنت) غوره دی (ترکورددنياڅکه چي هغه تلپاتي اودنيا فاني ده ﴿ وَلَنِعْمَ دَارُ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾اوخامخاډېرښه کورد پرهېزگارانو دی (دغه دار) ﴿ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ ﴾ جنتونه دي دهمېشه اوسېدلو چي ننوزي به دوی هغوته چي رواني به وي لاندي (له مانيواوونو) دهغه ويالې ﴿ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ ۚ ﴾ چي وي به تل دوی ته په دغو باغونوکي هرهغه نعمت چي دوی يې اراده کوي (پرته له کوم کړاواومشکل څخه!) ﴿كَذَٰلِكَ يَجْزِى ٱللَّهُ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾په شان ددغي جزاجزا ورکوي الله پرهېزگارانو ته (هغه چي پرهېزکونکي له محارمو اومنگولي ښخونکي په اوامرو وي) ﴿ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ ﴾ (هغه کسان چي قبضوي ارواح گاني ددوی پرښتې پداسي حال کي چي پاک دي (دغه مقتين له شرک اومعصيته خوښي به څرگندوي دوی دالله جل جلاله په پيوستون اوملاقات باندي) ﴿يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمُ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ (سلام به ورته وايي دوی ته چي ننوزئ جنت ته په سبب دهغو نېکيو چي تاسوبه يې عمل کاوو) يعني ملائکي به سلام وراچوي اودجنت زېری به ورکوي ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي پرښتې به دالله له لوري سلام ورته راوړي اوداخبربه ورکوي چي دوی له

اصحاب اليمين ښخه دي[۱] ﴿ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ ﴾ (آيا انتظار کوي دغه (کفار) مګر ددې چې رابه شي دوی ته ملائکې (دقبض کولو د روح يې) اويا راشي ورته حکم دعذاب درب ستا) بيرته خبره دمشرکانو توبيخ اوتقريع ته راوګرزي چې دوی څومره په باطل کې غوپه اوپه دنياغره دي نومعناداچې دوی انتظارنه کوي مګردوو څيزونو چې يويې دمرګ راتلل دي اوبل سمدستي عذاب دی آيادوی ته دپخوانيو مکذبينو (دروغجنو) انجام ښرګندنه دی چې ترې پند واخلي؟ ﴿ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ په شان ددغه (کفراوتکذيب) کړی وو (شرک اوتکذيب) هغوکسانو چې پخواله دوی تېرشوي وو (ترڅوچې ورباندې عذاب نازل شو) ﴿ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ اوالله پردوی ظلم نه وو کړی (په اهلاک اوتعذيب سره) ولکن وو دوی چې پرځانونو خپلو يې ظلم کاوو (په شرک او ګناهونو سره) ﴿ فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ ﴾ نو ورسېده دوی ته جزادهغوبديو چې کړي وو دوی (دپليتو اعمالوڅخه) ﴿ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ اوچاپېرشو پردوی (دردناک عذاب دجحيم) چې وودوی په هغه (عذاب) پوري به يې مسخرې کولې ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ ﴾ او وويل هغو کسانو چې شرک يې غوره کړی وو (د قريشو کفارو) ﴿ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيْءٍ ﴾ که اراده فرمايلې وای الله نوموږ به عبادت نه وو کړی غيرله دغه (الله) دهيڅ څيز (نه) موږ او نه پلرونو زموږ اونه به حرام کړی وو موږ بې له حکمه ددغه (الله) هيڅ شی) يعني که دالله اراده وای نوبه نه موږ اونه هم زموږ پلرونو دبتانو عبادت کړی وای اونه به مو هغه څه چې حرام کړي مودي لکه (بحائر اوسوائب) حرام کړي وای دغه به يې دملنډو اواستهزاء په توګه ويل نه داچې همداسې يې عقيده وه د دوی مقصدله دې نه داوو چې ګواکې ددوی اشراک اوتحريم دالله په اراده ترسره شوی اودغه صواب اوحق دی[۲] ﴿ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ په مثل ددغه (عمل ددوی کړي وو هغو کسانو چې پخواله دوی (تېرشوي) وو (له مجرمانو مکذبانو څخه استهزاء اوتکذيب اوهمداسې باطل احتجاج يې کړی وو خپل کفر او ګناهونه يې

---

(۱) الطبري ۱۴/ ۱۰۱

(۲) په تفسيرفی ظلال کې ليکي: چې دغه دمشرکانو يوه نوې ويناده چې دوی يې دخپل شرک دسبب په هکله کوي وايي: چې ددوی شرک اوتحريم دځينوذبائحو دالله په مشيت اواراده باندې صورت نيولی دی که الله غوښتي وای (ددوی په زعم) چې داسې څه دې ونکړي نوځنې منع کړي به يې وای ... اودغه وهم اوخطاء دی چې دوی يې دالهي مشيت په هکله لري ځکه الله جل جلاله دبندګانو لپاره شرک نه خوښوي اونه هم پدې راضي دی چې هغه پاکيزه حلال شيان دې حرام وګرزولی شي دالله دغه اراده ددوی درسولانو په ژبه منصوصي شريعت دوی ته ابلاغ شوې وه ځکه الله فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِى كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾ دغه دالله حکم اودغه يې اراده ده خودالله خالق اوحکيم ذات ارادې داغوښتې چې بشرته دغوراوې اواختيارواک ورکړی چې هدايت غواړي، که ضلالت خوښوي ۱۴/ ۶۱

هېر کړي وو سره له دې چې انبياوو دوی دالله له غضبه اوله اوره څخه وېرولي وو ﴿ فَهَلْ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾ آيا شته پررسولانو؟ (بلکه نشته پرې هيڅ) مګر رسونه ښکاره ده (اودهدايت اوايمان واک له الله جل جلاله سره دی ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِى كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾ اوخامخا په تحقيق لېږلی وو موږ په هر (پخواني) اُمت کې يورسول چې (وواېي دوی ته) چې عبادت کوئ (يوازې) دالله اوځان ساتئ له باطلو معبودانو څخه (لکه کاهن، شيطان اوبت اوهر هغه چې ضلالت اوګمراهي ته مو بولي ﴿ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى ٱللَّهُ ﴾ نو ځيني له دوی هغه ووچې الله ورته لارښوونه وکړه (عبادت اودين ته نوايمان يې راووړ) ﴿ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ ٱلضَّلَٰلَةُ ﴾ اوځيني ددوی هغه ووچې ګمراهي پرې ثابته شوه (اوکافران شول پوه شه چې الله خپل رسولان اواستازي ددې لپاره رااستولي چې خلګ دالله جل جلاله لوري ته وبولي نوځيني ددوی دبلنې اجابت کوي الله ورته دحق لارښوونه کوي اوځيني هغه دي چې بلنه يې نه مني نوالله يې ګمراه کوي ﴿ فَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴾ نو وګرزئ تاسي په ځمکه کې (ای دقريشو مشرکانو) نو وګورئ چې څرنګه وه آخره خاتمه (انجام) ددروغجن کونکو (ښايې چې تاسي پندواخلئ) ﴿ إِن تَحْرِصْ عَلَىٰ هُدَىٰهُمْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَن يُضِلُّ ﴾ (که ته ډېر حرص وکړې (ای محمده!) په هدايت ددوی نوبېشکه چې الله دهدايت لاره نه ښيې هغه چاته چې ګمراه‌کوي يې) دلته رسول الله ته خطاب فرمايې چې: ای محمده که ته ددوی په لارښوونه اوهدايت کې ډېر حرص هم وکړې خوالله جل جلاله په زوره اوجبري توګه هدايت هغه چاته نه کوي چې پخپله خوښه يې ګمراهي غوره کړې وي ﴿ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴾ اونه به وي دغو ګمراهانوته هيڅ له مددګارانو (چې دالله له عذابه يې وژغوري) ﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَا يَبْعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ ﴾ اوقسمونه کوي دوی پرالله په سختوقسمونوباندې چې الله به بيانکړې ژوندی هغه څوک چې يوځل مړشي، دوی بيرته راپاځېدل ډېرناشونې ګڼل چې څرنګه به وراسته اوايرې شوي بدنونه بيارغېږي اوراپاڅېږي الله ددوی دترديد په هکله وفرمايل: ﴿ بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا ﴾ بلکه ژوندي به يې کړي (ځکه چې وعده يې کړې ده) پداسې وعده کولو چې پرې لازمه ده (خامخابه يې (تفضلا) ترسره کوي) ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ وليکن ډېرد خلګونه پوهېږي (په قدرت دالله نوله بعث اونشور څخه انکارکوي) ﴿ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى يَخْتَلِفُونَ فِيهِ ﴾ (دپاره ددې چې ښکاره کړي الله دوی ته (حشر اونشر) چې جګړې به کولې دوی په هغه کې) يعني الله به دوی راپاځوي چې دوی ته خپله ګمراهي څرګنده شي هغه چې له بعث څخه به يې انکارکاوو اوترڅوهغه حق چې دوی به پکې اختلاف کاوو ورښکاره اوعدل وشي اودمطيع اوعاصي ترمينځ بېلتون راشي اوظالم اومظلوم سره جلاشي ﴿ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰذِبِينَ ﴾ او(بل) ددې چې پوه شي هغه کسان چې کافران شوي دي (پدې

خبره چي) بېشکه دوی دروغجنان دي (په هغه څه کي چي دوی يې وايي) ﴿ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَآ أَرَدْنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ (بېشکه هم دا خبره ده چي خبرزموږ کوم څيزته کله چي اراده وکړو (د پيدا کولو يې) داده چي وو وايو هغه ته چي (پيدا) شه نو(پيدا) شي) يعني دغه چاره زيات محنت ته اړه نلري څکه موږ يوشي ته وايو(شه) پس هغه (وشي) مفسرين کرام وايي چي : دغه يوازي ذهنونوته تقريب اونږدې کول دی په حقيقت کي خوچي دالله پاک کوم کارته اراده وشي نوپرته د(کن) له لفظ څخه هم هغه کېدونکی دی ﴿ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُواْ ﴾ (او هغه کسان چي هجرت يې کړی دی (په لاره د الله کي وروسته له هغه چي ظلم پرې وکړی شو) يعني هيوادونه ، خپلوان او اهل يې دالله درضا لپاره پرېښودل وروسته له هغه چي دالله په لار کي عذابونه ورکول شول . امام قرطبي وايي چي دوی صهيب ، بلال ، خباب او عمار رضوان الله عليهم وو چي دمکې خلکو دوی سخت وځورول او څه چي يې غوښتل هغه يې ورته وويل او کله چي يې پرېښودل نو دوی مدينې ته هجرت وکړ [1] ﴿ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ﴾ نو خامخا ځای به ورکړو موږ دوی ته په دنيا کي ښه (ځای) ترهغه چي دوی پرې ايښی دی. ابن عباس رضی الله عنه وايي چي دوی ته يې مدينه منوره دارالهجرت ورکړه ﴿ وَلَأَجْرُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴾ او خامخا اجر د آخرت ډېر لوی دی که وی دغه (خلک) چي پوهېدی (پرې) ﴿ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ (او مهاجرين) هغه کسان چي صبرېي کړی دی (په کړاوونو او مصيبتونو) او خاص په خپل رب توکل کوي (هيوادونه او ورونه يې پرې ايښي يوازي په پاک الله يې توکل وي او اجر ثواب يې غواړي ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِيٓ إِلَيْهِمْ ﴾ او نه وو لېږلي موږ پخوا له تا نه (ای محمده !) مګرسړي (ستا په شان) له انسانانو چي موږ به دوی ته وحی کوله) يعني ای محمده موږ له پخوانيو اُمتونو څخه هم ستا په شان نارينه انسانان استولي او ورته مووحی کړي وه لکه چي تاته موکړي . مفسرين کرام وايي چي قريشي مشرکانو دمحمدصلی الله عليه وسلم له نبوت څخه انکار کاوو او ويل يې الله پاک ډېر لوی ذات دی چي هغه دي بشرا ستازی را واستوي ولي الله جل جلاله پرېښته نه رالېږي نوالله وفرمايل: ﴿ فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ نو پوښتنه وکړئ تاسي له اهل ذکر(علماوو ، پوهانو ، اهل کتابو) څخه که تاسو نه پوهېږئ ؛ يعني دتورات او انجيل له عالمانو وپوښتئ چي ګردانبياء عليهم السلام بشر (بنيادمان) وو ﴿ بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ ﴾ (لېږلي وو دغه رسولان) په ښکاره وو معجزو او (مقدسو) کتابونو باندي ﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ ﴾ او نازل کړی دی موږ تاته ذکر لپاره ددي چي بيان کړې ته خلکو ته هغه چي نازل شوي دي (په دې قرآن کي) دوی ته) يعني موږ تاته دغه قرآن چي دزړونو وېښوونکی او پند ورکونکی دی نازل کړی ترڅو هغوی ته حلال او حرام

[1] القرطبي ۱۰/۱۰۷

اونور احکام ور وښيي ﴿ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ (اوبل لپاره ددې) چي ښنائېږي دوی (پکي) فکراوغور وکړي (اوځني پند واخلي) ﴿ أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخْسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلْأَرْضَ ﴾ آيانوپه امن کي شوي دي هغه کسان چي مکرونه يې کړي دي ناکاره له دې څخه چي ډوب به کړي الله دوی په ځمکه) يعني آيادغه کفار چي درسول الله صلی الله عليه وسلم دوژلو توطئې يې جوړولې له دې څخه بېغمه شوي چي الله يې لکه قارون په ځمکه ننې باسي ﴿ أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ ياچي رابه شي دوی ته عذاب له داسي لوري چي دوی نه پوهېږي (پرې) يعني دوی ته به پداسي حال کي چي (دوی په بېغمي اوامن وي عذاب راشي چي هډو دوی به دعذاب ګمان هم نکوي اونه به يې په طرف پوهېږي چي له کومه راغی ؟﴿ أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِى تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴾ ياله دې چي ونيسي (الله) دوی په وخت دګرزېدلوددوی (په ځمکه کي لپاره دسوداګري او رانيولوپلورلو) نونه دي دوی عاجزکونکي دالله ﴿ أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ ﴾ يا(له دې) چي ونيسي (الله) دوی لږه پر وېره سره (چي دوی دعذاب له راتللو څخه په وېره کي وي. ابن کثيروايي چي: دغه ډېرسخت دی چي کله يوڅوک ديوشي له وېري سره دراتلو تريخ انتظارباسي اوهغه ورته راورسېږي ﴿ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ نوبېشکه رب ستاسي خامخابېه مهربان دی ښه رحم درلودونکی دی (چي تاسوژر ترژره په عذاب نه اخته کوي ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ ﴾ (آيانه ګوري دوی هغه ته چي الله پيداکړی له کومه څيزه) يعني آيادغه کافران پندنه آخلي اودالله جل جلاله دقدرت ښې نښانې نه ويني چي الله غرونه، ونې اوډېري پيداکړي دي اوهمداراز نور مخلوقات ﴿ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَـٰلُهُۥ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلَّهِ ﴾ چي ګرزي سيوري دهغه له ښي طرفونو او کيڼ طرفونو څخه پدې حال کي چي سجده کونکي دي (دغه سيوري) الله ته (دالله له ارادې وتونکي نه دي ﴿ وَهُمْ دَٰخِرُونَ ﴾ حال داچي دغه سيوري عاجزي کونکي دي (الله ته) يعني دالله قدرت اوتدبير ته غاړه ايښودونکي دي نوځرنګه کافران بيادالله له طاعت څخه غاړه غړوي اوتکبرکوي ﴿ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله ته سجده کوي هغه شيان چي په آسمانونو کي دي اوهغه شيان چي په ځمکه کي دي ﴿ مِن دَآبَّةٍ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴾ له ګرزېدونکو اوملائکوحال داچي دوی کبرنه کوي (له عبادته الله ته غاړه اېښودونکي وي ﴿ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ وېرېږي له رب خپل (چي اعلی دی پردوی په قهراوغلبه) له پاسه ددوی اوکوي دوی هغه کارچي ورته حکم کاووه شي يعني دالله له جلال اوعظمت څخه وېرېږي اوتل ترتله دالله جل جلاله داوامرو امتثال کوي.

بلاغت: پدې آيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته دادي:

۱- ایجاز بالحذف پدې کلام کې چې ﴿ قَالُوا۟ خَيْرًا ﴾ يعني ويل بې چې الله جل جلاله خير نازل کړی دی.

۲- پدې قول د الله تبارک وتعالی کې د اطناب صنعت راغلی دی چې فرمايې: ﴿ مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ ﴾.

۳- د طباق صنعت پدې کلماتو کې ﴿ هَدَى ٱللَّهُ ... حَقَّتْ عَلَيْهِ ٱلضَّلَـٰلَةُ ﴾ او پدې کې چې ﴿ لَا يَهْدِى مَن يُضِلُّ ﴾ او په ﴿ ٱلْيَمِينِ ...وَٱلشَّمَآئِلِ ﴾ کې.

۴- په دې کلام کې چې فرمايې ﴿ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ د مبالغې صيغې راغلې چې فعول او فعيل دی.

۵- د خاص ذکر وروسته ترعام چې فرمايې: ﴿ يَسْجُدُ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ﴾ پدې کې د پاکيزه پرښتو تعظيم او تکريم نغښتی دی.

۶- سجع لکه په ﴿ يَتَفَكَّرُونَ ...دَٰخِرُونَ... يَشْعُرُونَ ﴾ کې راغلې ده.

فائده: ځيني پوهانو د الله تعالی له دې وينا څخه چې فرمايې: ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِمْ ﴾ دا رايستلې ده چې نبوت يوازې په نارينه وو سړو کې دی په ښځو کې نبوت له سره نشته او دغه ډېر باريک استنباط دی.

تنبيه:

ابن تيميه په منهاج السنة کې ليکي چې: په قدرباندې دليل نيول يو مخه ايزه د هرعقل او دين د خاوند له خوا باطل دی ځکه نو کله چې مشرکانو وويل: ﴿ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا ﴾ الله جل جلال يې داسې ترديد وفرمايو چې: ﴿ قُلْ هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَآ ۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ﴾ همداسې مشرکان پخپل فطرت او عقل سره پدې پوهېږي چې دغه باطل دليل دی ځکه که چېرې يو د دوی پر بل باندې ظلم وکړي او يا يې زوی ور ووژني ، يا يې له ښځې سره زنا او بدلمني وکړي ، يا خو په ظلم کولو باندې ټينګار کوي او وايې چې که د الله خوښه وای نو به ما دغسې نه کول هيڅوک به دده دغه دليل ونه مني او نه به دغه ظالم د بل چا دغسې دليل ومني خو دليل وينکی يوازې ځان له ملامتيا ژغوري او داسې دليل راوړي.(۱)

الله تعالی فرمايې:

﴿ ۞ وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓا۟ إِلَـٰهَيْنِ ٱثْنَيْنِ ۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَإِيَّـٰىَ فَٱرْهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًا ۚ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾ وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْـَٔرُونَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا

(۱) د محاسن التأويل لسم ټوک څخه په لنډون.

كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنكُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُوا۟ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾ وَيَجْعَلُونَ
لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَٰهُمْ ۗ تَٱللَّهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴿٥٦﴾ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ سُبْحَٰنَهُۥ ۙ وَلَهُم مَّا
يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ
أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى ٱلتُّرَابِ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ ٱلْمَثَلُ
ٱلْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ
فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ
ٱلْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ ٱلْحُسْنَىٰ ۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾ تَٱللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَزَيَّنَ
لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى
ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَـَٔايَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾ وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ
﴿٦٦﴾ وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلْأَعْنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ وَأَوْحَىٰ
رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ أَنِ ٱتَّخِذِى مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِى مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسْلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ
يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ
يَتَوَفَّىٰكُمْ ۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَىْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ
فِى ٱلرِّزْقِ ۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُوا۟ بِرَآدِّى رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَآءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٧١﴾
وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ
يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ ٱللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٢﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ شَيْـًٔا وَلَا
يَسْتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾ فَلَا تَضْرِبُوا۟ لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٧٤﴾ ﴾ النحل: ٥١ – ٧٤

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تبارک وتعالی ددي یادونه وکړه چي دکائناتو هرڅه دالله لپاره غاړه ایښودونکي اوحکم منونکي دي نوبیا دلته یوازي دهغه ذات لپاره دعبادت کولو ماربینه وکړه هغه چي پیداکونکی اوروزي رسان دی ورپسي بې دجاهلیت دوختونو ګمراهي بیان اودخلګو بې سترو نعمتونو ته پام راواړاوو چي شکربې پرځای اودالله عبادت وکړي.

لغتونه:

(واصبا) تل اولازم جوهري وایې چي ددې کلمې چي وایې (وصب الشئ) معناداده چي همیشه به وي داخېز لکه چي الله فرمایي: (ولهم عذاب واصب) یعني تل ترتله (تجئرو) په لوړ اواز دعاګاني اوزاري کول

د(اجار) معنا چیغي وهل دي (كظيم) له قهر او غمه ډک او کظم هغه چاته وايي چي خوله پټه کړي او له ډېره تهره ببخي خبري نکوي (بتوارى) پټېږي (هون) ذلت، خواري (فرث) خوشايې کوم چي په کولمو او ګېډه کي چټل مواد وي (سائغا) خوندور اولذيذ (ذللا) د ذلول جمع او معنايي دغاړه ایښودونکي، تابع او بې تکليفه ايل (حفدة) لمسيان داولادونو اولاد ازهري وايي چي مرستندويانو او چوپړيانو ته وايي.

تفسير:

﴿ وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ ﴾ اوالله فرمايلي دي تاسي دوه معبودان مه نيسئ (چي حق الله متعدد کېږي نه) ﴿ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ ﴾ ببشکه همدا خبره ده چي دغه (برحق) معبود يو دی (فرد اوصمد دی) ﴿ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴾ نو خاص له ما څخه پس ووېرېږئ ﴿ وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ او خاص همدغه الله ته دي هرهغه څه چي په آسمانوکي دي او چي په ځمکي کي دي (خلقًا، ملكًا اوعبيدًا) ﴿ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ ﴾ او خاص هم ده ته دی طاعت همېشه واجب، ثابت (ځکه هغه برحق الله او خالص طاعت يې لازم دی) ﴿ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ﴾ آيا غير له الله څخه تاسي وېرېږئ؛ همزه داستفهام او هغه دانكار او توبيخ لپاره راغلی يعني څرنګه تاسي پرته له الله له بل چا څخه وېرېږئ چي نفع اوضرر نشته مګر دالله په قدرت کي دی؟ ﴿ وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ﴾ او هرهغه څه چي له تاسي سره دي له (کوم قسم) نعمت څخه نوله (طرفه) دالله دي (که روزي ده، که روغه ستړه اوکه برئ دي ټول دالله دفضل او احسان څرګندونکي دي ﴿ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ﴾ (بيا کله چي ورسېږي تاسي ته ضرر نو خاص هم دغه (الله) ته فرياد او زاري کوئ) يعني کله چي تاسو ته رنځ، فقر، کړاو ورسېږي نو په لوړ آواز آواز کوئ) دعا کوئ مقصد تاسو د تکليف او سختي په وخت کي يوازي الله ته زاری کوئ بې له دې چي خپلو بُتانو ته مخ واړوئ ﴿ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ﴾ بيا کله چي (الله) دفع کړي (هغه) ضرر له تاسي څخه ناڅاپه يوه ډله له تاسي له خپل رب سره (بل) شريکوئ، قرطبي وايي چي: دکلام معنا تعجيب له اشراکه دی چي څرنګه وروسته له نجاته تاسو له الله څخه مخ اړوئ؟ !([1]) ﴿ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ ﴾ لپاره ددې چي کفران وکړي په هغه څېزپوري چي موږ دوی ته ورکړی دی د نعمت، او ددفع کولو درنځ اوضرر له تاسو نه) ﴿ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴾ نو نفع و اخلئ (په دنياکي) نو ژر به پوه شئ تاسي (له اُخروي عذابه ستاسو دکړو انجام به ووينئ) داخو ظاهري امردی مګر دتهديد او اخطار لپاره راغلی دی ﴿ وَيَجۡعَلُونَ لِمَا لَا يَعۡلَمُونَ نَصِيبٗا مِّمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡۗ ﴾ او مقرر وي دا (کفار) دپاره دهغو بتانو چي په هيڅ (يې) نه پوهېږي يوه برخه له ځينو دهغو (مالونو) چي موږ دوی ته ورکړي دي يعني

([1]) القرطبي ۱۰ / ۱۱۵

دوی دهغوبتانولپاره چي دهغوی ربوبیت په کوم دلیل اوبرهان ورته معلوم هم نه دی (۱) یوه برخه له کښتونو اوحیواناتو مقرروي ﴿تَاللَّهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ﴾ په الله قسم دی چي خامخابه تاسي وپوښتلی شی له هغه چي تاسي دروغ تړی (په الله اومقصدله دي څخه دتوبیخ او ټکولو (تقریع) پوښتل دي) ﴿وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ﴾ (اومقرروي (داکفار) الله ته لوڼي) یعني ددغو کافرانو او مشرکانو دسفاهت اوبېعقلي دانښه ده چي پرښتې دالله جل جلاله لوڼي ګڼي نوالله ته دلوڼو نسبت کوي اوخانونوته دزامنو ﴿سُبْحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ﴾ اوپاک دی دغه (الله له دغه افک او بهتانه) او (مقرروي دوی) ځان ته هغه څيزچي ددوی خوښ وي (له زامنو څخه اودلوڼو څخه کرکه او نفرت کوي) ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا﴾ اوکله چي خبرورکړي یوتن ددغو(کفارو) ته (په پیدا کېدود) لورسره نو وګرزي مخ دده تک تور له غمه (اوپرېشاني) ابن کثیروایي چي دغه له غم اوپرېشاني څخه کنایه او توروالی مقصدنه دی اوعرب هغه چاته چي له غم سره مخ شي وایې چي مخ یې تور شو(۲) ﴿وَهُوَ كَظِيمٌ﴾ حال داچي دی له قهره ډک وي ﴿يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ﴾ پټ ګرزي له خپله قومه له سببه دناخوښي دهغه شي څخه چي خبرورکړی شوی دی ده ته (چي دلور دزېږېدلو خبردی اودالکه چي یوازموېښت وي اودالله لورینه نه وي اوبیا سوچ کوي چي څه به وړباندي کوي ؟) ﴿أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى ٱلتُّرَابِ﴾ آیاوساتي هغه لور سره له سپکاوي اوکه یې ومنډي (ژوندی) په خاوروکي؟ ﴿أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾ واوری، خبردار شئ چي بددی هغه چي حکم کوي دغه (کفارچي دلوڼونسبت خپل الله ته کوي اودوی ته هغه بیادومره خواري اوسپکي دي دوی ځانته نارینه زامن غوره کوي (تعالی الله عما یقولون علواکبیرا) ﴿لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوْءِ﴾ دی هغو کسانوته چي ایمان په ورځ دآخرت نه راوړي مثال ناکاره (یعني په قباحت کي چي متل ګرزېدلی وي هغه ددوی لپاره دی ځکه دنقص دوی ته نسبت کاووشي الله ته دنقص اوکمي نسبت کېدونکی نه دی) ﴿وَلِلَّهِ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ﴾ اوخاص الله لره دی مثال لوړ (ځکه هغه لره مطلق کمال دی او دمخلوقاتوله صفتونوڅخه پاک اوسپېڅلی دی ﴿وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ اوهم دی قوي، غالب، حکمت والا(په تدبیرخپل کي ورپسې الله پخپلوبندګانو باندي دحلم یادونه کوي چي سره له دې چي بندګان یې ظلمونه کوي خوالله یې سمدستي نه نیسي فرمایې: ﴿وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ﴾ اوکه نیولي وای الله (دا) خلګ په ظلم (کفراومعاصیو) ددوی سره نوبه یې نه وو پرې ایښی پرمخ دمځکي هیڅ یوخوځېدونکی (له انسان اوحیوان څخه) ﴿وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ ولیکن وروستی کوي

(۱) چاپیاویلي چي دوی ګرزوي یوه برخه دهغه چي الله دوی ته ورکړي دي.لپاره ددوی دهغوخدایانو چي هغوی په هیڅ هم نه پوهېږي ځکه جمادات دي.
(۲) القرطبي ۱۰ / ۱۱۶

دوی ترهغه نېټې په نامه کړی شوي پوري (چي د حکمت غوښتنه وي) ﴿ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ نوکله چي راشي نېټه(تاکلي دهلاک ددوی) نه به وروسته کېږي (دوی له هغي نېټې څخه) (په اندازه) ديوې ګړۍ اونه به تري ړومبی کېږي، لکه چي الله بل ځای فرمايي: ﴿ وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴾ (الکهف ۵۹) ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ ﴾ او ثابتوي (داکفار) الله ته هغه چي بدې ګڼي (دوی خپلو ځانولره(لکه لوڼي چي دوی ځني کرکه کوي اودغه دړومبي توبيخ لپاره تاکيددی ﴿ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ ٱلْكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ اوبيانوي ژبي ددوی دروغ (چي داسي وايي) بېشکه شته دوی ته ښه حالت (په نزد دالله چي دوی به جنتيان وي ﴿ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴾ ثابته خبره داده چي بېشکه شته دوی ته اور ددوزخ اوبېشکه دوی (کفار) به په منډه بېولی شي هلته ،په اورکي به پرېښودلی شي، (۱) (پرځای ددوی ددغوهيلوچي دوی يې لري).بياالله جل جلاله دپيغمبرانودرااستولو نعمت بيانوي ترڅو رسول الله صلی الله عليه وسلم کله چي ورته دکفارو له لوري کړاوونه رسېږي په هغوی پسي دصبراوزغم اقتداء وکړي نوفرمايي : ﴿ تَٱللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَعْمَـٰلَهُمْ ﴾ په الله قسم دی په تحقيق لېږلي وو موږ دأمتونو په لوري پخوا له تاڅخه (ای محمده !) پيغمبران نوښايسته کړل دغو(أمتونو) ته شيطان هغه (بد) عملونه ددوی (چي دپيغمبرانو تکذيب يې کاوواوهغه څه يې نه منل کوم چي انبياوو ورته راوړي وو ﴿ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلْيَوْمَ ﴾ نوهمغه شيطان ددوی دوست دی نن ورځ (په دنياکي اوبېکاره مرستيال دی) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ اوشته دوی ته په آخرت کي دردناک عذاب ﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ﴾ اوندی نازل کړی موږ پرتا دغه کتاب (قرآن) مګرددې لپاره چي ښکاره کړې ته (ای محمده !) دوی ته هغه څيزچي اختلاف کړی دی دغو(خلګو) په هغه کي (له دين اوحکمونوڅخه چي پردوی دليل راوړل شي) ﴿ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ (اولپاره د) هدايت او(لپاره د) رحمت د(هغه) قوم چي ايمان لري) يعني موږ قرآنکريم دزړونو دلارښوونې لپاره اوهم رحمت اوشفاء را استولی دمؤمنانولپاره ورپسې الله دخپل قدرت په باب چي په وحدانيت يې دلالت کوي داسي فرمايي : ﴿ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ﴾ اوالله له طرفه دآسمانه اوبه نازلي کړي (دباران) نوژوندی (زرغونه) يې کړه پدې اوبوسره ځمکه ورروسته له مرګه (وچوالي) د هغې ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴾ بېشکه پدغه (زرغونتوب) کي پس له وچوالي خامخادليل (ښکاره د قدرت)دی لپاره دهغه قوم چي (دالله احکام

(۱) لومړی دحسن اوقتاده رحمهما الله قول دی چي له فرط څخه اخيستل شوی اوداوبو هڅه کونکي ته وايي اومجاهدرحمه الله وايي چي معنايې پرېښودل شوی دی.

دزړه په غوربږونو) اوري (اوپکي سوچ اوتدبر کوي) ﴿ وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ﴾ اوبېشکه دی تاسي ته په چارپايانوکي عبرت (اوپند چي دغه اوښان، غوايې، پسونه، وزې چي تاسوته تابع اومسخرکړزول شوي دالله په قدرت، عظمت او وحدانيت سره دليل دي ﴿ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ ﴾ درڅښنوتاسوته له هغوڅېنو ځيزونو څخه ﴿ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ ﴾ (له مينځه دخوشايواووينو شيدې صافي، پاکي، آسانه تېرېدونکي (خوش مزه) لپاره دڅښنونکو) يعني تاسوته دوينو اوخوشايوڅخه پاکي خالصي ګټوري شيدې ([1]) درڅښنو چي آسانه بې تکليفه خوندوري په ستوني کي تېرېږي ﴿ وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا ﴾ اوله مېوو دخرماګانواو تاکوڅخه (هم درڅښنو چي جوړوئ تاسي له دې مېوو څخه نشه کونکي اوروزي ښه (لکه خرما اوممېز (کشمش) ابن عباس رضى الله عنهما وايې چي: رزق هغه حلاله مېوه اوسکرهغه حرامه ماده بلل کېږي ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ بېشکه پدغو مېوو (اومشتقاتو) کي خامخادليل ښکاره دی لپاره دهغه قوم چي عقل چلوي (اوپکي غورکوي) ابن کثيروايې چي دعقل يادونه دلته پدې مناسب ده چي هغه په انسان کي ترټولو اشرف جزدی نوځکه الله پاک پدې امت باندې هغه نشه اي توکي مشروبات حرام کړي څوچي عقل يې وژغوري ([2]) اوکله چي الله تعالى هغه څه ذکرکړل چي دهغه په سترقدرت دلالت کوي اولوی حکمت يې څرګندوي کوم چي دخوشايو اووينو له مينځه شيدې راباسي اوښايسته روزي له خرما اوتاکونو څخه ورکوي نو ورپسې يې دشاتو درااېستلو هغه چي شفاء ده بيان وفرمايل چي دغه له کمزوري حشرې څخه راوزي اودهغې په ژوندژواک کي عجائب اوغرائب دي اودغه ټول دمقتدرصانع په عظمت دلالت کوي الله فرمايې: ﴿ وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴾ (اوپه زړه کي واچوله ستارب د شاتومچيوته چي جوړوئ تاسي په غرونو کي کورونه اوله ونوڅخه اوله هغوڅخه چي خلک يې لوړ جوړوي) مرادله وحی څخه هدايت اوالهام دی يعني داچي دهغو مصالح مې وروښودل چي خپلي کوټې په شپږ ځنډيز(مسدس) توګه په عجيبه شان جوړکړي او په دې دريوځايونو کي يې ودان کړي چي هغه غرونه، ونې اوهغه ځايونه دي چي خلک يې لوړ دسيوري لپاره جوړوي ﴿ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ﴾ بيانوخورئ تاسي (اى مچيو !) له هرډول مېووڅخه (اوګلانو چي دغه مېوې او ګلان خواږه ، ترخه ، تروه اوهرقسم وی خودالله په قدرت به ترې عسل (شات) جوړېږي ﴿ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ﴾ (نوځئ (الوزئ) په لاره درب خپل پداسي حال کي چي آسانه ده) بې تکليفه) يعني دڅړخوراک لپاره په لارو صافوکي درومئ چي الله ستاسو لپاره مسخرکړي او دتګ راتګ په وخت پکي نه ورکېږئ ﴿ يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ ﴾ (راوزي له ګېډو ددوی دڅښلو

([1]) التفسيرالکبير ۲۰ / ۷۲

(شی شات) چی مختلف دي رنګونه ددې (شاتو) په دغو (شاتو) کې دخلګولپاره شفاء ده) یعني دمچیوله ګېډومختلف النوع شات چي سره، سپین اوژېړ رنګونه لری راوزي اودخلګو ددېرو ناروغیولپاره دوادي امام رازي وايي: که چاويل چي څرنګه دخلګولپاره شفابلل شوي حال داچي د(صفرآء) دناروغانولپاره تاوان لري؟ ځواب دادی چي الله تعالی ندي ويلي چي (لکل الناس) اوياداچي شفاء دي په هرحال کي بلکه څرنګه چي دغه شات دځينو لپاره خوشفادي اوددواګانو ځيني برخه خوشات وي نوداسمه خبره ده چي وويل شي پدې کي شفاده(۱)﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ بېشکه پدې کي خامخاډېر لوی دلیل دی دپاره دهغه قوم چي فکرکوي (دالله په سترقدرت او بدیع صنعت کي) ﴿ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ ﴾ اوالله پيداکړي ياست تاسي وروسته له هغه چی هیڅ شی نه وئ بيابه وژني تاسي (په وخت داجل رسېدلو ستاسي کي) ﴿ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ ﴾ اوځيني له تاسي هغه څوک دي چي رد کولای هغه ډېرخوار ژوندون ته (چي هغه دبوډاوالي زهېرتوب دی)﴿ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا ﴾ دپاره ددې چي ونه پوهېږي (دغه زوړ) پس له هغه علمه چي يې درلود په ځواني کي په هیڅ شي (لکه وړوکی ماشوم غوندي شي عقل اوتوان يې نقصان وموميی)﴿ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴾ (بېشکه چي الله ښه عالم دی (په هرشي) ښه قادردی) یعني الله دخلګو په تدبيرښه پوه اوقدرت خاونددی په هغه څه چي اراده يې وفرمايي لکه چي انسان له علم څخه جهل ته بيايي همداسي يې له مړيني وروسته را ژوندی کوي هم. عکرمه رضی الله عنه وايي: څوک چي قرآنکريم لولي نودغه (ارذل العمر) ته نه رسېږي(۲)﴿ وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ﴾ اوالله زياته درکړي ده روزي ځيني دتاسوته پرځينو نوروباندي (دغه بډای دی اودابل نېستمن دغه مالک دی اودابل مملوک ﴿ فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ ﴾ (نونه دي هغه کسان چي زيات ورکول شوي دي دوی ته ردکونکی دروزي خپل هغه چاته چي مالکان شوي دي ښي لاسونه ددوی (مريونه) یعني دغه بډايان خپل مريونه پدغه روزي کي له ځان سره نه شريکوي چي بيادواړه سره برابر وي داهسي مثال دی چي الله دمشرکانولپاره بيان کړی. ابن عباس رضی الله عنه وايي: معناداچي دوی دې ته نه دي تيارچي خپل مريونه ددوی په مالونو اوښځوکي ورسره شريکان کړي نوبيادوی څرنګه زمابندګان له ماسره په الوهيت اوسلطان کي شريکان بولي؟﴿ أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴾ (آيانوپه نعمت دالله باندي دوی (مشرکان) انکارکوي) استفهام دانکارلپاره دی یعني چي آيادوی له هغه سره شريک نيسي اوهغه نعمتونه اوزياته روزي دوی ته ورکړي ده؟﴿ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا ﴾ اوالله پيداکړي دي ستاسي له جنسه ښځي (چي زړه موورسره مينه اوالفت وکړي، آرام شي، ترمينځ مورحمت اومهرباني

---

(۱) المختصر ۲ / ۳۳۶ (۱) التفسير الکبير ۲۰، ۷۲

(۲) زادالمسير ۴ / ۴۶۷

خوره شي) ﴿ وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً ﴾ اوپيدا كړي يې دي تاسي ته له ښځوستاسي زامن اولمسي ؛ لمسيانوته يې ځكه (حفده) وويل چي دوى دنيكونو خدمت كوي دهغوى دخبرو اوغوښتنو اطاعت كوي ﴿ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾ اوروزي يې دركړه تاسي ته له طيباتو (پاكيزه) وو (مېوودانو ، اوچارپايانو څخه) ﴿ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ ٱللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ ﴾ اوآيا نو(دغه كفار) پرباطلو (معبر دانو) ايمان راوړي اودالله په نعمت (چي اسلام دى) كافران كېږي؟ دغه استفهام بيادتوبيخ اوتقريع لپاره دى يعني آياوروسته له دادومره نعمتونو دالله بياهم دوى په بتانو ايمان راوړي اوپه رحمان كافران كېږي ؟ ﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ شَيْـًٔا ﴾ (اوعبادت كوي دغه كفاربې له الله هغه (څيز) چي هيڅ واک نلري ددوى درزق (وركولو) له آسمانونو اوځمكي (هيڅ څېز) يعني دغه مشركان دهغوبتانو عبادت كوي چي دباران په اورولو اودځمكي په زرغونولو توان نلري چي دوى ته لږ يادېره روزي (رزق) وركړي ﴿ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴾ اونه طاقت لري (كه وغواړي هم توان يې نشته) ﴿ فَلَا تَضْرِبُوا۟ لِلَّهِ ٱلْأَمْثَالَ ﴾ نومه بيانوئ تاسي الله لره مثالونه (چي شيان ورسره مشابه ګڼئ بلكه الله هغه ذات دى چي مثل ، مشابه اوسيال نلري ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ بېشكه الله ته معلوم دي (ټول حقائق) اوتاسي نه پوهېږئ (دالله دعظمت په قدر او اندازه).

بلاغت:

پدې آيتونو كي چي دبديع اوبيان كومي ښكلاوي شته دادي:

۱ - دالتفات صنعت چي له تكلم څخه يې غياب ته فرمايلى دى لكه چي وايي : ﴿ فَإِيَّٰىَ فَٱرْهَبُونِ ﴾ اودادې لپاره چي په زړونو كي هيبت او وېره وروزي اوقصرافاده كړي يعني له ماپرته له بل هيچاڅخه مه وېرېږئ.

۲ - دطباق صنعت چي پدې كلماتو كي لكه: ﴿ يَسْتَـْٔخِرُونَ يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ او ﴿ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ﴾ او ﴿ يُؤْمِنُونَ يَكْفُرُونَ ﴾ كي چې راغلى دى.

۳ - پدې كلماتو كي چي الله فرمايي: ﴿ كُلِى مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ پدې كي ناقص جناس دى.

۴ - داعتراض صنعت چي الله پاک د ﴿ سُبْحَٰنَهُۥ ﴾ لفظ معترض راوړى دى اودادې لپاره چي خلكوته له دغه قبيح جهل څخه تعجب څرګند كړي ....

۵ - دمبالغې صيغې چي ﴿ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ او ﴿ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴾ په كلماتو كي راغلي دي.

۶ - پدې كلماتو كي چي الله فرمايي: ﴿ يَعْقِلُونَ... يَعْرِشُونَ ...يَجْحَدُونَ ... يَكْفُرُونَ ﴾ دسجع صنعت شتون لري.

٧- تهديد او وعيد چي فرمايي: ﴿ فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾. ٨- دالله دا قول چي: (وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ) شهاب وايي چي دغه د بديع او بليغ کلام نمونه ده لکه چي دوی به ويل: (عينهاتصف السحر) يعني (عينهاساحرة) (ستركي يې كوډګري دي) او ياداچي (قدهايصف الهيف) يعني قدېي هيفآء دی جګ نري د نكرته وايي. هيف په اصل كي دوني پاڼي توئيدلو او تندي (تږي والي) ته ويل كيږي.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا
وَجَهْرًا هَلْ يَسْتَوُونَ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْكَمُ
لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَاهُ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ هَلْ يَسْتَوِي هُوَ وَمَن يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَهُوَ
عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٦﴾ وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ إِنَّ
اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٧٧﴾ وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّن بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ
وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾ أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ
إِلَّا اللَّهُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٧٩﴾ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ
بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٨٠﴾
وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَالًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ
الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿٨١﴾ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ
الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٨٢﴾ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُونَ ﴿٨٣﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ
أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ
وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا
مِن دُونِكَ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا
يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾
وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ
تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾ ۞ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي
الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ ﴾ النحل: ٧٥ – ٩٠

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی دمشرکانوبې عقلتوب چي له الله پرته دبتانو عبادت يې کاوو يادکړ وروسته يې دوه مثالونه ددغه ډول عبادت دبطلان لپاره راوړل چي دغه بتان خونه تاوان رسوي اونه گټه، نه ځواب درکولای شي ځکه دوی نه اوري بيايې خلگوته دخپلو ځينو نعمتونو يادونه وکړه ترڅو دالله عبادت وکړي اوشکريې پرځای راوړي په اخلاص اوربښتنولي دالله لپاره په اطاعت اومننه عمل ترسره کړي.

لغتونه:

(أبكم) گونگی چي خبري نشي کولای (كَلّ) هغه چي دبل په اوږو باروي کله کله يتيم ته هم (كل) وايي چي په تکفل کونکي باندي دروندوي (لح) په تلوارسره کتلوته وايي (ظعن) دځړلپاره سفرکولوته وايي او(ظعينة) مسافري مېرمني ته وايي (اوبارها) داوبښ وړيوته (وبر) وايي (ظلال) دظل جمع اوسيوري ته وايي (أكنانا) د(كن) جمع هغه چي له باد اوباران څخه ژغورونکي مسکن وي (سرابيل) دسربال جمع اوزجاج وايي: هرهغه څه چي اغوستلی شي له کميس اوزغري څخه هغه ته سربال وايي(۱)

تفسير:

﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبۡدًا مَّمۡلُوكًا لَّا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٍ وَمَن رَّزَقۡنَٰهُ مِنَّا رِزۡقًا حَسَنًا ﴾ الله يومثال بيانوي چي يومملوک مريی وي په هيڅ شي قدرت نلري (له نفعي اوضرره) اوبل هغه څوک وي چي روزي ورکړي ده موږ ده ته له خپله درباره روزي ښه، الله تعالی دغه مثال دځان اوبتانو لپاره وفرمايل چي کله مشرکانوله الله پاک سره بتان په اُلوهيت کي شريکول نوالله دهغوی مثال داسي بيان کړچي يوڅوک هغه مريي بنده چي له تصرف څخه ناتوان وي له هغه حر، آزاد مالک سره چي په خپلو چارو کي دهرډول تصرف خاوندوي برابرولای شي ؟ سره له دې چي دواړه په بشريت اودالله په مخلوقيت کي سره برابردي نوستاسوڅه گمان دی چي آياترټولو ناتوانه مخلوق له رب العالمين خالق سره برابرېدلای شي؟ ﴿ فَهُوَ يُنفِقُ مِنۡهُ سِرًّا وَجَهۡرًا ﴾ نودغه سړی لگوي له دغه ماله په پټه اوښکاره (دالله درضا لپاره) ﴿ هَلۡ يَسۡتَوُۥنَ ﴾ آيادوی سره برابرېږي ؟ (نه برابرېږي) يعني آيامريونه اومالکان سره برابردي بتان خولکه مريونه هسي دي چي په هيڅ شي توان اوواک نلري اوالله لره خوپاچهي ده دهغه په واک کي رزق دی اوهغه په کائناتو کي دهرډول تصرف کولو توان لري نوڅرنگه الله له بتانو سره برابروئ ؟ ﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ ټوله ثناصفت الله لره دی (په بيانولو ددې مثال اوڅرگندېدلو ددې دليل چي لکه لمر روښان دي) بلکه اکثره (زياتره) ددوی (مشرکانو) نه پوهېږي (چي له ډېري بېعقلي خالق اومخلوق سره برابرگڼي اومالک اومملوک يوشی بولي ﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٍ ﴾ اوبيانوي الله يومثال چي دوه سړي وي يوله دوی څخه گونگی وي (چي څه نه اوري اونه وايي) نه توانېږي په هيڅ شيز؛ دغه دحقيقي اِله اوباطلو بتانو لپاره دوهم مثال دی. مجاهدوايي چي

---

(۱) البحرالمحيط ۵ / ۵۱۸

دغه دالله اوبت لپاره مثال دی(۱) نو بُت ګونګی دی چي نه څه ویلای شي اونه اورېدلای اوپه قطعي توګه په هیڅ شي توان نلري یادبره اویالرګي دي ﴿ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَىٰهُ ﴾ حال داچي دغه ګونګی باروي په خپل بادارباندي ﴿ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ ﴾ هر چېري چي يې بادار واستوي دی په خیرسره نه راځي (خیرنه راوړي) ځکه چي هغه ګونګی ، ناتوان اوبې عقل دی ﴿ هَلْ يَسْتَوِى هُوَ وَمَن يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ ﴾ آیابرابرېږي دغه (ګونګ) اوهغه څوک چي امرکوي (خلګوته په عدل سره)یعني آیادغه ګونګی اوکوم له هغه ذات سره چي بلیغ فصیح بیان لري اودحق اواستقامت په لاره وي دقرآن څلاورته لاره روښانه کوي برابر دی؟ نوکله چي عاقل ددې دوو ترمینځ برابري نه مني څرنګه به دبُت اودېري او قادر، علیم اوهادی الله ترمینځ یووالی اوبرابري ومني(۲) ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ حال داچی دی پخپله هم په سمه لاره وی بیاالله تبارک وتعالی هغه قادر، عالم اوسمي لاري ته هدایت کونکی داسي فرمايي: ﴿ وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله لره دی (علم په) پټو دآسمانونواوځمکو ﴿ وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ﴾ اونه دی امرد قیامت مګرپه مثل دخلاصولو اوپټولو دسترګو بلکه داله هغه څه څخه هم نژدې دی ؛ ځکه چي الله تعالی یوځیزته ووايي (کُن) نوهغه سمدستي (فیکون) موجودشي ځکه نوالله وايي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بېشکه الله په هرشي ښه قادردی ؛ اوله دې جملې څخه دقیامت راتلل هم دي کوم چي کافران يې تکذیب کوي ﴿ وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا ﴾ اوالله راوايستی تاسي له نسونو دمیندو ستاسي حال داچي تاسي په هیڅ شي نه پوهېدی ﴿ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ اودرکړي يې دي تاسي ته غوږونه اوسترګي اوزړونه لپاره ددې چي شکر وکاږئ په نعمتونو دالله تعالی اوثنايې ووایاست ﴿ أَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلطَّيْرِ مُسَخَّرَٰتٍ فِى جَوِّ ٱلسَّمَآءِ ﴾ (آیانه ګوري دغه انسانان دمرغانوپه لوري چي مسخرکړی شوي دي په هوا(آسمان کي) دغه دالله جل جلاله دوحدانیت اوقدرت له دلائلو څخه یودلیل دی ﴿ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ نه ساتي دوی لره (پدي هواکي له رالوېدلو (پرېوتلوڅخه په وخت دکوځر راټولولو اوغوړولوکي) مګرالله سبحانه وتعالی يې ساتي ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ بېشکه په دغه (تسخیر) کي خامخا دلائل دقدرت دي لپاره دهغه چاقوم چي ایمان يې راوړی (دپیغمبرانو په راوړي حکمونو باندي ﴿ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا ﴾ (اوالله پیداکړی دی تاسي ته له کوټوستاسي ځای دسکونت) دغه دالله دنعمتونو دشمېرلولړۍ ده چي الله پاک هغه ذات دی چي

(۱) الرازي ۲۰/ ۹۳

(۲) مختصرابن کثیر ۲/ ۳۴۰

تاسوته يې دختيو اوګټوكورونه دركړي چې تاسو داقامت په وخت كي هلته هستوګنه وكړئ ﴿ وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلْأَنْعَٰمِ بُيُوتًا ﴾ اوالله پيداكړي دي تاسوته له پوستوكي د چارپايانو كورونه (نورچې هغه خيمې، كېږدۍ دي چې له وزغنو (دوزې وښتان) وړيو اوداوښ له وړيو(ورګونو) څخه جوړې شوي وي ﴿ تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ﴾ چې سپک مومئ تاسي هغه په ورځ دكوچ اوسفرستاسي اوپه ورځ داړولو ستاسي (په دېره ځاى كي) ﴿ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَآ أَثَٰثًا ﴾ (اوالله پيداكړي دي تاسوته) له وړيو ددغو(څاروو اواوښانو) له وښتو ددوى (وزو) اسبابونه) چې تاسو يې اغوندئ او وېروئ يې) ﴿ وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴾ اولپاره دنفعي اخيستلو ستاسي تروخت دمړيني ([1]) ﴿ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلًا ﴾ اوالله پيداكړي دي تاسوته له هغو شيزونو څخه چې پيدا كړي يې دي سيوري ؛ مثلا دونو، غرونو، خونو، عمارتونو سيوري چې تاسي له ګرمي څخه وربانديې ځانونه ژغورئ ﴿ وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْجِبَالِ أَكْنَٰنًا ﴾ اوالله پيداكړي دي تاسي ته له غرونو څخه ځايونه دپټېدلو چې تاسي پكي اوسئ لكه غارونه ، سمڅي اوخوندي ځايونه. امام رازي وايې چې: څرنګه دعربوښارونه دسختي ګرمي درلودونكي وو اوسيوري ته خورا سخت اړوو چې له ترخې ګرمي څخه يې وژغوري ځكه نوالله دغه سيوري دسترو نعمتونو په لړ كي بيان كړل([2]) ﴿ وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ اوالله پيداكړي دي تاسي ته كميسونه دپنبه وو ، وړيو، كتان) چې تاسي وژغوري له ګرمي (اويخني) نه ﴿ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ﴾ (او(الله پيداكړي دي تاسوته) كميسونه (داوسپني ،ځغري) چې تاسي دجنګ له ضرره ساتي) يعني الله تاسي ته دكميسونو په شان زغري پيداكړي چې په جګړه كي موددښمنانو له شرڅخه ژغوري ﴿ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ ﴾ (هم داسي (لكه چې تېرنعمتونه يې تمام كړي) پوره كوي نعمت خپل پرتاسي) يعني لكه چې الله دغه شيان پيداكړي اوپرتاسويې پېرزوكړي اولورولي همداسي ددين اودنيانعمت پرتاسي باندي بشپړوي ﴿ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴾ (دپاره ددې چې تاسي اسلام راوړئ) يعني تاسودالله ربوبيت په اخلاص ومنئ) اوپدې پوه شئ چې پدې نعمتونو پيدا كولوباندي له الله پرته بل هيڅوک توان اوقدرت نلري ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾ نوكه دوى (له اسلامه) شاوګرزوله (نوتاته هيڅ ضررنشته) پس بېشكه چې خبره هم داده چې پرتا(اى محمده !) ښكاره رسونه ده (اوتاخپل رسالت سرته رسولى ابلاغ كړى اوامانت دي سپارلى دى) ﴿ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا ﴾ پېژني (كفار) دالله نعمتونه چې اقرارپرې كوي ، بياانكار كوي

([1]) دغه دابن عباس رضى الله عنه وينا ده چې مجاهديې هم ملګرتياكوي اومقاتل وايې چې: معنايې داده تاسي ترڅوچې دغه زاړه اوله مينځه لاړشي وربانديګټه اخلئ.

([2]) التفسيرالكبير ٢٠ / ٩٣

له هغه څخه (چي دغير الله عبادت كوي) سدي وايې چي دالله نعمت پخپله حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دى چي دوى يې نبوت پېژانده خوهغه يې نه مانو اوځني انكاريې كاوو ﴿ وَأَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُونَ ﴾ (اوزيات ددغو منكرانو څخه كافران دي) يعني زياتره ددوى به په كفرمري اوپدې كي دااشاره ده چي ځيني به يې داسلام لاره مومي خواكثره به يې په كفراصراركوي اوګمراهي به غوره كوي ﴿ وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ﴾ اوهغه ورځ چي راپورته به كړو موږ له هرأمت څخه يوشاهد (چي ددوى په ايمان اوكفر باندي ګواهي وركړي ددوى نبي وي) ﴿ ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ بيابه نه وركولى شي اذن (دمعذرت) هغوكسانوته چي كافران شوي دي(څكه چي دوى ته به يې بطلان اودروغ معلوم وي) ﴿ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴾ اونه به له دوى طلب داسترضاكولى شي (چي په قول اوعمل خپل پروردګار راضي كړي څكه ددې وخت تېرشوى اوس دحساب اوعتاب وخت دى . قرطبي وايې چي (عُتبى) دمعتوب رجوع ته ويل كېږي چي د(عاتب) درضالپاره وي دكلمې اصل له عتب څخه اخيستل شوى چي ويل كېږي(عتب رجل) يعني ويې ترټل اوكله چي ستادخوښي لپاره رجوع وكړي نو ويل كېږي (أعتب) (١)﴿ وَإِذَا رَءَا الَّذِينَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴾ اوكله چي ويني هغه كسان كسان چي ظلم (شرك) يې كړى دى عذاب (ددوزخ) نوسپك به نه كړ ي له دوى نه (يوه شېبه) اونه به دوى ته مهلت وركړى شي ﴿ وَإِذَا رَءَا الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ ﴾ اوكله چي ويني هغه كسان چي شرك يې (غوره) كړى دى شريكان خپل (هغه چي په دنيا كي يې دهغوى عبادت كاوو لكه بتان اوګمان يې درلودچي دغه له الله سره په الوهيت كي شريک دي) ﴿ قَالُوا رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا مِن دُونِكَ ﴾ نو وبه وايې دغه (مشركان) اى ربه زموږ! دادي شريكان (خدايان) زموږ هغه چي موږبه بلل (عبادت مو كاوو ددوى په دنياكي) بې له تانه ! بيضاوي وايې چي: دغه ددوى له لوري اقرار او اعتراف دى چي دوى په خطا لاره تللي وو اوهيله من دي چي عذاب يې ورسپك شي (٢)﴿ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾ نو وبه غورځوي دغه (بتان) دوى ته خبره چي بېشكه تاسي خامخا دروغجنان ياست (چي پدې سره به ددوى نورغم او غصه زياته شي اوزړونه به يې ودرد ېږي ﴿ وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ ﴾ اووبه غورځوي دغه (مشركان) الله ته په دغه ورځ كي سوله (صلح) دالله حكم ته به غاړه كېږدي وروسته له هغه چي په دنيا كي يې استكبار اوممانعت كاوو ﴿ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ او ورک به شي له دوى نه هغه چي وودوى چي دروغ به يې تړل (پرالله باندي چي ددوى بتان به دالله جل جلاله په

---

(١) القرطبي ١٠/ ١٢٣

(٢) البيضاوي ٣٦٩

وړاندي ددوی شفاعت کوي وروسته الله تعالی ددوی راتلونکی داسي بيانوي: ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدْنَٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ ٱلْعَذَابِ ﴾ (هغه کسان چي پخپله کافران شوي دي او اړولي دي دوی (نورخلق هم په دنياکي) له لاري دالله موږ به دوی ته زيات کړو عذاب دبل عذاب دپاسه) يعني موږ به دوی ته په جهنم کي دکفرپه عذاب دپاسه بل عذاب هم ورکړو ځکه چي دوی خلګ له هدايت څخه راګرزول ﴿ بِمَا كَانُواْ يُفْسِدُونَ ﴾ په سبب دهغه چي دوی به فسادکاوو (په دنياکي په کفر او ګناهونو سره) ﴿ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِى كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ اويادکړه (ای محمده ! دوی ته) هغه ورځ چي راپورته به کړو موږ په هرأمت کي يو شاهد (پيغمبر) په دوی باندي له ځانونو (قومونو او قبيلو ددوی(چي ددوی په کړو وړوشاهدي ووايي) ﴿ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ اوتابه راولو (ای محمده !) په دغو کسانوشاهد(چي ستا أمتيان دي) ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ ﴾ اونازل کړی دی موږ پرتا(ای محمده) کتاب (قرآن) چي دی بيان واضح لپاره دهر(ديني) څيز) يعني ای محمده موږ پرتاباندي واضح قرآن چي بليغ او ټولو ديني اړينوأمورو ته کافي څرګندبيان دی نازل کړی نودعذر اودليل ځای نه دی پاتي. ابن مسعودرضی الله عنه وايي چي: پدې قرآن کي زموږ لپاره هرعلم بيان شوی دی (۱) ﴿ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴾ (اوهدايت (زړونوته) اورحمت (بندګانوته) اوزيری (مهتدينو) خاصو مسلمانانو ته) دی. ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ ﴾ (بېشکه الله حکم کوي په عدل او احسان سره) يعني الله دمکارم الاخلاق حکم کوي چي دخلګوترمينځ عدل اوله ټولوسره احسان وشي ﴿ وَإِيتَآيِٕ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ اوپه ورکړي سره خاوندانو دخپلوي ته په ځانګړي توګه يې ځکه يادکړل چي ورته زياته پاملرنه وشي ﴿ وَيَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ وَٱلْبَغْىِ ﴾ اومنعه کوي له بدو کارونو اوناروا اعمالو او سرکښي څخه) يعني له هرقبيح قول، اوفعل څخه منع کوي. ابن مسعودرضی الله عنه وايي چي: الله تعالی دهريوه خيراوشر بيان په دغه آيت کي سره راغونډ کړی دی. (۲) (فحشاء) هغه چي په ناولي توب کي انتهاء ته رسېدلی کاروي لکه زنااوشرک(منکر) هغه کارته ويلای شي چي فطرت ځني کرکه کوي او(بغی) له حق اوعدل څخه تجاوز کولوته وايي ﴿ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ پند درکوي تاسي ته (په امراونهی) دپاره ددې چي تاسي (دالله په کلام) پندواخلئ.

بلاغت:

پدې آيتونو چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته په لاندي ډول دي:

---

(۱) القرطبي ۱۰ / ۱۲۵

(۲) البيضاوي ۲۹۲

۱- تمثيلي استعاره چي فرمايي: ﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ أَحَدُهُمَآ أَبْكَمُ ﴾ آيت شريف دبُت مثال ګونګی راوړی هغه چي په هيڅ شمر نه راځي اوددغه بت اوقادرمقتدرذات ترمينځ بياپرتله راغلي چي دغه پرتله له سره کېدونکي يعني شوني نه ده.

۲- مرسله مجمله تشبيه لکه چي وايي: ﴿ كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ ﴾.

۳ - پدې کلماتوکي چي: ﴿ سِرًّا وَجَهْرًا ﴾او ﴿ يَعْرِفُونَ... يُنكِرُونَهَا ﴾او ﴿ ظَعْنِكُمْ ...إِقَامَتِكُمْ ﴾ دطباق صنعت راغلی دی.

۴- دالله تعالی پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ ايجاز بالحذف راغلی ځکه چي، (البرد) هم شته خودلمړني په يادولوله دوهم څخه استغناء، بې پروايي شوي ده.

۵- لطيفه مقابله پدې آيت کي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ وَٱلْبَغْيِ ﴾ راغلي ده.

۶- دالله په دې قول کي چي فرمايي: ﴿ وَإِيتَآيِٕ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ ذکرد خاص وروسته له عام څخه راغلی دی چي هغه عام احسان وو او دا ددې لپاره چي په هکله يې اهتمام وشي.

لطيفه:

داسي راغلي چي کله (اکثم بن صيفي) ته درسول الله دبعثت خبر ورسېدونو هغه دوه تنه ددې معلوماتو ترلاسه کولو لپاره راواستول هغوی پيمغبرعليه السلام ته راغلل ورته ويل يې: ته څوک يې اوڅه کاره يې؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: زه محمدبن عبدالله اودالله استازی يم بيايې دغه آيت شريف ورته ولوست ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ ﴾ دآيت ترپايه هغوی (أکثم) ته راستانه شول اوچي کله يې دغه آيت شريف ورته ولوست هغه وويل: ماته داسي معلومېږي چي هغه دښو اخلاقو حکم ورکوي اوله بدوکارونو څخه خلګ منع کوي نوتاسوپدې باب (اطاعت) سرونه شئ او وروسته پاتي لکۍ مه کېږئ! يعني په تلوارسره متابعت يې وکړئ).

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا۟ ٱلْأَيْمَٰنَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ ٱللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا
إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّتِى نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَٰنَكُمْ
دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِىَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ
تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا
كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ أَيْمَٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُوا۟ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ

تَعۡلَمُونَ ﴿٩٥﴾ مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ
﴿٩٦﴾ مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا
كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٩٧﴾ فَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُۥ لَيۡسَ لَهُۥ سُلۡطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلۡطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوۡنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشۡرِكُونَ ﴿١٠٠﴾ وَإِذَا
بَدَّلۡنَآ ءَايَةٗ مَّكَانَ ءَايَةٖ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مُفۡتَرِۭۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٠١﴾ قُلۡ
نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلۡقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلۡحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٠٢﴾ وَلَقَدۡ
نَعۡلَمُ أَنَّهُمۡ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞۗ لِّسَانُ ٱلَّذِي يُلۡحِدُونَ إِلَيۡهِ أَعۡجَمِيّٞ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيّٞ مُّبِينٌ
﴿١٠٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهۡدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ إِنَّمَا يَفۡتَرِي ٱلۡكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا
يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ﴿١٠٥﴾ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ
وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١٠٦﴾
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٠٩﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ
وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١١٠﴾ ﴾ النحل: ٩١ ـ ١١٠

مناسبت او تړاو:

کله چې الله په تېروشویو آیتونو کې وعداو وعید راوړل ترغیب او ترهیب یې وفرمایو او ټول فضائل اومکارم اخلاق یې یادکړل نودلته یې له عهد ماتولو اودالله جل جلاله له اوامرو څخه دغاړې غړولو په هکله تحذیر راووړ ځکه چې عصیان اوسرغړونه دابتلاء اوحرمان پیلامه ده ورپسې الله هغه چې مؤمنانو ته یې تیارکړي بیانوي.

لغتونه:

(تنقضوا) (نقض) د(ابرام) ضدته وایې یعني دیوشي ماتولو ته نقض وایې (توکیدها) (توکید) تاکید اوتثبیت ته وایې (أنكاثا) له ورېشلو وروسته وښنلو ته ویل کېږي یعني کله چې رسۍ له مرغلین والي څخه اومړې کړي (دخلا) تګې برګې ته وایې ابوعبیده وایې: هره چاره چې سمه نه وي (دخل) درغلي ده (أعجمی) هغه چې په عربي ژبه نه ګړېږي فراء وایې چې أعجم هغه چاته ویلی شي چې په ژبه کې ګنګوره وي که څه هم له نسله عرب وي اوعجمي بیاهغه ته وایې چې له اصله عجم وي (یلحدون) (لحدالرجل) او(ألحد) کله چې له سمي سیخي لارې کوږ شي هغه ته وایې.

دنزول سبب:

ا :- روایت کېږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به دمَرْوَا خنګ ته دیونصراني مریي سره چي (جبر) نومېده کېناست اوهغه به کتاب لوست نومشرکانوبه ویل: په الله قسم دی چي دغه څه ده ته جبر رومي ورزده کوي نوالله جل جلاله داآیت نازل کړچي: ﴿ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٌ ﴾ دآیت ترپایه(۱)

ب: - ابن عباس رضی الله عنه روایت کوي چي مشرکانوعمار، دیاسرزوی اوپلاریې یاسر اوموریې سُمیه ونیول اوهمداراز بلال اوصهیب ته یې ددوی په ګډون شکنجې اوعذابونه ورلیدل . سُمیه یې ددواوښانوترمینځ وتړله اوپه شرمګاه کي یې په نېزه ووهله شهیده شوه اوهمداسي یاسریې هم شهید کړ چي ددې خاوند وو دوی په اسلام کي لومړني شهیدان دي اوپاتي شو عمار رضی الله عنه نو هغه دډېرکړاو ګاللو وروسته ددوی څخه دځان ژغورلو لپاره یوه کلمه ترخوله را وایستله چي دوی ځني په زوره غوښتله اوبیا(په ژړا) رسول الله ته راغی اودغه شکایت یې ورته وړاندي کړرسول الله صلی الله علیه وسلم ځني وپوښتل چي په هغه حال کي دي زړه څرنګه وو ؟عمار رضی الله عنه ورته ویل چي: زړه مي په ایمان مطمئن وو (هیڅ شک اوشبهه ورته نه وه راغلي) نورسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل که چېري دوی بیامجبورولې هم داسي وکړه اوالله پاک داآیت نازل کړ: ﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَـٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِٱلْإِيمَـٰنِ ﴾ (۲)

تفسیر:

﴿ وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ إِذَا عَـٰهَدتُّمْ ﴾ (اوتاسي دالله په عهدوفاکوئ کله چي پخپلومنځونوکي سره عهدوتړئ) یعني په هغو وعدو چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم اویانورو خلګوسره موکړي وفاوکړئ اوبشپړي یې کړئ ﴿ وَلَا تَنقُضُوا۟ ٱلْأَيْمَـٰنَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا ﴾ اوتاسي خپل قسمونه (عهدونه) دبیعت مه ماتوئ وروسته له محکم کولو (په قسم ,الهي ذکر) ﴿ وَقَدْ جَعَلْتُمُ ٱللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ﴾ حال داچي په تحقیق تاسي الله پخپلو ځانونو شاهد ، څارونکی ګرزولی دی (په دغه بیعت باندي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ بېشکه الله ته معلوم دي هرهغه څه چي تاسي یې کوئ (نوپه هغه به جزادرکړي)

﴿ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّتِى نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنۢ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَـٰثًا ﴾ (اومه کېږئ تاسي (دعهد په ماتولو کي) په شان دهغي (ښځي) چي بیرته به یې سپخولې وریشلې مزي خپل وروسته له محکم والي دهغه په توټې توټې کولو سره) داهسي مثال دی چي الله دعهدماتونکي لپاره راوړی دی (۳) اوالله پاک پدې آیت کي هغه څوک چي وعده کوي اوقسمونه اخلي خپل عهدونه تینګوي له هغي ښځي سره مشابه ګڼي څوک

---

(۱) القرطبي ۱۰/ ۱۷۷

(۲) القرطبي ۱۰/ ۱۸۰

(۳) دغه دمجاهد اوقتاده وینا ده.

چې څرخې وربښي اوهغه خوراتینګوي خوبیا ورسته یې له سره اومړی کوي او ورانوي یې. مفسرین کرام وایې چې: په مکه مکرمه کې یوه ناپوهه ښځه وه چې مزي به یې غړل اوبیرته به یې سپخول او شنل خلګوبه ویل: داڅومره ناپوهه ده ؟! ﴿ تَتَّخِذُونَ أَيْمَـٰنَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ ﴾ حال داچې تاسې خپل عهدونه تګې خیانت نیسئ یوله بله پخپلو منځونو کې ﴿ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِىَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ﴾ په سبب ددې چې شوه به یوه ډله دغه (ډله) ډېره زیاته له هغه بلې ډلې څخه (په مال اوافرادوکې) مجاهد وایي: چې دوی یوځل له ځینو حلفاوو سره وعده سره له قسم اخیستلو وکړه اوبیابه یې تردوی نورخلګ دقدرت اومال خاوندان وموندل لومړنۍ وعده به یې ماته کړه اوله دغو قدرت منو سره به یې عهدوکړ[1] ﴿ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦ ﴾ بېشکه هم داخبره ده چې تاسې الله ازمویي په (وفاد)دغي (وعدې) سره چې آیاتاسو دالله امر منئ که څنګه ؟ ترڅو چې مطیع او سرغړونکی سره بېل شي ﴿ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴾ اوخامخابیان به کړي هرومرو(الله) تاسې ته په ورځ دقیامت کې هغه څه چې وی تاسې په هغه کې به موسره اختلاف کاوو(ترڅوهرچاته دهغه له عمل سره سمه جزاورکړي) ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً ﴾ اوکه الله اراده فرمایلې وای نوخامخاتاسې به یې ګرزولي وای یوامت (چې سره اختلاف به مونه کاوو) ﴿ وَلَـٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ﴾ (ولکن (الله پاک) ګمراه کوي هغه څوک چې د(ضلالت) اراده یې وفرمایي) یعنې دالله جل جلاله حکمت داغوښتې چې دوی ته اختیارپرېږدي ځیني به نېکمرغه اوځیني به بدمرغه وي ، ځیني به دخذلان اوښویولو په وجه ګمراهي ته بوزي اودابه یې عدل وي ځیني به په توفیق ورکولوسره سمي لارې ته هدایت کړي اودابه یې فضل اومهرباني وي ﴿ وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ اوخامخابه وپوښتېدلی شئ(دقیامت په ورځ کې) له هرهغه عمله چې تاسې به په دنیاکې کاوو نوبه په خورا وړو شیانولکه (فتیل) او(قطمیر) غوندې هم سزادرکړي ﴿ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ أَيْمَـٰنَكُمْ دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ ﴾ اومه نیسئ تاسې قسمونه خپل (وعدې خپلې) مکراوفریب پخپلو منځونو کې (چې خلګ ورباندې غولوئ) ددې لپاره یې دغه خبره مکرره راوړه چې دعهودو په شان کې په سترتوب سره مبالغه وشي یعنې تاسودې لپاره لوړې اوقسمونه مه اخلئ چې خلګ ورباندې تېرباسئ اودفاني ژوند ځیني ګټې ترلاسه کړئ[2] ﴿ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوتِهَا ﴾ نوبه ښوئېږي

---

(۱) مختصرابن کثیر ۱۰/۱۷۱

(۲) په الظلال تفسیر کې لیکي چې په درغلي سره قسمونه اخیستل اووعدې کول ایمان متزلزل او ځپ ځپانده کوي ، دایمان انځور ورانوي هغه څوک چې قسم اخلي اوپدې پوهېږي چې په دغه قسم کې مکراوفریب کوي نوددې امکان نشته چې عقیده دې پخپل حال پاتې شي اویادې پل په لاره سم شي اوله دې سره سره دهغه چاپه وړاندې هم هغوی بې اعتباره کیږي څوک چې پوهېږي ددې خلګوقسمونه دتګۍ برګۍ لپاره دي نو هغوی بیا ایمان نه راوړي اوله دې سببه دوی له الهي لارې څخه خلګ راګرزوي ځکه دوی دمسلمان مثال خوراناوړه وړاندې کوي

قدم (ستاسي دحق له لياري) وروسته له ټينګېدلو دهغه ؛ ابن کثیروايي دادهغه چالپاره متل دی چي څوک په حق باندي مستقيم وي بياځني کوږ شي اوله سمي لاري څخه ددروغو قسمونو په اخيستلو باندي وښوئېږي هغه چي دالله له لاري ممانعت کوي کله چي کافردا ويني چي هغه مؤمن چي له ده سره يې عهد کړی هغه خپله وعده ماتوي اوغدرکوي نويې په زړه کي په دين باندي باورنه پاتي کېږي اوددغه غدرکونکي مؤمن په سبب په اسلام کي له داخلېدلو څخه منع کېږي (۱) ځکه الله وروسته فرمايي :

﴿ وَتَذُوقُوا۟ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ نووبه څکي غم په (دنياکي عاجل عذاب) په سبب دمنع کولوستاسي نوروخلګو لره دالله له لاري څخه (ځکه چي تاسي وعدې ماتولې) ﴿ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ اوشته تاسي ته عذاب لوی (په اورددوزخ کي) ﴿ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِعَهْدِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ﴾ اومه اخلئ (پېرئ) په عهد دالله (اورسول الله) قيمت لږ (دفاني دنيامتاع) ﴿ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ بېشکه هغه خبره (ثواب) چي دالله په نزدکي ده همغه تاسي ته غوره ده، که تاسي پوهېږئ ؟(په حقيقت باندي) وروسته يې علت هسي څرګندوي ﴿ مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍ ﴾ هغه ددنيامال چي تاسي سره دی فنا کېږي اوهغه چي دالله سره دی تل ترتله دي (اوتمامېږي نه) نوتلپاتي اوباقي ترفاني غوره وګڼئ ! ﴿ وَلَنَجْزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓا۟ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ (اوخامخابه جزا ورکړو هغوکسانوته چي صبريې کړی دی اجرددوی په ډېرښه دهغونېکيوسره چي دوی به کولې) يعني موږ به صبرکونکوته ښه جزاورکړوبشپړ اجر به يې په نېکوعملونو ورکړو اوله ګناهونوبه يې ورتېر شواودغه دالله دکرم نه ډکه وعده ده چي افضله جزاپه نېک عمل ورکوي اودغه دالله جل جلاله فضل اوکرم دی ﴿ مَنْ عَمِلَ صَـٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ﴾ هرچاچي له نارينه ، ياله ښځي څخه نېک عمل وکړحال داچي دی مؤمن وي نوخامخاژوندون به ورکړو ده ته ژوندون پاکيزه (په قناعت ، حلاله روزي اودنېکو اعمالو لپاره توفيق) حسن بصري رحمه الله وايي چي هيچاته ژوند پاکېزه اوخوندور نشته مګرپه جنت کي ځکه هلته بې له مرګه ژوند اوبې له فقره بدايي ، بې له رنځه روغتيااوپرته له بدمرغي تل نېکمرغي ده(۲) ﴿ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ اوخامخابه ورکړو دوی ته هرومرو اجرددوی (په آخرت کي) په ډېرښه دهغونېکيوچي دوی به (په دنياکي) کولې (او څومره ښايسته جزاء ده !) ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَـٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴾ (نوکله چي ته لولې قرآن (کريم) نوته پناه وغواړه په الله له شيطان رټلي څخه) يعني کله چي دقرآن پاک دتلاوت اراده وکړې نوله الله څخه وغواړه چي د شيطان له وسوسوڅخه دي وژغوري ځکه

(۱) المختصر ۲ / ۳۴۵

(۲) په جلالين باندي دصاوي حاشيه ۲ / ۳۲۷ لومړی قول دابن عباس اوهغه څرګند دی.

دهغه په وسوسوسره ته دقرآنکریم له تدبر او په هغه باندي له عمل کولوڅخه راګرزول کېږي ﴿ إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ بېشکه داشیطان ته نشته (هیڅ قدرت) تسلط او غلبه پرهغو کسانوچي ایمان یې راوړی دی ؛ شیطانان نشي کولای چي مؤمنان له سمي لاري منحرف کړي ځکه دوی دالله په پناه کي اوسي ﴿ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ او په خپل رب توکل (اعتماد) کوي (په ټولو ورپېښو مشکلاتو کي) ﴿ إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ ﴾ بېشکه خبره هم داده چي تسلط دشیطان پرهغو کسانو دی چي دوی له ده سره دوستي کوي (اومتابعت یې کوي) ﴿ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴾ او پرهغو کسانو چي دوی په دغه سره شریک نیونکي دي) یعني دده داغواء په سبب دوی ګرده په عباداتو، ذبائحوکي اوخوراک اوڅښاک کي له الله سره شریک نیونکي ګرزېدلي دي ﴿ وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ﴾ او کله چي بدلوو موږ (کوم) آیت په ځای دبل آیت (چي حکم اویاتلاوت یې منسوخ کوو) ﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ ﴾ (حال داچي الله ته ښه معلوم دي هغه چي رالېږي یې) دغه اعتراضیه جمله ده چي دتوبیخ لپاره راوړل شوي یعني الله ته ښه معلوم دي چي دبندګانو خیر او مصلحت په څه کي دی؟ ځکه ددې کتاب دآیتونو مثال ددوا په شان دی چي ناروغ ته وخت په وخت ورکول کېږي ترڅوچي رنځور، روغ شي اوبیاهغه له ده سره ور خوراکي توکي ورېدلېږي ﴿ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ﴾ نو وایي دا(کفار، جهال نبي ته) بېشکه هم داخبره ده چي ته (په الله) دروغ تړونکی یې ﴿ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (نه ده داسي لکه چي دوی وایې) بلکه زیات ددوی نه پوهېږي (په حکمت دنسخ کېدلو او په جهل ناپوهي سره دغه ویناکوي. ابن عباس رضی الله عنه وایې : کله چي به کوم آیت شریف نازل شو او په هغه کي به څه شدت وو بیابه منسوخ شو نوقریشي کفارو به ویل چي: محمد په خپلو ملګرو ملنډي وهي نن ورځ ورته یوډول امرکوي سبایې بیاځني منع کوي اودغه له خپله ځانه ورته وایې بیادغه آیت نازل شوچي ﴿ قُلْ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ ﴾ ووایه (ای محمده دغوکفاروته چي) دغه قرآن پاک روح (جبریل) نازل کړی دی له طرفه درب ستا په حقه سره ﴿ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴾ لپاره ددې چي ثابت کړي پری هغه کسان چي مؤمنان دي(په براهینو اودلائلو سره بیایې ایمان اویقین ټینګ شي) اوزېری (دجنت) دی لپاره دمسلمانانو (هغوی چي دالله رحمت ته غاړه ایښودونکي وي پدې کي کفاروته هم ګوت ځنډنه ده ځکه چي دوی دالله لپاره غاړه ایښودونکي نه دي ﴿ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٌ ﴾ (اوخامخاپه تحقیق موږته ښه معلوم دی چي بېشکه دوی وایې چي : بېشکه هم داخبره ده چي ښوونه کوي ده (محمد) ته انسان) یعني موږته دمشرکانو ناروا پروپېګنډه اوافتراء معلومه ده چي هغوی وایې دغه قرآن دجبررومي ښوونه ده اوالله دهغه تردید داسي فرمایې: ﴿ لِّسَانُ ٱلَّذِى يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِىٌّ ﴾ ژبه دهغه سړي چي دوی نسبت دښووني

کوي هغه ته عجمي ده ﴿ وَهَـٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ ﴾ او دغه قرآن په عربي ښکاره (فصیح، بلیغ) ژبه ده (چي دعجمي کړکېچونوخخه بېخي پاکه ده نوځرنګه به ممکن وي چي دچاژبه عجمي وي اودغه عربي کتاب چي دفصاحت پسول پسوللی محمدته ور وښیي عجمي به چېري ددغه معجزکتاب دفصاحت اوبلاغت ذوق درلودونکی وي؟ ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ ٱللَّهُ ﴾ بېشکه هغه کسان چي دالله په آیتونو ایمان نه راوړي نه ښیي الله دوی ته (لاره دحق موندلواونه دنجات اونېکمرغي) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ اوشته دوی ته دردناک عذاب (په آخرت کي) دغه ددوی لپاره اخطاردی په کفراوافترآء باندي ﴿ إِنَّمَا يَفْتَرِى ٱلْكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ ﴾ بېشکه هم داخبره ده چي تړي دروغ (پرالله) هغه کسان چي دالله په آیتونو ایمان نه راوړي (اونه په الله ایمان راوړي ځکه هغه یې له عذابه نه وېرېږي او دروغ هغه ستره اوناولي ګناه ده چي مسلمان یې دکولو هڅه نه کوي اودادوی دهغه قول اووېناتردید دی چي دوی به ویل: ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ﴾ ﴿ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰذِبُونَ ﴾ اوهم دغه کسان هم دوی دروغجنان دي؛ دحقیقت په څرګندولو کي محمدصلی الله علیه وسلم دروغجن نه دی ﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَـٰنِهِۦٓ ﴾ هرڅوک چي په الله کافرشو وروسته له ایمان راوړلو دده (نودالله غضب دی پرهغه) ﴿ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِٱلْإِيمَـٰنِ ﴾ مګرهغه څوک چي زورپرې وکړشو(اومجبوراً دکفرکلمه یې وویله) حال داچي دده زړه په ایمان سره آرام نیونکی وو؛ په آیت شریف کي دارتداد په هکله تغلیظ ښودل شوی ځکه چي هغه یوځل دایمان خوندڅکلی وروسته یې دفاني ژوندچي ترباقي یې غوره ګڼلی دهغه لپاره یې دکفرکلمه ویلي مفسرین کرام وایې چي: دغه دعماربن یاسرپه باب کي نازل شوی کله چي مشرکانوهغه ونیو آزارأذیت یې ورکاوو ترڅوچي په زوره یې ورباندي هغه کلمه وویله چي دوی غوښتل نوخلګوویل چي: عمارکافرشو انورسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: چي عمارله سره ترنوکه له ایمانه ډک دی دهغه ایمان له ویني اوغوښي سره اغښل شوی دی عمار رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ژړاانګولا راغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: زړه دي څنګه وو ؟ عمار ورته وویل: چي زړه مي په ایمان داډه اومطمئن وو نورسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که بیاددوی له لوري مجبوره شې همداسي وکړه ﴿ وَلَـٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلْكُفْرِ صَدْرًا ﴾ لکن هغه څوک چي ارته کړي په کفرسره سینه خپله (یعني عقیدتاً) ورباندي خوښ شي) ﴿ فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ نوپردوی باندي دالله له لوري غضب دی اوشته دوی ته ستر عذاب (ځکه ددوی تردې ګناه بله لویه ګناه نشته) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ دا(لوی أخروي) عذاب په سبب ددې دی چي دوی غوره کړی دی ژوندون لږ خسیس ددنیا پرآخرت ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴾ او بېشکه الله نه ښیي لاره (دایمان) قوم کافرانو ته

(اونه يې ژغوري له ضلالت څخه) ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ﴾ دا (کفار) همغه کسان دي چي الله ددوی په زړونو مهروهلی دی (چي حق نه مني) اوپه غوږونو ددوی (چي حق نه اوري) اوپه سترګوددوی (چي دقدرت آثارنه ويني ﴿ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴾ دغه کسان هم دوی (له عقبی) غافلان دي ﴿ لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴾ داخبره واقعي ده چي بېشکه دوی په آخرت کي هم دوی زيانکاران دي (ځکه چي ددوی ژوندبې ګټي لاړ. مفسرين کرام وايې چي: الله پاک دوی په شپږو صفتونو وستايل چي: دالله غضب، لوی عذاب، دنياپه آخرت غوره کول، له هدايت څخه محروم‌ېدل، په زړونو يې مهرلګېدل اوله غافلانوڅخه ګرزېدل دي

﴿ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ﴾ پس له دې بيابېشکه رب ستا (ای محمده) لپاره دهغو کسانوچي هجرت يې کړی دی (له خپله وطنه) وروسته له هغه چي په عذابونو کړول شوي وو (دمشرکانو طاغوتيانو له لاسه) ﴿ ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا ﴾ بيايې جهاد کړی اوصبر يې کړی دی (په تکاليفو اومشقتونو) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾ بېشکه رب ستا وروسته (له هجرت، جهاد اوصبرنه) خامخابنه مغفرت کونکی دی (دګناهونو) ډېررحم والادی (چي دوی ته به ښښنه وکړي او وربه‌ندي به ورحمېږي).

بلاغت:

پدې آيتونو کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې په لاندي ډول دی:

۱- تمثيلي تشبيه لکه ﴿ وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا ﴾ الله پاک هغه څوک چي قسم کوي اوبيا په خپله ژمنه (وعده) وفانکوي له هغي مېرمني سره تشبيه کوي چي مزي وغړي (وورېشي) اوبيا يې بيرته اومري کړي (وسپخوي).

۲- استعاره پدې قول کي چي ﴿ فَتَزِلَّ قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوتِهَا ﴾ په دين کي ثبات اوټينګاريې له قدم سره مشابه کړځکه اصلاً ټينګارپه قدم سره صورت نيسي اوځرنګه چي ددين له لاري ګوښه کېدلوته ښوئېدل وايې نويې په حسي ښوئېدلو له هغه څخه تعبيروفرمايو.

۳- پدې قول دالله تعالی کي چي فرمايې: ﴿ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ﴾ او ﴿ أَعْجَمِيٌّ ﴾ ﴿ عَرَبِيٌّ ﴾ او ﴿ يَنْفَدُ ﴾ او ﴿ بَاقٍ ﴾ کي دطباق صنعت نغښتی دی.

۴- اشتقاقي جناس دالله تعالی پدې کلام کي چي: ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ ﴾ اوپدې کي مرسل مجازهم شته چي دمسبب اطلاق يې په سبب کړی دی يعني کله چي ته دقرآن دلوستلو اراده وکړې.

۵- دالله تعالی پدې قول کي چي فرمايې: ﴿ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ ﴾ اعتراضيه جمله ده چي دالله تعالی حکمت يې دنسخي په هکله څرګند کړی دی اوهمدارنګه پدې کلام کي دالتفات صنعت هم

راغلی دی چي له متکلم څخه غائب ته شوی او دالله جل جلاله داسم جليل په راوړلو سره په نفس کي هيبت روزل کيږي.

٦- لطيفه اوباريکه استعاره دلته چي الله فرمايي: ﴿لِّسَانُ ٱلَّذِى يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِىٌّ﴾ ژبه يې دلغت دکلام لپاره استعاره کړيده اوعرب ژبه دلغت په ځای اومعنا استعمالوي لکه چي الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِۦ﴾ دلته يې ژبه دکلام پرځای راوړي ده.

لطيفه:

داستعاذې په لوستلو کي داسي رازپټ دی چی قرآنکريم ذکرمبين دی څرنګه چي شيطان په خپلو وسوسو شبهات اوشکوک پيداکوي اوپه خپلو دسيسو زړونه فاسدوي نورسول الله صلی الله عليه وسلم ته امروشو چي الله ته پناه ور وړي ځکه دانسان توان دشيطان له دفع کولو څخه کمزوری کيږي اوپه لوی الله جل جلاله باندي استعاذې کولو ته اړ کيږي.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ يَوْمَ تَأْتِى كُلُّ نَفْسٍ تُجَٰدِلُ عَن نَّفْسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١١١﴾ وَضَرَبَ
ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ
لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿١١٢﴾ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ
وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١١٣﴾ فَكُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًا وَٱشْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ
﴿١١٤﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ
فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ ٱلْكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ
ٱلْكَذِبَ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿١١٦﴾ مَتَٰعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا مَا
قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا۟ ٱلسُّوٓءَ
بِجَهَٰلَةٍ ثُمَّ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ
حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ٱجْتَبَٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً
وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾
إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبْتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ
يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾ ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ
بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا۟ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ

خَيْرٌ لِّلصَّٰبِرِينَ ﴿١٢٦﴾ وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾ ﴾ النحل: ۱۱۱ ــ ۱۲۸

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالى دهغه چایادونه وکړه چي یوازي په ژبه یې دکفرکلمه ویلی وي اوهمداراز دهغه چاحال یې بیان کړچي هم په ژبه اوهم په زړه کي کافروي نودلته یې دهرچالپاره په آخرت کي د عادلانه جزا ورکولو اوپه دنیاکي عاجلانه عذاب دځینوهغولپاره چي انبیاء دروغجن ګڼي راووړ وروسته یې دحضرت ابراهیم خلیل الله کیسه بیان کړي اورسول الله صلى الله علیه وسلم ته یې امروکړ چي ددغه سترنبي په پله پل کېږدي اوپیروي یې وکړي

لغتونه:

(تجادل) جګړه کوي (رغدا) پراخ ,ویړ,بلاتکلفه (أنعم) دنعمتونو جمع ده لکه (أشد) چي د(شدت) جمع راځي (أمة) امام چي دخیرخویونه پکې وي (قانتا) منونکی له قنوت څخه اخیستل شوی اوطاعت ته وایې (اجتباه) غوره کړی یې وو (حنيفا) مائل له باطل ادیانو څخه حق دین ته چي اسلام دی (حنف) میل ته وايي.

دنزول سبب:

کله چي سیدناحمزه رضى الله عنه شهید کړی شو اورسول الله صلى الله علیه وسلم هغه ولید چي مثله شوی وو نویې وفرمایل چي: زمادي په الله قسم وي چي ستاپرځای به دوی اویاتنه همداسي وژنم نودغه آیت شریف نازل شو: ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا۟ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ﴾ الاية(۱)

تفسیر:

﴿ يَوْمَ تَأْتِى كُلُّ نَفْسٍ تُجَٰدِلُ عَن نَّفْسِهَا ﴾ یادکړه (ای محمده!) هغه ورځ چي رابه شي هریو(نېک اوبد) نفس چي جګړه به کوي لپاره د(خلاصولو) دځان خپل (اودنورو خلکو به ورسره غم نه وي) ﴿ وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ ﴾ اوبشپړه به ورکړل شي هرنفس ته (جزاد) هغه عمل چي کړی یې دی (بې له کموالي اونقصانه) ﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ حال داچي په دوی به ظلم ونکړی شي (یعنې پوره اجرونه به ورکول شي څه به ځيني نه کمېږي) ﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً ﴾ اوبیانوي الله مثال دیوکلي ؛ چي دغه دمکې کلی اونوردي الله جل جلاله ورباندي نعمتونه لورولي اودوی له الله څخه سرغړونه کوي نوالله یې نعمتونه په عذابونو وربدلوي ﴿ كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً ﴾ چي ده (داکلی) په امن کي آرام هوسا(کلیوال دهغه نېکمرغه اوپه روزي ماړه وي) ﴿ يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ ﴾ چی راتله دغه کلي ته روزي ددې ډېره پریمانه له هره (لوري) ځایه ﴿ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ ﴾ نوناشکره شو (اهل

---

(۱) زادالمسیر ۴ / ۵۰۷

دهغه) په نعمتونو دالله (اوروزي دهغه) ﴿ فَأَذَاقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ ﴾ (نووڅکل الله (په اهل د) دي باندي کالي (جامې) دلوږې او وېرې) يعني الله نعمت دامن اوآرامتياخني واخيست او وېره ، لوږه اومحروميت يېورباندي ولوراوو ﴿ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴾ په سبب دهغوعملونو چي دوی به کول (له کفراوګناهونو څخه امام رازي وايي چي : دغه دکلي دخلګو لپاره مثال دی څکه دوی په بېغمي اوهوسايي کي وو ښېرازه پراخه روزي يې لرله اوبياالله تعالی دستر نعمت پېرزوينه ورباندي وکړه چي هغه دمحمدصلی الله عليه وسلم بعثت وو مګردوی دهغه تکذيب وکړ اوپه آزار وررسولو کي يې زيار وکيښ نوالله پاک ورباندي کاختي راوستله داسي لوږه ورباندي راپرېوته چي مرژګي (مرداري) اوهډوکي يې وخوړل[1]) ﴿ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ ﴾ (اوخامخاراغلی وو دوی ته رسول له (جنسه د) دوی نونسبت ددروغو يې وکړهغه ته) يعني په تحقيق سره دوی ته محمدصلی الله عليه وسلم په ښکاره معجزاتو راغی او دوی هغه پېژانده چي ددوی له اصله اوتوکم څخه وو مګرايمان يې ورباندي نه راووړ اوهغه يې په پيغمبري نه منل په آيت کي دادلالت ترسترګوکېږي چي همدادمکې خلګ وو اوهمدغه دابن عباس وينا ده ﴿ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴾ نوالله دوی دکړاوونومشکلاتو) په عذاب ونيول حال داچي دوی ظالمان وو (په ګناهونو اوشرک کولوسره) ﴿ فَكُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًا ﴾ نوخورئ تاسي له هغو خوراکونو څخه چي الله تاسي ته حلال پاکيزه درکړي دي ﴿ وَٱشْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾ اوشکروباسئ دالله دنعمت که يی تاسي چي خاص الله ته عبادت کوئ (اووورباندي ايمان لرئ ؛ وروسته الله تعالی هغه حرام توکي اوحيوانات بيانوي چي دوی ته پکي ضرر اوتاوان دی فرمايي : ﴿ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي الله پرتاسي باندي حرام کړی دی (خوراک د) مردار اوويني اودخنزيردغوښي ﴿ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ﴾ اوهغه (حلال کړی شوی حيوان) چي غږ کړی شوی دی (دبل شي) بې له الله (دنوم) په وخت دذبحي د) هغه څکه په هغه کي دځان اوعقيدې لپاره تاوان دی ﴿ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ پس هغه څوک چي اړشي (ددې حراموخوړلو ته) حال داچي ظالم نه وي (په بل چا) اونه تجاوز کوي (له کفايته) نوبېشکه الله لوی مغفرت کونکی (دګناهونو) ډېر رحم والادی (په انعام سره چي اړ اومضطرته عذاب نه ورکوي . وروسته الله تعالی مشرکانوته توبيخ کوي هغوی چي حرام ، حلال يې پخپله خوښه ټاکل فرمايې : ﴿ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ ٱلْكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ﴾ اومه واياست تاسي له وجهي دبيانولو دژبوستاسي دروغولره (بې دليل اوبرهانه داسي) چي داحلال دی اوداحرام دی دپاره ددې چي

---

(۱) التفسيرالکبير ۲۰ / ۱۲۸

بېشکه هغه کسان چې تړي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴾ جوړ کړئ له ځانه پر الله دروغ
پر الله دروغ (بهتان) خلاصي به نه مومي (په دنیا او آخرت کي به په مرادو نه رسېږي) ﴿ مَتَٰعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ
عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ نفع ده لږ او شته دوی ته عذاب دردناک ﴿ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِن قَبْلُ ﴾
او پر هغو کسانو چي یهودان شوي دي حرام کړي دي موږ هغه څیزونه چي بیان کړي وو موږ پر تا باندي
پخواله دي نه (چي په الانعام سورت کي تېر شوا و هغه دغوایانو او پسونو وازدي او ټول هغه نوک
لرونکي حیوانات وو، دغه تحریم د دوی لپاره عذاب او عقوبت وو) ﴿ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ
يَظْلِمُونَ ﴾ او موږ پر دوی ظلم نه وو کړی (په تحریم سره) ولکن دوی وو چي په ځانونو خپلو به یې ظلم
کاوو (نو دوی وړ او لائق و ګرزېدل لکه چي الله بل ځای فرمایي ﴿ فَبِظُلْمٍ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ
طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ ﴾ النساء ١٦٠ ﴿ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا۟ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٍ ﴾ بیا بېشکه رب ستا (چي
دی ای محمده!) هغو کسانو ته چي کړي یې دي بدعملونه په ناپوهي سره ﴿ ثُمَّ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ
وَأَصْلَحُوٓا۟ ﴾ بیا توبه وباسي وروسته له کولو د هغه (بد عمل او ښو ئېدلو) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ
رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه رب ستا وروسته له دغي توبې څخه خامخا لوی مغفرت کونکی ډېر رحم والادی؛ په دې
آیت شریف کي د ټولو خلکو لپار تأنیس (زړه خپلول) او توبې ته رابلل دي چي دروازه یې پرانستي ده
﴿ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ ﴾ بېشکه چي ابراهیم پېشوا وو (جامع د نېکیو لکه یو جماعت) فرمان
منونکی وو خاص الله لره (څکه الله خپل خلیل غوره کړ) ﴿ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ خاص الله لره
حنیف وو (مائل له باطل نه حق د اسلام دین ته) او نه وو له مشرکانو؛ دغه د پخواني لپاره تاکید دی هسي
نه وو لکه چي یهود او نصارا ګمان کوي چي ابراهیم علیه السلام یهودي او نصراني وو ﴿ شَاكِرًا
لِّأَنْعُمِهِ ﴾ وو (ابراهیم) شکر کونکی د نعمتونو د الله ﴿ ٱجْتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ غوره کړی وو
الله دغه (ابراهیم) لره په نبوت سره او برابر کړی وو الله دغه (ابراهیم) سمي لیاري ته، چي اسلام
او د واحد، احد ذات عبادت کول دي ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ﴾ او ورکړی وو موږ دغه (ابراهیم) ته په
دغه دنیا کي نېکي (ذکر جمیل) ﴿ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ او بېشکه دغه ابراهیم په آخرت کي هم
خامخا له صالحانو (د لویو درجاتو له خاوندانو څخه) دی (چي د نېکانو په سترو مرتبو کي به وي) ﴿ ثُمَّ
أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ﴾ (١) بیا وحي (حکم) وکړ موږ تاته (ای محمده داسي) چي

---

(١) مفسرین وایي چي: عطف د (ثم) په کلمه سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رتبې تعظیم دی لکه چي یو خل یې د هغه ګرد غوره صفات او مناقب وشمېرل او بیا یې وفرمایل چي تر دې ټولو لوړ بل دادی چي دغه أمي نبي صلی الله علیه وسلم د ابراهیم علیه السلام د دین پلوی او دغه په شریعت منګولي لګونکی دی او دغه دویاړ او افتخار لپاره بېخي بس دی.

متابعت وکړه په توحيد کي د دين (د ابراهيم چي حنيف دی ﴿ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ او نه وو دی له مشرکانو؛ دغه يو بل (تاکيد دی چي هغه يهودي او نصراني نه وو ﴿ إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبْتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ ﴾ (بېشکه هم دا خبره ده چي مقرر کړی شوی دی (تعظيم د ورځي) د خالي (په عبادت سره) په هغو کسانو چي پکي اختلاف يې کړی وو) يعني د شنبې د ورځي د تعظيم حکم په ابراهيمي ملت کي نه وو بلکه دغه په يهودانو باندي د تغليظ په توګه رامنځ ته شو چي دوی په دين کي اختلاف او د الهي او امرو سرغړونه کوله نو الله په دغه ورځ کي د کبانو له ښکار کولو څخه منع کړل بيا دوی پکي ښکار کاوو څو چي الله بيزوګان او خنزيران ځني جوړ کړل ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ او بېشکه چي رب ستا خامخا حکم به وکړي په مېنځ د دوی کي په ورځ د قيامت کي په هغه څه کي چي وو دوی به په هغه کي اختلاف کاوو (نو به الله سزا جزا ورکړي هر مستحق او ورته له ثواب او عذاب څخه) ﴿ ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ ۖ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ ﴾ بلنه کوه (ای محمده ! خلګو ته) لياري د رب ستا ته په حکمت او ښه پند سره (چي پر دوی اغيزه وکړي)او مباحثه کوه له دوی سره په هغې طريقی سره چي ډېره ښه وی ،سختي ، قهر او غصه مه کوه شدت او قسوت ندی پکار ﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴾ بېشکه چي ستا رب ښه عالم په هغه چا چي ګمراه شوی وي له لاري د الله څخه او دی (الله) ښه عالم په لاره موندونکو (دين ته نو پر تا لازمه ده چي د حکمت لاره غوره کړې کله چي دوی ته بلنه ورکوې او ورسره بحث او مباحثه کوې پر تا باندي د دوی هدايت ندی ضروري بلکه ته يوازي مبلغ يې حساب پر موږ باندي دی ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ۖ ﴾ او که تاسي څوک عذابوئ نو عذاب ورکوئ په مثل د هغه عذاب سره چي تاسي په هغه سره عذاب کړی شوي ياست (زيادت مه کوئ) مفسرين کرام وايي چي: دغه آيت شريف د سيدنا حمزه بن عبدالمطلب په شان کي نازل شوی دی کله چي مشرکانو د أحد په ورځ دده لړمون څيرلی وو نو رسول الله وفرمايل : که الله ما پر دوی برلاسي کړي د دوی اويا تنه به همداسي کړم (ګېډي به يې ورڅيري کړم) ﴿ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّٰبِرِينَ ﴾ او خامخا که صبر وکړ تاسي (قصاص مو پرېښود) ورته ښنښه موو کړه نو خامخا دغه صبر(غوره) خير دی (له انتقامه) صابرانو ته (څکه عقوبت مباح کار دی او پرېښودل يې افضل دی ﴿ وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ ﴾ او صبر کوه ! او ندی صبر ستا مګر (په توفيق او مرسته د) الله سره ﴿ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ ﴾ او مه خپه کېږه په دغو کفارو؛ چي ولي دوی ايمان نه راوړي؟ ﴿ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴾ او مه کېږه په زړه تنګي کي له هغو څخه چي دوی مکرونه کوي (په جهل او سفاهت وېناوي کوي دوکې او مکرونه جوړوي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ

﴿ وَٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ﴾ بېشکه الله ملګرى دى (په معونت اونصرت سره) له هغوکسانوسره چي پرهېزګاري کوي ؛ اوله چاسره چي الله مل وي بيا هغوى ته دکفارو مکرونه اودوکې تاوان نشي رسولاى.

بلاغت:

په دغوآيتونوکي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته په لاندي ډول دي:

۱ - مکنيه استعاره کله چي الله فرمايي: ﴿ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ ﴾ دلته يې دغه لباس دبي خوندي اونفرت سره مشابه کړ اومشبه به يې حذف دهغې له لوازموڅخه يې چي څکل دي راوړل اودغي ته مکنيه استعاره ويلاى شو.

۲ - په دې کلماتوکي چي: ﴿ حَلَٰلٞ .. حَرَامٞ ﴾ دطباق صنعت دى.

۳ - التفات هلته چي الله تعالى فرمايي: ﴿ وَءَاتَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ ﴾ دلته يې له غياب څخه تکلم ته التفات وفرمايو چي زياته پاملرنه اوزيات تعظيم اوتفخيم يې ترسره شي.

۴ - پدې کلام کي چي الله تعالى فرمايي: ﴿ كَانَ أُمَّةٗ ﴾ بليغه تشبيه ده يعني هغه په يوازي سرلکه يوأمت اوټولنه وو څکه په هغه کي دکمالاتو اوصاف اوخويونه راټول شوي وو کوم چي په خلګوکي تيت اوخپاره وو.

تنبيه:

دالله جل جلاله داقول چي فرمايي: ﴿ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ ﴾ پدې دلالت کوي چي په بحث اومناظره کي بايدانصاف وشي دحق پلوي دي وکړى شي اوله نرمي څخه دي کار واخيستل شي پداسي توګه چي څرګنده شي مقصددحق اثبات اودباطل مخنيوى دى نه داچي دڅان رايه درنه اودبل سپکه وګڼل شي.

دالله جل جلاله په مرسته دالنحل سورت تفسيربشپړشو ولله الحمدوالمنة

***

دالإسراء سورت مكي او يوسل يو ولس آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالاسراء سورت يوله نورو مكي سورتونوڅخه دی اودهغو په شان دعقيدوي چارو يادونه كوي په تېره بيادډين په بنسټيزو توكو لكه وحدانيت ، رسالت اوبعث غرېزې خوترټولو څرګند پلوپكي درسول الله صلى الله عليه وسلم شخصيت دی اوهغه څه چي الله پاک دوی ته دمعجزاتو په توګه وربښلي دي اوپه ربښتنولي يې ګواهي وركوي اللهم صل وسلم عليه.

* سورت داسراء معجزه راوړي هغه چي دالهي تكريم له مظاهرو څخه يومظهروو چي خاتم الانبياء ته يې وركړي اودالله جل جلاله دسترقدرت نښاني وه چي دعجائباتو اوغرائبو جوړونكي دي.ورپسې دبني اسرائيلو يادكوي چي څرنګه الله ورته ليكلي ووچي دوه ځلي په ځمكه كي خواره واره شي اوداټول ددوی دسرغړوني اوطغيان په سبب وو فرمايي: ﴿ وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَتُفۡسِدُنَّ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَّتَيۡنِ ﴾ ترپايه

* همداسي سورت دكائناتو هغه نښي نښاني راوړي په كومو چي دالله تبارک وتعالى دعظمت ، وحدانيت اوقدرت څرګندونه كېږي اوهغه نظام ته اشاره كوي چي په خورا دقيقه توګه په شپه او ورځ كي چلېږي اوهيڅكله تغيراوتبديل نه مومي وايي: ﴿ وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ ﴾.

* ورپسې په اجتماعي اخلاقو ښايسته ادابو اوخويونو خبري كوي اودهغوی لوري ته بلنه كوي څويوه مثالي ټولنه تشكيل شي اوله دې آيته پيل كېږي چي : ﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ دآيتونوترپايه.

* بياسورت دمشركانو په ګمراهيواوضلالتونو رڼاچوي چي څرنګه يې الله سبحانه وتعالى ته دمېرمني اوزوی نسبت كاوو اوترټولو عجيبه لاداوه چي دوی پخپله لوڼي نه خوښولې اوالعلى الكبير ذات ته يې دلوڼونسبت كاووهغه سپېڅلی ذات چي له مثل اوسياله منزه دی اوفرمايي: ﴿ أَفَأَصۡفَىٰكُمۡ رَبُّكُم بِٱلۡبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًاۚ إِنَّكُمۡ لَتَقُولُونَ قَوۡلًا عَظِيمًا ﴾

* بياله بعث اونشورڅخه غږېږي معاد اوجزاڅېړي هغه چي په باب كي يې ډېري مباحثي اومناظرې كېږي دهغه په امكان باندي دلائل راوړي اوبيادقرآن دمعجزې خبره رااخلي چي درسول الله صلى الله عليه وسلم تلپاتي معجزه ده اودمشركانوهغه سرټمبګي بيانوي چي وړانديزيې كاوو له قرآنه پرته بله معجزه ورته راوړي ويالې ورته وبهوي اومكه ورته ګل ګلزار،او باغونه ورته جوړكړي وايي: ﴿ وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴾ ترپايه.

* په پای كي سورت دالله جل جلاله له شريک ، زوی اونورو ناوړه صفاتو څخه سپېڅلتيابيانوي اوداسي فرمايي: ﴿ وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ﴾.

د سورت تسمیه او نوم ول:

دغه سورت ته ځکه د اسراء سورت وايي چي د دغي څرګندي معجزې یادپکي راغلی هغه چي الله پاک خپل ګران او نازولی استازی ورباندي په ځانګړي توګه نازولی دی.

الله تعالی فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَا الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ
آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿١﴾ وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا مِن دُونِي
وَكِيلًا ﴿٢﴾ ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ﴿٣﴾ وَقَضَيْنَا إِلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْكِتَابِ
لَتُفْسِدُنَّ فِي الْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ أُولَاهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَا أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ
فَجَاسُوا خِلَالَ الدِّيَارِ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَاكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ
وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا
وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا ﴿٧﴾ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ
وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ
يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾ وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾ وَيَدْعُ الْإِنسَانُ
بِالشَّرِّ دُعَاءَهُ بِالْخَيْرِ وَكَانَ الْإِنسَانُ عَجُولًا ﴿١١﴾ وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ
مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلًا ﴿١٢﴾ وَكُلَّ إِنسَانٍ
أَلْزَمْنَاهُ طَائِرَهُ فِي عُنُقِهِ وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾ اقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا
﴿١٤﴾ مَّنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ
نَبْعَثَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ وَإِذَا أَرَدْنَا أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا ﴿١٦﴾ وَكَمْ
أَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُونِ مِن بَعْدِ نُوحٍ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا ﴿١٧﴾ مَّن كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا
نَشَاءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ
مُؤْمِنٌ فَأُولَٰئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا ﴿١٩﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هَٰؤُلَاءِ وَهَٰؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ
مَحْظُورًا ﴿٢٠﴾ انظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَلَلْآخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا ﴿٢١﴾ لَّا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ
إِلَٰهًا آخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولًا ﴿٢٢﴾ ﴾ الإسراء: ١ - ٢٢

لغتونه:

(سبحان) د تسبیح نوم دی او معنا یې ده چې الله لره ټولو بدیو او نقصانونو پاکي ده او دغه یوازي په الله پسې ځانګړي تسبیح ده (اسرى) د شپې تګ ته وایي (أسرى) او (سرى) دواړه لغتونه راځي (فجاسوا) له (جوس) څخه اخیستل شوي او چې څه لټوي د شپې تللو را تللو ته وایي دغه معنا زجاج کړي او واحدي وایې چې: جوس دیوڅه شي په لټه کې تګ را تګ ته وایي (الكرة) دولت او غلبې ته وایي (تتبيرا) هلاکت او دله مینځه تللو په معناده (محونا) ورک مو کړل دلغت علماء وایي چې (محو) دیو څیز اثر له مینځه وړلو ته ویل کېږي ویل کېږي (محوته فانمحی) کله چې یې اثر یو مخ ایزه ورک شي (طائره) لیکلی عمل خیر او شر ته طائر ویل شوي ځکه چې عرب و به نېک فالي او شګون په مرغانو نیول کله به چې ښي لوري ته او یا کیڼ لوري ته والوت (مترفيها) (مترف) هغه هوسا آرام او په عیش عشرت کې لاهو ته وایي چې دغه پراخ نعمت او عیش په تکبر کې اچولی وي (يصلاها) ورننوزي او حرارت یې څکي (مدحورا) شړل شوی او دالله له رحمت نه لیري کړی شوي ته وایي.

تفسیر:

﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا﴾ (پاکي ده هغه ذات لره چې بېولی یې وو بنده خپل (محمد) د شپې (په یوه برخه کې) له مسجد حرام څخه تر مسجد اقصی پورې) یعني پاکي ده له هغو څېزونو چې دده له جلال سره نه ښایي هغه ذات چې خپل بنده او پیغمبر یې د شپې په یوه ټوټه کې له مکې مکرمې څخه بیت المقدس ته بوت. بیت المقدس ته مسجد اقصی ځکه ویل کېږي چې د مسجد الحرام او دده ترمینځ مسافه لیري ده. مفسرین کرام وایې: او دا چې ویې فرمایل: ﴿لَيۡلٗا﴾ د تنکیر په صیغه باندې یې راوړه چې دا خبره افاده کړي چې د اسراء موده لږه وه او خورا اوږدې مسافې او واټنونه یې د شپې په یوه برخه کې وو هل هغه چې د څلوېښتو شپو لیاره وه چې دغه په اعجاز او قدرت کې و تلی کمال دی نو دا سبب وو چې د سورت پیل یې په (سبحان) سره وفرمایو چې دالله په بشپړ قدرت او رسېدلې حکمت دلالت وکړي او دالله سپېڅلتیا د مخلوقاتو له صفاتو و ښیي دغه اسراء او معراج په روح او بدن دواړو سره په وېښه ترسره شوي او خواب نه وو ﴿ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ﴾ هغه چې برکت اچولی دی موږ چارچاپېره دهغه (په ډول ډول معنوي او محسوسي برکتونو لکه مېوې، رواني ویالې کوم چې د شام ټاټوبی الله ورباندې په ځانګړي توګه ښېرازه کړی او د انبیاوو مېشت ځای د سپېڅلو پرښتو او ملائکو دراکوزېدلو هیواد وو ﴿لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآ﴾ (د دغه بېول دهغه د دې لپاره وو چې وښیو موږ دغه (محمد) ته ځیني له دلائلو (د قدرت) خپل) یعني تر څو محمد صلی الله علیه وسلم ته عجیبه ستر دلائل وروښیو او دځمکني او آسماني ملکوت خبرتیا ورکړو په تحقیق سره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر عجائبات او ښتې ښناني ولیدلې چې دالله تعالی په قدرت یې دلالت کاوو ﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾ بېشکه چې دغه (الله) هم دی ښه اورېدونکی (د محمد صلی الله علیه وسلم د خبرو) ښه لیدونکی (د محمد صلی الله) د کړو وړو نو ځکه یې په دغو کراماتو او معجزاتو

ددرناوي په توګه ونازاوو ﴿ وَءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ اوورکړی وو موږ موسی ته کتاب (تورات) اوګرزولی وو موږ هغه کتاب دبني اسرائیلو لپاره هدایت (چي ددغه په واسطه دوی دکفراوجهل له تورتم څخه دایمان اوعلم روښنایي ته وباسي ﴿ أَلَّا تَتَّخِذُواْ مِن دُونِي وَكِيلٗا ﴾ چي مه نیسئ تاسي پرته له ماهیڅ کارجوړونکی (متولي) پروردګار. مفسرین کرام وایې چي: کله یې بیت المقدس ذکرکړ اوهغه دځمکي زړه وو اودبني اسرائیلو د اوسېدلو ځای نوددوی یادونه هم په مناسب ځای کي راغله ﴿ ذُرِّيَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٍۚ ﴾ (ای اولاده دهغه چاچي موږ سپاره کړي وو سره له نوح) یعني ای دمؤمنانواولاده هغوی چي له نوح سره په بېړۍ کي سپاره وو موږ ستاسي پلرونوته نجات ورکړی وو له ډوبېدلو څخه نودالله دانعام شکرپرځای کړئ ! ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ﴾ بېشکه چي نوح ډېرشکرایستونکی بنده وو؛ په هرحال کي یې دالله حمدويلو نوتاسي هم دهغه پیروي وکړئ اودرته ښایي چي شاکر واوسئ ! په دغه نداکي تلطف اودالله جل جلاله دنعمت یادونه ده ﴿ وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ اوحکم لېږلی وو موږ بني اسرائیلوته په کتاب تورات کي داسي) یعني موږ هغوی ته اخبارکړی اوپه تورات کي موو‌حی ورته رااستولي وه چي ﴿ لَتُفۡسِدُنَّ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَّتَيۡنِ ﴾ خامخابه فسادوکړئ تاسي هرومرو په ځمکه د (فلسطین اوخواوشا) کي دوه ځلي (۱) ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي: لومړی فسادیې دزکریاعلیه السلام وژل اودوهم یې دحضرت یحیی علیه السلام قتل وو ﴿ وَلَتَعۡلُنَّ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ﴾ (اوخامخاسرکښي به وکړئ تاسي هرومرو په سرکښي لویه سره) یعني دالله په سپېڅلي ځمکه کي به خوراستره سرکښي په ظلم او دښمني سره وکړی اودالله جل جلاله په محارمو به لاس پوري کړی ﴿ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثۡنَا عَلَيۡكُمۡ عِبَادٗا لَّنَآ ﴾ نوکله چي راغله وعده داول (ځل فسادکولو) دهغو دوونه نومسلط کړل موږ پرتاسي باندي بندګان خپل (سرزوري چي له تاسي څخه کسات اوانتقام واخلي) ﴿ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ ﴾ (دغه خلګ) خاوندان دسخت جنګ وو. مفسرین کرام وایې: کله چي بني اسرائیلو دالله حرام څیزونه حلال وګڼل او ويني تويول یې پیل کړل نوالله جل جلاله ورباندي بخت نصرچي دبابل باچاوو وګمارو نواویازره کسان بني اسرائیل یې ووژل نژدې ووچي بوتی یې وکاږي اودغه دلومړي فسادکولوپه وخت کي وو ﴿ فَجَاسُواْ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِۚ وَكَانَ وَعۡدٗا مَّفۡعُولٗا ﴾ (نوګردګرزېدل دوی (دوژلو اوتالاکولو دپاره) په مینځ د ښارونوستاسي کي او وو (داکاریوه) وعده خامخاپوره کېدونکي) یعني دوی ستاسي په لټه کي سبا بېګاه ستاسوپه کورونو اوښارونو کي ګرزېدل خو مو ووژني ، مالونه مولوټ کړي اوداهغه دالله پاک جل جلاله ژمنه وه چي ستاسي څخه یې دکسات اخیستلو لپاره پرېکړه شوي وه اوپدې کي خلاف اوتبدیل راتلونکی نه وو ﴿ ثُمَّ رَدَدۡنَا لَكُمُ

---

(۱) دالله حکم په بني اسرائیلو باندي دوه ځله فسادکول دقهراوالزام حکم نه بلکه دغه دالله له لوري دهغه اُلهي علم څخه اخبار ووچي داسي به پېښېږي اوهمداسي وشول.

ٱلۡكَرَّةَ عَلَيۡهِمۡ ﴾ (بیابیرته وګرزوله موږ تاسي ته غلبه پردوی) یعني وروسته کله چي تاسي توبه ګارشوی اوالله ته مورجوع وکړه نوموتاسي ته دولت دروسپارو اوغلبه مو درکړه ﴿ وَأَمۡدَدۡنَٰكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ ﴾ (اوله تاسي سره مومرسته وکړه په مالونو درکولو او اولادونو باندي) یعني څرنګه چي ستاسي مالونه لوټ شوي وو نوپرېمانه مالونه مودرباندي ولورول او چي ځامن مو په اسارت نیول شوي وو دهغوی په بدله کي موډېرزامن درکړل ﴿ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ أَكۡثَرَ نَفِيرًا ﴾ اووګرزولی موږتاسي زیات له جهته دملاترلي (لښکره یعني تاسوته موزیات نفوس درکړل چي بیرته موبایللی پرتم پرځای شي اوپه دښمن باندي غالب یاست ددولت جوړولو جوګه شئ ﴿ إِنۡ أَحۡسَنتُمۡ أَحۡسَنتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡۖ وَإِنۡ أَسَأۡتُمۡ فَلَهَاۚ ﴾ (که نېکي وکړئ تاسي نونېکي به کوی لپاره دځانوخپلو اوکه بدي وکړئ دهغې ګټه تاسوته راتلونکي ده الله ته یې هیڅ ګټه هم نه رسي اوکه موچېري بدي کولوته مخه کړه نودهغې تاوان بیاتاسي ته رسېږي الله جل جلاله غني ذات دی نه دبندګانو طاعت ورته ګټه رسوي اونه هم دهغوی ګناوي اوعصیان ورته نقصان رسولای شي. ﴿ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ لِيَسُـُٔواْ وُجُوهَكُمۡ ﴾ نوکله چي راغله وعده دوروستي انتقام بیامي خپل بندګان درباندي مسلط کړل) دپاره ددې چي بدکړي مخونه ستاسي)یعني ترڅوموسپکه سپانده کړي اوپه مخونو کي مودغم او خواشیني آثار اوعلامې څرګندي کړي داهغه دوهم افسادستاسي وو چي یحیی علیه السلام مووواژه اودالله محارم موترپښولاندي کړل ﴿ وَلِيَدۡخُلُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٖ ﴾ اولپاره ددې چي ننوزي دبیت المقدس مسجدته لکه چي په اول ځل ننوتلي وو(اوهغه خراب اوتباه کړي لکه لومړی وار) ﴿ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا عَلَوۡاْ تَتۡبِيرًا ﴾ اولپاره ددې چي هلاک کړي هرهغه (ځای اوشی) چي دوی (پرې) غالب شوي وو په ډېرسخت خرابولو اوهلاکولوسره ﴿ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يَرۡحَمَكُمۡۚ ﴾ نژدې دی چي ستاسي رب پرتاسي رحم وکړي (عفوه درته وکړي که تاسي توبه ګارشئ اودغه دالله له لوري له دوی سره دعذاب پورته کولو وعده ده (په یاد دي وي چي) عسی دالله له لوري واجب معنالري یعني لازمًابه الله درباندي ورحمېږي ﴿ وَإِنۡ عُدتُّمۡ عُدۡنَاۚ ﴾ اوکه تاسي بیرته (فساد ته) وګرزېدی نوموږبه هم راوګرزو(ستاسي عقوبت ته انتقام به درځخه واخلو([1]) ﴿ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ﴾ او ګرځولی دی موږ دوزخ دکافرانولپاره بندیخانه چي هیڅکله به دوی له هغه ځخه دوتلو توان ونه مومي وروسته بیاالله تعالی دقرآنکریم دمزیت په باب ارشاد فرمایي چي داهسي کتاب دی چي تر ټولو آسماني کتابونوپورته

([1]) په الظلال تفسیرکي لیکي: چي همداسي دوی فساد کولوته راوګرزېدل اوبیا الله جل جلاله مسلمانان ورباندي مسلط کړل اوله عربي جزیرې ځخه یې وشړل اوبیایې فساد پیل کړالله نوربندګان ورباندي مسلط کړل آن تردې چي په معاصردورکي لوی الله (هټلر) ورباندي وګمارو اونن یې بیافساد کولوته ملاترلي چي داسرائیلوپه بڼه کي دي ارو مروبه الله تعالی داسي څوک ورباندي مسلط کوي چي سخت عذاب وروڅکي اودادالله وعده اوسنت(طریقه) ده چي هیڅکله خلاف نه مني اوهرسبادکتونکولپاره نژدې دی.

دى ﴿ إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ ﴾ بېشكه دغه (عظيم) قرآن لاربنوونه كوي (نېكانوته) هغه لاره چي ډېره برابره، سمه اوصافه روښانه) ده ﴿ وَيُبَشِّرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَبِيرٗا ﴾ اوزېرى وركوي مؤمنانوته هغه (مؤمنان) چي كوي دوى ښه عملونه (په غوښتنه ددغه قرآن) دستراجر (په جنات النعيم كي) ﴿ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴾ اوبېشكه هغه كسان چي ايمان نه راوړي په آخرت باندي تياركړى دى موږ دوى ته دردناک عذاب (په دوزخ كي) دلته آيت شريف ترغيب اوترهيب يوځاى رانغښتى دى ﴿ وَيَدۡعُ ٱلۡإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلۡخَيۡرِۖ ﴾ اودعاكوي انسان دشر (په خپل ځان اواولادد خفگان په وخت كي) په مثل (دغوښتلو) دخير دده؛ نوكه چيرى الله دغه ښيرا هم ددعا په شان منلاى دوى به هلاک شوي وو. ابن عباس رضى الله عنه وايي: چي دغه دسړي ښېراده چي دخفگان په وخت كي ځان ،اولادته كوي چي (الله دي هلاک كړه الله دي تباه كړه !) (١) ﴿ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولٗا ﴾ اودى انسان تلواركونكى (په غوښتلو دخيراوشركي) يعني دانسان په خټه اوفطرت كي تلواراغښل شوي ځكه نوناپامه دعا اوښېراكوي ديوځيزعاقبت اوانجام ته سوچ نكوي وروسته بياالله تبارک وتعالى په كائناتو كي دالله دوحدانيت روښانه دلائل راوړي چي دالله جل جلاله په بشپړقدرت دلالت كوي فرمايي:

﴿ وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ ﴾ اوگرځولي موده شپه اوورځ دوه دليله (دخپل بشپړ قدرت) نومحوه كړه موږ علامه دشپې (چي توره تياره موجوږه كړه چي سكون آرام پكي وكړي ﴿ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةٗ لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡ ﴾ او اوگرزوله موږ علامه دورځي روښانه (چي هرشى پكي ليدل كېږي) لپاره ددې چي طلب كړى تاسي (په رڼادورځي كي) فضل له خپله ربه ﴿ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ ﴾ (اولپاره ددې) چي معلوم كړى تاسي (په دغه اختلاف سره) شماردكلونو اوحساب (د اوقاتو) يعني ددې لپاره چي دورځو، مياشتواوكلونوحساب وربانديي وپېژنى اوهمدغه دورځي وشپې له ادلون بدلون څخه پيداكېږي شپه دراحت اوسكون لپاره اوورځ دكسب اوكارلپاره چي ستاسي دمعاش موندلو ذريعه شي ﴿ وَكُلَّ شَيۡءٖ فَصَّلۡنَٰهُ تَفۡصِيلٗا ﴾ (اوهرځيز (چي تاسي ورته اړياست) موږ بيان كړي دي په ځرگندبيان سره) يعني ستاسي هره ديني اودنيوي چاره موږ په خورابنه او ځرگندډول بيان كړيده اودغه موجوداتو هيڅ يوه چاره تخمين اواټكل ته نه دى پرېښو ل شوي بلكه په ډېرښكلي انداز اوتقديراومحكم تدبيرسره سنجول شوي ده ﴿ وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلۡزَمۡنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِي عُنُقِهِۦۖ ﴾ (اوهرانسان لازم كړى دى موږ له ده سره عمل دده په غاړه دده كي) يعني له هرانسان سره خپل عمل دلاري مل دى اوداسي ورسره لازم دى لكه غاړه گى له غاړي سره چي هيڅ ورڅخه بېلېدونكي نه وي ﴿ وَنُخۡرِجُ لَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ كِتَٰبٗا يَلۡقَىٰهُ مَنشُورًا ﴾ (اوراوبه باسوده ته په ورځ دقيامت كي يوكتاب (ليكل شوى) چي يوځاى به شي وبه ويني هغه غوړېدلى) يعني په آخرت كي به دده عملنامه ورته غوړېدلي راڅرگنده

(١) القرطبي ٢٢١٠

کړو چي نېکي اوبدي پکي څرګنده ويني نه به يې پټولای شي اونه به هم ځني سترګي الونياکولای شي، ورته وبه ويل شي: ﴿ ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفۡسِكَ ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيبٗا ﴾ ولوله (دا) کتاب دنا (عملنامه) کافي دی هم داځان ستانن ورځ پرتاباندي حساب کونکی (نه دشاهدضرورت شته اونه د محتسب اړتيا)

﴿ مَّنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۚ ﴾ هرچاچي سمه صافه لاره ونيوه نوبېشکه همداخبره ده چي سمېږي دی په لاري لپاره د(ګټي) دځان خپل اوهرڅوک چي ګمراه شو پس بېشکه همداخبره ده چي ګمراه کېږي په (نقصان) دځان خپل ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ ﴾ اونه اخلي هيڅ اخيستونکی باردګناه دبل چا(بلکه هرڅوک اوخپل پېټی يې) ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبۡعَثَ رَسُولٗا ﴾ اونه يومونږ عذاب ورکونکي ترهغوپوري چي ولېږو کوم استازی (چي دتوحيد اوشريعت لاره ورته بيان کړي پندورکړي اوله عذاب څخه يې ووېروي نوبه دليلورباندي ودرېږي) ﴿ وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا ﴾ اوکله چي مونږ اراده وفرمايو ددې چي يوکلی (ښار) هلاک کړو نوامروکړو غټانو دهغه (ښار) ته په (طاعت دالله) نودوی په هغه کي فسق وکړي (فجور) غوره کړي ﴿ فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ﴾ نوثابت شي پردوی هغه خبره (دعذاب) نوهلاکوو مونږ دوی په هلاکولو سختو سره (او وراتوويې). ابن عباس رضی الله عنه وايې: چي د﴿ أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا ﴾ معناداچي مونږ د دوی اشرارورباندي مسلط کوو ترڅو فسق اوفجور عصيان وکړي اوچي کله داهسي وکړي نوالله يې په عذاب هلاک کړي ([1]) ﴿ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖۗ ﴾ اوډېر هلاک کړي دي مونږله (اهل د) قرنونوپس له نوح نه) يعني ډېرهغه کسان چي دخپلو انبياوو تکذيب يې کاوو له نوح عليه السلام نه وروسته مونږ هلاک کړي دي لکه عاديان، ثموديان اوفرعون. ابن کثيروايې چي: آيت شريف دقريشي کفارو لپاره اخطاردی اومعناداچي ای دنبي مکذبينو تاسي په الله ترهغه چاګران نه ياست چي دانبياوو تکذيب يې کاوواومونږ هلاک کړل تاسو دانبياوو ترټولو د اشرف نبي تکذيب ته ملاتړلي ده نو ستاسو هلاکت اوعذاب حتمي دی ([2]) ﴿ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴾ او کافي دی رب ستاپه ګناهونودبندګانو خپلوښه خبردارښه لېدونکی) يعني ای محمده! ستارب کافي دی په څارنه د اعمالودبندګانو چي پټ اوښکاره يې ورته معلوم دي اوپه هغوبه جزاورکوي ﴿ مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ﴾ هرڅوک چي غواړي (په عمل خپل سره) فقط دغه دنيا نوپه تلوارا به ور کړو مونږ ده ته په دې دنياکي هومره چي اراده وفرمايو دهغه لپاره (چي څومره نعمت په تلوار ورکړو نه ټول هغه چي دی يې غواړي) ﴿ ثُمَّ جَعَلۡنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ﴾ بيابه وګرزوو مونږ ده ته

---

(۱) المختصر ۲/ ۳۷۱

(۲) المختصر ۲/ ۳۷۱

(عذاب د) جهنم (په آخرت كي) چي ننوزي به په هغه (دوزخ) كي ملامت كړى شوى شړلى شوى (له رحمته دالله نه) ﴿ وَمَنۡ أَرَادَ ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ ﴾ اوهرڅوك چي آخرت (جنت) غواړي اوزيارباسي هغه ته سعى لائقه (په طاعت كولو دالله حال داچي دى (خالص) مؤمن هم دى (په صادق ايمان سره) ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ﴾ (نودغه كسان ده سعى ددوى مقبوله (په نزددالله تعالى كي) يعني دغه كسان چي پورتني سپېڅلي صفتونه لري لكه اخلاص، صالح اعمال اوربښتونى ايمان نوددوى كړه وړه دالله په درباركي منل شوي اوثواب به يې وركولى شي ﴿ كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَ ﴾ هريوله دغو (غوښتونكوددنيااوعقبا) سره مرسته كوومونږ دغي تولي سره (چي طالبان ددنيادي) اوددغه دوهم تولي سره (چي دعقباء طالبان دي) له وركولودرب ستا (په فضل اواحسان سره نو مؤمن اوكافر، طاعت كونكي اوګنهګار دواړوته زمونږ له پراخي وركړي اوعطاء څخه ونډه شته ﴿ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ﴾ اوندى وركول درب ستامنع كړى شوى له هيچانه ﴿ ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ ﴾ وګوره چي څرنګه فضيلت وركړى (غوره كړي) دي مونږ ځيني ددوى ته پرځينو نورو (په رزق اواخلاقوكي) په دنياكي دغه غني دى اودابل فقير، دغه شريف دى اودابل حقير ﴿ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ﴾ اوخامخاآخرت ډېرلوى دى له جهته دمرتبو اوډېرلوى ستر تفاوت په آخرت كي دى تردغه دنيوي تفاوت څخه هلته داسي شيان شته چي نه غوږونو اورېدلي ، نه سترګو ليدلى، نه د چابشرپه زړه كي تېرشوي دي ﴿ لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ مه نيسه (اى بنده) له الله سره بل معبود (شريک چي عبادت يې كوې ﴿ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا ﴾ نو(عاجز) به كېنې (په نزد دالله) ملامت كړى شوى بې ملګري (بې برخي له خيره) چي هيڅوک به دي مرستندوى نه وي.

بلاغت:

پدې آيتونو كي چي دبديع اوبيان كومي ښكلاوي شته لنډيزيې دادى:

١ - براعت استهلال چي فرمايې: ﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ ﴾ څرنګه چي دغه يوخارق العادة چاره وه نويې پيل پداسي لفظ وكړچي دالله په بشپړقدرت او له نقص څخه په پاكي دلالت وكړي

٢ - پدې كلام كي چي وايې ﴿ بِعَبۡدِهِۦ ﴾ دغه اضافت دتكريم اوتشريف لپاره دى.

٣ - اشتقاقي جناس لكه په ﴿ وَلَتَعۡلُنَّ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ﴾ او ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ ﴾ كي چي راغلى.

٤ - دطباق صنعت چي فرمايې ﴿ أَحۡسَنتُمۡ .... أَسَأۡتُمۡ ﴾ او ﴿ ضَلَّ .... ٱهۡتَدَىٰ ﴾ كي.

٥ - پدې كلام كي چي الله تعالى فرمايې ﴿ ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ ﴾ دلته ايجاز بالحذف راغلى يعني داچي وبه ويل شي ده لره دقيامت په ورځ چي (اقرأكتابک) اولكه هلته چي فرمايې ﴿ أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ ﴾ يعني مونږ هغوى ته دطاعت امروكړ خوهغوى عصيان وكړ اوفسق يې پيل كړ.

۶- عقلي مجازچي الله فرمايي ﴿ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةً﴾ ځکه چي ورځ خو پخپله نه ويني بلکه نور ځه په هغه کي ليدل کېږي نو ګوا کي نسبت ديو ځيز زمان ته وشو چي دغه مجازدی.

۷- په دې کلام کي چي راځي ﴿طَٰٓئِرَهُۥ فِي عُنُقِهِۦ﴾ دله يې طائرد انسان له عمل ځخه استعاره کړی او ځرنګه چي عرب و به په مرغانو شاګوم او بد فالي نيوله نو يې خير او شردواړه په مرغه باندي استعاره راوړل.

لطيفه:

دالله تعالی حکمت په اسراء کي چي له بيت الحرام ځخه يې بيت المقدس ته خپل بنده پيغمبر بو تلل داوو چي هلته دانبياوو ارواحان غونډ وو او هلته به الهي وحی په انبياوو رانازلېده او ځرنګه چي دغه دتشريف او تکريم يون (سفر) وو نو الله وغوښتل چي انبياء عليهم السلام هم ددغه نبي په ليدلو مشرف کړي هلته پيغمبر عليه السلام پردوی باندي لمونځ وګوزارل امامت يې پخپله رسول الله کاوو صلوات الله وسلامه عليهم اجمعين

تنبيه:

الله پاک خپل پيغمبر دلته په عبوديت وستايه چي: ﴿أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ﴾ ځکه دغه دمقاماتو ترټولو لوړ مقام دی لکه چي دوحی په هکله يې هم وفرمايل ﴿فَأَوۡحَىٰٓ إِلَىٰ عَبۡدِهِۦ مَآ أَوۡحَىٰ﴾ او هم داسي ددعوت او بلني په وخت کي يې هم پد غه صفت ستايې چي: ﴿وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ﴾.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا
تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا ﴿٢٣﴾ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ
ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ﴿٢٤﴾ رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا ﴿٢٥﴾
وَءَاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ
ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورٗا ﴿٢٧﴾ وَإِمَّا تُعۡرِضَنَّ عَنۡهُمُ ٱبۡتِغَآءَ رَحۡمَةٖ مِّن رَّبِّكَ تَرۡجُوهَا فَقُل لَّهُمۡ قَوۡلٗا مَّيۡسُورٗا ﴿٢٨﴾ وَلَا تَجۡعَلۡ
يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ
إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿٣٠﴾ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ إِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡـٔٗا كَبِيرٗا
﴿٣١﴾ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَسَآءَ سَبِيلٗا ﴿٣٢﴾ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَمَن قُتِلَ
مَظۡلُومٗا فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنٗا فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا ﴿٣٣﴾ وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي
هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ بِٱلۡعَهۡدِۖ إِنَّ ٱلۡعَهۡدَ كَانَ مَسۡـُٔولٗا ﴿٣٤﴾ وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ

ٱلْمُسْتَقِيمِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰٓئِكَ كَانَ
عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ ٱلْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ ٱلْجِبَالَ طُولًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ
سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلْقَىٰ فِى جَهَنَّمَ مَلُومًا
مَّدْحُورًا ﴿٣٩﴾ أَفَأَصْفَىٰكُمْ رَبُّكُم بِٱلْبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًا إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِى هَٰذَا
ٱلْقُرْءَانِ لِيَذَّكَّرُوا۟ وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾ قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّٱبْتَغَوْا۟ إِلَىٰ ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ سُبْحَٰنَهُۥ
وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا
تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤٤﴾ وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ حِجَابًا
مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ وَلَّوْا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ
نُفُورًا ﴿٤٦﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا
﴿٤٧﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٤٨﴾ ﴾الإسراء: ٢٣ – ٤٨

مناسبت اوتړاو:

څرنګه چي الله تعالی ایمان اوصالح اعمال دابدي نېکمرغي لپاره بنسټ وبلل اودمؤمنانو حال یې بیان کړچي دوی په خپلو اعمالودآخرت پانګه برابروي نودلته یې داوامرو اونواهیو یوه لړۍ راوړه چي دبختوري اوفاضلي ټولني تاداو ورباندي جوړېږي اوورپسې بیاالله تعالی دمشرکانو درېز چي د دغه سترقرآن تکذیب یې کاووبیان کړ.

لغتونه:

(أف) دزجرکلمه ده ابن الاعرابي وایې چي (أف) دتکلیف کلمه ده اواصل یې له هغه صوت څخه اخیستل شوي چي کله دچاپه جامو باندي خاوري ایرې توی شي نوهغه پوکي اوپه دغه آواز سره چي (اوف) وي پاکوي یې اوبیاعام شو دهرناخوښه کارپه وخت کي په همدې کلمه تعبیرکېږي (تنهرهما) نهر زجراوغلظت ته وایې (الاوابین) د(اوّاب) جمع اوډېرتوبه ګارته وایه شي له (أوب) څخه اخیستل شوي چي درجوع په معناده (محسورا) منقطع اوله تصرف اونفقې څخه پرېکړي ته وایې عرب هغه اوښ ته چي له تللوودرېږي (محسور) وایې نوهغه څوک چي خپل ټول مال ، دولت خرخ اوولګوي داسي دی لکه هغه چي نوریې توان ناتوانه اوله تللوڅخه ودرېږي (١)(املاق) فقراونېستي ته وایې (خطا) ازهري وایې چي (خطئ یخطئ خِطأً) هلته راځي چي په قصدي توګه خطاکاروکړي او(أخطأ) بیاهغه ته وایې چي په سهوسره پرته له قصده څني وشي (١) (القسطاس) تله میزان له (قسط) څخه اخیستل شوي چي هغه عدل ته وایې (تقف) دپیروي په معناده اصل یې له بهتان اوقذف څخه دی (مرحا) زیاتي خوښي ته وایې اودلته

(١) القرطبي ١٠-٢٥٢

مراد ځني تکبراو خيال کول دي (صرفنا) موږ بيان کړي (اکنة) دکنان جمع او هغه برغولي (سرپوښ) ته وايي (وقرا) کوڼ والی او دغوږونو دروندوالی دی.

تفسير:

﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ﴾ اوستارب حکم فرمايلی دی چي عبادت مکوئ تاسي (دبل هيچا) مګريوازي دهم دغه (الله) مجاهدوايي چي د(قضیٰ) معنادا چي الله دخپل عبادت او توحيد توصيه کړي ده ﴿وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًا﴾ او احسان کوئ له والدينو (موراوپلار) سره په احسان کولو سره؛ مفسرين کرام وايي چي: الله تعالی د موراوپلار احسان له خپل عبادت سره جوخت پدې راووړچي د دوی حق په اولاد خورا ستردی ځکه دوی دهغه ظاهري ژوند اووجود سبب دي اوځرنګه چي د موراو پلار احسان له اولادسره يومخ وروستي سرحد ته رسېدلی نوځکه پردوی هم واجب شوچي له مور او پلار سره همداسي احسان وکړي ﴿إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا﴾ اوکه چېري هرومرو ورسېدو تاسره (حدود) دزوړوالي ته يوددوی دواړو اويادواړه ددوی؛ اوددوی دزوړوالي حالت يې ځکه ذکرکړچي هغوی پدې وخت خورازيات اړوي چي ورسره احسان وشي اوحقونه يې ورپه ځای شي چي دوی ناتوانه اوضعيفان دي ﴿فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا﴾ اومه وايه ته دوی دواړوته (کلمه د) أف (بده ناکاره خبره مه وربانديز اوروه که څه هم دأف کلمه وي) اومه رټه دوی دواړه (چي سختي خبري ورته کوې کله چي ستاناخوښه ورڅخه ويني ﴿وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا﴾ اووايه دوی دواړو والدينو ته خبره پسته (په ادب، وقار اوتعظيم سره) ﴿وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ﴾ اوښکته کړه لپاره ددوی دواړووالدينو وزر دتواضع (عاجزي) له مهرباني څخه ﴿وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا﴾ اووايه ای زماربه مهرباني(بښنه) وکړه دوی دواړوته لکه چي زماپالنه يې کړي ده په هغه حال کي چي زه کمکی وم) يعني دوی دواړوته د رحمت دعاګاني کوه اووايه چي ای زماربه زماپه مور او پلار باندي پخپل پراخ رحمت سره ورحمېږه لکه ځرنګه چي دوی زماپه وړوکتوب کي پالنه کړي وه ﴿رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ﴾ ستاسي رب ښه عالم دی په هغه څه چي په نفسونو (زړونو) ستاسي کي دي (له ارادې دنېکي اوياله آزاراوعقوق څخه) ﴿إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا﴾ که يې تاسي نېکان (دصلاح، سمون اونېکي قصدلری عقوق اوفساد موپه اراده کي نه وي) نوبېشکه الله د توبه ګاره خلګولپاره ډېرمغفرت کونکی دی (هغه چي کله هم خطاشي نوبياسمدستي الله ته راستانه شي او بخښنه ځني وغواړي. امام رازي وايي چي: مقصد له دې آيت شريف څخه دادی چي لومړی آيت د موراوپلار دتعظيم کولو په وجوب دلالت وکړ اوکله ناکله زامن د موراوپلار دتعظيم سره منافي کوم عمل ترسره کړي خوداهسي تېروتنه وي اودآزار اوعقوق قصد يې نلري يوازي دبشري طبيعت له مخه بې احترامي

څني صادره شي نودغه دبښني ورده (١) اوپه مناسب د احسان دموراوپلار الله تعالى دخپلوانو بېوزلانواومسكينانودحقوقوپه هكله هم فرمايي: ﴿ وَءَاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ ﴾ او وركوه (اى بنده) خاونددخپلوي ته دهغه حق او (وركوه) مسكين نادارته او(وركوه) مسافرته ﴿ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ﴾ اواسراف مكوه په اسراف كولو سره) يعني خپل مال دالله له طاعته پرته په نوروشيانو كي مه لګوه چي مبذر ونه ګڼل شې ځكه چي دتبذير معنادا چي ناحقه مال لګوي. مجاهدوايې: كه چېري انسان خپل ټول مال په حق كي ولګوي مبذر نه ګڼل كېږي اوكه يوه پېمانه ناحقه ولګوي مبذردى اوقتاده وايې :دتبذيرمعنادالله په معصيت،فساداوناحقه لاره كي دمال لګولو ته وايې(٢) ﴿ إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴾ بېشكه چي اسراف كونكي دشيطانانو ورونه دي ؛ دغه د نهى لپاره علت دى اوپه قبح اوذم كي نهايت دى چي دوى لكه شيطانان غوندي دي چي فساد خپروي دباطل په لاره كي مال لګوي دشر اوفساد په كارونو كي مرسته كوي ځكه دشيطانانو ورونه دي ﴿ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴾ اوشيطان خپل رب ته ډېرناشكره دى ؛ چي دنعمت حق نه اداكوي اولكه مبذرين ورونه غوندي يې دي چي دنعمت حق نه پېژني حق يې دادى چي په حقوقو اوطاعاتو كي ولګول شي تجاوزاوتبذيرپكي ونكړل شي ﴿ وَإِمَّا تُعۡرِضَنَّ عَنۡهُمُ ٱبۡتِغَآءَ رَحۡمَةٖ مِّن رَّبِّكَ تَرۡجُوهَا فَقُل لَّهُمۡ قَوۡلٗا مَّيۡسُورٗا ﴾ (اوكه اعراض كاووتاله (ذوى القربى، مساكينو ، مسافرو اونورو نه) لپاره دطلب درحمت له (جانبه) درب ستاچي ته دهغه درحمت اميدلرې نوهغوى ته پسته خوږه خبره ووايه) يعني كه تاد هغوى لپاره وړځه نه موندل چي وريې كړې نونرمه اوخوږه خبره ورته وكړه اودبل وخت لپاره ورسره د وركړي ژمنه وكړه ﴿ وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ ﴾ (اومه ګرزوه (مه نيسه) لاس خپل (لكه) تړلى شوى ترغاړي دتاپوري) دغه دبخل لپاره مثال دى يعني هسي بخل مه كوه لكه چي لاس دي ترغاړي تړلى وي هيچاته څه نه وركوې ﴿ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ ﴾ اومه يې غځوه په بېخي غځولو سره يعني اسراف هم مه كوه چي دغه دتبذير لپاره مثال دى هسي مه كوه چي هيڅ دي په لاس كي نشي پاتي مقصدله دې آيت شريف څخه اقتصاددى يعني مه بخيل اومه هم مسرف كېږئ ﴿ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ﴾ نوكښېنې به ته ملامت كړى شوى (په امساک كي) بې ماله پښېمانه شوى (په اسراف كي يعني ته به په دې صورتونو كي دمخلوق اوخالق له لوري ملامت شې اوله ماله به بېخي داسي خلاص شې لكه چي يوڅوک له ډېري ستوماني له سفره پاتي شي او توان يې تمام شي ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ ﴾ بېشكه رب ستاپراخوي روزي لپاره دهغه چاچي دپراخي اراده يې وفرمايي اوتنګوي يې (دهغه چاچي دتنګي اراده يې وفرمايي (هغه القابض الباسط) دى له خپل حكمت سره سم دخلګود مالونوتصرفات كوي

---

(١) التفسيرالكبير ٢٠/ ١٩٢

(٢) المختصر ٢/ ٣٧٥

﴿إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا﴾ (بېشکه چي دغه (الله) دی په (مصالحو) دبندګانو خپلوښه خبردارښه لیدونکی) یعني الله دبندګانو په مصلحتونو خبردار اوددوی په ارزاقو کي یې تفاوتونه ددې لپاره نه چي دبخل له وجي دي بلکه دمصلحتونو غوښتنه ده اودوی پخپلو مصلحتونو نه پوهېږي الله وربا ندي خبراولیدونکی دی ﴿وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖۖ﴾ اومه وژنئ تاسي اولاد حپل دفقرله وېري ﴿نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ﴾ (موږ دوی ته روزي ورکوو اوتاسي ته هم) یعني ددوی روزي پرموږ باندي ده پرتاسونه ده تاسو اودوی ته موږ روزي درکوو نوددوی په سبب له فقره مه وېرېږئ ﴿إِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡـٔٗا كَبِيرٗا﴾ بېشکه چي ددوی قتل لویه ګناه ده. مفسرین کرام وایي چي: دجاهلیت په وخت کي به خلګو لوڼي دلوږي اوپېغور له وېري ژوندۍ ښخولې نوالله پاک دوی له دې څخه منع کړل اودروزي ضمانت يې وفرمایل ﴿وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ﴾ اوزناته مه نژدې کېږئ ! دغه کلمه تر دې چي (ولاتزنوا) ده خورا أبلغ اولوړه ده ځکه چي دغه دزناله مقدماتو څخه منع راوړي هغه چي لاس وروړل، ښکلول، په سترګواشارې کول اوکتل یانور څه دي چي دزنالپاره پیلامه وي نونهی له نژدې والي څخه د نهی ترفعل ډېره أوچته ده ﴿إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَسَآءَ سَبِيلٗا﴾ بېشکه چي دازنا(عقلاًاوشرعاً) قبیحه ده اوبده ده له جهته دروش اولاري (چي سړی دوزخ ته رسوي) ﴿وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ﴾ اومه وژنئ تاسي هغه نفس چي الله يې (وژل) حرام کړي مګرپه حقه سره (چي دشریعت حق اودقتل موجب وي لکه ارتداد، قتل عمد اوزناسره له(احصانه) ﴿وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومٗا فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنٗا﴾ او هرڅوک چي ووژلی شو پداسي حال کي چي مظلوم وي نوپه تحقیق موږ دده دوارث لپاره ګرزولی دی زور اوقوت چي له قاتل څخه انتقام اخیستی شي (په قصاص، دیت اخیستلواویاعفو سره) ﴿فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا﴾ نوپه قتل کي دي اسراف نکوي (چي غیرحق بې قاتله بل څوک وژني) په تحقیق سره له ده (وارث) سره مددکړی شوی دی) یعني که چېري یوڅوک په ناحقه ووژل شي نودهغه وارث ته موږ زور اوقوت ورکوو خودی دي له شرعي حدڅخه تجاوز نه کوي چي له قاتله پرته بل څوک ووژني اویایې اندامونه غوڅ کړي (مثله) یې کړي یادیوه پرځای دوه تنه ووژني لکه چي دجاهلیت دزمانې خلګوبه کول نودده لپاره داکافي ده چي الله په دښمن بری ورکړی نو پخپل قصاص کي دي عدل کوي(په تصرف سره) ﴿وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾ اومه نژدې کېږئ تاسي دیتیم مال ته مګرپه هغې طریقې سره چي ډېره ښه وي (یعني حفظ اواستثمار يې کوئ) ﴿حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ﴾ تر هغه پوري چي (یتیم) ورسېږي دبلوغ حدته (اوپخپل مال کي سم تصرف کولای شي) ﴿وَأَوۡفُواْ بِٱلۡعَهۡدِۖ إِنَّ ٱلۡعَهۡدَ كَانَ مَسۡـُٔولٗا﴾ اووفاکوئ (دالله) په عهد کي بېشکه چي عهد دی پوښتېدلی شوی (په قیامت کي هغه که دالله اوستاسو ترمنځ وي اویاستاسوپخپلو مینځوکي وي)

﴿ وَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ ﴾ او تاسي پېمانه پوره ورکوئ هرکله چي تاسي پېمانه کوئ (بل چاته مه يې کموئ) ﴿ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴾ اوتول کوئ تاسي په برابره تله سره (چي درغلي پکي نه وي) ﴿ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾ دغه پوره کول د (پېمانې اوتول) ډېرغوره او خورانبه دی له جهته د مآل (اوانجام ،عاقبت په آخرت کي) ﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ او د هغه کارپيروي مه کوه چي نه وي تاته په هغه پوهه (بلکه تثبت کوه . قتاده وايي : چي نه دي وي ليدلی هغه وخت مه وايه چي ما وليدل او نه دي وي اورېدلی نومه وايه چي ما واورېدل او نه يې پوهېدلی نومه وايه چي زه پوه شوم ځکه الله پاک له دې وارو څخه تا پوښتي (١) (چي فرمايي :) ﴿ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴾ بېشکه غوږ اوسترګه او زړه هريوله دغو(درې وارو) دی له هغه څخه پوښتنه کړی شوی (په قيامت کي حي څه يې کړي دي ؟) ﴿ وَلَا تَمْشِ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ﴾ اومه ګرزه په ځمکه کي په خيال اوتکبرسره ﴿ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ ٱلْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ ٱلْجِبَالَ طُولًا ﴾ بېشکه چي ته له سره به څيري نکړې ځمکه (ای د نګرناتوانه انسانه له تاسره تکبرنه ښايي څرنګه متکبرانه په ځمکه روان يې؟ اونشي کولای چي په هغي کي د پښنوپه دربولو له کبره سوری وکړې) اوله سره به ونه رسېږي دغرونو(سرو) ته په (جګولو د سرسره له ډېري نخرې) له جهته داوږدوالي (ځکه ته ددې دوارو جماداتو ډېروړکوټی اوبې وزله يې نوڅرنګه تکبراولويي کوې ؟) پدې کي دکبرجنو لپاره استهزاء او تقريع ده ﴿ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴾ ګرد دغه (ذکرشوي امرونه، نهی) دي بدی د هغه په نزد درب ستا ناخوښه (اوحرامي) ﴿ ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ﴾ (داټول احکام) له داسي قسمه دي چي تاته ستارب وحی کړي دي له حکمت نه) يعني دغه ټول چي له (ادابو ، قصصو او احکامو څخه يادشول هغه څه دي چي تاته (ای محمده) ستارب وحی کړي دي له مواعظو او حکمتونو څخه ﴿ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلْقَىٰ فِى جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ﴾ اومه نيسه ته له الله سره بل معبود (که د... ونيو) نو وبه غورځول شې په دوزخ کي ملامت کړی شوی رټلی (دالله له رحمته) صاوي وايي چي : احکام يې په دې باندي پای ته ورسول لکه چي پيل کړي يې هم وو ترڅو توحيد ته اشاره وشي چي د ټولو امورو مبدأ او منتها توحيد دی او هغه بنسټ دی چي ورباندي اعمال دربږي که دغه نه وي کړه وړه ټول باطل دي اوګڼه نلري (٢) ﴿ أَفَأَصْفَىٰكُمْ رَبُّكُم بِٱلْبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًا ﴾ آيا نوغوره کړي يی تاسي ستاسي رب په زامنو سره (او پخپله الله ځان ته ستاسي په زعم) نيولي دي له پرښتو څخه ښځي (لوڼي) (نو څرنګه الله د ځان لپاره أدنی نسل او ستاسو لپاره يې اعلی ځانګړی کړی دی ؟) ﴿ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴾ بېشکه تاسي چي ياست

---

(١) المختصر ٢ / ٣٧٧

(٢) حاشية الصاوي على الجلالين ٢ / ٣٥٠

واياست خبره ډېره لويه (په ګناه اوبشاعت کې چې هغه ته دلوېنو نسبت کوئ او پخپله له لوېنو څخه نفرت اوکركه کوئ) ﴿وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ﴾ (اوخامخا په تحقيق مكرربيان كړي دي موږ پدې عظيم الشان قرآن كي مثالونه ، مواعظ او وعد ، وعيد راوړي چي په روښانه دلائلو يې پند واخلي اوله شرك اوضلالت څخه ځان وژغوري ﴿وَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا نُفُورٗا﴾ اونه زياتوي دوی ته دغه (مكرر بيان) مګرتېښته اولري والی (له حقه اوغفلت له عبرته څخه) ﴿قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا﴾ ووايه(اى محمده ! دوی ته) چي كه واى له الله سره نورمعبودان لكه چي دغه (مشركان) وايې : نوهلته به خامخالټولي وه دغو(معبودانوطرف دخاوند دعرش ته لاره (دورتلو لپاره دجنګ ترڅوچي پاچهي ځني ونيسي لكه چي ددنياپاچهان يې ځيني له ځينو نورو سره كوي) (۱) ﴿سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّٗا كَبِيرٗا﴾ (پاكي ده الله لره اوډېرپورته دی الله له هغه څه چي دوی يې وايې په ډېري لويي سره) يعني پاكي ده الله لره له هغه څه چي دغه ظالمان يې وايې اوپه دروغوبهتان وربانديې ترې ځكه له داسي افتراء څخه الله پاك اومنزه دی شهاب وايې چي : دلته يې (علو) ورروسته له (ذی العرش) څخه ذكركړه دغه دبلاغت منتهاده ځكه نودغه له عظمت اوجلال سره مناسب ده ﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ﴾ تسبيح وايې ده ته اوه واړه آسمانونه اوځمكه اوهغه څوك چي په دوی كي دي (له مخلوقاتو) ﴿وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ﴾ (اونشته هيڅوك (له مخلوقاتو) مګرچي تسبيح وايې سره له ثناء ددغه (الله) يعني په دې شته موجوداتوكي هيڅ موجود نشته مګرخودالله په عظمت اووحدانيت شاهدي وركوي (۲) آسمانونه يې په شين والي كي پاكي وايې ، كښتونه په زرغونوالي كي ، باغونه په ښكلاكي،ونې په ډكوپاڼو ، اوبه په آبشارونواومرغان يې په آوازونوكي لمريې په ختلواوډوبېدلوكي ،وريځي په بارانونو او اوربښت كي اودداټول دالله په وحدانيت ګواهي وايې ﴿وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ﴾ مګرنه پوهېږئ تاسي دهغوی په تسبيح باندي ځكه هغه ستاسوپه ژبه نه ده ﴿إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا﴾ (بېشكه دغه الله دی ښه تحمل درلودونكی، ښه بخښونكی) يعني الله پخپلو

---

(۱) دغه يې يوتفسيراوبل يې په دوهم مخ كي وګورئ دوهمه وجه دتفسيرداچي معنايې ده كه چېري خبره همداسي واى لكه چي تاسي واياست نودغه معبودان به الله ته لاره لټوله چي ورنژدې شي عبادت اوطاعت به يې وكړي دغه دابن جرير اوابن كثيرغوره دى خولومړی وجه خرګنده ده لكه چي ابو السعود ليكلي اوله آيت سره هم مناسب دی چي الله پاك ورروسته فرمايې (سبحانه) ځكه دغه صريح انكاراوددوی قول محذوردی.

(۲) په الظلال تفسير كي راوړي چي دغه دكائناتويوعجيب انځوردی كله چي زړه يې ومني چي هره ګته لوټه هره دانه اوبڼه پاڼه هرګل هره مېوه هربوټی اوونه هره خزنده اوپرنده هرانسان اوحيوان هرخوځېدونكی اوپه اوبوكي لامبو وهونكی په هواالوتونكی او ورسره دآسمان اوسېدونكی دالله جل جلاله تسبيح اوپاكي وايې اوالله ته متوجه وي اوكله چي بيا روح سپېڅلتياومومي او روښانه شي ددې وجود په اسرارو اورازونو پوهېږي هسي پوهه چي ډېرغافل كسان وربانديې خبرهم نه وي. في ظلال القرآن ۱۵ / ۳۹

بندګانو حليم دی ژرتر ژره يې نه نيسي اوکه دالله حلم اوغفران نه وای نوبه يې بشرپخپل زبردست قوت نيولی وو ﴿ وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْأَخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴾ (اوکله چې لولې ته (ای محمده!) قرآن نو وګرزوو موږ ستااوهغوکسانوپه مينځ کې چې ايمان نه راوړي په آخرت پرده پټونکي) يعني ای محمده! کله چې ته پردغو مشرکانو قرآن لولې هغوی چې په آخرت ايمان نه راوړي نو موږ ستااود دوی ترمينځ پټونکي پرده پيداکړو چې دوی دقرآنکريم فهم ونشي کولای اوپه اسرارو اوحکمتونو يې ونه پوهېږي ﴿ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ ﴾ او اچوو موږ ددوی په زړونو پردې (موانع) له دې خبرې نه چې په قرآن پوه شي ﴿ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ﴾ او ګرزوو موږ په غوږونو ددوی پردې (کونوالی چې قرآن وانه وري) ﴿ وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ وَلَّوْا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا ﴾ (اوکله چې ته يادکړې خپل رب يوازې په قرآن کې نوبيرته ګرزي دوی په شاوو خپلوپداسې حال کې چې ترهېدونکي وې) يعني کله چې ته دالله په توحيدسره قرآن لولې نومشرکان له دې څخه تښتي اونه غواړي چې دتوحيداستماع وکړي ﴿ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ ﴾ موږ ښه عالم يو په هغه غرض چې اوري دوی په سبب دهغه سره (دا قرآن چې استهزآء اوملنډې دي) مفسرين کرام وايې چې مشرکان به درسول الله صلی الله عليه وسلم خواوشاته کښېناستل چې خلګوته به يې په پام کې ورکول چې قرآن اوري مګرقصدبه يې استهزآء اومسخرې وې نودغه آيت شريف درسول الله صلی الله عليه وسلم دډاډېيني لپاره نازل شو چې په ترڅ کې يې دمشرکانولپاره تهديداو وېرونه هم شته ﴿ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ ﴾ کله چې دوی تاته غوږ ږدي اوکله چې دوی پټې خبرې (مشورې) کوي ﴿ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴾ کله چې وايې ظالمان (مشرکان) اصحاب کراموته) چې تاسومتابعت نکوی مګرديوسړي چې وربانديکوډې شوي دي (اوګډې وډې خبرې کوي) ﴿ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ ﴾ وګوره (ای محمده!) څرنګه بيانوي دغه کفارتالره مثالونه ؟ د(ساحر، شاعر، کاهن اومجنون) نوګمراه شول دوی (په دغه بهتان اودروغوباندې) ﴿ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴾ نوطاقت نلري دوی دسمې لارې موندلو (چې هدايت اوحق ته ورسېږي.

بلاغت:

پدې آيتونوکې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لنډون يې په لاندې ډول دی:

۱ – مکنيه استعاره چې فرمايې: ﴿ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ ﴾ عاجزې يې له مرغه سره مشابه کړه مرغه يې حذف کړاو دهغه له لوازمو چې وزر دې راوړل شول چې دغه ته مکنيه استعاره ويل کېږي

۲ – کله چې الله تعالی فرمايې: ﴿ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ ﴾ دبخيل لپاره يې دهغه چامثال راووړچې لاس يې له ورکړې څخه منع اوپه غاړه پورې تړل شوی وي نشي کولای چې

اوړد يې کړي اوداسراف لپاره يې بيادلاس اوږدول مشابه کړي هسي چي هيڅ هم په لاس کي خوندي نشي ساتلای.

٣ - پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا﴾ لف اونشرمرتب راغلی ځکه چي (ملوما) د بخيل لپاره او(محسورا) داسراف کونکي لپاره دی يعني که دي بخل کاوو خلګ به دي ملامت کوي اوکه دي اسراف کاوو نو يومخ ايزه به له مال څخه خلاص شې.

٤ - دطباق صنعت لکه په ﴿يَبۡسُطُ وَيَقۡدِرُ﴾ کي.

٥ - اشتقاقي جناس لکه په ﴿قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ﴾ کي.

٦ - توبيخ لکه په: ﴿أَفَأَصۡفَىٰكُمۡ رَبُّكُم بِٱلۡبَنِينَ﴾ کي.

٧ - فرض اوتقديرلکه په: ﴿لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ﴾ کي.

لطيفه:

دلته موږ دقرآني تعبيرهغه عجيبه باريکي وينوچي پدغه سورت کي الله تعالی دزامنو روزي په پلرونو له مخه ياده کړي چي ﴿نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡ﴾ يې فرمايلي دي اوپه سورة الانعام کي يې بيا دپلرونو روزي ترزامنو دمخه راوړي چي فرمايي: ﴿نَّحۡنُ نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡ﴾ اوپدې کي رازدادی چي داولادونو دوژلو علت دلته دهغوی په سبب له فقرڅخه وېره وه ځکه الله دهغوی روزي دمخه ياده کړه اوپه الانعام سورت کي دپلرونو واقعي فقراو نېستي وه چي اولادونه يې وژل نوهلته الله دپلرونو روزي دمخه ياده کړه دتنزيل اسرار خوراډېر اولايتناهي دي (سبحان الله والحمد لله ولآاله الا الله والله اکبر).

***

الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ﴿٤٩﴾ ۞ قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾ أَوۡ خَلۡقٗا مِّمَّا
يَكۡبُرُ فِي صُدُورِكُمۡۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَاۖ قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖۚ فَسَيُنۡغِضُونَ إِلَيۡكَ رُءُوسَهُمۡ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ
هُوَۖ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبٗا ﴿٥١﴾ يَوۡمَ يَدۡعُوكُمۡ فَتَسۡتَجِيبُونَ بِحَمۡدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٥٢﴾ وَقُل
لِّعِبَادِي يَقُولُواْ ٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ﴿٥٣﴾ رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ
إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ
فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴿٥٥﴾ قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ
وَلَا تَحۡوِيلًا ﴿٥٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ
إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا ﴿٥٧﴾ وَإِن مِّن قَرۡيَةٍ إِلَّا نَحۡنُ مُهۡلِكُوهَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَوۡ مُعَذِّبُوهَا عَذَابٗا

شَدِيدًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ﴿٥٨﴾ وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِٱلْءَايَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلْأَوَّلُونَ ۚ وَءَاتَيْنَا ثَمُودَ
ٱلنَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۚ وَمَا نُرْسِلُ بِٱلْءَايَٰتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴿٥٩﴾ وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِ ۚ وَمَا جَعَلْنَا
ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِي ٱلْقُرْءَانِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾ وَإِذْ
قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾ قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِي
كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ
جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿٦٣﴾ وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ
فِي ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ۚ وَكَفَىٰ
بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾ رَّبُّكُمُ ٱلَّذِي يُزْجِي لَكُمُ ٱلْفُلْكَ فِي ٱلْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا
﴿٦٦﴾ وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمْ
أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً
أُخْرَىٰ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ۙ ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِۦ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾

الإسراء: ٤٩ ـ ٦٩

مناسبت اوتړاو:

كله چي الله تعالى دمشركانودريز دقرآنكريم په وړاندي بيان كړاوداچي دوى دقرآن له پوهېدلو څخه ړانده اوكاڼه وو ورپسې يې له بعث اونشورڅخه ددوى منكرېدل اوپدې هكله ددوى شكوك اوشبهات اوپه هغوى باندي دالله له لوري دبطلان كرښه راښكل راوړه بيايې دآدم عليه السلام اولعين ابليس كيسه دپندلپاره راغبرګه كړه له دې په هيسته يې په بندګانودسترو نعمتونو ذكر وفرمايواو هغه چاته چي كفر اوانكاركوي وعيد اوتهديد يې ورته راووړ.

لغتونه:

(رفاتا) خاوري ايرې شوي (ينغضون) فراء وايې چي دوې جملې چي ووايې: (أنغض فلان رأسه) معنايې داده چي فلاني ښكته پورته سر وخوځاوولكه چې څوك تعجب كوي (١)راجزوايې (أنغض نحوي رأسه واقنعا) يعني زمالوري ته يې دقناعت په توګه سروخوځاوو (ينزغ) فساد كوي اوشر راپاروي (لأحتنكن) له يوه مخه له بېخه ايستلوته وايي لكه چي وايې: (احتنك الجرادالزرع) يعني ملخو كښت يومخ ايزه تباه كړ(استفزز) غولولوته وايې (اجلب) اجلاب له چلونكي شړونكى څخه نارې كولوته وايې (رجل) دراجل جمع اوپياده ته وايي (يزجى) سوق اوشړلوته وايې (حاصبا) وړوګټوته ويل كېږي (قاصفا) قصف ماتولوته وايې اوقاصف فاعل دى (تبيعا) تابع، مرستندوى ته وايه شي.

(١) تفسير كبير ٢٠ / ٢٢

د نزول سبب:

أ- ابن عباس رضی الله عنه وايي دمكې خلكو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چي: د (صفا) غر دي ددوی لپاره سره زر جوړکړي او دمكې له ښاره خوا و شا غرونه دي له ښخه وکاږي ترڅو دکښت او باغداري لپاره مكه برابره شي او بيا دوی په کي کښت او زراعت کوي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وویل شو: که غواړې چي مهلت ورکړم ددې لپاره چي له دوی څخه صالح زوزات اولادونه غوره کړو او که غواړې چي دوی ته ددوی غوښتني ورکړو خوکه بيايې کفر غوره کړ نوبه يې هلاک کړو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ووېل: بلكه ورته مهلت ورکړه نو دا آيت نازل شو: ﴿وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَ﴾(۱)

ب- کله چي الله پاک دزقوم ونه په قرآنکريم کي ذکرکړه نو ابوجهل ووېل: ای قریشو محمد تاسي وېروي چي په دوزخ کي دزقوم ونه ده آيا تاسوته نه ده معلومه چي اور، ونه سوځوي او محمد گمان کوي چي اور ونه زرغونوي نو آيا پوهېږۍ چي زقوم څه شی دی؟ هغه کوچي (مسکه) او خرماده. ای مېنځې موږته خرما او کوچي راوړه کله چي به هغې کوچي او خرما ورته راوړل نوبه يې دوی ته ويل: وخورئ دغه هغه څه دي چي محمد تاسي ورڅخه وېروي نو الله دا آيتونه نازل کړل: ﴿وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا﴾(۲)

تفسير:

﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا﴾ او وايې دغه (منکران) آيا کله چي موږ شو (پس له مرګه) هډوکي او خاوري مېده شوي؟ استفهام دانکار او تعجب لپاره دی ﴿أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا﴾ آيا په تحقيق به موږ بيا راژوندي (ولاړ) کړای شو په نوي پيدا کولو سره؟ ﴿قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) شئ تاسي تيږي او يا اوسپنه (پداسي حال کي به هم الله تعالى ستاسي په راپاڅولو اوژوندي کولو قادر وي څه خولا داچي هډوکي او خاوري ايري ياست الله ته هيڅ کار مشکل نه دی که ستاسي بدنونه داوسپنو او دډبرو شي هغه چي ډېر سخت موجودات دي بيا به هم الله هغه راژوندي او پاڅوي ﴿أَوۡ خَلۡقٗا مِّمَّا يَكۡبُرُ فِي صُدُورِكُمۡ﴾ او يا (شئ) بل کوم قسم مخلوق له هغه قسمه چي ډېر لوی (او سخت ښکاري په سينو (زړونو) ستاسي کي (چي ژوندي کول يې خورا بعيد وي بيا به موهم الله راژوندي کاندي مجاهد وايي: چي معنا داچي هرڅه موږه غواړې هغسي شئ الله به موراژوندي کاندي ﴿فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا﴾ نو ژر به ووايې: دوی څوک به موږ بيرته راولي (اوژوندي به مو کړي؟ وروسته له فاني کېدلو؟ ﴿قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ﴾ ووايه (ای محمده ! دوی ته) هغه ذات به تاسي بيا ژوندي کړي

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص: ۱۲۲

(۲) زادالمسير ۵ / ۵۵

چي پيدا کړي يې يې اول کرت (له عدم څخه) ﴿ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ﴾ نو ژر به دوی تاته سرونه وخوځوي (له ډار، استهزآء او تعجب نه) او وبه وايي (تمسخرًا) کله به وي (دغه بيا ژوندون استبعاد او استنکار به وکړي) ﴿ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ﴾ ورته ووايه: (ای محمده!) ښايي چي وي دغه (بيا ژوندون) نژدې (ځکه چي راتلونکی دی او هر راتلونکی نژدې دی ﴿ يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ په هغه ورځ کي چي (الله) تاسي حساب ته وبولي نو قبول به کړی (بلنه دده) پداسي حال کي چي دالله به ثنا ويونکي ياست او ګمان به کوئ (له ډېره هيبته) چي ځنډنه دی کړی تاسي مګر لږشاني ﴿ وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُوا۟ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ﴾ او ووايه (ای محمده!) زما مؤمنانو بندګانو ته چي وايې دي (په محاوراتو او خطابونو کي) هغه خبري چي ډېري غوره دي (ښې پستې، خوږې او نرمي خبري دي کوي) ﴿ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ﴾ ببشکه چي شيطان دښمني اچوي (او شر پورته کوي) په مينځ ددوی کي کله چي شدلي او تروې خبري له خولې څخه ووزي ﴿ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴾ ببشکه چي شيطان دانسان لپاره ښکاره دښمن دی (له لومړي پيل نه ځکه نو زيار باسي چي دچادخولې کومه خبره زېږه او قهرجنه ومومي او دشر او فساد لپاره يې په لمسون کي وکاروي دښمني رامينځته کړي ورونه سره په مصيبت اخته کړي ﴿ رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ﴾ ستاسي رب پر تاسي ښه عالم خبردار دی (که ستاسي در حمت اراده وفرمايي) نو پر تاسي به رحمت وکړي (په توفيق درکولو دايمان) ياکه اراده وفرمايي (دعذابولو ستاسي) نو عذاب به درکړي تاسي ته (په مړه کولو، سره له کفر او عصيانه) ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴾ او نه يې لېږلی موږ ته پردوی وکيل (ساتونکی دکفارو داعمالو چي په زور يې ايمان ته راکاږې بلکه ته مو يوازي وېرونکی استولی يې نو څوک چي ستا اطاعت کوي جنت ته به يې بيايې او څوک چي ستا څخه غاړه غړوي ځای به يې دوزخ وي) ﴿ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ او رب ستا ښه عالم دی په هغه چا چي په آسمانونو کي دی او چي په ځمکه کي دی (نو هغه چاته نبوتِ ورکوي چي خوښه يې شي الله جل جلاله په ښکمرغه او بدمرغه خلګو ښه پوهېږي په آيت شريف کي په مشرکانو باندي رد راغلی دی ځکه دوی به ويل: څرنګه دابو طالب يتيم نبي جوړ شو؟ او څرنګه دغه بېوزله، ناداره کسان دهغه اصحابان شو سرداران او مخه ورکسان يې اصحاب نه شي ګڼلی؟) ﴿ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ ٱلنَّبِيِّۦنَ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ او خامخا په تحقيق فضيلت ورکړی دی موږ ځينو انبياوو ته پرځينو نورو باندي (چي زموږ په علم او حکمت پوري اړه لري ځيني موپه ځينو مزاياوو ځانګړي کړي دي ابراهيم عليه السلام ته (خُلت) ورکول شوی، موسی عليه السلام ته (تکليم)، سليمان عليه السلام ته ستره پاچهي او محمد صلی الله عليه وسلم ته مو اسراء او معراج ورکړی او د رومبنيو او وروستنيو سردار مو ګرزولی دی دغه ټول د عليم او حکيم ذات په کړنه چي هيڅ يو کار يې

له حکمته خالي نه دی ترسره شوی ﴿وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا﴾او ورکړی وو موږ داؤدته زبور(چي په حکمت اوفصل الخطاب مشتمل وو) ﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ﴾(ووايه دوی ته ای محمده!) چي وبولئ تاسي هغه معبودان چي (دخدايانو) ګمان ورباندي کوئ بې له الله نه؛ حسن بصري وايي چي مرادځني ملائک،عيسی اوعزيردی چي دوی به ويل دابه د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوي ﴿فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا﴾نودوی له تاسوڅخه دضرردليري کولو اختيارنلري اونه هم دګرزولودضرربل چاته) ﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ﴾(دغه (معبودان) هغه دي چي (کفارېې) عبادت کوي لټوي دغه (معبودان) خپل رب ته وسيله (د نژدې والی) چي کوم يوله دوی څخه ډېرنژدې دی) يعني دغه معبودان چي مشرکان يې عبادت کوي دوی پخپله دالله دتقرب په لټه کي دی اوپه طاعت اوعبادت الله ته توسل کوي نوبياتاسوڅرنګه ددوی عبادت کوئ؟ ﴿وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ﴾اواميدلري درحمت ددغه (الله) په طاعت سره او وېرېږي له عذابه ددغه (الله) اوزيارباسي چي دالله رضاترلاسه کړي ﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا﴾ببشکه عذاب درب ستاددې وړدی چي ترې وېره وکړای شي (هغه ډېرسخت دی) ﴿وَإِن مِّن قَرۡيَةٍ إِلَّا نَحۡنُ مُهۡلِكُوهَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَوۡ مُعَذِّبُوهَا عَذَابٗا شَدِيدٗا﴾اونشته هيڅ کلی(ښاردځمکي په مخ) مګرچي موږ هلاکونکي (داهل) دهغه يو پخواله ورځي دقيامت ياپه عذابونکي يو (داهل) دهغه په سخت عذاب سره يعني نشته هيڅ يوښار دکافرانو چي له الله سرغړونه کوي اود رسولانوتکذيب کوي مګردا چي ژربه يې الله هلاک کړي په يومخ ايزه استيصال سره اويابه يې اهل ته سخت عذاب ور و ويني ﴿كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا﴾دی دغه حکم په کتاب (لوح محفوظ)کي کښل شوی (تغيرنه مومي) ﴿وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَ﴾(اونه دی منع کړی موږ لره هيڅ څيزله دې نه چي هغه معجزې ولېږو (چي دوی يې غواړي)مګر(دې خبري)چي تکذيب کړی ووپه دغومعجزو پخوانيو (کفارونوهلاک موکړل)مفسرين کرام وايي: مشرکانودرسول الله صلی الله عليه وسلم ته دسترو معجزودراوړلو وړانديز وکړ چي څيني يې داوو؛دصفاغردي سره زرجوړکړي اودمکې له ښاره دي غرونه ولېږدوي نوالله تعالی ځواب ورکړکه ددوی دغه وړانديز ومنل شي هم ايمان نه راوړي نوبيابه ديومخ ايزه هلاکېدلو وړ اولائق وګرزي دالله جل جلاله دحکمت غوښتنه داده چي دوی ته مهلت ورکړي څکه الله ته معلوم دي چي څيني ددوی به ايمان راوړي اوهمداسي په نسل کي به يې مؤمنان پيداکېږي نوڅکه الله ددوی دغه اقتراح ونه منله (¹) اويادامعناچي موږ نه منع کوي له نه منلو ددوی د وړانديز شوي معجزو څخه مګرداومنع کوي چي پخواموکله هم اقتراحي معجزې أمتونوته ورلېږلي وې خوهغوی يې بياتکذيب وکړنوالله هلاک اوتباه کړل﴿وَءَاتَيۡنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةٗ فَظَلَمُواْ بِهَا﴾او ور کړي

(¹) سبب النزول وګورئ!

مووه قوم دثمودته اُوښه ښکار معجزه نوظلم وکړ (ثمودیانو په خپلو ځانو) په سبب د(انکار) دهغې(وروسته له هغه چي دوی یې وړاندیز کړی وونوبیا الله تعالی هلاک کړل) ﴿وَمَا نُرۡسِلُ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّا تَخۡوِيفٗا﴾ اونه لیږو موږ دغه (کائناتي معجزې لکه زلزلې، تندر، خسوف، کسوف اوتندرونه (صواعق) مګرد پاره دوېرولو (دبندګانوچي له ګناهونو ځان وساتي. قتاده وايي چي: بېشکه الله وېروي بندګان په هغه نښانیوچي اراده یې وشي لپاره ددې چي پندواخلي او رُجوع وکړي(١) ﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ﴾ اويادکړه هغه وخت چي موږتاته وویل چي: بېشکه رب ستااحاطه کړي پر مخلوقاتو (په علم اوقدرت خپل سره (په ماضي زمانه ، حال اواستقبال کي له الله څخه ددوی هیڅ حال هم پټ نه دی الله ته معلومه ده چي دوی به له سره ایمان نه راوړي که څه هم ددوی ټولي فرمائشي معجزې ورته راوړی شي ﴿وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ﴾ اونه دی ګرزولی موږلیدنه هغه چي ښوولي مووه تاته (ځرګنده په شپه دمعراج کي له عجائباتودځمکي اوآسمان نه) مګرازموینه لپاره دخلکو(دمکې چي دوی یې تکذیب وکړ اوځیني مرتدهم شول . اما م بخاري له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت راوړي چي دغه دسترګو رؤیاوه خوب نه وه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دمعراج په شپه نظاره ور ولیدل شوه (٢) ﴿وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ﴾ او(همدارنګه موفتنه ګرځولي موږ) هغه ونه چي پرې لعنت کړی شوی دی په قرآن کي؛ ابن کثیروايي :کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته خبر ورکړ چي هغه جنت اودوزخ لیدلي اوهلته یې دزقوم ونه ولیده نوابوجهل دملنډوپه توګه وویل چي: خرمااوکوچ راوړئ دهغوپه خوړلو یې پیل وکړ چي همدازقوم دی له دې پرته بل زقوم نه پېژنو (٣) ﴿وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا﴾ او وېرووموږ دوی نونه زیاتوي (دوی ته دغه وېرول) مګر طغیان سرکښي لویه یعنی په ضلالت کي له ډوبېدلوپرته یې بل څه ورزیات کړل؟ بیاالله ددغه طغیان لامل بیانوي چي همداشیطان دی څکه یې ورپسې دشیطان ملعون کیسه راوړه ویې فرمایل: ﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ﴾ اويادکړه(ای محمده !) هغه وخت چي وویل موږ پرښتوته چي سجده وکړئ تاسي آدم ته (سجده دتعظیم) نوسجده وکړه دوی مګریوازي ابلیس (چي سجده یې ونکړه حضرت آدم یې ترځان حقیروګاڼه اوتکبریې غوره کړ ﴿قَالَ ءَأَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ طِينٗا﴾ وویل: (ابلیس دالله په ځواب کي) آیاسجده وکړم زه هغه چاته چي تاله ختې پیداکړی دی ؟ (څرنګه ښایي چي لوړ مخلوق دي ضعیف اوښکته ته سجده وکړي؟) ﴿قَالَ أَرَءَيۡتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِي كَرَّمۡتَ عَلَيَّ﴾ (وویل: (ابلیس) خبرراکړه ماته (داسړی) چي بهترکړی دي دی په ماباندي) یعني ابلیس لعین دالله په وړاندي په سپین سترګي اوکفرسره وویل: چي آیادغه مخلوق

(١) الطبري ١٥ / ١٠٩

(٢) نوموړي مرجع المختصر ٢ / ٣٨٦

(٣) ابن کثیر.

تاترمابهتر کړې او ترمادي عزتمن ګرزولی د ﴿لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا﴾ قسم دی که دي ترورځي دقيامت پوري وروستی کړم نوخامخابه زه بېخ وباسم داولادې دده مګرلږ (ددوی چي ستاپه حمايت کي وي) طبري وايې چي: دالله دښمن قسم وخوړ که دي ماته وخت راکړ زه به دآدم داولادې بېخ او بکروباسم اوګمراه به يې کړم مګرلږ کسان به پاتي شي(١) ﴿قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا﴾ (نوالله و فرمايل: چي ځه نوهرچاچي ستامتابعت وکړله دوی نه نوبېشکه دوزخ جزا ستاسي ده پوره جزاء) يعني الله ورته وويل چي تاته مي مهلت درکړ ورځه زيارباسه څوک چي ددوی ستامتابعت وکړي نوستا او د دوی جزآء دوزخ دی په بشپړه توګه چي هيڅ به څني کم نشي. قرطبي وايې چي دالله امرچي فرمايي: (ځه) امرداهانت اوسپکاوي دی اومعناداچي ته خپل زياروباسه تاته مي مهلت درکړ(٢) ﴿وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ﴾ اووخوځوه (راګېر کړه) هغه چي طاقت دي رسېږي پرهغه باندي له دوی نه په غږ (بلنه) خپله (فساد ته؟ ابن عباس رضی الله عنه وايې: دشيطان غږ هغه بلونکی دی چي دالله معصيت ته څوک بولي اومجاهد وايې: مراددشيطان له صوت نه سرود، غنااولهوه ده (٣)

﴿وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ﴾ اوراکاږه (راټول کړه) پردوی خپل سپاره اوپياده (لښکري) طبري وايې معنا داچي پردوی خپل پلی اوسپاره لښکر راغونډ کړه چي وربانديي ناري کړي اوستاطاعت ته يې راوبولي زماله طاعت څخه يې وګرزوي. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: مرادله پلي اوسپرو څخه هرسپور او پلی دی چي دالله په معصيت کي روان وي. زمخشري وايې چي: دغه دتمثيل په توګه راغلی چي دده حال يې له هغه پهلوان سره مثل ګڼلی چي په کوم قوم وروخېژي او وربانديي چيغه کړي له خپلو ځايونو يې ونه خوځوي اوبياورباندي خپلي پلي لښکري اوسپاره راټول کړي ترڅويې له بېخه وباسي (٤) ﴿وَشَارِكْهُمْ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ﴾ (اوشريک شه له دوی سره په مالونو او اولادونوکي) کوم چي مالونه دي هغه داچي په حرامولارو يې لاس ته راوړي اوپه ګناهونو کي يې ولګوي اوکوم چي اولادونه دي هغه داچي دنرواوښځوګډون ورته ښايسته کړي ترڅوزنا اوفجورزيات شي اوحرامزاد ګان ډېرشي

﴿وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا﴾ (او وعده کوه له دوی سره (ددروغو) او نه کوي وعده له دوی سره شيطان مګردفريب (چي خطاورته صواب ښکاروي) يعني دوی ته په تېر ايستونکو ژمنواو مکرجنووعدودروغجنو هيلو وعدې ورکوه لکه دبتانو شفاعت ياپه حرام مال باندي دغنااو بدايې يا

---

(١) الطبري ١٥/١١٢ اومرادپه لږکسانو هغه مخلصان دالله په عصمت کي ژغورل شوو ته وايې.

(٢) القرطبي ١٠/٢٨٨

(٣) القرطبي ١٠/٢٨٨

(٤) الكشاف ٢/٦٧٨ سيدقطب رحمه الله وايې چي: همدغه دسرغړوني لپاره يوانځوردی چي څرنګه يې راايساروي اوپه زړونو مشاعرويې غلبه مومي داهغه ستره جګړه ده چي پکي غړونه، سپاره اوپلي لښکريان دنورو جګړوپه شان کارول کېږي يوځل چيغه په کاراچوي خودښمن له خپلو ځايونو او مورچلونو ولتوي اوبيايې په لومه کي راکېباسي کله چي دوی وتښتي ببديا ته يې. ابهرکاندي نوبيايې پلي لښکري اوسپاره قوتونه په شاوخواراوګرزوي اوکاريې تمام کړي.
الظلال ١٥/٥١

داچي الله پاک غفور اورحيم دی ګناوي کوه الله به يې دروښني ياهم په لويو ګناوو باندي دسرور اوخوښي احساس ورکول يعني خوندونه اخلئ، خوښحالي کوئ ځکه هرڅه که څه هم وخت واخلي تېرېدونکي دي ﴿ إِنَّ عِبَادِى لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ﴾ بېشکه (مخلص) بندګان زماچي دي نشته تاته (ای شيطانه پردوی هيڅ ډول غلبه (ځکه دوی زما په حفظ او امان کي دي) ﴿ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴾ اوکافي دی رب ستا (ای شيطانه) وکيل ساتونکی (دوی لره ستاله شرڅخه) وروسته الله تعالی په خپلو بندګانو باندي داحسان اونعمتونو يادونه کوي اودخپل وحدانيت او قدرت آثار بيانوي فرمايي: ﴿ رَّبُّكُمُ ٱلَّذِى يُزْجِى لَكُمُ ٱلْفُلْكَ فِى ٱلْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦٓ ﴾ رب ستاسي هغه (قادر مطلق) ذات دی چي چلوي تاسي ته بېړۍ په بحرکي (چي (روزي ولټوئ) (په تجارت او سفرونو سره) له فضله دده څخه ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴾ بېشکه دغه (الله) دی پرتاسو ډېر مهربان (ځکه يې تاسوته اسباب آسانه کړل) ﴿ وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ اوکله چي تاسي ته په بحر کي سختي ورسېږي (اوله غرقه ووېرېږئ) ورک شي (له فکره ستاسي) هغه کسان چي بې بولئ (او عبادت يې کوئ) مګريوازي دغه (الله) ته (زاري اوعبادت کوئ) يعني پرته له الله بل څوک ستاسي فرياد اورېدونکی او مرستندوی نه وي انسانان په دغه حالت کي بت اووثن ته هډو چيغي نه وهي اونه هم ملک اوفلک ته زاري کوي بلکه يوازي الله تبارک وتعالی ته دعجزاونياز فريادونه کوي ﴿ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ﴾ نوکله چي وموژغوري تاسي (اوومورسوي) وچي ته نوبيا څنګ کوئ (له توحيده ايمان اواخلاص نه) ﴿ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴾ اودی انسان لوی ناشکره يعني دانسان طبيعت همداسي دی چي دالله دنعمتونو ناشکري کوي وروسته بياالله دوی پخپل سترقدرت وېروي فرمايي: ﴿ أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ ﴾ (نوآيا په امن يی تاسي (مطمئن ياست) له دې نه چي ډوب کړي تاسي په يو طرف دوچي ځمکي کي) يعني کله چي مو له ډوبېدلو اوغرقېدلو وژغوري نوآيامطمئن ياست له دې چي ځمکه درباندي وچوي اوتاسي ورباندي ومنډي؟ تاسي خوهره شېبه دالله په واک کي ياست نوڅرنګه دالله له کسات اخيستلو اونيولو بېغمه کېږئ چي درباندي زلزله ،تندراواوربه نه راغورځوي؟ ﴿ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ﴾ ياولېږي پرتاسوسخت باداورونکی دوړوکانو (چي ور باندي وموژني لکه دلوط عليه السلام قوم چي يې وواژه) ﴿ ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ وَكِيلًا ﴾ بيانونه مومئ تاسي دخپل ځان لپاره کوم ساتونکی (چي دالله له عذابه موو ژغوري) ﴿ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾ آيا په امان کي يی تاسي له دې چي بيارانني باسي تاسي(الله) پدې (بحر) کي بيادوهم ځلي ﴿ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ ﴾ نوناڅاپه راولېږي پرتاسي (ماتونکی دهرشي) سخت باد ﴿ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ﴾ نو غرق به کړي

(الله) تاسي په سبب دكفر د تاسي ﴿ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ عَلَيۡنَا بِهِۦ تَبِيعٗا﴾ پس له هغه به بيانه مومئ دخپلو خانونو دپاره پرموږ په سبب دهغه غرق پوښتېدونكى (چي له موږ نه ستاسي كسات واخلي).

بلاغت:

پدې آيتونوكي چي دبديع اوبيان كومي ښكلاوي شته لندون يې په لاندي ډول دى:

١ - انكاري استفهام لكه چي الله فرمايي ﴿أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا﴾ اوپدې كلام كي چي فرمايي ﴿أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ﴾ دهمزې تكرار دنكيرد تاكيد لپاره اوهمداسي په ان اولام دواړو تاكيد دانكارد قوت لپاره راغلى دى.

٢ - په امرسره تعجيزاو اهانت لكه: ﴿قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا﴾.

٣ - كله چي الله تعالى فرمايي: ﴿يَرۡحَمۡكُمۡ ...يُعَذِّبۡكُمۡ﴾ او ﴿ٱلۡبَرِّ...ٱلۡبَحۡرِ﴾ دلته دطباق صنعت دى.

٤ - ددوجملوترمينځ لطيفه مقابله لكه: ﴿وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ... وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ﴾

٥ - مجازي نسبت كول اواسنادچي وايي ﴿وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ﴾ منع دالله په هكله محال دى داسي هيڅ څېزنشته چي الله دي له خپلى ارادې اوغوښتني منع كړي نومنع له پرېښودلو څخه مجاز راوړل شوى يعني نه وو سبب دپرېښودلو زموږ دمعجزاتو مگرد پخوانيو اُمتونو تكذيب وو.

٦ - ايجاز بالحذف لكه چي الله فرمايي: ﴿وَلَا تَحۡوِيلًا﴾ يعنى و(...لا تحويل الضر) چى پخوانى ورباندى دلالت كوى.

٧ - پدې كلام كي چي الله تعالى فرمايي ﴿ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةٗ﴾ عقلي مجازنغښتى دى څكه چي (اوښه) دحق دليدلو لپاره سبب وه نوهغې ته يې د(ابصار) ليدني نسبت وكړچي دغه عقلى مجازاو علاقه يې سببيت دى.

٨ - تمثيلي استعاره چي الله تعالى فرمايي: ﴿وَأَجۡلِبۡ عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ﴾ دشيطان حال يې له هغه چاسره مثال وگانه چي پخپلو لښكريانو چيغه كړي اوپلي سپاره په دښمن تاړاک وكړي اوله ېنبويې وغورځوي.

٩ - دوروستاړ (تذييل) صنعت چي فرمايي: ﴿إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا﴾ څكه دغه لكه دړومبي نعمت لپاره تعليل غوندي دى چي ستاسو لپاره موبېړۍ په بحركي تابع اورواني كړي دي.

تنبيه:

غالباد ﴿ٱلرُّءۡيَا﴾ لفظ دخوب دليدلو لپاره استعمالېږي اوكله چي په ويښه اوستركوليدل مقصد وي بيايي (رؤيت) بولي اودالله تعالى داوينا چي فرمايي: ﴿وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ﴾ په غيرغالب توگه راغلى څكه دلته مراد دستركوليدلى حال دى چي پيغمبرعليه السلام په اسراء اومعراج

کي وليد او عبدالله ابن عباس رضی الله عنه قول مخ کي تېر شو چي ويل يې: (دغه دستر گو ليدلی حال وو
چي رسول الله ته په اسرآء او معراج کي ورو ليدل شو) او که چېري دخوب ليدل وای بيا به هيڅکله
دخلگو لپاره فتنه او ازموينت نه وو او ځيني خلگ به له اسلامه نه گرځېدل

***

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا
تَفْضِيلًا (٧٠) يَوْمَ نَدْعُوا۟ كُلَّ أُنَاسٍۭ بِإِمَٰمِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَٰبَهُمْ وَلَا
يُظْلَمُونَ فَتِيلًا (٧١) وَمَن كَانَ فِى هَٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا (٧٢) وَإِن كَادُوا۟ لَيَفْتِنُونَكَ
عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥ ۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلًا (٧٣) وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ
إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا (٧٤) إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا (٧٥) وَإِن
كَادُوا۟ لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا ۖ وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلًا (٧٦) سُنَّةَ مَن قَدْ
أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا ۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا (٧٧) أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيْلِ وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ ۖ
إِنَّ قُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا (٧٨) وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا (٧٩)
وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِى مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِى مُخْرَجَ صِدْقٍ وَٱجْعَل لِّى مِن لَّدُنكَ سُلْطَٰنًا نَّصِيرًا (٨٠) وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ
وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا (٨١) وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا
خَسَارًا (٨٢) وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا (٨٣) قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ
فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا (٨٤) وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ ۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا
(٨٥) وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا (٨٦) إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ
فَضْلَهُۥ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا (٨٧) قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ
وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا (٨٨) وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا
كُفُورًا (٨٩)﴾ الإسراء: ٧٠ ـ ٨٩

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی وفرمايل چي په انسانانو يې ډېر احسانونه پېرزو کړي چي هغه د اُبو او سيندونو په مخ د بېړيو روانول او له غرقېدلو څخه ژغورل دي نو دهغوی بشپړوالی يې په نورو نعمتونو چي په بني نوع انسان يې لورولی، عزت يې ورکړی، په ټولو مخلوقاتو يې بهتر گرزولی او روزي يې ورکړې ده بيان

کړل وروسته بې دخلګو احوال اودرجې چې په آخرت کې ورکول کېږي راوړې په پای کې بې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشرکانو د خواهشاتو له متابعت څخه ووېراوو.

لغتونه:

(بامامهم) امام په لغت کې هرهغه چاته چې ورپسې اقتداء کېږي ویل کېږي هغه که په حقه لاره وي اوکه په باطله همداسې امام دعملنامې لپاره هم راغې ځکه انسان دخپلې عملنامې تابع اومُقتدي دی یابه یې جنت ته بیايي اویاهم دوزخ ته (فتيلا) هغه پوستکي ته وايي چې دخرما دزړي په درز کې وي اودغه خوراوارړه اوناڅېزشي ته وايي لکه قطمیراونقیرچې یې بولي (ترکن) میلان کول (لیستفزونک) استفزاز په ځورکول چې له هیواده یې وشړي (تحويلا) تغییر اوتبدیل (لدلوک) دلوک ،دلمر ډوبېدلو (غروب) ته وايي دغه دابوعبیده اوقتاده وینا ده. زهري وايي چې (دلوک)اصل میلان ته وايي چې ویل کېږي لمرزوال ته میلان وکړاولمرډوبېدلوته میلان وکړ(غسق)تاریکي چې ډېره سخته شي (فتهجد) تهجد د شپې لمانځه ته ویل کېږي چې له خوبه وروسته وي اوهجود په خپله خوب ته وايي ((زهق) زائل اوباطل کېدل (نای) لیرې کېدل (ظهیرا) مرستندوی.

دنزول سبب یې:

ابن عباس رضی الله عنه وايي چې : یشو یهودانوته وویل موږته یوه پوښتنه راوښیاست چې له دغه سړي (محمده) یې وپوښتو نوهغوی ورته وویل چې له روح څخه یې وپوښتئ نوالله جل جلاله داآیت

نازل کړ﴿ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي ﴾[1]

تفسیر:

﴿ وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ ﴾اوخامخا په تحقیق ډېرعزت ورکړی دی موږ اولاددآدم ته(په ټولو مخلوقاتو باندې په عقل، علم، منطق اودټولو شیانوتابع کولو ده لره﴿ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ ﴾او سپاره کړي مودي دوی په مرکوباتو باندې په وچه اوبحرکې (دحیواناتو اوبېړیو په ذریعه)﴿ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾اوروزي مو ورکړې ده دوی ته له پاکېزه وو شیانو(د خوراک اوڅښناک)مقاتل وايي هغه غوړي، شات ، کوچ ،خرما اوحلوا دي اودحیواناتو خوراک یې پروړه هډوکي اونورڅه کرزولي دي

﴿ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا ﴾اوغوره کړي مودي پرډېرو له هغه چاڅخه چې پیدا کړي مودي په غوره کولو(ډېرو) سره (هغه که پېریان دي، که چارپایان ، مرغان دي اوکه وحشي ځناوران)

﴿ يَوۡمَ نَدۡعُواْ كُلَّ أُنَاسِۭ بِإِمَٰمِهِمۡۖ ﴾(اویادکړه) هغه ورځ چې وبه بولو(په نامه سره) هرامت سره له کتاب داعمالو ددوی (چې تسلیم یې کړي اوجزاء داعمالو ورکول شي مرادله کتاب څخه دانسان عملنامه ده اودې خبرې تائید دالله تعالی داقول هم کېږي چې ﴿ وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ ﴾یس: ۱۲-

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص: ۱۲۸

ابن عباس رضی الله عنه وایې چي امام هغه اعمالوته چي لیکل شوي دي وایې څوک چي متقي اوپرهېزګاروي هسي به راپاځي چي عملنامه به یې په ښي لاس اوزېری به کوي خوښ به وي ﴿ فَمَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَقۡرَءُونَ كِتَٰبَهُمۡ ﴾ نوهرچاته چي ورکړه شوې اعمالنامه دده په ښي لاس (چي پرهېزګاران او نېکمرغه دي نودغه اصحاب اليمين) لولي به اعمالنامې خپلې (په ډېره خوشحالي سره څکه دوی په ښي لاس اخيستي دي ﴿ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلٗا ﴾ اوظلم به ونکړی شي (پر دوی) په اندازه دنري تار (چي په مینځ دخرمادزړي کي وي) ﴿ وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ﴾ اوهرڅوک چي په دغه دنیاکي (دحق له پېژندلودزړه) ړوندوي نوهغه به په آخرت کي هم ړوندوي اوډېر لیری به وی (دنجات له لاري موندلونه)([1]) قتاده وایې: څوک چي پدې دنیاکي دالله په نعمتونو، مخلوقاتو اوعجائباتو ړوندوي نوبه دآخرت په چاروکي لا سخت ړونداولاره نه پیداکونکی ګمراه وي (دړندوپه شان) ﴿ وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ﴾ اوپه تحقیق شان دادی چي نژدې وو کفارمشرکان چي واړوي تاله هغه (قرآنه) چي موږ وحی کړی تاته (له ځینواوامرو اونواهیونه ﴿ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥ ﴾ چي وتړې ته پرموږ بې له دې قرآنه (یعني له تعالیمو اوښوونو څخه یې مخالفت وکړې) ﴿ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ﴾ نوپه دغه وخت کي به دوی خامخاته په دوستي نېولی وای؛ مفسرين کرام وایې چي: مشرکانو ډېرځله داسي زیار یوست چي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل دعوت اوبلني په یونه یوډول راوګرزوي یوداچي که چېري محمدصلی الله علیه وسلم ددوی اودپلرونو دخدایانو بدي بیانول پرېږدي نودغه مشرکان به دالله تعالی عبادت وکړي بل داکه چېري (محمد) ددوی څمکه لکه دبیت الله حرم اعلان کړي چي الله حرم ګڼلی نودوی به ایمان راوړي یاداچي ځینو سردارانو اومشرانوورته ویل چي زموږ لپاره ځانګړی مجلس وټاکه اودبېوزلانو فقیرانو اجتماع دي له تاسره ځانګړي ترسره شي خوالله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې ټولو دوکوڅخه وژغوره او دایې ورته وفرمایل چي: هیڅکله ددوی وړاندیزونو ته غوږمه ږده الله دي حافظ اوناصردی([2]) ﴿ وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ ﴾ اوکه موږ ته په حق ټینګ کړی نه وای (په عصمت خپل سره ﴿ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ﴾ نوخامخاپه تحقیق نژدې شوی وې ته چي میلان دي کړی وي دوی ته څه لږ (میلان) ﴿ إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ﴾ (اوکه څه لږ میل دې کړی وای) نوپه دغه وخت کي به خامخاپه تحقیق څکلی مووی تاته دوچندعذاب دژوندون (په دنیاکي) اودوچندعذاب دمرګ (په آخرت

([1]) دغه ګرد دزړه ړندوالی دی اوچابیاویلي چي مرادځني دادی چي دحشرپه ورځ به یې الله ړوندراپاځوي چي الله فرمایې ﴿ وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ﴿١٢٥﴾ ﴾ طه: ١٢٤ - ١٢٥.

([2]) ابن عباس رضی الله عنه وایې چي: رسول الله صلی الله علیه وسلم معصوم دی اودغه دامت لپاره لارښوونه ده چي په الهي احکاموکي مشرکانوته هیڅکله میلان ونکړي. القرطبي ١٠/٣٠٠

کي) ځکه دسترسړي ګناه هم ستره اوددوه ګون عذاب وړاو مستحق وي غرض اومقصد دآيت شريف دادي چي دالله جل جلاله دفضل اومهرباني ښکاره ګندونه په پيغمبر ﷺ وشي چي په حق باندي بې ټينګار وربښلی دی اوله فتنې او ازموينبت څخه بې ژغورلی که دالله پاک جل جلاله عصمت نه وای نوبه لږ څه دوی ته مايل شوی وای (لولا) دوجودي امتناع توری دی يعني دالله دعصمت له وجي دوی ته ميلان کول ممتنع شول اوپه دې کي درسول الله صلی الله عليه وسلم دقدراومنزلت کوم ټيټ والی نشته بلکه آيت شريف دالله دسترفضل بيان کوي چي په نازولي پيغمبرصلی الله عليه وسلم بې پېرزودی ﴿ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا ﴾ بيابه نه وموندلی تادخان لپاره پرموږ باندي مددکونکی (چي زموږ عذاب له تانه دفع کړي) ﴿ وَإِن كَادُواْ لَيَسۡتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ لِيُخۡرِجُوكَ مِنۡهَاۖ ﴾ اوبېشکه شان دادی چي نژدې وو(مشرکان پخپل مکراو فرېب چي ته بې څورولی غوښتل بې) چي خامخاوخوځوي تاله ځمکي (دمکې) لپاره ددوې چي وباسي تاله دغي (ځمکي) ﴿ وَإِذٗا لَّا يَلۡبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴾ اوپه دغه وخت کي (که بې ايستلی وی) نو درنګ به نه وی کړی وروسته له (ايستلو) دتانه مګرلږ وخت (دغه دالله سنت دی چي هيڅکله تغييرنه مومي کله هم چي کوم أمت خپل پيغمبرشړلی دی دوی هم هلاک شوي. قتاده وايې چي دمکې مشرکانودرسول الله صلی الله عليه وسلم دايستلوتکل وکړخوالله پاک دوی درسول الله صلی الله عليه وسلم له ايستلوڅخه منع کړل ترڅوبې درسول الله صلی الله عليه وسلم دوتلوامروکړ ﴿ سُنَّةَ مَن قَدۡ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِن رُّسُلِنَاۖ ﴾ (دغه وړاندي) طريقه زموږ (په مثل دهغې طريقې زموږده) په هغه چاکي چي په تحقيق لېږلي وموږ پخواله تانه له رسولانو ځموږ) يعني دغه دالله جل جلاله نه بدلېدونکی سنت اولاره ده چي کوم أمت خپل پيغمبرله خپل ټاټوبي وشړي الله به بې هلاکوي ﴿ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحۡوِيلًا ﴾ اونه به مومې ته عادت زموږ ته هيڅ تغيير،تبديل ﴿ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ ﴾ قائموه (ای محمده) سم ودروه سره له ټولو حقوقو) لمونځ وروسته له زواله دلمر ﴿ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ ﴾ دشپې ترتياره پوري ﴿ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ ﴾ اوله قرائت دفجريعني دسهارلمونځ اداکړه له دې لمانځه څخه بې په قرآن الفجرسره ځکه تعبيروفرمايو چي هلته دقرائت اوږدوالی شته ﴿ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ﴾ ببېشکه چي قرآن لوستل (لمونځ کول) دفجرحاضر شوی دی (يعني ورته راحاضرېږي ملائکي دشپې اوورځي لکه چي په حديث شريف کي راغلي دي تاسوته په نوبت پرښتې (ملائکي) په شپه اوورځ کي ځي راځي اودمازيګراوسهارپه لمانځه کي سره يوځای کېږي. مفسرين کرام وايې چي: په دې آيت شريف کي پنځوفرض لمونځونوته اشاره ده چي دلوک الشمس دلمرزوال ته وايې اودغه دماسپښين لمونځ دی سره له مازيګره اوغسق الليل بيادماښام او ماسخوتن لمنځونه ښيي قرآن الفجر دسهاردلمانځه لپاره رمز،راغلی دی (١) ﴿ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ ﴾ اودشپې په يوه برخه کي

(١) قرطبي وايې چي دغه دمفسرينو په اجماع سره پنځوفرض لمنځونوته اشاره ده.

خوب پرېږده او په لمانځه کي قرآن لوله دا زياتي عبادت دى خاص تاته ﴿ عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴾ ښايي چي وبه دروي تارب ستا په هغه مقام ستايلي شوي ؛ (چي مقام د شفاعت عظمى دى هلته چي ړومبني او وروستني به تا ستايي مفسرين كرام وايي چي : (عسى) د الله په كلام كي د تحقيق لپاره راځي ځكه دغه د كريم وعده ده او هغه له خپلي وعدې څخه مخالفت نه كوي ځكه نو ابن عباس رضى الله عنه ويلي چي د الله په كلام كي عسى واجبه او قطعيت افاده كوي ﴿ وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِى مُدْخَلَ صِدْقٍ ﴾ او ووايه (اى محمده!) اى ربه زما دننه كړه ما په ننويستلو رښتيا (ښو سره قبر ته) ﴿ وَأَخْرِجْنِى مُخْرَجَ صِدْقٍ ﴾ او وباسه ما په ويستلو رښتيا (ښو سره له قبره دغه د ابن عباس رضى الله عنه قول دى او حسن او ضحاک وايي چي: مراد له دخول څخه مدينه منوره او له خروج نه مكه مكرمه ده او دا په هغه وخت كي چي مشركانو دده دوژلو لپاره دوكه وسنجوله (۱) ﴿ وَٱجْعَل لِّى مِن لَّدُنكَ سُلْطَٰنًا نَّصِيرًا ﴾ او وګرزوه ماته له خپله جانبه خپله يو قوت مدد كوونكى (ستا په دښمنانو چي ستا دين غالب شي او الله يې دُعا ومنله په دښمنانو يې برى وركړ او دين يې په ټولو اديانو لوړكړ ﴿ وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴾ او ووايه (اى محمده دوى ته كله چي مكې ته فاتح ننوتلې) راغى حق (اسلام) او په تېښته ورک شو باطل (كفر او شرک) بېشكه باطل دى وركېدونكى (نور نه شرک شته او نه هم بت پرستي او س دايمان نور خپور شو) بېشكه باطل بې ثباته زائليدونكى دى كه څه هم يو ځل برى پيداكړي خو بيا سمدستي زائلېږي لكه د ږږبوكي لمبه غوندي ده چي ډېره لوړه شي خو سمدلاسه مړه شي. روايت كېږي كله چي نبي عليه السلام د مكى دفتحى په كال مكى ته ننوت نو په بيت الله شريفه كى ۳۶۰ بتان وو نبي عليه السلام به په هغه لرګي چي په لاس كي يې وه هغه په خېټه كي وواهه او ويل به يې: ﴿ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴾ نو هيڅ بت پاتي نشو چي پرمخي دي غورځېدلى نه وي او بيا يې فرمان صادر كړ او هغوى يې مات كړل (۲) ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ او نازلوو (پرتا) له قرآنه هغه څېزچي شفا دى د زړونو د جهل او ضلالت له رنځونو چي له تن څخه هوا، هوس، بخل و ناوليتوب ليري كوي) او رحمت دى لپاره د مؤمنانو (ځكه چي پكي ايمان او حكمت پټ دى) ﴿ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴾ او نه زياتوي دغه (قرآن) ظالمانو (كافرانو ته) په وخت داورېدلو كي) مګر زيان (چي ايمان ورباندي نه راوړي كفر او ضلالت يې زياتېږي ﴿ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا

---

(۱) دغه قول طبري هم غوره كړى او مشهور هم دى او لومړى ځكه څرګند دى چي ړومبى د بعث لفظ تېر شوى او مقصد دعا ده چي الله مرګ او ژوند مي په ايمان كړي.
(۲) التفسير الكبير للرازي ۲۱ / ۲۳

بِجَانِبِهِۦ ﴾ اوكله چي نازل كړو نعمت په (نافرمان) انسان (له صحت ، امن اوسوكالي څخه) نومخ وګرزوي (له ياده طاعته) دالله اوليري شي ترې په اړخ ګرزولو (په غروراوتكبرسره) ﴿ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا ﴾ (اوكله چي ورسېږي ته ده شر نوشي ناأميده) يعني كله چي بياكړاوونه اومصيبتونه ورته ورسېږي نودالله له رحمته ناهيلى شي په آيت شريف كي دانسان دطغيان تمثيل شوى دى كله چي نعمتونه اواحسانات وركول شي تكبراوخودبيني پيل كړي اوچيري چي بياتكاليف ورته مخ ته شي نومأيوس شي لكه چي بل ځاى الله فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴾ المعارج: ١٩ - ٢١ ﴿ قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته) چي هرڅوک عمل كوي په هغي طريقې چي مناسب دى له حاله دده سره (له هدايته اوضلالته كه چېري دانسان نفس پاک سپېڅلى وي نوبهتراو بختور كړه وړه ځني صادرېږي اوكه چېري يې نفس كافراوفاجر وو نودشراو فساد كارونه به كوي) ﴿ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ﴾ نورب ستاسي ښه خبردار دى په هغه چاچي هغه ښه موندونكى دى د سمي لاري (اوپه هغه چي هغه دضلالت لاره نيسي نو هريوه ته به له خپل عمل سره سمه جزاوركړي) ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى ﴾ او پوښتنه كوي له تانه (اى محمده) له كيفيته او حقيقته د) روح څخه ورته ووايه (اى محمده!) چي روح له امره درب زمادى (چي پټ راز دى ،له رب العالمين څخه پرته بل چاته نه دى معلوم ﴿ وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ اونه دى دركړى شوى تاسي ته (برخه) له علم څخه مګرلږه (ځكه ستاسوعلم دالله ﷻ دعلم په وړاندي لږدى ﴿ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ﴾ اوكه اراده وفرمايو موږ نوخامخابيرته به يو سو هغه څيزچي وحى كړى دى موږ تاته (ستاپه سينه كي دى دادالله احسان دى اوددغه بيرته وړل زموږپه وس كي شته) ﴿ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴾ بيابه نه مومې ته په دې كاركي پرموږ كوم وكيل (چي له موږ يې درواخلي اوبيرته يې دروړي) ﴿ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ﴾ (لېكن) (اپرې مو ښوددا قرآن له جهته د) رحمت له جانبه درب ستا (چي ستااواصحابانوپه سينوكي محفوظ دى ﴿ إِنَّ فَضْلَهُۥ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴾ ببشكه ددغه (الله) فضل دى پرتادېرلوى (چي قرآن يې پرتانازل كړى دى ، محمودمقام يې دربښلى دى اوسيدالاولين والآخرين يې تاكلى يې په تابې نبوت ختم كړى دى؛ په آيت شريف كي مقصودپه رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي دالله احسان څرګندونه ده چي قرآن يې ورباندي نازل كړى اوله دې څخه يې وېروي چي ورڅخه تقصيراوكوتاهي ونشي عليه السلام ته خطاب دى او مراديي أمت دى ﴿ قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴾ (ووايه (اى محمده دوى ته) خامخاكه يوځاى ټول راټول شي انسانان اوپېريانان په دې چي راوړي په شان ددې (قرآن) را به نه وړاى شى اګركه شي ځيني ددوى ځينو نورو سره مرستيالان) يعني كه دفصاحت ګرد مېړني له

پېريانو اوانسانانو سره راغونډ شي او وغواړي چي ددې قرآن په مثل څه وليکي خو په توان کي به يې نه وي که څه هم ځيني د دوی ځينو نورو لره مرسته کونکي هم وي دا دهيڅ په توان کي نشته ﴿ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ ﴾او خامخا په تحقيق مکرر بيان کړی دی موږ خلکو ته په دې قرآن کي مثل له هر قسمه مثاله (لکه ترهيب، ترغيب، قصې او اخبار چي عبرت پرې واخلي ﴿ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورٗا ﴾نو غاړه کښېنښوده اکثره خلکو (او په هيڅ راضي نشول) مګر په ناشکري او له حق څخه په انکار باندي يعني سره له دومره دليلونو او څرګند برهانونو منع وکړه اکثره خلکو له منلويې او دحق انکاريې وکړ دالله او رسول الله تکذيب ته يې ملا وتړله.

بلاغت:

پدې کلام الهي کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته دادي:

۱ - استعاره لکه چي فرمايي: ﴿ كُلَّ أُنَاسِۭ بِإِمَٰمِهِمۡۖ ﴾امام هغه چاته وايې چي په لمانځه کي ترمخ دربېږي او دلته دکتاب داعمالو لپاره استعاره راوړل شوی دی ځکه هغه هم دانسان ملګری او دقيامت په ورځ به يې له مخي وي.

۲ - پدې کلام کي چي الله جل جلاله فرمايي: ﴿ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلٗا ﴾دلته تمثيلي استعاره ده او داهغه مثال دی چي دډېر وړوکي څېز لپاره استعمالېږي يعني ددوی دعملونو به بشپړ اجرورکول شي ديونري تار چي دخرما دزړي په درزکي وي دهغه په اندازه به هم ظلم ورسره ونشي.

۳ - د طباق صنعت لکه چي: ﴿ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ﴾په کلام کي راغلی دی.

۴ - کله چي الله فرمايي ﴿ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ﴾دلته مرسل مجازدی چي دجزء اطلاق په کل وکړ چي دسهار قرائت او دغه دسهار په لمانځه کي يو جزء دی او مراد ځني لمونځ دی او ددوی ترمينځ دجزئيت علاقه موجوده ده.

۵ - اظهار داضمار په ځای کي چي زياته پاملرنه افاده کړي فرمايي: ﴿ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ﴾چي دغه وروسته له دې قول نه راغلی ﴿ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ ﴾.

۶ - پدې کلام کي چي الله تعالی فرمايي: ﴿ فَمَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ، وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ ﴾ وروسته له عملنامې څخه تفصيل بعد الاجمال صنعت راغلی چي داهم لهٔ بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۷ - لطيفه مقابله چي: ﴿ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ ﴾او ﴿ وَأَخۡرِجۡنِي مُخۡرَجَ صِدۡقٖ ﴾او ﴿ وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ ﴾ترمينځ راغلي ده.

٨ - دشراسناد بل چاته او دخیرالله تعالی ته لکه چي فرمايي ﴿ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ .... وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ ﴾ چي بندګانو ته له الله تعالی سره دادب کولو تعلیم او ښوونه ورکړي

لطیفه:

روایت کېږي چي یو عالم چي په قرآنکریم کي داستعارې او مجاز څخه منکروو بل لوړپوړي عالم فاضل ته راغی او خپل له مجاز څخه انکاریې ورته وښودل اتفاقًا دغه پوښتونکی منکر عالم ړوند هم وو نو هغه فاضل عالم په ځواب کي داسي ورته وویل چي: دالله تعالی په دې قول کي څه وایې چي فرمايي؟ ﴿ وَمَن كَانَ فِى هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِى ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ ﴾ آیا مراد له ړوندوالي څخه حقیقي ړوندوالی دی او که مجازي ړوندوالی چي دبصیرت نېستي ته وايې نو پوښتونکی حیران او بې ځوابه شو.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَقَالُوا۟ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ
ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِىَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾
أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٌ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبًا نَّقۡرَؤُهُۥ ۗ قُلۡ سُبۡحَانَ
رَبِّى هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓا۟ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا
﴿٩٤﴾ قُل لَّوۡ كَانَ فِى ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٌ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُولًا ﴿٩٥﴾
قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيۡنِى وَبَيۡنَكُمۡ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿٩٦﴾ وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِ ۖ وَمَن
يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِهِۦ ۖ وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ عُمۡيًا وَبُكۡمًا وَصُمًّا ۖ مَّأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ ۖ كُلَّمَا
خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرًا ﴿٩٧﴾ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمۡ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقًا
جَدِيدًا ﴿٩٨﴾ ۞ أَوَلَمۡ يَرَوۡا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ وَجَعَلَ لَهُمۡ أَجَلًا لَّا رَيۡبَ
فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورًا ﴿٩٩﴾ قُل لَّوۡ أَنتُمۡ تَمۡلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ رَبِّىٓ إِذًا لَّأَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ ٱلۡإِنفَاقِ ۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ
قَتُورًا ﴿١٠٠﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ تِسۡعَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ۖ فَسۡـَٔلۡ بَنِىٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ لَهُۥ فِرۡعَوۡنُ إِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ
مَسۡحُورًا ﴿١٠١﴾ قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورًا
﴿١٠٢﴾ فَأَرَادَ أَن يَسۡتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ فَأَغۡرَقۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾ وَقُلۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱسۡكُنُوا۟ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا
جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ جِئۡنَا بِكُمۡ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾ وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾ وَقُرۡءَانًا فَرَقۡنَٰهُ
لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٍ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلًا ﴿١٠٦﴾ قُلۡ ءَامِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ إِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ
يَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولًا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ

خُشُوعًا ۩ ﴿١٠٩﴾ قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُوا۟ ٱلرَّحْمَٰنَ ۖ أَيًّا مَّا تَدْعُوا۟ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَٱبْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١١٠﴾ وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِىٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ ۖ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًۢا ﴿١١١﴾ الإسراء: ٩٠ ـ ١١١

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالى قرآنکريم اوپکي هغه دلائل چي په قطعي توګه درسول الله صلى الله عليه وسلم رښتنولي ثابتوي يادکړل چي دغه أمي نبي پيغمبرددغي قرآني معجزې راوړونکی دی اودوی ته يې چلينج ورکړ چي دغه رنګه کلام راوړئ خودوی په ځرګنده عاجزي سره عاجزشول بيادلته دکفارو هغه ګمراهي اوسرتمبګي بيانوي چي دوی له قرآنه پرته نوري مادي معجزې اوخوارق اقتراح کړل ورپسې دحضرت عيسى عليه السلام کيسه بيانوي اووروسته دفرعون تکذيب رااخلي چي دڅومره ډېرو معجزاتو اوخوارقو سره سره بې موسى عليه السلام نه مانو ترڅورسول الله صلى الله عليه وسلم ته دمشرکانودتکذيب او دروغجن بللوپه هکله تسليت اوډاډينه ورکړي اوبياسورت دالله جل جلاله دقدرت اووحدانيت په دلائلوپای ته رسوي ،

لغتونه:

(کسفا) ټوټې فرآء وايې چي: له يواعرابي څخه مي واورېدل چي جامې پلورونکي ته يې ويل (أعطني کسفة) يعني ماته يوه ټوټه راکړه (١) (قبيلا) مخامخ (ترقى) وخېژې (خبت) چي مړشي ويل کېږي (خبت النار) کله چي ومري اور اوشغلې يې مړې شي او(همدت) بياهغه اورته وايې چي يومخ ايزه ټول ايرې شي (٢) (قتورا) بخيل (مثبورا) هلاک شوی(ثبور) هلاکت ته وايې (لفيفا) دمختلفوډلوڅخه قومي جوړښت جوهري وايې چي (لفيف) دخلګوهغي اجتماع ته ويل کېږي چي له مختلفو قبيلوڅخه تشکيل شوی وي. ويل کېږي (جآء القوم بلفهم ولفيفهم) يعني قوم راغی له يوه مخه نه يې (لف) پاتي دی اونه هم لفيف (مکث) درنګ کول (تخافت) ته کلام پټوې (خافت فى الکلام) معناداچي داسي وروخبري وکړي چي هيچاهم ونه اورېدې (الأذقان) دذقن جمع او(زني) ته وايې هغه چي دواړه بارخوګان ورباندي جمع کېږي.

دنزول سبب يې:

أ- ابن عباس رضى الله عنه وايې چي: دقريشو مشران دکعبې په خواکي سره راټول شول اوويې ويل چي محمدته يوڅوک ورواستوئ او ورسره خبري اومباحثه وکړئ څوچي ملامت شي نويې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته څوک واستاوو چي دقوم مشران دي راغونډشوي غواړي چي له تاسره خبري وکړي هغه هم په بېړه راغی اوددوی دايمان راوړلوتلوسه يې درلوده دوی ورته وويل: (ای محمده ! موږ په خدای قسم که په ټولو عربوکي داسي څوک ليدلی دی چي خپل قوم ته هغه څه ورکړي چي تاورکړل تاپلرونه وښکنځل دين ته دي پېغور ورکړ هغوی دي ناپوهان وګڼل ټولنه دي تيت اوپرک کړه که ته دغه کارونه ددې لپاره کوې چي مال دولت پيداکړې نوموږبه له خپلو مالونو څخه دومره درکړو چي ترټولو

(١) تفسير کبيرامام رازي ٢١ / ٥٢
(٢) البحر ٦ / ٢٧

ته زيات مالدارشې اوکه ته پدې سره دمنصب غوښتونکی يې موږ به دي سردار مقررکړو اوکه دغه کارونه تاته دپېريانوله خواپېښېږي نوموږ به خپل مالونه ستادعلاج اوتداوي په لاره کي ولګوو چي روغ شې اوکه نه ستاپه باب موږ عذرلرو نورسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: په ماباندي هغه څه نشته چي تاسووايا ست زه ستاسي دمالونو غوښتونکی نه يم اونه دمنصب اوپاچهي آرزولرم خوالله جل جلاله زه ستاسي لورته رالېږلی يم که له ماڅخه دالله جل جلاله کلام ومنئ چي مادرته راوړی نوستاسي ددنيااوآخرت ګټه ده اوکه يې ونه منئ زماالله جل جلاله ته صبردی څوزمااوتاسوترمينځ هغه فيصله وکړي نودوی ورته وويل چي: ای محمده! که ته زموږ وړانديزونه ،نه منې نوته پوهېږې چي ترهرچاموږ په تنګسياکي اوسو کاختي راباندي راغلي نوالله ته دي سوال وکړه چي دغه غرونه روان کړي دغه مځکي وېږي اوپراخي شي اورودونه ،نهرونه وبهېږي اوزموږله پلرونو څخه يوڅوک راپاڅوي چي موږ ستاپه هکله ورڅخه وپوښتو چي آياستاوويناحق ده ؟ بل داچي له الله وغواړه درته باغونه اوبنګلې قصرونه جوړکړي چي دسرو اوسپينوزرو وي نوبه له موږ څخه بې پرواشې الله تعالی داآيت شريف نازل کړچي: ﴿ وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴾(۱)

ب – له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت کېږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کي په پټه هستوګنه کوله اوکله چي به يې له خپلو اصحابانو رضی الله عنهم سره لمونځ کاوو نوپه لوړ آوازبه يې قرآن کريم لوست اوچي مشرکانوبه واورېدونوبه يې قرآنکريم ته ښکنځل کول اوهغه چاته چي قرآنکريم يې رالېږلی اوچي چاته يې ورکړی تولوته به يې بد رد ويل نوالله تعالی خپل پيغمبرته وفرمايل: ﴿ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ﴾(۲)

تفسير:

﴿ وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴾(اووايې (مشرکان) له سره به ايمان رانه وړو په تا(ای محمده!) ترهغه پوري چي ته جاري کړې له ځمکي (دمکې تل بهېدونکي) چينه (چي تل له اوبوډکه وي اونه وچېږي) ځرنګه چي دقرآنکريم اعجاز څرګندشواوپردوی دليل ثابت شونودوی په وړانديزونو پيل وکړ(چي موږ ته دمکې ځمکه کرونده کړه اوچينې راته وبهوه) ﴿ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ ﴾ياچي وي تاته يوباغ له خرماوو اوانګورو ﴿ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴾نورواني کړې ته ويالې په مينځ ددې باغ کي په روانولو سره (چي خوراپه قوت اوزياتوالي وي) ﴿ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا ﴾ياچي راوغورځوې ته له آسمانه لکه چي ګمان کوې ته پرموږ باندي ټوټې ټوټې (لکه چي موږ وېروې) دغه دريم وړانديز دی چي دوی به کاوو يعني لکه چي ته ګمان کوې په موږ به الله عذاب راولي نوله آسمانه ټوټې راوغورځوه که موږ ايمان نه راوړو. مفسرين کرام وايې دوی پدې

---

(۱) زادالمسير ۵/ ۸۵

(۲) اسبباب النزول ص: ۱۷۰

سره دالله تعالی هغه قول ته اشاره کوي چي فرمايي: ﴿إِن نَّشَأۡ نَخۡسِفۡ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ نُسۡقِطۡ عَلَيۡهِمۡ كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ﴾ ﴿أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا﴾ ياچي راولې ته الله اوپرښتې مخامخ (اوموږ يې ووينو) ﴿أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ﴾ ياچي وي تاته يو کورله سروزرو نه (دختو او ډبرو کور نه وي) ﴿أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥ﴾ ياچي پورته په آسمان کي وخېژې اوله سره به ايمان نه راوړو (په تش) ختلوستا (آسمان ته ترهغو پوري چي راکوزکړې پرموږ باندي داسي يو کتاب چي لولويې (اوستاتصديق کوي) دغه شپږمه او وروستی اقتراح ده خو په مجموع کي دا ټولي ددوی په بې عقلي اوجهل باندي دلالت کوي چي دوی دالله په سنت او حکمت هډو له سره نه پوهېږي ځکه همداسي وړانديزونه کوي ﴿قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) پاکي ده رب زماته آيايم زه (يعني نه يم زه) مګريوانسان رالېږلی شوی (په شان دنورو رسولانو) يعني سبحان الله آيازه الله يم چي تاسو له ماڅخه هسي غوښتني کوئ زه خونه يم مګريوازي تاسوته يوبشري استازی يم بيانو ولي دومره عناد انکارکوئ؟ ﴿وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا﴾ اونه دي منع کړي دي خلګولره له دې نه چي ايمان راوړي کله چي راغی دوی ته بيان دحق (درسول په ژبه) مګرمنع کړي دي خلګ) دې خبري چي ويلی به دوی آيارالېږلی دی الله يوبشري رسول؟ (پرښته ولي نه رالېږي؟) (نوالله پاک ددوی دخبري ترديد دا ډول فرمايي: ﴿قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ﴾ (ووايه (ای محمده دوی ته!) که چېري په ځمکه کي پرښتې وای چي په آرام سره ګرځېدلای (په پښوخپلو) ﴿لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا﴾ (نوخامخاموږبه پردوی له آسمانه يوه پرښته رانازله کړي وای) ځکه دالله تعالی حکمت همداسي جاري دی چي هرقوم ته له خپله جنسه پيغمبر وراستوي ترڅوچي هغوی يې په خبره وپوهېږي اومخاطبه يې ورته آسانه وي پدې کي دمشرکانو دمنطق تجهيل اوددوی تسفيه ده ﴿قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته!) کافي دی الله شاهد په مينځ زما اوستاسي کي (زماپه رښتنولي باندي) ﴿إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا﴾ بېشکه چي الله په خپلو بندګانو ښه خبردار دی ښه ليدونکی دی (او دوی ته به ددوی په اعمالو جزا ورکړي) ﴿وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ﴾ اوهرچاته چي الله سمه لاره وښودله نو همغه دسمي لاري موندونکی دی (نېکمرغه شو) ﴿وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِهِۦۖ﴾ اوهرڅوک چي يې ګمراه کړی (الله) نوله سره به نه مومې دوی ته نوردوستان پرته له الله (چي سمه لاره ور وښيي يعني هرڅوک چي الله يې دهغه دبدبختي اوتعنت له مخي ګمراه کړي نوبيابه يې څوک مرستندوی پيدانشي چي دالله له عذابه يې وژغوري ﴿وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ

ٱلْقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ﴾اوراجمع به كړو موږ دوی لره دقيامت په ورځ (نسكور) پرمخونو خپلو(چې ددوزخ په لوربه يې پرېښتې له پښونيولي كښوي لكه چې په دنياكي يوچاته په دېرسپک نظركتلی او عذاب وركولی شي ﴿ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ﴾چې ړانده ، ګونګيان اوكانه به وي يعني حواس به يې كار نشي كولای نه به ويني ، نه به غږ كولای شي اونه به اورېدلای شي بيابه الله بيرته ددوی اورېدل ، ليدل اونطق ورته راستون كړي ، اوربه ويني دهغه غږ اوچيغي به اوري اوخبري به كوي لكه چې الله له دوی نه حكايت كوي له أنس رضی الله عنه څخه روايت دی چې چاوويل: يارسول الله !څرنګه به خلګ په مخونو راپاڅول شي ؟ نورسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل هغه ذات چې په پښو يې روان كړي په دې هم قادردی چې په مخونو يې روان كړي (١) ﴿ مَّأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَٰهُمْ سَعِيرًا ﴾ ځای ددوی به دوزخ وي هركله چې غلي شي (لمبې يې)زيات به كړو دوی ته تېز اور(او سكروټې اولمبې يې) (٢) ﴿ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴾ دا(عذاب) جزاددوی دی په سبب ددې چې بېشكه دوی كافران شوي ووپه آيتونو زموږ اوويل به دوی چې آياكله چې شوموږ هډوكي اوخاوري رژېدلي آياخامخاموږ بيا پورته كېدای شوپه نوي پيداينښت سره (دوهم ځل؟)الله تعالی ددوی دترديدلپاره هسي فرمايي:﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ ﴾آيانه ګوري دوی چې بېشكه هغه الله چې پيداكړي يې ده ځمكه او آسمانونه (اومابينهما) قادردی په دې چې پيداكړي په مثل ددوی (نور د هرخلګ ورروسته له فناڅخه ځكه څوک چې په لومړي ځل څوک پيداكولای شي هغه يې وروسته له مرګه دېرآسانه بيرته راپاڅولی هم شي. په البحرالمحيط كي وايې چې دوی ته الله پخپل سترقدرت اورسېدلي حكمت تنبيه وركړه چې ويې فرمايل: ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ ﴾دغه انكاري استفهام دی چې دوی به دبعث اونشورپه هكله استبعاد كاوو اوپردوی باندي دليل راوړل دي چې دوی خودالله سترقدرت وليدچې هسي ستراجرام يې پنځولي نوڅرنګه دوی په پيداينښت ددې دومره مخلوق اقراركوي ؟ اوبيايې له بعثت څخه انكار كوي (٣) ﴿ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ ﴾اومقرره كړي يې ده دوی ته يوه نېټه چې نشته هيڅ شک په هغه كي ﴿ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورًا ﴾نومنع وكړه ظالمانواو وې نه منله هيڅ شی، مګرناشكري (اوله بعث او حشره څخه يې انكاروكړ)﴿ قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّىٓ ﴾ووايه (ای محمده ! دوی ته ای معاندينو اومكابرينو چې دمعجزاتو اوخارق العاده پېښو وړانديزونه كوی) كه چېري تاسي دخزانومالكان شی درحمت درب زما﴿ إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ ٱلْإِنفَاقِ ﴾نوپه دغه وخت كي هرو مرو منع به راوړي (بخل به كوي

---

(١) متفق عليه.

(٢) په التسهيل كي وايې چې مرادځني دادی كله چې اورددوزخيانو غوښي وسوځوي نوبه يې لمبې غلي شي بيابه نور وجودونه وركول شي اوبيابه اورپه غرغندوشي ترپخوائه لازيات وي.

(٣) الكشاف ٢/ ٢٩٦

په ورکړه دصدقاتو) له وېرې د(خلاصېدلو دمال) په انفاق سره ﴿ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ قَتُورٗا ﴾ او دی انسان بخیل (اومنع کونکی) دغه دعبدالله بن عباس رضی الله عنه تفسیردی چي(قتور) بېي بخیل اومنوع ګڼلی زمخشري وايي چي : د دغه بخل مبالغه په (شُح) سره کېږي هغه چي وروستنۍ مرحله يې ده چي وهم نه وررسېږي ، بیاالله تعالی ددې یادونه کوي چي ډېرو معجزاتوڅرګندېدل ایمان ته په منکرو زړونو کي ځای نه پرانېزي هم دغه موسی علیه السلام دی چي نه (٩)معجزاتي ورکول شوې خوبیاهم فرعون اوقوم اشراف يې وربادندي ايمان نه راوړي اوهلاکېږي ﴿ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ تِسۡعَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ ﴾ اوقسم دی چي ورکړی دی موږ موسی ته نهه معجزې ښکاره (په نبوت دده اودهغه څه چي له الله څخه يې راوړي (دغه نه معجزې (یدبیضاء، عصا ، طوفان، ملخ، قمل، ضفادع، دم، ددریاب څېرېدل اوقحط دی پنځه يې په سورة الاعراف کي راغلي چي﴿ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلۡجَرَادَ وَٱلۡقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٖ مُّفَصَّلَٰتٖ ﴾ الأعراف: ١٣٣- اوباقي پاتي يې په جلاجلاتوګه دي ﴿ فَسۡـَٔلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِذۡ جَآءَهُمۡ ﴾ نو پوښتنه وکړه(ای محمده !) له بني اسرائيلو چي کله راغی موسی دوی ته) نو دموسی او فرعون ترمينځ څه پېښه وشوه ؟ ځکه دوی ته دتورات له مخي معلومات شته . امام رازي وايي چي: مقصدله پوښتلو دبني اسرائيلو څخه دانه دی چي ددوی له علم څخه استفاده وشي بلکه داچي عامويهودانوته څرګنده شي اوعلماء يې وپوهېږي چي کوم څېزرسول الله وايي هغه رښتيادی نودغه به استشهادي پوښتنه وي

(١)﴿ فَقَالَ لَهُۥ فِرۡعَوۡنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسۡحُورٗا ﴾ نو ويل دغه (موسی) ته فرعون چي بېشکه زه پرتا ګومان کوم ای موسی دسحرکړی شوي) (عقل دي بايللی شوی دي) ﴿ قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ ﴾ وويل (موسی بيا) خامخاپه تحقيق پوهېږې (ته په خپل زړه کي) چي نه دی رانازل کړي دغه (نهه) معجزې هيڅا) مګررب دآسمانواوځمکي معجزې ښکاره (چي هره يوه يې زماپه نبوت او رښتنولي شاهدي ورکوي اوخلګوته دالله جل جلاله قدرت وربښيي خوته متکبراو معاندیې ﴿ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ﴾ اوپه تحقيق زه خامخاپرتا ګمان کوم ای فرعونه دهلاک شوي (خسران کونکي) ﴿ فَأَرَادَ أَن يَسۡتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ ﴾ نواراده وکړه (فرعون) ددې چي وخوځوي او(ليري کړي دوی له مځکي (دمصرڅخه) ﴿ فَأَغۡرَقۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعٗا ﴾ نو ډوب موکړ فرعون اوهرهغه څوک چي له ده سره ووتول (په درياب کي) ﴿ وَقُلۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ لِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱسۡكُنُواْ ٱلۡأَرۡضَ ﴾ اوومو ويل: وروسته (له غرق) دفرعون بني اسرائيلو(اولښکروته يې) اوسئ تاسي (په دې) ځمکه (دمصرکي) ﴿ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ جِئۡنَا بِكُمۡ لَفِيفٗا ﴾ نو کله چي دآخرت وعده راشي نوبه راولوتاسي (په محشرکي مؤمنان کافران، نېکمرغه ،بدمرغه ،فاسقان، نيکوکاران) ګډ وډ (بيابه ستاسي په مينځ کي دسعداء و اواشقياووجلاوالی وکړو وروسته الله تعالی دقرآنکريم دتعظيم او د هغه دلوړقدرلوري ته راګرزي

---

(١) البحر٦/ ٨٢

فرمايي: ﴿ وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَ ﴾ او په حقه سره مودغه قرآن نازل کړی او په حقه سره نازل شوی (هيڅ شک اوشبه پکي نشته پدې کي حکمتونه پندونه اوامثال دي همداسي دالله له لوري راغلي دي ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴾ اونه يې لېږلی موږته (ای محمده!) مګرزېری ورکونکی (مؤمنانوته په جنت سره) او وېرونکی (کافرانوته په جحيم سره) ﴿ وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ ﴾ اوقرآن نازل کړی دی موږ هغه ټوټه ټوټه لپاره ددې چي ولولې ته دغه قرآن په خلګوباندي په آرام سره (چي يادول يې وړته آسان اوپه باريکيويې خبردار شي آسانه شي ﴿ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ﴾ اونازل کړی مودی دغه (قرآن) په نازلولو سره (داحوالواومصالحوله غوښتنو اواړتياووسره) ﴿ قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓاْۚ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) چي ايمان راوړئ په دې قرآن ياايمان مه راوړئ (ستاسو ايمان راوړل به دقرآن کمال ورزيات نکړي اوايمان نه راوړل به موهغه ته څه نقص ونه رسوي) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ إِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ يَخِرُّونَۤ لِلۡأَذۡقَانِۤ سُجَّدٗا ﴾ بېشکه هغه کسان چي دوی ته ترپخوا له دغه (قرآنه) علم ورکړل شوی دی کله چي ولوستی شي پردوی دغه (قرآن نو) نسکورپرېوزي دوی (پرځمکه) په زنو (دغه جمله دپورتني کلام لپاره تعليل دی يعني که تاسوايمان نه راووړ نوهغوکسانو چي ترتاسوښه اوپوه وو ورباندي ايمان راوړی چي هغه علما اونېکان اهل کتاب وو چي قرآن به يې واورېدو ورباندي به يې اغېزه وکړه رب العالمين ته به پرمخي په سجده پرېوتلو ﴿ وَيَقُولُونَ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا ﴾ پدې حال کي چي سجده کونکي وي اووايې دوی پاکي رب زموږته (له خلافه د وعدې خپلې) په تحقيق سره زموږ درب وعده خامخاکېدونکي ده ﴿ وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ خُشُوعٗا ﴾ (اونسکورپرېوزي دوی پرځمکه په تندوخپلوچي ژاړي دوی (دقرآن داورېدلو په وخت کي) اوزياتوي دوی ته (دقرآن اورېدل) عاجزي) امام رازي وايې چي ددغه تکرارفائده ددوحالتونو اختلاف دی يوداچي دسجدې لپاره نسکورپرېوتل اوبل داچي دقرآنکريم په اورېدلو سره په ژړاوي[1] ﴿ قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ ﴾ (ووايه ای محمده! دوی ته) وبولئ تاسي الله ياوبولئ تاسي رحمان دهريونوم چي واخلی (وبولی) نوده لره دي نومونه ډېرښه) مفسرين کرام وايې چي سبب دنزول ددې آيت دادی چي کله کفارو واورېدل چي رسول الله صلی الله عليه وسلم الله پاک په (ياالله يارحمن) سره يادوي نودوی ويل که چېري محمدموږته ديو الله په بللوامرکوي خودی پخپله بيادوو خدايانو نومونه اخلي نوداآيت شريف نازل شوچي ددې ځرګندونه کوي (ددواړو نومونومسمی يو واحدلاشريک ذات دی ﴿ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا ﴾ اوډېر ظاهروالی مه کوه په (قرائت د) لمانځه خپل کي اومه کوه ډېرنرم والی په هغه (قرائت) کي (ځکه په لوړآواز لوستلوکي به مشرکان قرآن دقرآن نازولونکي ته ښکنځل کوي اوپه ډېرکراروالي

[1] التفسيرالکبير ٢١/ ٦٩

کي به ستاله وروسته مقتديان سمع نشي کولای) ﴿ وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ﴾ اوولټوه په مينځ دغه جهر او اخفاء کي يوه لياره (ميانه) ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به قرآن په لوړ آواز لوستلو نوچي مشرکانو به واوريدو قرآن کريم اود قرآن نازلونکي ته به يي ښکنځل کول چتي اپلتي خبري به يي ويلې ﴿ وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا ﴾ وو وايه (ای محمده) چي ټوله ثناصفت هغه الله لره دي چي يي نه دی نيولی څوک ولد ﴿ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ ﴾ اونشته ده ته شريک په ملک (الوهيت) کي ﴿ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ﴾ اونشته ده لره څوک دوست (مرستندوی) له جهته دعاجزي اونسبت دلويي وکړه الله ته (په بشپړه توګه) په لويي کاملي سره (دعزت کمال، عظمت اوجلال په نومونو يي يادکړه . سورت لکه چي پيل شوی وو داسي پای ته رسيږي دالله دحمد اووحدانيت په اظهارکوي چي نه ولد لري نه شريک اونه هم مرستندوی اودوست ته دعاجزي له کبله اړ،دي هوالله العلی الکبير.

بلاغت: پدې آيتونو کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته په لنډډول دادي:

۱- انکاري استفهام لکه: ﴿ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴾....؟.

۲- پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿ وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴾ دالتفات صنعت دی چي له غياب څخه تکلم ته راغلی دی او ګټه يي دمحشرپه چارو اهتمام دی.

۳- دطباق صنعت لکه په ﴿ يَهۡدِ ٱللَّهُ ... وَمَن يُضۡلِلۡ ﴾ او ﴿ مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴾ او ﴿ تَجۡهَرۡ ... تُخَافِتۡ ﴾ کي.

۴- ناقص جناس لکه ﴿ مَسۡحُورٗا ... مَثۡبُورٗا ﴾ چي ځيني توري يي سره تغييرلري.

۵- لطيفه مقابله لکه ﴿ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ﴾ په مقابله دفرعوني ويناکي چي ﴿ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسۡحُورٗا ﴾ .

۶- ښايسته اواغلي سجع چي په جمالي اسلوبو کي زياتوالی راولي لکه: ﴿ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴾ او ﴿ مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴾ او ﴿ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسۡحُورٗا ﴾ او ﴿ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ﴾

دالله جل جلاله په ثنا وصفت دالاسرآء سورت تفسيربشپړشو

وصلی الله علی محمد وعلی آله وصحبه اجمعين وسلم تسليما

دالكهف سورت مكي دى اويو سل اولس آيتونه لري.

دكهف سورت يوله هغو پنځومكي سورتونوڅخه دى چي په الحمدلله سره پيل كېږي چي دغه سورتونه ؛ الفاتحه ,الانعام ، الكهف ، سبأ او فاطر دى اوټول دالله په حمد اوستاينه شروع كېږي دالله تعالى تمجيداوتقديس پكي اوپه عظمت اوكبريا ، جلال اوكمال يې اعتراف دى.

* په دې سورت كي درې نادري قرآني كيسې راغلي چي ددوى ټولو اساسي موخه اوهدف د عقيدې ټينګاراوذى الجلال ذات په عظمت باندي دايمان تثبيت دى لومړى دأصحاب الكهف كيسه ده هغه چي دعقيدې په لاره كي دقرباني نمونه ده زلمي مؤمنان له خپلو ښارونو وزي ددين دژغورلو په فكركي دي يوې سمڅي ته پناه ور وړي اوهلته درې سوه نه كاله ويده پاتي كېږي وروسته يې الله له دومره اوږدې مودې بيارا پاڅوي

* دوهمه كيسه دموسى عليه السلام اوحضرت خضرده اودغه دعلم دزده كړي په لاره كي دتواضع اوعاجزي كيسه ده اوداچي څومره پټ اوالونيارازونه پكي شته چي الله تعالى خپل دغه بنده حضرت خضرته ورښودلي خوحضرت موسى عليه السلام هډو ورباندي خبرهم نه دى ترڅوچي خضرېې ورته بيانوي دلته دبېړۍ ورانول، دماشوم وژل اودديوال جوړولو كيسې اوپېښي پكي نغښتل شوي دي

* دريمه كيسه دذوالقرنين ده هغه چي الله تعالى هغه ته دتقوى اوعدل په نتيجه كي دا وس وركړى ووچي خپله پاچهي ددنياپرمخ وغوړوي اوختيځ لويديځ دواړه دده دپاچهي ايل اوتابع وي اوداچي ستربندجوړوي اولكه څرنګه چي دعقيدې په لاره كي يې دغه درې كيسې راوړي دي همداسي يې واقعي مثالونه درې ګوني استعمال كړي چي داوښيي حق په ډېرمال دولت اوسلطان سره نه دى بلكه په عقيده پوري اړه لري لومړى مثال دهغه بډاى سړي دى چي پخپل مال اودولت وياړي اوبل هغه بېوزله مسكين اونادار دى چي پخپله عقيده اوايمان فخركوي اودغه كيسه ددووباغونو د مالكانوده دوهم داچي دنياخامخازوال مومونكي ده اودريم داچي تكبراوغرورخوابليس لعين كړى وو چي آدم ته يې دتعظيم له سجدې كولو څخه امتناع وكړه نوهغه وشړل شو اودالله له رحمت څخه محروم شو دغه ګردي كيسې دپنداخيستلو اووعظ لپاره دي

تسميه اونومول يې:

دې سورت ته ځكه سورت الكهف وايې چي په دغه غريبه اوعجيبه كيسه داصحاب كهفوكي رباني معجزه شتون لري.

الله تعالى فرمايي:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ١ قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا حَسَنٗا ٢ مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ٣ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ

ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ﴿٤﴾ مَّا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ وَلَا لِـَٔابَآئِهِمْ ۚ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَٰهِهِمْ ۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا
﴿٥﴾ فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمْ إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ أَسَفًا ﴿٦﴾ إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى ٱلْأَرْضِ زِينَةً
لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴿٧﴾ وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا ﴿٨﴾ أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ
وَٱلرَّقِيمِ كَانُوا۟ مِنْ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ﴿٩﴾ إِذْ أَوَى ٱلْفِتْيَةُ إِلَى ٱلْكَهْفِ فَقَالُوا۟ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا
رَشَدًا ﴿١٠﴾ فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا ﴿١١﴾ ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ لِنَعْلَمَ أَىُّ ٱلْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓا۟
أَمَدًا ﴿١٢﴾ نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُوا۟ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَٰهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾ وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ
إِذْ قَامُوا۟ فَقَالُوا۟ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَا۟ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهًا ۖ لَّقَدْ قُلْنَآ إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا
ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً ۖ لَّوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِم بِسُلْطَٰنٍۭ بَيِّنٍ ۖ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾ وَإِذِ
ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأْوُۥٓا۟ إِلَى ٱلْكَهْفِ يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُم مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾
۞ وَتَرَى ٱلشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمْ فِى فَجْوَةٍ
مِّنْهُ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ۗ مَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿١٧﴾ وَتَحْسَبُهُمْ
أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ ۚ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُم بَٰسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِٱلْوَصِيدِ ۚ لَوِ ٱطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ
لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿١٨﴾ وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوا۟ بَيْنَهُمْ ۚ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ
لَبِثْتُمْ ۖ قَالُوا۟ لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۚ قَالُوا۟ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَٱبْعَثُوٓا۟ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ
فَلْيَنظُرْ أَيُّهَآ أَزْكَىٰ طَعَامًا فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا ﴿١٩﴾ إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا۟
عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِى مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوٓا۟ إِذًا أَبَدًا ﴿٢٠﴾ وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ
وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَآ إِذْ يَتَنَٰزَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ ۖ فَقَالُوا۟ ٱبْنُوا۟ عَلَيْهِم بُنْيَٰنًا ۖ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ۚ قَالَ
ٱلَّذِينَ غَلَبُوا۟ عَلَىٰٓ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾ سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ
سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًۢا بِٱلْغَيْبِ ۖ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۗ فَلَا
تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَآءً ظَٰهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَا۟ىْءٍ إِنِّى فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّآ
أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَٱذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰٓ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّى لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾ وَلَبِثُوا۟ فِى كَهْفِهِمْ ثَلَٰثَ
مِا۟ئَةٍ سِنِينَ وَٱزْدَادُوا۟ تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا۟ ۖ لَهُۥ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهِۦ وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم
مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِى حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ الكهف: ١ – ٢٦

لغتونه:

(باخع) وژونکی لیث وايي چي ددې جملې معناچي (باخع الرجل نفسه) داده چي وواژه سړي خپل ځان په غم اوغصه باندي (بخع) په اصل کي کوښښ اوزیارته وايې لکه چي دفراء مذهب دی (جرزا) لامزروع ځمکه (کهف) هغه پراخ ځای چي په غرونو کي دی هغه ته کهف وايې اوچي تنګ وي بيايې غاربولي (الرقيم) هغه سرلوحه چي داصحاب کهفونومونه په کي ليکل شوي وو (شطط) شطط ظلم اوغلوته وايې فرآء وايې (اشتط فی الامر) معناداچي له حدڅخه يې تجاوزوکړ (تزاور) ميلان ته وايې (الوصيد) فنا (تادري) ته وايې (فجوة) پراخه ځای (ورق) دسپينوزرو روپۍ ته وايې هغه که مصکوکه وي اوکه نه (أعثرنا) موږ خبرشوي يو (لاتمار) ته جګړه مکوه !.

تفسير:

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ټول ثنااوصفت په هغه ذات چي نازل کړی يې دی پخپل بنده (محمد)کتاب (قرآن) يعني ټوله ثناسره له تعظيمه اواجلاله هغه الله لره ده چي پخپل پيغمبراوبنده (محمدصلی الله عليه وسلم)يې قرآن نازل کړی ترڅوپرده اوګردومخلوقاتوباندي نعمت وي ﴿ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ﴾حال داچي نه يې دی ګرزولی په دې قرآن کي هيڅ کوږوالی (نه په الفاظواونه هم په معانيو کي ﴿ قَيِّمٗا ﴾حال داچي سم برابردی نه پکي څه عيب شته اونه تناقض) طبري وايې چي دلته تقديم او تأخيرراغلی يعني کتاب يې برابرنازل کړی اوپه هغه کي هيڅ کوږوالی دافراط ،تفريط) نشته نه پکي څه اختلاف شته اونه تفاوت نه هم کوږوالی اويا له حق څخه کوم ميلان ﴿ لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ ﴾ لپاره ددې چي ووېروي (په قرآن سره کافران) له سخته عذابه (چي راتلونکی دی) دالله له جانبه ﴿ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾اوزېری ورکړي مؤمنانوته (په قرآن) هغوته چي کړي يې دي ښه عملونه ﴿ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا حَسَنٗا ﴾چي بېشکه شته دوی ته اجرښه (چي جنت اوپکي تل ترتله نعمتونه دي ﴿ مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ﴾حال داچي اوسېدونکي به وي په هغه کي تل ترتله (تبرېدل به نلري) ﴿ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ﴾اوچي ووېروي (په دردناک عذاب) هغه کسان چي وايې (له ډېره جهله) نيولی دی الله ولد (الله ته دولدنسبت کوي) بيضاوي وايې چي په ځانګړي توګه يې ددغوکفارو ذکر وکړځکه چي ددوی افتراء خورا سخته افتراء ده اودوېرېدلو ښېزيې ځکه يادنکړه چي ړومبی تېرشوی دی (¹)﴿ مَّا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ ﴾(نشته دوی ته پدې خبره کي هيڅ علم) يعني ددغي افتراء په ترلوچي دوی لره هيڅ پوهه اصلانشته ﴿ وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ ﴾اونه ددوی پلرونو ته (څه علم شته چي دوی دهغوتقليدکوي دوی ګرده دجهالت اوګمراهي په دښتوکي لالهاند ايسارشوي دي ﴿ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡۚ

(¹) البيضاوي ٢/٢

إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبٗا ﴾(لويه ده خبره (ددوى) چي راوزي له خولې ددوى څخه نه وايې دوى مګردروغ (ډېرغټ) يعني كومه بده اوناكاره لويه خبره چي ددوى له خولې څخه راوزي دغه بېخي فاسده اوباطله ده ﴿ فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ ﴾ نوښايي چي ته وژنې خپل ځان (له غم او خفګانه) پر وروسته ګرزېدو ددوى (له ايمانه څخه) ﴿ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَسَفًا ﴾(كه نه راوړي (دوى) ايمان پدې خبره (قرآن) نوته ځان وژنې) له ډېره غمه) دوئ ددومره خفګان وړنه دي په آيت شريف كي درسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره ډاډينه ده) ﴿ إِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى ٱلۡأَرۡضِ زِينَةٗ لَّهَا ﴾(بېشكه موږ ګرزولې دي هرهغه څېزچي پرځمكه دى زېنت لپاره ددې ځمكي) يعني ګردهغه شيان چي په ځمكه دي له ښكلا، سامانونو، سپينوزرواوسروزرواونورو دغه دځمكي لپاره زېنت اوښايست دى لكه چي موآسمانونه په ستوروښايسته كړي دي ﴿ لِنَبۡلُوَهُمۡ أَيُّهُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗا ﴾ددې لپاره چي وازمويو دوى چي كوم يوددوى ډېرغوره دى له جهته دعمل (لپاره دآخرت) ﴿ وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ مَا عَلَيۡهَا صَعِيدٗا جُرُزًا ﴾(اوبېشكه موږ خامخا ګرزونكي يودهرهغه څيزچي پرځمكه دى ډاګ وچ كلك) يعني ژردى چي موږبه دغه زېنت اونعمت خاوري ايرې وګرزوو اوداځمكه به وچ ډاګ شي نه به وربانډي وابنه اونه ژوند وي وروسته له هغه چي ښكلي اغلي اوښايسته وه رنګينه اوپه ونو، ګلانو پوښلي وه. قرطبي وايې چي : آيت شريف درسول الله صلى الله عليه وسلم دتسليت اوډاډيني لپاره راغلى معنا داچي اى محمده !) ددنيااواهل په هكله يې ډېراهتمام څكه مكړه چي دغه موږد امتحان او ازمويښت لپاره ګرزوو ځيني كسان به سوچ كوي اوايمان به راوړي ځيني به بياكافران كېږي اود قيامت ورځ بيا ددوى په وړاندي ده نوددوى كفردي تاچورتمن نكړي موږ به دوى ته سزا وركړو([1]) ﴿ أَمۡ حَسِبۡتَ أَنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ﴾آياګمان كوې ته(اى محمده !)ددې خبري چي خاوندان دغار اوتختې وو دوى (په اعتباردكيسې) له دلائلو(دقدرت) زموږ ډېرعجيبه ؟ او نورنشته بلكه نور زيات عجيبه دلائل دالله دقدرت هم شته دغه تفسيرېې مجاهد كړى دى ﴿إِذۡ أَوَى ٱلۡفِتۡيَةُ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ فَقَالُواْ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةٗ وَهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ أَمۡرِنَا رَشَدٗا ﴾يادكړه هغه وخت چي رجوع وكړه هغو زلميانو (دكفاروله وېري) غارته (اوهلته يې پناه واخيسته) نو وويل: دوى اى زموږربه راكړه موږته له خپله نزده (د) رحمت (له خزانومغفرت اوروزي) اوتياركړه موږته له دې كاره رشداوهدايت زموږټول كارونه سم كړه([2]) ﴿ فَضَرَبۡنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمۡ فِي ٱلۡكَهۡفِ سِنِينَ عَدَدٗا ﴾او كښېښوده موږ(پرده) پرغوږونو ددوى (چي

([1]) القرطبي ١٠/ ٣٥٤

([2]) داصحاب كهفولنډه كيسه داچي مفسرين كرام ليكي په روم كي يوښارچي طرطوس نومېده باچايي ډېرظالم اوغالي بت پرست سړى وو چي نوم يې دقيانوس ووهغه دعيسى عليه السلام نه وروسته وو خلګ به يې بُت پرستي ته رابلل اوهر چا چي دده دغه دضلالت بلنه نه منله هغه به يې واژه دغه ازمويښت په ايماندا ره خلګو ډېرسخت شواوځوتنه زلميان چي دغه سخته ازموينه يې وليدله خوراخفه اوغمجن شول اوباچاته ددوى حال ورسېدو هغه ورپسې ځوك واستول اودوى دباچا دمحاكمې

هيڅ غوږيې نه اورېدو او ويده پراته وو) په غاركي څو كاله په شمېر ﴿ ثُمَّ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِنَعۡلَمَ أَيُّ ٱلۡحِزۡبَيۡنِ أَحۡصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓاْ أَمَدٗا ﴾بيا موږ دوی راپورته كړل دپاره ددې چې معلوم كړو (په حالی علم سره هم) چې كومه يوه له دغو دواړو ډلوڅخه ښه حساب كونكي ده دهغه څه چې څومره يې (په غاركي) تېره كړې ده ؟ په التسهيل كي وايي چي : مرادله مختلفو دوو ډلوڅخه يو اصحاب كهف او بله ډله هغه كسان چي ددوی ننداره يې كوله (۱) او مجاهد وايي چي دغه دوه ډلي پخپله اصحاب كهف دملګرو دي كله چي له خوبه راپاڅېدل نوځينو وويل: يوه ورځ او يا كم ترېوې ورځي اونور وبيا ويل ﴿ رَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثۡتُمۡ ﴾(۲) لومړی وينا له عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت شوي ده ﴿ نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ ﴾ موږتاته (مفصله) كيسه كوو خبر حال ددوی په حقه سره (چي رښتيا او زيات او كم پكي نه وي) ﴿ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ﴾بېشكه چي دوی داسي ځلميان دي چي ايمان لري په رب خپل

په وړاندې ودرېدل نو باچا ورته وويل : كه مود بتانو عبادت ونكړ او دهغوی لپاره مو سجدې نكولې هرومرو به مووژنم خو دوی په بې ساري مېړانه دباچا په وړاندې دخپل ايمان څرګندونه داسې وكړه: ﴿ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ ﴾نو باچاورته وويل : تاسو خوتنكي ځوانان ياست ترسباپوري مهلت دركوم ښه سوچ وكړئ نو دوی دشپې وتښتېدل او په يوه شپانه باندې تېرېدل چي سپي ورسره وو سپی هم په دوی پسي روان شو او سهارګاه په غره كي يوه غارته ننوتل پاچا ددوی په لټون كي شوهرلوري ته يې جاسوسان واستول او كله چي دغارخولې ته ورغلو ځني ووېرېدل چي ورننوزي پاچا وويل : دغار خوله پسي بنده كړئ چي همدلته له لوږې اوتندي څخه ومري او الله پاک پردوی باندې خوب راووست بيده شول دري سوه نهه كاله (۳۰۹) بيده پراته وو او بيا الله راوېښ كړل دوی فكر كاوو چي يوه ورځ يا څه كم به ويده شوي وي او دلوږې احساس يې وكړ يوتن يې د ډوډۍ لپاره ښارته واستاوو او ورته يې وويل چي ځان سره ډېر پام كوه څوك درباندې ونه پوهېږي كله چي هغه ښارته ورسېدو نو كه ګوري ښار بله ښه غوره كړې هغه پخوانۍ لاري كوڅې يو مخ بدلې شوي دي هيڅوک په ګردښاركي نه پېژني نوله ځانه سره يې وويل: چي ښايې لاره يې غلطه كړې وي ډوډۍ يې رانيوله او چي كله يې پيسې وركړې ډوډۍ خرڅونكي هغه روپۍ په لاس كي واړولې راواړولې ورته ويل يې دا دې له څه وې ؟ له كومه دي كړې ؟ خلګ ورباندې راغونډ شول او دغه روپۍ يې په تعجب سره كتلې بيا يې ورته وويل: خوانه ته څوک يې ؟ ښايې خزانه دي موندلي وي ده ورته ويل : نه والله كه مې خزانه پيداكړې وي دغه زما دخپلو ملګرو روپۍ دي دوی ورته ويل داډېرې پخوانۍ او دقيانوس دوخت روپۍ دي هغه ورته وويل : دقيانوس څه وكړل ؟ دوی ويل : هغه ډېر پخوا مړ شوی دی نو ده ورته ويل: زما خبره والله كه څوک رښتيا وګڼي موږ څو ځوانان پېګاه له هغه پاچاڅخه چي موږيې دبتانو په عبادت كولو مجبورولو وتښتېدو او په غاركي پټ شوو اوس زه ملګرو دډوډۍ لپاره راواستولم راځئ چي زه خپل ملګري دروښيم كه يې نه منئ نو دوی تعجب وكړاو پاچا يې ورباندې خبر كړ كله چي هغه پدې پېښه خبر شو نو پخپله پاچا لښكر او دښار خلګ يې ننداري ته ور روان شول او چي غارته نژدې ورسېدل اصحاب كهفو ددوی دآسونو غږونه واورېدل، خيال يې وكړچي هم دغه دقيانوس راغی نو په لمانځه ودرېدل او پاچاهم ورته راورسېدو كه ګوري دوی په لمانځه ولاړدي او چي له لمانځه فارغ شول نو پاچا ورسره غاړه غړې شو او دوی ته يې وويل: چي دی پخپله مسلمان دی او دقيانوس پخوا هلاک شوی دی ددوی كيسه يې ځني واورېده او په دې وپوهېده چي الله راپاڅولي دي چي ددوی واقعه دخلګو لپاره نښانه او دليل دی وروسته الله پاک بيا ورباندې خوب راووست او ساوي يې وختلې نو خلګو وويل: ﴿ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا ﴾..

(۱) التسهيل ۲ / ۱۸۳

(۲) حاشية الجمل على الجلالين ۳ / ۷

اوزيات كړي وو موږدوى له جهته دهدايت (اويقينه) ﴿ وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ ﴾ اوټينګ تړلي دي موږ پرزړونو ددوى (صبراوقوت چي زړونه يې په ايمان سمبال اوپه حق باندي مضبوط او مطمئن وو ﴿ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ كله چي پاڅېدل (دظالم كافرپاچا په وړاندي اوبې پروا) نوووېل: دوى رب زموږ رب دآسمانونواو (رب) دځمكي دى (نه هغه چي ته مودبتانو عبادت ته بولې ﴿ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ ﴾ له سره به عبادت ونكړوبې له همغه الله دبل معبود (هغه واحدلا شريک دى) ﴿ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ﴾ (كه موبل څوک په الوهيت سره ومانو) خامخا په تحقيق موږبه خطاخبره ويلي وي (له حق څخه به موتجاوزكړى وي اوپه ظلم اوضلالت كي به پرېوتي يو) ﴿ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ ﴾ داكسان زموږقوم نيولي دي دوى بې له الله (نورباطل) معبودان (په تقليد سره اودليل نلري) ﴿ لَّوۡلَا يَأۡتُونَ عَلَيۡهِم بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ ﴾ ولي نه راوړي دوى په (عبادت دهغو) كوم څرګند دليل ,اومقصدله هڅولوپه ﴿ لَّوۡلَا ﴾ سره ددوى تعجيزدى لكه چي دوى وايې دوى نشي كولاى په دې هكله څرګند دليل راوړي چي ددغوبتانو عبادت كوي نودوى اكه پكه په الله دروغ تړي [1] ﴿ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ﴾ نوڅوک دى ډېرظالم له هغه چاڅخه چي پرالله دروغ تړي (شريكان ورسره نيسي بلكه بل څوک نه دى) دلته استفهام دنفى په معنادى ﴿ وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ ﴾ اوكله چي په څنګ شوى تاسي (اى ځوانانو) له مشركانواوله هغه (بتانو) چي دوى يې پرته له الله څخه عبادت كوي ﴿ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ ﴾ نوځاى ونيسئ تاسي هغه غارته (اوپكي دېره شئ) ﴿ يَنشُرۡ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ ﴾ خپوربه كړي تاسي ته رب ستاسي له خپله رحمته (وبه غوړوي پرتاسو) ﴿ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ﴾ (اوتياربه كړي تاسي ته له كارستاسي اسباب د ګذران) يعني تاسوته به د روزي اسباب آسانه كړي اودغرمې بېګاه دډوډۍ انتظام به موپه دې سمڅي كي وكړي ﴿ وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ ﴾ اووينې به ته (اى مخاطبه !) لمركله چي راخېژي نوميلان كوي له غاره

---

[1] شهيد سيدقطب وايې چي: همدلته دځوانانودريز كوتلى اوڅرګندبنكارېږي چي هيڅ ډول تردد اوشک شبه پكي نشته دوى هغه اتل زلميان چي دقوي ايمان خاوندان دي اودخپل تېربې ايماني ته بد رد وايې ددوى اودقوم دواړه لوري بېخي جوت اوبېل دي نوله تېښتي پرته بله لاره نهويني اوهغه زلموټي مؤمنان دي چي دظالم اوكافرپاچاپه غبرګون كي يې هدايت وموندهٔ دوى له هغه سره شپې نشي تېرولاى خپله عقيده يې په ډاګه څرګنده كړه همداسي دوى نشي كولاى له خپل قوم سره په نفاق شپې تېري كړي اودبتانوعبادت ورسره وكړي اوخپله عقيده هم خوندي وساتي اوس ددوى رازلوڅ شوبله لاره نه مومي پرته له دې چي وتښتي اودسمڅي ژوند په سمسورژوندانه غوره كړي همداسي يې وپتېيله اوتورتياره غارته يې پناه ورووړه دالله درحمت دعايې وكړه نوهغه غار ورته پراخ اودالله درحمت ورمې پكي وچلېدې سيورى يې وېړوو پستوالى، خوښي اوآرام يې پكي بياموندهٔ ۱۵ / ۱۳ **في ظلال القرآن** .

ددوی ښي طرف ته ﴿ وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ ﴾اوکله چي لوېږي نوپرېږدي دوی (ځني لیري کېږي) کیڼ طرف ته (مقصد داچي دلمر وړانګي پردوی باندي دراختلواو پرېوتلو په وخت کي نه لوېږي چي دهغه په تودوخه دوی ته کوم تکلیف ورسېږي ﴿ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ﴾اودوی په ارت میدان کي دي له دې غاره په مینځ کي يې دي چي لمرورته نه رسېږي نه په پیل دورځي کي اونه هم په پای کي ﴿ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ ﴾دغه (د دوی ذکرشوی حال)له دلائلو (د قدرت)دالله دي ابن عباس رضی الله عنه وایي: که لمرپردوی رالوېدلای نوبه يې سوځولي وای اوکه په یوبل لوري نه اړول کېدای نوبه ځمکي خوړلي وای (او پرهارونه به وربانديجوړشوي وو) ﴿ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ ﴾(هرچاته چي سمه صافه لاره الله وښوده نوهمغه دسمي لاري موندونکی دی) یعني هرچاته چي الله پاک دایمان راوړلوتوفیق ورکړی اودنېمکرغی لاره ورونښيي هغه په رښتیالاره پیداکونکی دی ﴿ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيّٗا مُّرۡشِدٗا ﴾اوهرڅوک چي (الله يې ګمراه کړي (په بدعمل کولو) نوله سره به نه مومې ته ده ته دوست لاره ښوونکی ﴿ وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ ﴾(اوته به پردوی ګمان کوې چي ویښ دي حال داچي دوی ویده دي) یعني ای کتونکي ! که يې ووینې ګمان به وکړې چي دوی بیداردي ځکه سترګي يې رڼي اوپه یوبل اړخ اوړي حال داچي دوی په خوب ویده دي ﴿ وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِۖ ﴾او اړوو موږدوی په ښي اوکیڼ اړخ (ځوچي ځمکه يې بدن ونه خوري ﴿ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ ﴾ او سپی ددوی (هغه چي ددوی متابعت يې وکړ) غځونکی دی (په ځمکه) ددواړوځنګلو دغارپه خوله کي(لکه چي پیره پرې کوي) ﴿ لَوِ ٱطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ﴾که چېري ته دوی ته ور پورته شې (دوی ووینې په همغه حال کي) نوخامخابه مخ وګرځوې ته له دوی په تېښته اوخامخاډک به کړی شې ته له وېري ددوی نه (داپېدې چي الله پاک دوی ته دهیبت جامې وراغوستي اوچي څوک يې ووینې ځني وېرېږي هغوی په یوبل لوري اوړي اونه راویښېږي) ﴿ وَكَذَٰلِكَ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِيَتَسَآءَلُواْ بَيۡنَهُمۡۚ ﴾اوهمداسي (لکه چي ویده کړي موږو هغوی) ویښ کړو موږدوی وروسته له ډېري اوږدې مودې چي مرګ ته ورته وه ترڅو) چي پوښتنه وکړي پخپلو مېنځونو کي (دهمدې مودې چي په غارکي اوسېدل ﴿ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ كَمۡ لَبِثۡتُمۡۖ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۚ ﴾ نوویل یو ویونکي له دوی نه چي څومره موده موتېره کړي ده نو وویل: ورته (دغو نورو) چي تېره کړي موده یوه ورځ ، یایوه برخه دورځي.

مفسرین کرام وایي چي : دوی په سمځه کي سهارننوتلي وو اودورځي په پای کي الله پاک راویښ کړل نوکله چي دوی ولیدل ګمان يې کاووچي لمرلوېدلی دی خوبیایې ولیدل چي لمرلاولاړدی نويې وویل: چي یوه برخه دورځي اوپېدې نه ووخبر چي درې سوه کاله ویده شوي دي ﴿ قَالُواْ رَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثۡتُمۡ ﴾ووېل (نورو) چي ستاسي رب ښه خبردی په هغه موده چي تاسي تېره کړي ده (نورددغه يې ګټي

بحث ځخه لاس واخلئ هغه چي مهم اوګټوردي دهغه په باب تصميم ونيسئ موږ اوس وږي يو ﴿ فَٱبۡعَثُوٓاْ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمۡ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ ﴾نو ولېږئ تاسي يوتن په دې سپينوزروستاسي چي دادى دې ښارته ﴿ فَلۡيَنظُرۡ أَيُّهَآ أَزۡكَىٰ طَعَامٗا فَلۡيَأۡتِكُم بِرِزۡقٖ مِّنۡهُ ﴾نو ودي ګوري چي کوم يوله دغه (خلګو دښار) نه ښه پاکيزه دی له جهته دطعامه نو تاسي ته دي رزق له هغه ځخه راوړي ﴿ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ أَحَدًا ﴾اونرمي دي کوي (په معامله کي) اوښارته ننوتلوکي) اوپه تاسي دي هيڅوک هم نه خبروي ﴿ إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوكُمۡ أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ فِي مِلَّتِهِمۡ ﴾بېشکه دوی که پرتاسوخبرشي نوتاسوبه سنګسار کړي ، يابه بيرته وګرزوي دوی تاسي لره پخپل دين کي ﴿ وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ﴾(اوله سره به خلاص نشئ تاسي په دغه وخت کي هيڅکله) يعني که چېري ددوی دين ته وګرزېدلی اوپه کفرکي مو ورسره موافقه وکړه بيابه هيڅکله په مراد ونه رسېږی همدارنګه ځوانان پخپل مينځ کي په ترس اوويره يوله بله دزړه خواله کوي چي باچا وربا ندي خبرنشي بيابه يې ياووژني اويابه يې دبتانو عبادت ته جبرًا اړباسي ځکه نوملګري ته وايې چي په تګ راتګ ښارته ډېرمحتاط اوسه ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيۡبَ فِيهَآ ﴾اوهمداسي لکه چي (موويښ کړي وو) خبر کړل موږ (خلګ) پردوی باندي چي پوه شي (منکران دبعث چي) بېشکه دالله وعده حقه ده او بېشکه قيامت (راتلونکی دی) شک پکي نشته هغه ذات چي داصحاب کهف په راپاڅولو قادر او توانادی چي درې سوه کاله ويده وو نوهغه دمخلوقاتو په راپاڅولو وروسته له مرګه هم قادردی ﴿ إِذۡ يَتَنَٰزَعُونَ بَيۡنَهُمۡ أَمۡرَهُمۡ ﴾(اوموږ خلګ پرې خبرکړل) کله چي جګړې کولې دوی په خپلو مينځونو کي په کار د اصحاب کهفو کي) وروسته له خبرېدلو بياالله پاک داصحاب کهفوارواحان قبض کړل ﴿ فَقَالُواْ ٱبۡنُواْ عَلَيۡهِم بُنۡيَٰنٗا ﴾نوويل دغو(خلګويوبل ته) چي جوړکړئ پر(دروازه دغارد) دوی يوه بناء (چي پر دوی نښاني وي) ﴿ رَّبُّهُمۡ أَعۡلَمُ بِهِمۡ ﴾رب ددوی ښه عالم دی په (احوالوشان د) دوی ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا ﴾وويل: هغوکسانوچي غالب وو (په اکثريت سره) په کارد دوی چي خامخا جوړبه کړو موږ هرومروپردوی باندي مسجدچي موږبه لمونځ اودالله تعالی عبادت پکي ترسره کوو ﴿ سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٞ رَّابِعُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ ﴾ژربه وايې (دغه کسان اهل کتاب چي درسول الله ﷺ په زمانه کي ددوی کيسه خبرې)چي دوی درې دي څلورم يې سپی دی ﴿ وَيَقُولُونَ خَمۡسَةٞ سَادِسُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ رَجۡمَۢا بِٱلۡغَيۡبِ ﴾(وبه وايې ځيني نور) پنځه دي شپږم ددوی سپی د دوی دی (دغه يې ګمان په ډول بې له دليله ويل) په غيب سره (لکه چي څوک هسي ځای په ډبرو ويشتل کوي چي ورته معلوم نه وي ﴿ وَيَقُولُونَ سَبۡعَةٞ وَثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ ﴾اووبه وايې (ځيني نور) چي اوه دي اواتم ددوی

سپي ددوی دی ﴿ قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا قَلِيلٞۗ ﴾ووايه (ای محمده دوی ته) رب زمانبه علم لري ددوی په شمېر. نه پوهېږي (په شمېرد) دوی مګرلږ (کسان) ابن عباس رضی الله عنه وايې چې: زه هم له دغه لږو خلګو څخه يم دوی اوه تنه وو ځکه الله پاک وګڼل آن ترديې چې اوو ته راورسېدو (۱) مفسرين کرام وايې چې: کله الله پاک لومړی اودوهم قول راوړل نو يې ﴿ رَجۡمَۢا بِٱلۡغَيۡبِۖ ﴾وفرمايل او کله چې يې دريم قول راووړ هيڅ ډول يې بد ونه باله لکه چې الله تعالی په همدې تثبيت کړی وي او بيايې دنازولي استازي هغه لوري ته تنبيه وفرمايله چې هغه افضل او اکمل دی کوم چې علم يې علام الغيوب ته حواله کړی دی ﴿ فَلَا تُمَارِ فِيهِمۡ إِلَّا مِرَآءٗ ظَٰهِرٗا ﴾نو جګړه مکوه (ای محمده ! له اهل کتابو سره ددوی په شمېر او شان کې) مګر جګړه ښکاره د(يقين چې ته په حقيقت آګاه يې) ﴿ وَلَا تَسۡتَفۡتِ فِيهِم مِّنۡهُمۡ أَحَدٗا ﴾او فتوی مه غواړه په باب ددغو (اصحاب کهفو) کې له دغو هيڅ يو څخه (ځکه چې کومه وحی الله تاته کړې هغه کفايت کوي) ﴿ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْيۡءٍ إِنِّي فَاعِلٞ ذَٰلِكَ غَدًا ۝ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ ﴾او مه وايه له سره په هيڅ باب کې چې بېشکه زه ددغه کار سبا ته کونکی يم مګر (متصل ورسره ووايه ای محمده ! (انشآء الله) که اراده فرمايلي وي الله ابن کثير وايي: ددې آيت شريف دنزول سبب داوو چې کله له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل شو چې د اصحاب کهف څه ډول کيسه وه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې: سبا به يې درو ښيم نو وحی پنځلس ورځې وځنډېده (۲) ﴿ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ ﴾او يادوه رب ستا کله چې دې هېرشي يعني کله چې دې انشآء الله هېرشي نو بيا دړه يادشي بيايې ووايه چې ترڅو دالله جل جلاله عظمت دې تل په پام کې وي ﴿ وَقُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَهۡدِيَنِ رَبِّي لِأَقۡرَبَ مِنۡ هَٰذَا رَشَدٗا ﴾او ووايه (ای محمده دوی ته) ښايي چې سمه صافه لاره وښيي رب زما ډېري نژدې ته له دغې نه له جهته دلاربنوونې (کومه چې زما دديني او دنيوي چارو مصلحت پکې وي) ﴿ وَلَبِثُواْ فِي كَهۡفِهِمۡ ثَلَٰثَ مِاْئَةٖ سِنِينَ وَٱزۡدَادُواْ تِسۡعٗا ﴾او موده تېره کړې وه دغو (زلميانو) په غار کې ددوی درې سوه اوزيات کړې وو پردوی نه (کاله) دغه دهغه اجمال چې پخوايې فرمايلی وو ﴿ سِنِينَ عَدَدٗا ﴾تفصيل دی ﴿ قُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثُواْۖ ﴾ووايه (ای محمده دوی ته) الله ښه عالم دی په اندازه دهغې مودې چې دوی (په يقيني توګه) هلته تېره کړې وه ﴿ لَهُۥ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ﴾خاص هم ده لره دي پټ (رازونه) دآسمانونو او دځمکې (او هغه تاته خبر درکړو په غوڅه توګه ددوی له حاله الله حکيم او خبيردی) ﴿ أَبۡصِرۡ بِهِۦ وَأَسۡمِعۡۚ ﴾څه ښه ليدونکی دی الله او څه ښه اورېدونکی دی الله (دهر موجود او مسموع هغسې خفيات ورته معلوم دي لکه څرنګه چې په جلياتو پوهېږي) ﴿ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ ﴾او نشته چيرې دوی ته بې له دې نه هيڅ دوست (مددګار)

---

(۱) زادالمسير ۵/ ۱۳۲

(۲) مختصرابن کثير۲ / ۴۱۵

﴿ وَلَا يُشْرِكُ فِى حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا ﴾ او نه شریکوي په حکم خپل کي بل هیڅوک یعني نه یې سیال شته ، نه شریک او مثال او نه مني پخپله قضا او حکم کي بل څوک هغه له هر چا بې پروا ذات دی.

بلاغت:

پدې آیتونو کي د بدیع او بیان صنائع شته چي لنډ ون یې دادی:

۱ – د طباق صنعت لکه د ﴿ وَيُبَشِّرَ ﴾ او ﴿ وَيُنذِرَ ﴾ او ﴿ يَهْدِ ﴾ او ﴿ يُضْلِلْ ﴾ او د ﴿ أَيْقَاظًا ﴾ او ﴿ رُقُودٌ ﴾ او ﴿ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِ ﴾ ترمینځ.

۲ – معنوي طباق چي فرمایې: ﴿ فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ ﴾ ﴿ ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ ﴾ ځکه د لومړي معنا دا چي ویده کړي موو او د دوهم دا چي را ویښ کړي موو او دغه طباق دی.

۳ – پدې کلام کي چي فرمایې: ﴿ لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا ﴾ ﴿ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ﴾ د لته د اطناب صنعت دی چي خاص یې وروسته له عام څخه ذکر کړی دی او دا هم پدې چي و نبیي الله جل جلاله له ولد نسبت کول خورا بده دعوی ده او پکي یو عجیبه حذف او فصاحت دی هغه دا چي لومړنی مفعول یې حذف کړی (چي: لینذر الکافرین بأسا شدیدا) و وا و بیا یې لومړنی مفعول په دوهمه برخه کي ذکر کړی او دوهم مفعول یې حذف کړی دی چي ﴿ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ﴾ (عذابًا شدیدا) یې حذف کړی ځکه چي لومړنی وړاندي دلالت کوي او چي لومړنی یې حذف کړی ځکه چي دوهم وړاندي دلالت کوي او دغه خورا باریک او لطیف ډول فصاحت دی.

۵ – د تعجب صیغه راوړل لکه چي ﴿ أَبْصِرْ بِهِۦ وَأَسْمِعْ ﴾.

۶ – کله چي الله تعالی فرمایې: ﴿ فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمْ ﴾ د رسول الله ﷺ حال یې د هغه چا له حاله سره مشابه کړ چي خپل دوستان ځني بېل شي نو هغه د ځان د وژلو تکل وکړي او یا نژدې وي چي د هغوی د بېلتون له غمه مړ شي نو دغه تمثیلي استعاره ده.

۷ – تبعیه استعاره چي فرمایې: ﴿ فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ ﴾ د دوی د روند خوب یې له هغه څه سره مشابه کړی چي د چا په غوږونو پرده ووهله شي لکه چي په اوسېدونکو باندي خېمه ووهلی شي او همدا راز بله استعاره په دې قول کي چي ﴿ وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ دی را غلي ځکه ربط تړلو ته وايي او مقصد ځني دا دی چي د دوی په زړونو موتړل کړي لکه چي د لوښي په خوله پټی او یا برغولی بند کړي چي سرپوښ وړباندي وتړي.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدٗا (٢٧) وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ
مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا
تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا (٢٨) وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ
فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ
ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا (٢٩) إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا (٣٠)
أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ
وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقٗا (٣١) ۞ وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ
مِنۡ أَعۡنَٰبٖ وَحَفَفۡنَٰهُمَا بِنَخۡلٖ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا (٣٢) كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ وَفَجَّرۡنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرٗا
(٣٣) وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٞ فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكۡثَرُ مِنكَ مَالٗا وَأَعَزُّ نَفَرٗا (٣٤) وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٞ
لِّنَفۡسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدٗا (٣٥) وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهَا
مُنقَلَبٗا (٣٦) قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلٗا (٣٧) لَّٰكِنَّا۠ هُوَ
ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا (٣٨) وَلَوۡلَآ إِذۡ دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ
مَالٗا وَوَلَدٗا (٣٩) فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤۡتِيَنِ خَيۡرٗا مِّن جَنَّتِكَ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصۡبِحَ صَعِيدٗا زَلَقًا
(٤٠) أَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرٗا فَلَن تَسۡتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبٗا (٤١) وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ
عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا (٤٢) وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٞ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا (٤٣) هُنَالِكَ
ٱلۡوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلۡحَقِّۚ هُوَ خَيۡرٞ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ عُقۡبٗا (٤٤) وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ
نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ فَأَصۡبَحَ هَشِيمٗا تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقۡتَدِرًا (٤٥) ٱلۡمَالُ وَٱلۡبَنُونَ زِينَةُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ
وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ أَمَلٗا (٤٦) وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ بَارِزَةٗ وَحَشَرۡنَٰهُمۡ فَلَمۡ نُغَادِرۡ
مِنۡهُمۡ أَحَدٗا (٤٧) وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفّٗا لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ أَلَّن نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا (٤٨)
وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً
إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا (٤٩) وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ
كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِي وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوُّۢۚ بِئۡسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا
(٥٠) ۞ مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ عَضُدٗا (٥١) وَيَوۡمَ يَقُولُ

نَادُواْ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا ﴿٥٢﴾ وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ يَجِدُواْ عَنۡهَا مَصۡرِفٗا ﴿٥٣﴾ ﴾ الكهف: ٢٧ ـ ٥٣

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالى داصحاب کهف کيسه ذکرکړه هغه چي دقرباني انځور اودايمان په لارکي دمېړاني اوقهرماني يوه ځانګړي بېلګه وه ورپسې يې ددووباغونو دخاوند کيسه راوړه چي هغه هم د عقيدې په لاره کي دوياړه ډک مثال دی کله چي دبني اسرائيلو په قوم کي دوه تنه ورونه چي يويې مؤمن اوپخپل ايمان فخرکوي اوبل يې دباغونومالک کافردی الله تعالى دارابښيې چي پدې کيسه کي ځومره پندونه اونصيحتونه شته دي.او همدغسي دآياتونوپه ترڅ کي قرآني توجيهات اولارښووني موجودي دي.

لغتونه:

(ملتحدا) پناه ګاه اصل يې له لحدڅخه اخيستل شوی اوهغه ميلان ته وايې اوڅوک چي چېرته پناه يوسي ګواکي هغه لوري ته يې ميلان وکړ (فرطا) له حدڅخه تجاوزکونکي ته ويل کېږي (فَرَسٌ فُرُطٌ) يعني ترآسونو دمخه شوی آس ,ليث وايې چي (فُرط) هغه څه ته وايې چي پکي افراط شوی دی (سرادقها) دېوالونه (المهل) ټول هغه چي له معادنوڅخه ويلي کېږي (سندس) نري ورېښم (استبرق) دورېښموپنډي جامې چي دېباج يې هم بولي (الارائک) داريکة جمع اوهغه تخت ته وايې چي په جامو،پردو اوښکلا سينګار شوی وي لکه دناوي پالنګ (حسبانا) تندراوټکه (هشيما) وچ کلک وابښه (نغادر) مونږ پرېږدو.

دنزول سبب يې:

روايت کېږي چی دقريشومخه وراشراف رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغونډشول اوهغه ته يې وويل: که غواړې چي مونږ پرتاايمان راوړو نودغه بېوزلان له خپله درباره وشړه (مقصديې له دوی څخه حضرت بلال، خباب، صهيب اونور اصحاب رضوان الله عليهم وو)ځکه مونږ عيب ګڼوچي له دوی سره يوځای ستاسي په مجلس کي کينو ته ددوی لپاره کوم بل وخت وټاکه چي ستامجلس ته راشي نوالله پاک دغه آيت نازل کړچي: ﴿ وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ ﴾ دآيت ترپايه.

تفسير:

﴿ وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ ﴾ اوولوله (ای محمده دوی ته !) هغه چي وحی کړی شوي ده تاته له کتابه درب دتا (چي ذکر حکيم دی) ﴿ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ ﴾ نشته بدلونکی دکلماتو ددغه الله) ﴿ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدٗا ﴾ اوله سره به نه مومې غيرله دغه (الله) ځای دپناه (هيڅکله) ﴿ وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ ﴾ اوصبر(ټينګ) کړه ځان خپل له هغوکسانوسره چي بولي(عبادت کوي د) رب خپل په سبااوبېګا کي (يعني دفقراوو اوبېوزله اصحابو سره مشغول اوسېږه)

﴿ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ ﴾ غواړي دوی ذات دالله (پخپله بلنه(دعا)سره) ﴿ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ ﴾ اونه دي تېرېږي سترګي ستاله دوی نه (نوروبډایانواومخه ورواشرافوته) مفسرین کرام وايې چي: رسول الله صلی الله علیه وسلم دسردارانوپه ایمان راوړلوکي ډېرحرص اوتلوسنه درلوده ترڅوچي دهغوی پیروان به هم ایمان راوړي او ددنیاداري له پلوه هیڅکله هم درسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته توجه نه وه نوالله پاک وفرمایل چي تل دي ددغو متقیانو مؤمنانولوري ته مخ کړي اوله دغولویو متکبرانوڅخه دي مخ واړوي چي مشرکان دي ﴿ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ﴾ چي غواړې ته (زینت) ددې فاني ژوندد دنیا(اوددوی په ناستي پاستي ویاړې) (۱) ابن عباس رضی الله عنهماوايي چي: معنا دا چي له دغوضعیفانو، بېوزلانوڅخه نورودمال اوشرف خاوندانوته مخ مه اړوه ﴿ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا ﴾ اواطاعت مکوه د هغه چاچي غافل کړی دی موږ زړه دده له ذکره زموږڅخه (چي دوی دمؤمنانو شړل غواړي) وايي چي: دغه دعیینة بن حصن اودهغه دملګروپه باب نازل شوی دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل اوله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوه تولی بېوزله اصحابان لکه سلمان فارسي اونور ووچي دوړینوجاموبې دخولوبوی لګېدونوعیینة رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: آیاددغو بوی تکلیف نه درکوي؟ اوموږ دمضرد قبیلې مشران اوسرداران یوکه موږ ایمان راوړو خلک به راسره ایمان راوړي اوله ایمان راوړلوڅخه مودغه ستاپیروان منع کوي دوی درڅخه ګوښه کړه چي موږ ایمان راوړو یازمو. لپاره ځانله مجلس وټاکه اوددوی لپاره ګوښي مجلس جوړکړه نوبیامحمد رسول الله صلی الله علیه وسلم راووت اوهغه فقرآء اصحاب یې لټول چي ویې موندل ورسره کښېناست اوویې ویل : الحمد لله چي زماپه اُمت کي الله داسي کسان شامل کړي چي ماته امرکوي له دوی سره مشغول اوسم)

﴿ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ﴾ اومتابعت یې کړی دی دخپلي هوا(اوالله یې پرې ایښی) اودهغه کاردی هلاکت (اوتجاوزله حده) ﴿ وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ ﴾ ووایه (ای محمده دغوغافلینوته چي څرګنده شوی) حق دی له ربه ستاسي پس هرڅوک چي (دایمان) اراده وکړي نوایمان دي راوړي ! اوهرڅوک چي(دکفر) اراده وکړي نوکافر دي شي ؛ دغه په ظاهري ډول امردی اوپه واقعیت کي وعیداوانذاردی اولکه دالله تعالی هغه ویناد غسي ده چي فرمایي: ﴿ ٱعۡمَلُواْ مَا شِئۡتُمۡ ﴾ ﴿ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ ﴾ بېشکه چي موږ تیارکړی دی لپاره دظالمانو(کافرانو داسي) اورچي چاپېرشوی دی له دوی پردې دهغه (اوداسي وربانديي راګرځېدلی لکه لاس وندی په مروند باندي)

﴿ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ ﴾ اوکه فریادوکړي دوی(له تندي) نوفریادبه یې واورېدل شي په (ورکولو دداسي اوبو) لکه زوی چي مخونه به وریتوي (یالکه دتېلوخټ چي کله دوی ته ورنژدې کړل شي له ډېري ګرمي به یې مخونه کبابوي. په حدیث شریف کي راځي: داسي اوبه به ورکول

---

(۱) المختصر ۲ / ۴۱۲

كېږي لكه د تېلو خټې چي كله ورنژدې كړى شي نو د مخ پوستو كي به يې له ډېري ګرمي راولوېږي(١) الله مودي د دوزخ څخه وژغوري آمين ﴿بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا﴾ بد څښ د څښلو دى دا زوى او بد دى (دغه اورځاى) د اوسېدلو چي دوزخيان به ورباندي انتفاع اخلي ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا﴾ بېشكه هغه كسان چي ايمان يې راوړى دى او كړي يې دي ښه عملونه موږ نه ضائع كوو ثواب د هغه چا چي ډېر ښېګ وي له جهته د عمله (بلكه زياتوو يې اووده وركوو) كله چي الله پاك د بد مرغانو حال بيان كړنو ورپسې يې د نېكمرغه كسانو ذكرو فرمايه هغه ډول چي د قرآنكريم اسلوب دى چي ترهيب او ترغيب يو د بل له اړخه راوړي ﴿أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ﴾ دغه (مؤمنان چي دي) شته دوى ته هسې جنتونه د تل هستوګني چي لاندي (له ماڼيو اوونو د هغو) بهېږي ويالې ﴿يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ﴾ په لاس كول به شي دوى ته په دغه (جنت) كي وښي له سروزرو څخه ؛ مفسرين كرام وايې چي: د ټولو جنتيانو به كنګرد سرو او سپينوزرو په لاسونو كي وي او همداسې د لؤلؤ (ملغلرو) وښي به يې وي لكه چي الله فرمايې: ﴿وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ وَلُؤۡلُؤٗا وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ﴾ په حديث شريف كي راځي چي: د مؤمن سينګار به تر هغه ځايه پوري رسېږي تر كومه ځايه چي د اودا سه د اوبو رسيدو اندازه وي ﴿وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ﴾ او اغوندي به دغه جنتيان جامې زرغونې له نرمو ورېښمو او له پرېړه ورېښمو ؛ طبري وايې: د آيت معنا داچي: دوى ته به ګانه د سروزرو كنګروي او جامې به يې د نري ورېښمو او پنډو ورېښموي (٢) ﴿مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ﴾ تكيه كونكي به وي په دغو (جنتونو كي په تختو باندي (چي ښايسته به وي په جامو او پردو باندي. ابن عباس رضى الله عنهما وايې چي: تختونه به د سروزرو وي او ملغلري ،ياقوت به پكي وهل شوي وي ورباندي به پردې وي يو تخت به لكه د صنعآء او أيكة ترمينځ مسافې غوندي پراخ وي او يا به لكه د عدن او جابية ترمينځ واټن غوندي ستروالى لري (٣) ﴿نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقًا﴾ څومره ښه بدله ده (دا جنتونه نعمتونه) او څومره ښه ځاى د آرام دى (د اجنتونه او نعمتونه) د متقيانو لپاره) ﴿وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ﴾ (او بيان كړه ته دوى ته يو مثال (د كفارو او مؤمنانو هغه) دوه سړي) يعني ته د غو كفارو ته چي له تا څخه يې غوښتنه كړي چي فقرآء له خپله درباره وشړه د هغو دووتنو مثال وښيه. مفسرين كرام وايې چي په بني اسرائيلو كي دوه ورونه وو يو يې مؤمن او هغه بل كافر و دواړو ته له خپله پلاره په مېراث مال پاتي شو كافر په هغه مال باندي دوه باغونه رانيول او مسلمان خپل مال د الله په لاره

---

(١) أخرجه الترمذى
(٢) الطبري ١٥/ ٢٤٣
(٣) القرطبي ١٠/ ٣٩٨

کي ولګاووچي دالله خوښي اورضاترلاسه کړي آن تردې چي ګردمال يې خلاص او نېستمن شو کافر ورور يې پېغور ورکړ خوالله جل جلاله دکافرمال هلاک اوتباه کړاو دايې دمسلمان مؤمن لپاره چي دالله طاعت عبادت کوي اوهغه کافرچي دمال په ډېروالي غرور لري يو مثال راووړ ﴿ جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ وَحَفَفۡنَٰهُمَا بِنَخۡلٖ ﴾چي ګرزولي (ورکړي وو) موږ يوله دوی دواړوته دوه باغونه له انګورو(مېوه دارپه خوندور ډولونودانګوروسره) اوپټ کړي وو موږ داباغونه په خرماوو سره (خواوشامودخرماوو ونوکتارې ورباندي راتاوکړي وې) ﴿ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا ﴾اوپيدا کړي وو موږپه مينځ ددې دووباغونو کي کښت (چي وياله يې په مينځ کي بهېدله دغه په رښتيا چي يوزړه راښکونکی منظراوانځور دی چي، قرآنکريم يې په خوراښه انداز سره تعبيروي دوه باغونه چي ډول ډول انګورپکې دي خواوشايې دخرماوو وني چاپېره کېنول شوي په مينځ کي يې د زراعت (فصل) لپاره ځمکه اوپکي رڼې داُوبوويالې بهېږي ﴿ كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ شَيۡـٔٗا ﴾دي دواړو باغونوبه خپلي مېوې (پوره) ورکولې اونه به يې کاوو ظلم (کموالی) له خپله محصوله هيڅ شی ﴿ وَفَجَّرۡنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرٗا ﴾اوبهولي وه موږ په مينځ ددې دواړو باغونوکي وياله ﴿ وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٞ ﴾اووه دغه (کافر) ته (له دې دواړو باغونوڅخه هرقسم) مېوې ﴿فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكۡثَرُ مِنكَ مَالٗا وَأَعَزُّ نَفَرٗا ﴾پس وويل: دغه (کافر) هغه (مؤمن) ملګري خپل ته حال داچي ورسره مجادله يې کوله په افتخارېې ويل چي زه ترتالوړ) زيات يم له جهته دماله اوډېرعزتناک يم له جهته دسړو(چوپړيانو) ﴿ وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ ﴾اوننوت دی خپل باغ ته حال داچي دی ظالم ووپرځان خپل) يعني خپل ورور يې ترلاس ونيواوپه باغ کي يې ګرزاووهغه وني مېوې يې ورښکارولې اودی په تکبراوکفرسره پرخپل ځان ظالم وو﴿ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدٗا ﴾وويل يې چي زه ګمان نه کوم چي دغه باغ به هيڅېري خراب شي ﴿ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ ﴾اوزه ګمان نه کوم چي قيامت به واقع شي (دخپل باغ دخرابي اوهمداراز دقيامت له راتلوڅخه منکرشو) ﴿ وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهَا مُنقَلَبٗا ﴾اوکه چېري بوتلی شم (بالفرض والتقدير ستاپه ګمان) رب خپل ته نوخامخابه مومم غوره لهٔ دې باغ څخه مرجع (تردې به ښه الله راکړي ځکه زه په الله ګران يم) ﴿ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ ﴾وويل : دغه (کافر) ته (مؤمن) مِلګري دده حال داچي دغه مؤمن ورسره مباحثه کوله ﴿ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلٗا ﴾آياکافرشوې پرهغه ذات چي پيداکړی يې ته (په اول کي) له خاوري بياله نطفي بيايې برابرکړې ته سړی (روغ رمټ اندامونه ؛ استفهام دتوبيخ اوتقريع لپاره دی ﴿ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ﴾ليکن زه وايم شان دادی چي الله زمارب (خالق) دی اونه شريکوم زه له خپله ربه سره هيڅوک (هغه يوازنی برحق دی) ﴿ وَلَوۡلَآ إِذۡ

دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾(اوولي نه په هغه وخت کي چي ننوتی خپل باغ ته ویل به تاماشآء الله چي
الله اراده وفرمايې هغه کېږي) يعني ولي دي کله چي باغ خپل ته ننوتې اووني ، مېوې دي وليدلې
خوندېې درکړل داسي دي نه ويل؟! : چي دغه دالله تعالى فضل دی څه چي الله وغواړي هغه کېږي اوچي

دالله اراده نه وي هغه نه کېږي ﴿ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِ ﴾نشته قوت (په طاعت دالله) مګر(په توفيق) دالله

(اومعاونت يې) ﴿ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالٗا وَوَلَدٗا ﴾که ماوينې چي زه له تانه له جهته د ماله اواولاده لږ

يم ﴿ فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤۡتِيَنِ خَيۡرٗا مِّن جَنَّتِكَ ﴾پس (اميدلرم چي ژردی) چي رب زما راکړي ماته بهتره له
باغه ستا ؛ دغه د شرط ځواب دی يعني زه دالله له فضل او احسانه څخه هيله من يم چي الله به زما او ستا په
حال کي بدلون راولي ماته به ستا ترجنت (باغ) ښه باغ راکړي ځکه چي ما ورباندي ايمان راوړی اوله

تاڅخه به يې واخلي چي تا دهغه دنعمت کفران کړيدی ﴿ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾اوچي ولېږي

په دغه باغ ستا تندر له آسمانه (او تباه برباد يې کړي) ﴿ فَتُصۡبِحَ صَعِيدٗا زَلَقًا ﴾پس سباته وګرزي (باغ ستا)

ډاګ ميدان ښوی (چي سرې پرې ښوئېږي او هيڅ نبات او واښه پکي نه زرغونېږي ﴿ أَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرٗا

فَلَن تَسۡتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبٗا ﴾(يا سباته وګرزي او به ددې باغ وچي ډوبي پس له سره به ته ونه توانېږې دې ډوبو
اوبو لره په لټولو سره) يعني يا خوبه يې دااوبه دومره ژوري دځمکي تل ته ننوزي نوټول فصل اووني به
وچي شي او هله به ته دغه اوبه ونه مومې چي راويې باسې او يا يې راوګرزوې دلته خبري اتري پای ته
رسېږي او نابېره (ناڅاپه) يوهېښونکي(حيرانونکي) پېښه رامينځ ته کېږي اودمؤمن مسلمان هيلي
غوټۍ سپړي له کافر څخه نعمت اخيستل کېږي او سمدلاسه له هغه ښکلي ښايسته منظر څخه مورډ

تباهي او خرابي کنډوالو ته بيايې ﴿ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ ﴾ اوچاپېر کړی شو په انواعو دمېوو دهغه (باغ چي

يو مخ ايزه يې کښت او مېوې له مينځه يوړې ﴿ فَأَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا ﴾نو وګرزېدو په وخت
دسباکي چي اړوه يې ختې او مخ دار غوو خپلو (له خفګانه پر هغه مبلغ چي لګولی يې ووپکي چي مال يې
ضائع او کوښښ يې زيان شو. قرطبي وايې چي يو لاس يې په بل ټپول پښېماني يې کوله او پښېمانه

خلک همداسي کوي ﴿ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا ﴾حال داچي دغه باغ لوېدلی وو پرمناګانو د تاکو خپلو

(يعني بامونه يې په دېوالونو رالوېدلي وو او خراب، تراب شو﴿ وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ﴾اووايې
کاشکي ماله خپل رب سره هيڅوک شريک نه وای نيولی (هلته يې پښېماني وکړه چي ورته ګټه يې نه

رسوله ,الله فرمايې: ﴿ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٞ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا ﴾اونه وه ده ته کومه ډله چي
مدديې کړی وای له ده سره (او هلاک يې څني دفع کړی وای) غير له الله يعني نه هم ده پخپله دالله له
انتقام څخه ځان ژغورلای شوای اونه يې تبردغه وس درلودنه يې اولادونو کوم چي ده به ورباندي فخر

کاوو﴿ هُنَالِكَ ٱلۡوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلۡحَقِّۚ ﴾په دغه وخت کي ټول اختيار خاص الله لره حق دی (يوازي دالله نصرت

شته نه ده پرته د هغه چا نه چې ده سوازي هغه خپلو اولیاوو ته مرسته ورکوي ﴿ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ عُقْبًا ﴾ (الله غوره دی نه جهته د ثواب او غوره دی له جهته د عاقبته) یعني الله د ثواب ورکولو له جهته په دنیا او آخرت کې غوره دی هغه چالره چې ور باندې ایمان راوړي او هغه چالره چې ورته امیدلري او ورباندې له جهته د عاقبته عتماد کوي ﴿ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ ﴾ (او وښیه بیان کړه د غو (خلکو ته) مثال د دې دنیوي ژوندانه (په تازه ګي او وژرتېرېدلو کې) په مثل د هغو اوبو چې نازلې کړې دي موږ هغه اوبه له (لوري) د آسمانه نو ګډ یوبل سره ګډ و شي په سبب د دې (اوبو) زرغونه وانبه د دې ځمکې) دغه یو بل مثال دی د دنیا د ښکلا او تازه ګي د تېرایستلو لپاره یې لکه پورتني دوه باغونه غوندې راوړي دي ﴿ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ ٱلرِّيَٰحُ ﴾ نو وګرزوي (دغه زرغونه) وچه کلکه ماته، ماته چې بادونه یې (ښي او کیڼ لوري ته) الوزوي) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴾ او الله په هر څېز باندې توانا او قادر دی (چې هم دغه احیاء او افناء هم ځیني له هغو دي او هیڅوک نه په آسمان او نه په ځمکه کې الله ﷻ مغلوبولای شي) ﴿ ٱلْمَالُ وَٱلْبَنُونَ زِينَةُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ مال او زامن زینت ښایست د دې دنیوي ژوندانه دي (دغه یې مثال او دغه یې زینت دی چې ټول زوال او فنا مومي په هغوی باندې پرته له احمق او ناپوه انسان څخه بل څوک نه تېروزي ﴿ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا ﴾ او باقي پاتي کېدونکي نېک (عملونه) غوره دي په نزد د رب ستا له جهته د ثواب او غوره دي له جهته د امیده؛ ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې الباقيات الصالحات عبارت له پنځو لمنځونو څخه دي او همداسې بیا وایې چې هر صالح عمل چې قولي او که فعلي وي چې د آخرت لپاره پاتي کېدونکي وي هغه له الباقيات الصالحات څخه دی([1]) او په حدیث شریف کې راغې چې: (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) دغه الباقيات الصالحات دي ﴿ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ ٱلْجِبَالَ ﴾ او (یاد کړه) هغه ورځ چې روان به کړو غرونه) یعني کله چې له خپله ځایه وکاږو او هسې یې وخوځوو لکه چې وریځ خوځېږي د وړیو غوندې په هوا کې سره ګرزي ﴿ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ بَارِزَةً ﴾ او ګورې به ته (ای انسانه) ځمکه ښکاره (نه به ورباندې غرونه نه ځنګلونه وینې او نه هم آبادي ،غرونه به یې له بېخه ایستل شوي او تعمیرات به یې وران شوي وي صاف میدان به معلومېږي ﴿ وَحَشَرْنَٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا ﴾ او راجمع به کړو موږ دوی (خلک) نو پرې به نه ږدو له دوی نه یو تن هم (نه له ړومبنیو او نه له وروستنیو د حساب لپاره به یې راغونډ کړو) ﴿ وَعُرِضُوا۟ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا ﴾ او وړاندې به کړی شي دوی ستا په رب صف صف (هیڅ یو به تر بل پټ نه وي) او په حدیث شریف کې راغې چې الله تعالی به اولین او آخرین په یوه میدان کې راغونډ کړي صفونه صفونه. مقاتل وایې چې دوی به د لمانځه په شان صف صف د الله په وړاندې دریږي

([1]) دغه طبري غوره کړي او قرطبي وایي چې هم دغه ان شاء الله صحیح دی.

هرامت او هره تولې به صف وي(١) ﴿ لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ ﴾ (او وبه ويلای شي دغو صفونو ته) خامخا راغلی تاسي موږته (يو ازي لغړ، بربنډ چي نه درسره مال دولت او نه اولاد شته) لکه چي موږ تاسي پيدا کړي وای رومبی ځلي ﴿ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ أَلَّن نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ﴾ بلکه تاسي ګمان کاوو (ای دبعث منکرينو) چي موږ به و نه ګرزوو تاسي ته ځای او دوعدې وخت (نه بعث او نه جزا حساب او عذاب) ﴿ وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ ﴾ او کتاب به کښېښودلی شي (يعني دبشر عملنامې به ورته ورکول شي) ﴿ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ ﴾ پس ګورې به ته ګناهګاران وېرېدونکي له هغه نه چي پکي (ليکلي) دي (له ګناهونو) ﴿ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا ﴾ او وايي به ای زموږ هلاکه (په هغه چي موږ په دنياکي ګناوي کولې) ﴿ مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ ﴾ څه حال دی ددې عملنامې زموږ چي نه پرېږدي وړه (ګناه) او نه يوه لويه (ګناه) مګرچي حساب يې کړی دی هغه (تولې) الله تعالی فرمايې: ﴿ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ ﴾ او وبه مومي دوی هغه څېزچي کړی يې دی (په دنيا کي په خپل مخ کي) حاضر (ليکلی په اعمالنامه کي) ﴿ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ﴾ او نه کوي ظلم رب ستا په هيچا يعني هيڅ انسان پرته له ګناه نه په عذابوي او نه هم دکوم نيکوکار له ثواب څخه څه کموي ﴿ وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ ﴾ او (ياد (کړه) هغه وخت چي وويل موږ پرښتوته چي تاسي آدم ته سجده وکړئ (تعظيما) پس ټولو سجده وکړه مګر (ابليس (سجده ونکړه) ﴿ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ ﴾ وو دی (اصلا) له پېريانو پس ووت له امره درب خپل (آيت شريف پدې تصريح کوي چي ابليس دپېريانو له ډلې دی له ملائکو څخه نه دی(٢) ﴿ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِي وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوُّۢۚ ﴾ آيا پس تاسي نيسئ (ای بني آدمانو !) دی او اولاده دده دوستان (چي خبره يې منئ) غيرله ما، حال دا چي دی دغه (شيطان) تاسي ته دښمن ﴿ بِئۡسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا ﴾ بد دی (ابليس) ظالمانوته بدل (دالله له عبادته چي شيطان مني او رحمان نه مني) ﴿ مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ نه دي حاضر کړي ما دغه (شياطين) پيدا کولو دآسمانونو او دځمکي ته ﴿ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ ﴾ او نه پيدا ابښت د ځانونو ددوی ته ﴿ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ عَضُدٗا ﴾ او نه يم زه نيونکی د ګمراه کونکو مټ بازو (چي په پيدا کولو کي راسره مرسته وکړي نوولي يې تاسي خبره منئ) ﴿ وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ ﴾ او (ياد کړه) هغه ورځ چي وبه وايې (الله مشرکانو ته) چي نارې کړئ زما شريکانو ته هغه چي ګمان کاوو تاسي (دخدايي ددوی) چي

---

(١) القرطبي ١٠ / ٤١٧

(٢) هغه تحقيق او څېړنه وګوره چي موږ په النبوة والانبياء کي کړي ده چي ابليس له ملائکو څخه نه دی. ص: ١٢٨

ستاسي شفاعت وکړي اوعذاب در څخه دفع کړي) ﴿ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُمْ ﴾ پس وبه بولي دوی هغوی نوځواب به دوی ته ورنکړي (اونه به مرسته ورسره کوي) ﴿ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقًا ﴾ اووبه گرزوومونږ په مينځ ددوی (عابدانواو معبودانو)کي ځای دهلاکت (دوزخ) ﴿ وَرَءَا ٱلْمُجْرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمْ يَجِدُوا۟ عَنْهَا مَصْرِفًا ﴾ اووبه گوري (مجرمان مشرکان) اور (چي لمبې به وهي اوله قهره به پردوی اېشي) پس يقين به بې راشي په دې چي په تحقيق دوی لوېدونکي دي په دغه (اور ددوزخ) کي اونه مومي دوی له دغه (اوره) ځای په ځنګ کولو کېدل، ځکه هغه به له تولو خواوو وربانډي راتاو وي اودوی به ځيني تښتېدلای نشي.

بلاغت: پدې آيتونو کي چي دبلاغت کومي ښکلاوي شته لنډ بزيې دادي:

١- دطباق صنعت چي د ﴿ بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِىِّ ﴾ اود ﴿ فَلْيُؤْمِن ﴾ او ﴿ فَلْيَكْفُرْ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

٢- پدې کلام کي چي الله تعالی فرمايې: ﴿ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴾ او ﴿ بِئْسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴾ دلته دجنت او اورترمينځ لطيفه (بديعه) مقابله راغلي ده.

٣- مرسله مفصله تشبيه چي فرمايې: ﴿ بِمَآءٍ كَٱلْمُهْلِ يَشْوِى ٱلْوُجُوهَ ﴾ ځکه دتشبيه ادات اود مشابهت وجه دواړه پکي ذکر شوي دي.

٤- تمثيلي تشبيه چي الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ ﴾ ځکه وجه دمشابهت له متعدد څخه اخيستل شوي اوهمدغه تشبيه په دې کلام کي هم شته چي ﴿ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ ﴾.

٥- کله چي الله تعالی فرمايې: ﴿ أَوْ يُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا ﴾ دلته دمبالغې صنعت شتون لري ځکه چي دمصدر اطلاق بې په اسم فاعل کړی دی.

٦- دکنايي صنعت چي: ﴿ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ ﴾ دغه له حسرت اوندامت څخه کنايه راغلي اوپښېمانه سړی ښی لاس په چپ باندي موښي اوټپوي يې.

٧- انکاراوتعجيب لکه چي الله تعالی فرمايې: ﴿ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ ﴾.

تنبيه: جمهورعلماء داسي رايه لري چي باقيات الصحات هغه پاکيزه کلمات دي چي بهتري يې ثابته ده ﴿ سبحان الله والحمدلله ولااله الا الله والله اكبر ولاحول ولاقوة الابالله العلى العظيم ﴾ اوپدې باب حديث شريف راغلی چي ړومبی ذکرشو په ترمذي شريف کي روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه دمعراج په شپه له ابراهيم عليه السلام سره مخامخ شوم هغه راته وويل: (ای محمده! ستاأمت ته زماسلام ورسوه اوپدې يې خبرکړه چي دجنت ځمکه ډېره حاصلخېزه هواره خوندوره ده أوبه يې خوږې اونهالان يې سبحان الله والحمدلله ولااله الا الله والله اكبردي. رواه الترمذی.

صفوة التفاسير 3 ټوک

د نصیراحمد احمدي

لخوا سکین او pdf سو

تاریخ. ۱۳۹۸-۱۱-۲۳

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احمدي!